# خوبونه او تعبيرونه

د قرآن او سنت په رڼا کې

او د مثالونو په مرسته

د زيگموند فرويد په ځواب کي

حکمتيار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


عنوان صفحه

سریزه ---------------------------------------------------- ۱

رؤیا (خوب) څه دئ؟ ------------------------------------ ۷

هغه چي په خوب باور نه لري ------------------------------- ۱۰

څوک خوب ویني؟----------------------------------------- ۱۲

د انسان د دماغ په اړه د فروید ناقص معلومات ---------------------- ۱۲

هغه څه چي انسان ئې نشي کولی خو د ده دماغ ئې کولی شي!!------------ ۱۶

ربنتینی خوب--------------------------------------------- ۱۸

د رؤیا ژبه-------------------------------------------------- ۲۱

د خوب او ویښي توپیرونه ----------------------------------- ۲۱

ژور او سطحي خوب ------------------------------------- ۲۴

په خوب کي د ویښي په څېر وړاندلیدني ------------------------- ۲۶

په خوب کي له راتلونکو پېښو خبرېدل ---------------------------- ۲۸

د مېوو او نورو خوراکي توکو تعبیر ------------------------------ ۳۱

د کانکور تر آزمویني وړاندي له نمرو خبرېدل ------------------------ ۳۲

په خوب کي د ستورو ځای ته تګ ------------------------------ ۳۵

تقدیر ---------------------------------------------------- ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوسف علیه السلام رؤیا ---------------------------------------------- ۴۴
د مصر د واکمن خوب: --------------------------------------------- ۵۸
په خوب کي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لیدل ------------------- ۷۵
مرغان په خوب کي لیدل ------------------------------------------ ۸۱
لوړه او ژوره، لنډ او اوږد ټوپ ------------------------------------ ۸۳
په خوب کي بیرغونه -------------------------------------------- ۸۴
په خوب کي د مهدي لیدل ---------------------------------------- ۸۶
سیده لار، دواړو اړخونو ته ئې دېوالونه او دروازې او پردې ئې ------------ ۸۸
د کور دوهم منزل ---------------------------------------------- ۹۰
د الله تعالی په حضور کي ---------------------------------------- ۹۰
پر آس سپر ېدا ------------------------------------------------ ۹۱
توره --------------------------------------------------------- ۹۲
لوی کب (ماهي) ------------------------------------------------ ۹۲
په سپوږمۍ کي وران کورونه ---------------------------------------- ۹۳
حرم، حجرالاسود ښکلول، په حرم کي یوازي دوه کسان ------------------- ۹۴
ځان په مسجدالحرام کي لیدل -------------------------------------- ۹۴
قلم یعني الهي مقدرات ------------------------------------------ ۹۷
څرګند خوب چي تعبیر نه غواړي ----------------------------------- ۹۸
په فضاء کي روان کمرونه ----------------------------------------- ۹۸
لوی تالار ---------------------------------------------------- ۹۹
په لمانځه کي لومړي صف ته تګ ---------------------------------- ۱۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه لمانځه کي د الشرح او النصر سورتونه ---------------------------- ۱۰۰
لوځي پښې تګ ---------------------------------- ۱۰۱
جهاز او راکټ------------------------------------- ۱۰۲
د سر و ښتان جوړول -------------------------------- ۱۰۳
د جهاز نسکورېدل ------------------------------------ ۱۰۵
ارګ، په ارګ کي سېل او د برج نسکورېدا-------------------------- ۱۰۵
پاکستان او هند خپل رقابت افغانستان ته رالېږدولی------------------------ ۱۰۷
حربي ښوونځی، د غاښونو لوېدل ---------------------------- ۱۰۸
د سعودي په شوری کي چاودنه ---------------------------- ۱۰۸
د مېوې ونه --------------------------------------- ۱۰۹
په سینه کي رڼا، خوا ته پراته هډوکي ----------------------------- ۱۱۱
مار او ماهي-------------------------------------------- ۱۱۳
درې سوه کلنه نجلۍ او سل کلن پلار ---------------------------- ۱۱۳
له پوتین سره لیدنه ---------------------------------- ۱۱۴
د زمري په لاس کي بیرغ------------------------------------ ۱۱۵
په لمانځه کي د الصف سوره ------------------------------- ۱۱۵
زړه بوډۍ --------------------------------------- ۱۱۶
ژېړه چېنه ---------------------------------------- ۱۱۶
طیاره او ډزي ----------------------------------------- ۱۱۷
غونډۍ، قلعه، سپوږمۍ، شیدې----------------------------- ۱۲۰
ماشوم په دروازه کي ------------------------------ ۱۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

په امام پسي اقتداء ---------- ۱۲۲
زمرى د بام پر سر ---------- ۱۲۳
په خوب کي واده کول ---------- ۱۲۴
په خوب کي ټپوس په نښه کول ---------- ۱۲۵
د خرو اوبو ډنډ ته د چا راکارل او خرې اوبه ورشيندل ---------- ۱۲۶
د الله تعالی په لوري الوت ---------- ۱۲۶
له تنگ سوري تېرېدل ---------- ۱۳۶
په خوب کي د سیند او نهر لیدل ---------- ۱۳۷
په هوا کي معلق تعمير ---------- ۱۳۸
په خوب کي د شهيد ليدل ---------- ۱۳۹
بوټونه ---------- ۱۴۰
د ملا درد ---------- ۱۴۰
تور موټرونه او په خپلو کي ئې تصادم ---------- ۱۴۱
يو موټر او دوه اشترنگونه ---------- ۱۴۳
په خوب کي د عمر (رضي الله عنه) ليدل ---------- ۱۴۴
د قرآن آيت او زېرى ئې ---------- ۱۴۵
باران، سمسوره سيمه، شنه ونه، خرې مرغۍ او قفس ---------- ۱۴۵
سپي په غېږ کي ---------- ۱۴۶
سيلۍ، دوړې، د ځنگلي ځناورو خېل ---------- ۱۴۸
پر سپين آس د مېرمني سپرېدا او لوړ الوت ---------- ۱۴۹
پر لوړ منبر وينا ---------- ۱۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روسي ځواکونو د راتګ وړاند لیدنه ------------------------------- ۱۵۰

کعبه، حجرالاسود، په کعبه کي دسترخان، پر بالښت تکیه -------------- ۱۵۰

له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره مصافحه او له هغه سره یو ځای لمونځ ۱۵۲

توره شپه او رڼا --------------------------------------- ۱۵۳

موټر او ډرېوري -------------------------------------- ۱۵۴

غر، رڼې اوبه، چینه، کارېز او د جهاد دوام -------------------------- ۱۵۶

له لمانځه پرته له جومات وتل او له ورا سره یوځای کېدل -------------- ۱۵۷

پر غوږ ځوړنده کړۍ ----------------------------------- ۱۵۹

دوه پوړه جومات او په جومات کي د سړو تر ځنګ غوایي ------------- ۱۶۱

د انګرېزانو خلاف جهاد ته بلنه ------------------------------ ۱۶۳

د شهید موحد خوب ------------------------------------ ۱۶۶

د شهید سید قطب رؤیا --------------------------------- ۱۶۷

د ابن قیم الجوزي له کتاب دوه خوبونه ----------------------- ۱۶۷

د عوف (رضي الله عنه) رؤیا ------------------------------ ۱۶۸

د ثابت بن قیس (رضي الله عنه) اړوند رؤیا ---------------------- ۱۷۰

د اوزبک مجاهدینو مشر قاري طاهرجان یولداش خوب --------------- ۱۷۱

د انجنیر صاحب نصیر خوب ------------------------------ ۱۷۴

د محصلینو اسلامي تنظیم پخواني ناظم ورور حماد خوب -------------- ۱۷۷

د قاري صاحب سلیمان خوب ------------------------------ ۱۸۱

د قاري صاحب نقیب احمد خوب ---------------------------- ۱۸۴

د فروید افکار او تعبیرونه -------------------------------- ۱۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بیسمارک خوب او د فروید تعبیر ---------------------------- ۱۸۷

تنګ ناو، آس، متروکه، په متروکي تیره وهل، د تیزي ماتېدا ------------- ۱۹۰

د زوی د سوزېدو په اړه د پلار خوب ------------------------------ ۱۹۲

هغه خوبونه چي له ورځنیو مشغولتیاوو سره تړاو لري ------------------ ۱۹۵

د پالاس خوب ---------------------------------------- ۱۹۶

په سیند کي لامبل، تیاره لار، سور زنګ، لویه تیره، رڼا ---------------- ۱۹۷

د رؤیا په هنداري کي د انسان اصلي څېره راڅرګنده شي -------------- ۱۹۸

په خوب کي د اخلاقي احساساتو څرنګوالی ------------------------ ۲۰۰

شوپنهاور او ملګري ئې د فروید په مقابل کي ----------------------- ۲۰۰

فروید او د میني غلط تعبیر --------------------------------- ۲۰۱

د فروید د ملګرو په اړه د قرآن وینا ---------------------------- ۲۰۳

د فروید او مارکس په وړاندي څو طبیعي صحنې ----------------------- ۲۰۵

د ښه او بد خوب په اړه د مسلمان غبرګون ------------------------- ۲۰۸

آیا تعبیر د رؤیا پر ماهیت څه اغېز لري؟ -------------------------- ۲۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

له هغو موضوعاتو چي هر څوک غواړي پرې پوه شي یوه ئې د خوبونو دقیق تعبیر دئ، هر څوک خوبونه ګوري، که مؤمن وي او که کافر، که صالح وي او که طالح، ځیني ښه خوبونه ګوري او ځیني وېروونکي، ځیني خوبونه څرګند وي او ځیني مغلق او د رمز په بڼي کي، کله د زړېري ښه لري چي د انسان د خوښي سبب شي او کله د تخویف، تهدید او ګواښ ښه چي په خوب لیدونکي کي وېره، اندېښنه او خفګان راولاړوي، مذهبي خلک تر نورو زیات د خپلو خوبونو تعبیر لټوي، دا ځکه چي پر خوبونو باور د خپلي عقیدې برخه ګڼي او په خپلو دیني کتابونو کي ئې مومي، قرآن د مؤمن خوب د بشارت او زېري په نامه یادوي هلته چي فرمایي:

لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ..... یونس: ۶۲-۶۴

دوی ته د دنیا په ژوند کي بشارت دئ او په آخرت کي هم...

په لاندي روایت کي د دې آیت په اړه ویل شوي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِه {لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [یونس: ۶۴]؟ قَالَ: «هِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُؤْمِنُ أَوْ تُرَى لَهُ» الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له عباده بن الصامت (رضي الله عنه) روايت دئ چي له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مي د الله تعالى د دې قول په اړه وپوښتل (لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الحَيَاةِ الدُّنيَا) وئې فرمايل: دا هغه سم او ښکلي خوبونه دي چي مؤمن ئېويني او يا ورته ليدل کېږي.

په بل روايت کي چي ابن ابي عاصم نقل کړی دا هم په پورتني روايت علاوه شوي: دا (رؤيا) ستا د رب هغه کلام دئ چي له خپل بنده سره ئې په خوب کي کوي.

عن ابي هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ تَكْذِبُ رُؤْيَا المُؤْمِنِ ورُؤْيَا المُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبوَّة» وما كَانَ مِنَ النُّبُوَّةِ فَإِنَّهُ لاَ يَكْذِبُ قَالَ مُحَمَّدٌ: - وَأَنَا أَقُولُ هَذِهِ - قَالَ: وكَانَ يُقَالُ: "الرُّؤْيَا ثَلاَثٌ: حَدِيثُ النَّفْسِ، وَتَخْوِيفُ الشَّيْطَانِ، وبُشْرَى مِنَ اللَّهِ، فَمَنْ رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلا يَقُصَّهُ عَلَى أَحَدٍ وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ " رواه البخاري

ابوهريره (رضي الله عنه) وايي: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: "کله چي قيامت رانږدې شي د مؤمن بنده خوب به دروغجن نه خېژي، د مؤمن خوب د نبوت له شپږ څلوېښتو برخو يوه برخه ده"، او څه چي د پيغمبرۍ برخه وي هغه نه دروغ کېږي، محمد بن سيرين وايي چي زه هم همدا خبره کوم، هغه وايي: ويل کېدل به چي رؤيا درې ډوله ده: د نفس خبري او خيالات، د شيطان وېروني، او د الله تعالى له لوري زېرى، نو څوک چي داسي څه په خوب کي وويني چي بدئې ايسي نو هغه دي هيچا ته نه تېروي، بايد پاڅي او لمونځ وکړي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الرُّؤْيَا الحَسَنَةُ، مِنَ الرَّجُلِ الصَّالِحِ، جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ» رواه البخاري

له انس بن مالک (رضي الله عنه) روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: د يوه نېک سړي ښه خوب د نبوت له شپږ څلوېښت برخو يوه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ: أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وسلَّم يقول: «إِذا رأى أَحدكم رُؤْيَا يُحِبُّهَا، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ اللَّه، فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ عَلَيْهَا وَلْيُحَدِّثْ بِهَا، وَإِذَا رَأَى غَيرَ ذَلِكَ مِمَّا يَكْرَهُ، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَلْيَسْتَعِذْ مِنْ شَرِّهَا، وَلاَ يَذْكُرْهَا لأَحَدٍ، فَإِنَّهَا لاَ تَضُرُّهُ»

له أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ (رضي الله عنه) روايت دئ چي له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ئې واورېدل چي فرمايل ئې: كله چي له تاسو كوم كس داسي خوب وګوري چي خوښ ئې شي نو دا د الله له لوري دئ، نو پر هغه دي د الله ستاينه وكړي او هغه دي نورو ته تېر كړي، او كله چي له دې پرته داسي څه وګوري چي بد ئې اېسي نو دا د شيطان له لوري دئ، د هغه له شر دي پناه وغواړي او هغه دي هيچا ته نه تېروي، يقيناً چي هغه كوم ضرر نهوررسوي.

دې خبرو ته په پام سره مي غوره وګڼله چي د رؤيا په اړه د قرآن او سنت په استناد او د عملي مثالونو په رڼا كي څه وليكم، څو خبرو دې كار ته وهڅولم: په دې اړه په پښتو كي د اعتناء او اعتماد وړ كتاب نه دئ ليكل شوى، په نورو ژبو كي ليكل شوي كتابونه داسي دي چي څوک نشي كولى د هغوى له مخي د خپل خوب په دقيق تعبير پوه شي، هلته به ګورئ چي د يوه شي په اړه ئې ګڼ شمېر تعبيرونه كړي، لكه دا چي په خوب كي د فلانى مېوې تعبير يا دا دئ، يا دا دئ، يا دا... د فلاني حيوان ليدل يا دا تعبير لري، يا دا او يا دا،... ډېر ځلي به وګورئ چي تعبير ئې هم سم ګڼلى او هم بد، زه په دې مختصري رسالې كي د يوه شي احتمالي تعبير نه وړاندي كوم، دا راته صحيح كار نه برېښي، ځكه يو شى په خوب كي داسي دئ لكه په يوې جملې كي يو لفظ، مكمله جمله چي يو واضح مطلب افاده كوي هرو مرو له څو الفاظو جوړه شوې وي، خوب همداسي دئ، له څو شيانو او د هغوى له حالت او كيفيت په ګډه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library
پیغام جوړېږي. ما د لیدل شوو او حتی محقق شوو خوبونو په ترڅ کي د شیانو تعبیر وړاندي کړی. هیله مي دا ده چي دا رساله له لوستونکو سره مرسته وکړي چي د خپلو خوبونو په تعبیر پوه شي، او هغو ته لار پرانیزي چي غواړي په دې اړه مزید علمي تحقیقات وکړي.

د رؤیا په اړه د لیکني مفکوره مي اوږده سابقه لري، یادښتونه او هوډ مي نږدې شل کاله وړاندي ته ګرځي، د لیکني ډېری برخي زما د تېرو شلو کلونو یادښتونو احتوی کړې. په ځوانۍ کي مي د یوه غربي لیکوال زیګموند فروید د هغه معروف کتاب ځیني برخي په نورو کتابونو کي لوستلې وې چي د خوب په اړه ئې لیکلی، فروید د غربیانو په زعم لوی محقق او ارواح پوه ګڼل کېږي، دومره معروف دئ لکه مارکس، همغه مهال مي زړه غوښتل چي د خوب په اړه څه ولیکم، خو موفق نشوم.

- د خوب لیدل د انسان د ژوند او د هغه د روحي جوړښت او د ده د حساس مغز د پراخو فعالیتونو یو مهم اړخ دئ، خوب د انسان د ټول ژوند نږدې درېیمه برخه احتوی کوي، که د انسان د ویښي افکار او خیالات ارزښت لري، د هغه خوبونه خپل ارزښت او اهمیت لري، دواړه ئې د انسان د مغز د ستر او ډېر حساس کمپیوټر کار دئ، د قرآن یوه سوره همدې موضوع ته مختص شوې، د یوسف سوره له پیل تر پای پوري د رؤیا او هغو الهامونو پر محور څرخي چي انسان ئې د غیب له عالم ترلاسه کوي، د یوسف علیه السلام رؤیا، د مصر د ملک رؤیا، د یوسف علیه السلام د دوه همزنداني ملګرو خوبونه، د یعقوب علیه السلام هغه عجیب احساس چي د خپل زوی په اړه ئې درلود، سره له دې چي لسو زامنو ئې د هغه د وژل کېدو خبر ورکړی وو او د یوسف علیه السلام په وینو سور کمیس ئې د هغه مخي ته ایښی وو، خو هغه نه د خپلو زامنو ګواهي منله او نه په وینو سور کمیس د ده هغه احساس کمزوری کولی شو چي د خپل زوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library
ژوند په اړه ئې درلود او ورته ويل ئې: زوی دي ژوندی دئ، لېوه نه دئ خوړلی، د زامنو ادعاء او گواهي دروغجنه ده!!! زامنو ته وايي: لاړ شئ خپل ورور ولټوئ، د الله تعالی له رحمت مه مأيوس کېږئ، له ډېر لري واټن، له مصر د کنعان په لور د کاروان له خوځېدو سره سم او په داسي حال کي چي د زوی له غيابت ئې ډېر کلونه تېر شوي، د خپل زوی د کميس بوی احساسوي، خو نه په دې باندي پوهېږي چي دا بوی له کومه راځي او نه په دې چي ولي نن دا احساس ورسره راپيدا شوی، منبع ئې کومه او لوری ئې کوم دئ او نه نورو ته په پوره ډاډ او اطمئنان سره کومه خبره کولی شي، کله چي غواړي د خپلي کورنۍ له غړو سره خپل نننی احساس شريک کړي، زړه نا زړه ورته وايي: که مي په کمعقلۍ متهم نه کړئ زه نن د يوسف بوی احساسوم!! دکورنۍ غړي ورسره توافق نه کوي او په ښکاره ډول او په پوره تأکيد سره ورته وايي: اشتباه کوې، تير وختونه درياديږي!! همدا د دغي سورې محوري موضوعات دي.

لکه څومره چي د قرآن علمي اعجاز د هر حقپال انسان لپاره د لاري مشعل دئ او له هغه سره د حقيقت په پېژندو کي مرسته کوي او شکوک او شبهات ئې له منځه وړي، هغه حقائق چي قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندي د مخاطب مخي ته ايښي او انسان اوس او له اوږده علمي سفر وروسته پرې پوهېږي، له سلگونو داسي مواردو يو ئې هم کفايت کوي چي عقلمن او حقپال انسان متقاعد او متيقن کړي چي د دې کتاب حامل حتماً يو پيغمبر دئ، همداراز هغه خوبونه چي د غيب له عالم پيغامونه لري؛ د مؤمن انسان ايمان او باور ته ځلا او صيقل ورکوي، باور وکړئ کله چي زه خپل دا راز خوبونه له نظره تېروم نو د ځلا او صيقل همدا احساس په خپل زړه او گوگل کي مومم، هيله مي دا ده چي د دې يادښتونو د لوستلو په وخت کي به د نورو احساس او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتباه هم زما په خبر وي.

والله ولي التوفيق و هو هادي المؤمنين

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## رؤیا (خوب) څه دئ؟

د انسان نږدې دوه برخې ژوند په ويښه تېرېږي او يوه برخه ئې په خوب کې، لکه په ويښه چې د ده زړه او دماغ فعال وي او حواس ئې خپل خپل کار کوي همداسې په خوب کې د ده زړه او دماغ فعال وي او حواس ئې خپل کارونه کوي، لکه چې په ويښه زده کړه کوي، اختراعات کوي، وړاندوينې کوي، د دلائلو او نښو په مټ له تيارو پردو تېر شي او په پټو خبرو او ژورو اسرارو پوه شي، همداسې په خوب کې ورته کارونه کوي، خو د تمثيل په بڼې کې، په خوب کې ئې نه د تفکير، تعقل، زده کړې، وړاندليدنو او وړاندوينو لړۍ بنده شي، نه د اختراعاتو او نه له نښو او دلائلو په اسرارو د پوهېدو بهير، عملاً گورو چې کله ئې په خوب کې روح د زمان او مکان له حجابونو تېره شي، تېرې زمانې ته ولاړه شي او د داسې پېښو خبر ترلاسه کړي چې د ده او هغوی تر منځ د کلونو او فرسخونو واټن وي، او کله وړاندې ولاړه شي او له داسې پېښو خبره شي چې اوږده موده وروسته به تحقق مومي، لوی لوی او معروف محققين او ساينسپوهان پېژنو چې په خوب کې يوې اشارې په داسې حقائقو د پوهېدو دروازه ورته خلاصه کړې چې د ويښې د سترو سترو انکشافاتو لار ئې ورته پرانيستې. چا چې د باروتو د فارمول کشفولو هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library
کوله؛ په ویښه موفق نشو، د یوې رؤیا په مټ هدف ته ورسېد.

باید و ګورو چي (رؤیا) څه ده او حقیقت ئې څه؟ څنګه موږ د زمان او مکان له قیده باسي، کله مو تېرو زمانو ته بیایي او کله راتلونکو زمانو ته، او له راتلونکو حوادثو او پېښو مو خبروي؟ په (رؤیا) کي کوم شی د دې باعث کېږي چي موږ د مکان او زمان له حجاب آخوا پر هغو حقائقو پوه شو چي په خپلو پنځګونو حواسو ئې نه شو درک کولی؟ آیا موږ شپږم حس هم لرو؟ چي د خوب په حالت کي راویښېږي؟ آیا دا حس کولی شي چي د زمان او مکان له محدودې پښه آخوا کښېږدي، له حجابونو تېر شي او د پردو تر شا وقائع او حقائق درک کړي؟ او یا دا چي (رؤیا) د یوه بل حقیقت نښه ده؛ د یوه داسي ذات له شته والي مو خبروي چي د انسان د (رؤیا) او خوبونو د الهام سرچینه ده؟ که چېري د (رؤیا) په اړه دا تعبیرونه او توجیهات ونه منو، نو څنګه کولی شو د دې لپاره کومه بله توجیه وړاندي کړو؟ څوک چي د الله تعالی له شته والي انکار کوي او انسان محض یو مادي توکی او له غوښي جوړ ماشین ګڼي او د روح په نامه کوم څه نه مني، د دغو خوبونو لپاره څه توجیه لري؟ د ټولو په ژوند کي، لږ تر لږه د یو شمېر انسانانو په ژوند کي، زېری ورکوونکي خوبونه ترسترګو کېږي، ټول داسي خوبونه خو پرېږدئ آیا فقط یو ئې کافي نه دئ چي حساس محققین او منصف پوهان وهڅوي چي د دغو خوبونو په اړه خلکو ته دقیق او د منلو وړ ځواب ورکړي او سرچینه ئې په ګوته کړي؟ زه به د خپلو خوبونو له منځه څو د دغو محققینو مخي ته کښېږدم او ځواب به ترې وغواړم، تر ننه مي داسي محقق نه دئ موندلی چي د رؤیا په اړه ئې له مادي زاویې داسي تحلیل وړاندي کړی وي چي عقلمن انسان پرې قانع شي، په ځوانۍ کي مي د یوه غربي لیکوال زیګموند فروید د هغه معروف کتاب ځیني برخي په نورو کتابونو کي لوستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library
وې چې د خوب په اړه ئې ليکلی، فرويد د غربيانو په زعم لوی محقق او ارواح پوه ګڼل کېږي، غوښتل مي دا کتاب ترلاسه کړم، په ايران کي پسي وګرځېدم، يوه کتاب پلورنځي کي راته وويل شول چي د دې کتاب پلورل په ايران کي منع دي، خو زه به ئې درته پيدا کړم، دا کتاب مي ترلاسه کړ، هغه مي په دقت سره ولوست، د دېرو برخو په اړه مي د کتاب په حاشيه کي خپل ملاحظات وليکل، غوښتل مي تفصيلي نقد پرې وليکم، خو فرصت مي پيدا نه کړ. دا کتاب په غرب کي دومره مهم ګڼل کېږي لکه د مارکس کتاب (capital: پانګه)، لکه څنګه چي مارکس اقتصاد د ټولني د ټولو نورو برخو او د انسان د فکري، ديني، سياسي او اجتماعي اړخونو بنسټ ګڼي، وايي اجتماعي نظام، د خلکو افکار او باورونه له دې بنسټ او سرچينې خړوبه کېږي، دا اقتصاد دئ چي د ټولني هر څه ته او د فرد شخصيت او باورونو ته خپل رنګ ورکوي، همداراز فرويد ادعاء کوي چي د انسان د ټولو اړيکو، د ويښي دوستي او دښمني، کرکه او مينه ئې او د خوب رؤياء ئې جنسي منشأ لري، ما د زيګموند فرويد ادعاء، افکار، دلائل او د خوبونو تعبيرونه ئې دومره منحط او پرېوتي وموندل چي نه له انساني عقل سره اړخ لګوي، نه له علم سره، نه د انساني ټولني له فردي او اجتماعي واقعيتونو سره، او نه د هر خوب ليدونکي له تجربو سره، لږ تر لږه دومره ويلی شم چي زما د دېرو خوبونو له تعبير عاجز دئ، هغه نه پوهېږي چي جنسي تمايل د انسان د فطري جوړښت د پراخو ابعادو او اړخونو يوازي يو اړخ دئ، ښايي د خوبونو سلمه به ئې له دې اړخ سره تړاو ولري، هغه هم د هغو چي په ويښه ئې دا غريزه له فطري او جائزي لاري نه اشباع کېږي، همغسي لکه يو تږی چي په خوب کي د اوبو څښل ګوري، هر عقلمن انسان به د دې کتاب له لوستلو وروسته له ځان سره وايي: دا څنګه او ولي داسي کچه او پرېوتو افکارو هم په انساني ټولني کي بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library
پیدا کړی؟ لکه څنګه چي د مارکس ماتریالستي لیدلوری د انسان د نه نوي سلني فعالیتونو لپاره ماتریالستي توجیه نشي وړاندي کولی، یوازي د هغو فعالیتونو په اړه څه ناڅه صدق کوي چي منشأ ئې اقتصادي وي او د انسان له مادي اړتیاوو سره تړاو لري، همداراز د فروید سیکسي لیدلوری د انسان د ویښي او خوب د نه نوي سلني فعالیتونو له توجیه عاجز دئ، یوازي هغه برخه توجیه کولی شي چي د انسان له جنسي اړتیاوو سره تړاو لري. زه به د کتاب په پای کي د فروید ځیني تحلیلونه او تعبیرونه ستاسو مخي ته کښېږدم چي وګورئ څومره منحط او پرېوتي دي!!

هغه چي په خوب باور نه لري

ځیني خلک په خوب باور نه لري، په خپله داسي بد خوبونه ویني چي بل ته ئې نشي ویلی، د بل چا په ښه خوب ئې هم یقین نه راځي، د ځینو دا نه خوښېږي چي د خوب په اړه څه وویل یا ولیکل شي، ګمان کوي چي خوبونه یا بېهوده خیالات دي یا هیلي او تمنیات، او د زیګموند فروید په اصطلاح هغه ځپل شوې جنسي هیلي چي په ویښه کي د تحقق مجال نه دئ ورته برابر شوی، د ضمیر په کومي مخفي ګوښې کي د ځان ښودلو او ترسره کېدو په طمع انتظار کوي او د خوب په عالم کي دا فرصت ترلاسه کړي او د رؤیا په بڼې کي ترسره شي!! منم چي ځیني خوبونه همداسي دي، یا د ویښي د خیالاتو په څېر او د هغوی امتداد، یا د ویښي هغه ځواکمني هیلي چي انسان هره شېبه د هغوی د تحقق لپاره شېبې شمېري، یا د ځوانۍ ځپل شوې جنسي هیلي، یا وسوسې او واهمې، خو پر دې ټولو برسېره انسان داسي خوبونه هم لري چي په دغو تنګو او محدودو قالبونو کي نه ځایېږي، دا ناسم، ناقص او غلط تعبیرونه او تأویلونه ئې له توضیح او تعریف عاجز دي. په مجموع کي خوبونه درې ډوله دي:
۱- هغه چي رحماني منشأ لري، زېری وي او د خوب لیدونکي د سرور او خوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library
سبب کېږي، ۲- هغه چي شيطاني منشأ لري، د ويښي شيطاني وسوسو په څېر، د انسان د خفګان باعث کېږي، په زړه کي ئې وېره، خوف او ناهيلي راولاړوي، ۳- هغه چي د ويښي د افکارو او خيالاتو په څېر او د هغوی امتداد وي.

د نړۍ غوڅ اکثريت په يوې او بلي بڼي په خوبونو باور لري، ټولي مذهبي ډلي چي د نړۍ تر نوي سلني زيات وګړي احتوی کوي نه يوازي په خوبونو باور لري بلکي هغه د خپلو مذهبي کتابونو او باورونو برخه ګڼي، قرآن زموږ په وړاندي د ابراهيم عليه السلام يو خوب، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دوه خوبونه، د يوسف عليه السلام يو خوب، د مصر د پاچا خوب، د يوسف عليه السلام د دوو زنداني ملګرو خوبونه ردي، او د قرآن يوه سوره د يوسف عليه السلام هغي قصې ته مختص شوې چي د ده د خوب پر محور څرخي، له دې معلومېږي چي قرآن خوب ته په ځانګړي اهميت قائل دئ، په احاديثو کي هم د ډېرو خوبونو او د هغوی د تعبيرونو شاهد يو، د بايبل په شمول په ټولو صحيح او غلطو مذهبي کتابونو کي ئې ډېري بېلګي مومو، منکر او نه منونکی ئې داسي دئ لکه د دغو کتابونو نه منونکی او منکر.

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي:

مَنْ لَمْ يُؤْمِنْ بِالرُّؤيَا الصَّادِقَةِ فَإِنَّهُ لَمْ يُؤْمِنْ بِاللهِ وَرَسُولِهِ (الديلمی عن عبد الرحمن بن عائذ)، جامع الاحاديث.

څوک چي پر رښتينو خوبونو باور نه لري نو هغه پر خدای او د هغه پر رسول ايمان نه لري.

عن عائشة زَوْجَ النَّبِيِّ (صلی الله عليه وسلم) قَالَتْ كَانَ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ (صلی الله عليه وسلم) الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لاَ يَرَى رُؤْيَا إِلاَّ جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ،....

(c) ketabton.com: The Digital Library
له ام المومنين عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وئې ويل: پر رسول الله (صلّى الله عليه وَسَلَّمَ) د وحي د نزول لړۍ له هغو نېکو خوبونو پيل شوې چي ليدل به ئې، څه چي به ئې په خوب کي وليدل د سپيده داغ د رڼا په څېر به راڅرګند شو،...

ځوک خوب ويني؟

ځوک چي په ويښه د فکر کولو فرصت نه لري، د ابتکار، نوښت او اختراع استعدادونه ئې کمزوري او ضعيف وي، مضبوطه او قوي حافظه ئې نه وي په برخه شوې، طبيعي ده چي په ويده حالت کي به هم خوبونه نه ګوري، که ئې ګوري نو ژر به ئې هېر ېږي، که په وېښه ئې افکار او عزائم بد وي نو خوبونه به ئې هم بد وي، او د چا چي عزائم نېک، افکار غوره، عمل صالح او مصروفيتونه په سم او انساني مسير کي، د هغه خوبونه به هم ښکلي او ښايسته وي، پاکه روح د سمسوري زمکي په څېر د ښو افکارو او نېکو عزائمو بوټي راشنه کوي او د شفافي هنداري په څېر د الهام انځورونه اخلي او په څرګنده توګه ئې منعکس کوي، پليته او په ګنده افکارو لړلې روح د شيطان د لوبي ډګر وي، لکه ښوره زمکه او زنګ وهلې هنداره، نه بوټي راشنه کوي او نه انځورونه اخيستی او نه ئې منعکس کولی شي.

د انسان د دماغ په اړه د فرويد ناقص معلومات

رؤيا داسي ګڼل لکه د دماغ يوه بېهوده او خوشې لوبه او بې هدفه مشغولتيا؛ او له ارزښت او اهميت ئې انکار کول؛ د هغه چا کار دئ چي يا پر الله تعالى ايمان نه لري؛ همغسي لکه چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايي، او يا د هغه چا چي د انسان د حساس دماغ له هېښوونکي جوړښت او په ويښه او خوب کي د هغه له پراخو او منظمو فعاليتونو دقيقه اطلاع نه لري، فرويد او د ده ملګري همدا ستونزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، د خوب په اړه د دوی سطحي او ضعیف قضاوت او له علمي پلوه کمزوری او تت تحلیل له هغي بې علمۍ سره تړاو لري چي د انسان د پېچلي روحي جوړښت په اړه د دوی په برخه وه، دوی په هغه دور پوري مربوط دي چي د انسان د مغز او د هغه د ژورو، پراخو، هیښوونکو او حیرتناکو فعالیتونو په اړه معلومات له نشت سره برابر وو، نه پوهېدل چي د انسان دماغ دومره ستر او مخکی تللی کمپیوټر دئ چي د یوویشتمي پېړۍ د سترو سترو کمپیوټرونو حیرتناک فعالیتونه د هغه له یوې وړې برخي سره سیالي نشي کولی، ښایي د امریکا د یو ویشتمي پېړۍ د یوه جمهور رئیس اوباما دا وینا به د انسان د دماغ په اړه د انسان د ناسمي او ناقصي پوهي لپاره کافي وي چي وایي: موږ مریخ ته ورسېدو خو د انسان د یوه پونډ په اندازه مغز په اړه لا سم معلومات نه لرو!!

اوس او له ډېرو ژورو علمي تحقیقاتو وروسته انسان ته معلومه شوه چي د ده وړوکی دماغ څومره ستر، مترقي او حساس کمپیوټر دئ، نږدې سل ملیون حجرې لري، دا حجرې د انسان ټول فکري او عملي کارونه سمبالوي، د انسان ټول فکري او جسمي فعالیتونه، ابتکارات، اختراعات، اکتشافات، وړاندوینې، وړاندلیدنې، د شیانو پېژندنه او تشخیص، پېچلو او مغلقو پوښتنو ته دقیق ځوابونه، د مرضونو تشخیص، او علاج ئې، د مکروبونو پېژندا او د هغوی ضد دوا جوړول، د انسان د بدن ضرورتونه تشخیصول او له خوراکي توکو د هغوی ترلاسه کول او بیا د بدن هري برخي ته د هغوی انتقال، پر دې پوهېدل چي دا ضروري مواد په کومو کومو خوراکي توکیو کي موندل کېږي، انسان د همدې توکیو خوړلو ته هڅول او هغه ته ئې ښایسته او خوندور کول، له همدغو مړو موادو د انسان ژوندۍ نطفه جوړول... او ټول هغه فعالیتونه چي انسان او د هغه بدن ئې په ویښه او خوب کي کوي د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library
مغز د بېلو بېلو برخو کار دئ!! د انسان د بدن ټول حجرات نږدې سل ټریلیون دي، یعني د نړۍ د ټولو انسانانو د شمېر په پرتله نږدې څوارلس زره ځلي زیات. که دا د مغز پر حجراتو وویشو نو د انسان د بدن د هرو یو ملیون حجرو په وړاندې د مغز یوه حجره راځي، په دې توګه ویلی شو چې د مغز هره حجره د بدن د یو ملیون حجرو چارې سمبالوي!! او که د مغز کار له کوم ستر هېواد سره مقایسه کړو نو هغه به داسې وي: د انسان مغز د داسې ستر هېواد چارې سمبالوي چې نفوس ئې سل ټریلیون دئ، ټولې چارې ئې د داسې حکومت په لاس سمبالېږي چې د چارواکو شمېر ئې سل ملیون دئ، دا حکومت د خپل هېواد له فرد فرد سره هره شېبه منظم او مسلسل ارتباط لري، هر یوه ته ټول ضروري او د اړتیا وړ خوراکي مواد رسوي، اوبه او انرژي ورکوي، له درد او غم ئې خبرېږي، که د دښمن تر برید لاندې راشي دفاع ترې کوي، که مریض شي د دوا او درمل بندوبست ئې کوي، د مرض تشخیص په خپله کوي او د هغه ضد دوا په خپله جوړوي، دا سل ټریلیون حجرې په هرو شپږو میاشتو کې په بشپړه توګه بدلېږي، زړې له منځه ځي او خپل ځای نویو ته پرېږدي، دا نوي سلولونه له هره پلوه د زړو په څېر وي، هم د بڼې او شکل له پلوه او هم د وظائفو او دندو له پلوه، د انسان مغز د ځینو ځانګړو ناروغیو له حالت پرته په ټول عمر کې د انکشاف او مخکې تګ په حال کې وي، د مغز حجرې چې نیورون Neurons نومېږي، که هر څومره تحریک شي هغومره ئې نشاط او فعالیت زیاتېږي، هر څومره چې زیات کار ترې واخیستل شي په همغه کچه ئې ظرفیت او فعالیت زیاتېږي، نوي او تر مخکنیو لازیات فعال او ځواکمن نیورونونه راپیدا کېږي، او په ناروغیو ئې د اخته کېدو امکان او احتمال راکموي. د انسان پر پوستکي په هر ساعت کې نږدې دېرش ملیون مکروبونه کښېني، د هغه دماغ په پوستکی کې

(c) ketabton.com: The Digital Library
داسي انتظام لري چي کولی شي د دغو ټولو مکروبونو په وړاندي مقاومت وکړي، له هرو دوو ساعتونو وروسته دا ټول ميکروبونه مري او يوازي اوه زره ئې پاته کېږي چي د هغوی په وړاندي هم د انسان مقاوم ځواک خپلي مقابلې ته تر هغه دوام ورکوي چي له منځه ئې يوسي. د انسان په بدن کي له دوو تر څلورو مليونو د احساسولو نقطې شته، چي د حساسيت کچه ئې له يوې تر بلي ساحې توپير لري، دغه ساحې مغز ته د هر خطر اطلاع ورکوي، له تودوخي او يخني ئې خبروي، د بدن د پوست په يوه سانتي متر کي نږدې ۱۲ متره عصبي تارونه او ۴ متره واړه او ميکروسکوپي رگونه شته، چي د انسان مغز د دغو عصبي مزو له لاري له هر سلول سره منظم او مسلسل ارتباط ساتي او د دغو رگونو له لاري هر سلول ته وينه، غذا، اوبه، آکسيجن، ويتامينونه او مينرالونه رسوي، له همدې توکيو هملته انرژي توليدوي، او د انرژي د توليد په عمليه کي چي کوم مضر گاز توليدېږي هغه سږي ته انتقالوي او د تنفس له لاري ئې بهر ته باسي، که دا مزي او رگونه سره وتړو نو اوږدوالی به ئې دومره شي چي څو ځلي پر زمکي راتاوېدی شي. د انسان د بدن د هر غړي جوړول او د هغه د شکل او رنگ تعيينول د ځانگړيو ژنونو کار دئ، لکه دا چي د انسان د پوستکي، وېښتانو او سترگي رنگ څنگه وي، د سترگو، پزي، غوږونو، وروځو، باڼوگانو شکل څنگه وي او اندازه ئې څومره، همداسي د ټولو نورو غړو د جوړښت او دندي په اړه اړوند ژنونه خپل خپل مأموريت ترسره کوي. د انسان مغز دا ټولي چاري سمبالوي. د انسان د دماغ دغه وړوکی کمپيوټر چي وزن ئې د بدن د ټول وزن دوه سلنه دئ دا ټول حيرتناک کارونه ترسره کوي. د انسان په مغز کي دومره معلومات تعبيه شوي چي که هغه وليکل شي نو شاوخوا شل مليون جلد ضخيم کتابونه ترې جوړېږي!! دا معلومات په هغو چارو پوري مربوط دي چي مغز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې په فطري او طبیعي توګه ترسره کوي، د انسان هغه اکتسابي معلومات چې د څېړنو له لارې ئې ترلاسه کوي د دې معلومات یوه وړه برخه ده!! که دا لږ مزید توضیح کړو نو ویلی شو چې دماغ پوهېږي چې دا سل ټریلیون حجرې ئې چېرې چېرې موقعیت لري، دنده ئې څه ده، اړتیاوې ئې څه دي، څنګه، له کومې لارې او کله ئې اړتیاوو ته ځواب ووایي!! دا ټول معلومات له ځان سره لري، او په منظمو خوندي دوسیو کې ئې ساتي، د انسان دماغ کولی شي د سترګو له لارې تر لسو زرو بېل بېل رنګونه تشخیص کړي، همداسي بې شمېره خوندونه او د غږونو توپیرونه تشخیص کولی شي. تشخیص ئې داسي چې کولی شي په سلګونو خلک د غږ له لارې وپېژني، د ټیلفون له لارې به د یوه داسي دوست غږ واوري چې په تېرو لسو کلونو کې ئې د هغه غږ نه دئ اورېدلی خو د هغه د سلام په اورېدلو سره به ورته ووایي: فلانی یې؟ او هغه به ورته ووایي: ماشاءالله ودي پېژندم!!

د مغز قدرت تر هغه څه ډېر ډېر زیات دئ چې موږ ئې تصور کولی شو، انسان د خپل مغز د پراخو امکاناتو او قدرت له ډېرې کمې برخې استفاده کوي، ځیني محققین داسي انګېرې چې ښایي یوازې نابغه وګړي به د مغز له دې حیرتناک او عظیم قدرت شاوخوا یوه سلنه استفاده وکړي!!

هغه څه چې انسان ئې نشي کولی خو د ده دماغ ئې کولی شي!!

انسان په وینښه او د خپل دماغ له هغې برخې په استفادې سره چې د ده تر واک لاندې کار کوي نشي کولی عضوي مواد تولید کړي، د خپلې مخکې تللې ټیکنالوژۍ په مټ نشي کولی له دانې او مېوې غوښه، وینه، شیدې، هډوکی، وېښته او نور عضوي مواد جوړ کړي، نشي کولی ژوندی شی تولید کړي خو د انسان د دماغ هغه برخې چې د انسان له ادارې پرته کار کوي دا ټول کارونه کوي، نه یوازې له دانې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېوې او نورو خوراکي توکیو عضوي مواد جوړوي بلکي له مړو توکیو ژوندۍ نطفه جوړوي، د دې معنی دا ده چي د دماغ کمپیوټر د انسان له کنترول، مدیریت او ادارې پرته هغه ستر ستر کارونه کولی شي چي انسان ئې د یوویشتمي پېړۍ د مخکي تللو وسائلو په مټ نشي کولی، همداراز انسان په ویښه کي د غیب په اړه نه پوهېږي، یوه ثانیه وروسته چي څه کېدونکی دئ انسان ترې خبرېدی نشي، هغه پېښي نشي لیدلی چي په ماضي کي او هغه مهال رامنځته شوې چي دی په کي حاضر نه وو، خو په خوب کي هم د ماضي پېښي لیدلی شي او هم د مستقبل په اړه دقیق پیغامونه ترلاسه کولی شي، زموږ د دماغ دا حیرتناک او ستر الهي کمپیوټر شپه او ورځ او په ویښه او خوب کي فعال وي، د انسان خوبونه د دغه حساس کمپیوټر د پراخو او دقیقو کارونو یوه برخه ده، د خوب وړاندوینی او وړاندلیدني ئې همغسي وي لکه د ویښي او تر دې هم دقیقي، په خوب کي د انسان اخلاقي شخصیت همغسي انځوروي چي په ویښه ئې جوړوي، د خوب په حالت کي او د انسان په رؤیا کي همغه اخلاقي معیارونه او ضوابط کاروي چي په ویښه ئې کاروي، انسان چي د خپل دماغ په مرسته کوم محیر العقول کارونه کوي، داسي وسائل جوړولی شي چي په مټ ئې تر مریخ پوري رسېدلی شي، خوب لیدل د همدغه دماغ د دقیق فکري کار یو اړخ او د وړاندوینو او وړاندلیدنو یو ډگر دئ، په خوب کي د دماغ یوازې یوه وړه برخه په موقته او نسبي توگه خپل فعالیتونه متوقف کړي، چي ستړیا او ستوماني ئې رفع شي، مصرف شوې انرژي ئې جبران شي او په نشاط سره بیا کار کولو ته چمتو شي، نوري برخي ئې د تل په څېر په خپل خپل کار بوختي وي. ډېره عجیبه ده چي څوک دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او د خوب په اړه داسي گمان وکړي چي گواکي د بې بنسټو خیالاتو د غیر واقعي نړۍ یوه خوشې، بې معنی او بې هدفه لوبه او ډرامه ده!!

(c) ketabton.com: The Digital Library
همغسي لکه چي فرويد او ملګري ئې انګېري!! د دوی په خلاف د هغه شاعر وينا څومره ښکلې او په زړه پوري ده او يو ستر حقيقت زموږ مخې ته ږدي چي وايي:

سالها دل طلب جام جم از ما می کرد

وان چه خود داشت ز بیگانه تمنا میکرد

گوهری کز صدف کون و مکان بیرون است

طلب از گمشدگان لب دریا می کرد

پښتو ژباړه ئې: زړه مي له کلونو کلونو رااېسي له ما جام جم غوښت (د جمشيد هغه خيالي او نکلي (افسانوي) جام چي ګواکي هر څه ئې په کي ليدلی او له ماضي او مستقبل ئې خبرولی شو)، زړه مي له يوه پردي داسي شی غوښت چي په خپل واک کي ئې وو، (زړه مي هغه جام جم درلود چي له هر څه ئې خبر کړي)، خو سره له دې ئې داسي ګوهر لټولو چي د کون او مکان له صدف بهر دئ، هغه ئې د دريا د غاړي له ورکو غوښت!!

يقيناً چي د انسان زړه د همداسي ګوهر خاوند دئ، د جمشيد او سکندر افسانوي جام او هنداره په واک کي لري، د زمان او مکان له محدوديې د وتلو توان لري، روح ئې د کون او مکان له پولو آخوا الوتلی او د غيب له عالم حيرتناک پيغامونه ترلاسه کولی شي. د ده حيرتناک خوبونه او په ترڅ کي ئې له ماضي او مستقبل خبرېدل د همدې حقيقت څرګندونه کوي! په دې کتاب کي به تاسو د داسي خوبونو ډېري بېلګي وګورئ.

رښتيني خوب

رښتيني خوب يو پيغام وي، بشپړ پيغام، د مؤمن خوب هم او د کافر خوب هم، ليدونکي ته يا د تېر وخت يا راتلونکي وخت په اړه لارښوونه کوي، کافر ته يوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاربنوونه او مؤمن ته د لاربنووني تر څنګ بشارت او زېرى هم، همغسي لکه چي قرآن فرمايي:

أَلا إِنَّ أَوْلِيَاء اللّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ * الَّذِينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ * لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَياةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ لاَ تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * يونس: ۶۲-۶۴

پام چي بې شکه د الله دوستان داسي دي چي نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. هغه چي ايمان ئې راوړى او ځان ساتنه ئې کوله. دوى ته په دنيايي ژوند کي او په آخرت کي زېري دي، د الله په ويناوو کي تبديلي نه راځي، همدا ستره بريا ده.

دلته د الله تعالى د دوستانو په اړه ويل شوي چي په دنيا کي به ئې زېري په برخه شي، د آيتونو تفصيلي لاربنووني دا دي:

- د الله دوستان هغه دي چي ايمان ئې راوړى او د خپل رب د حکمونو له سرغړاوي ئې ځان لري ساتلى.
- دوى داسي دي چي نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي، يعني دوى ته نه له څه وېره په کار ده او نه په څه وير.
- دوى ته هم په دنيايي ژوند کي زيري دي او هم په آخرت کي، هم به ئې په دنيا کي فلاح او بريا په برخه شي او هم په آخرت کي. د ټولو مفسرينو په اتفاق له دنيايي زېري او بشارت هغه رښتيني خوبونه هم مراد دي چي د مؤمنانو په برخه کېږي.
- دوى بايد ډاډه وي چي د الله تعالى وعدې رښتينې دي او په ويناوو کي ئې تبديلي نه راځي، هيڅوک ئې د تحقق مخه نشي نيولى، نه د چا تدبيرونه په هغه کي تبديلي راوستى شي او نه ئې زور او ځواک د تحقق مخنيوى کولى شي.
- همدا ستره بريا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري دئ چې اولیاء الله څوک دي او دغه وعدې له چا سره شوې دي، او دا بشارتونه د چا په برخه کېږي، د قرآن له نظره چا ته د ولي په سترګه کتلی شو، د هغوی مواصفات او ځانګړتیاوې کومې دي؟ قرآن موږ ته اولیاء الله او د دوی مواصفات او ځانګړتیاوې راښودلې، ایمان، جهاد في سبیل الله، صبر، تقوی، احسان د اولیاء الله اساسي او مهم مواصفات ګڼې، قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې موږ ته وایي چې الله تعالی له هغه چا سره محبت کوي او د اولیاء الله په ډله کې ئې نیسي چې ایمان ئې راوړی، د الله په لار کې ئې په خپل سر او مال جهاد کړی، په مرصوص او منظم صف کې د الله له دښمنانو سره جنګېدلی، د ایمان په لار کې ئې د کړاوونو په وړاندې صبر کړی، پر الله ئې توکل کړی، خپله لمن ئې له ګناهونو پاکه ساتلې، د الله د رضاء لپاره ئې مالي او ځاني قربانۍ ورکړې. په چا کې چې دا صفات نه وي، مه دا ګمان پرې کوه چې هغه له الله تعالی سره مینه لري او مه دا چې الله تعالی به ئې د اولیاءو په ډله کې ومني.

خو متأسفانه له قرآن او قرآني علومو او مفاهیمو د بې خبرۍ په وجه ځیني داسې ګمان کوي چې اولیاءالله هغه خلک دي چې له دنیایي چارو ئې لاس اخیستی، له خلکو لرې په ورانو ویجاړو کې اوسي، په اذکارو او اورادو بوخت دي، نه د خلکو په ښه کار لري او نه په بد، نه د دې پروا لري چې د ده شاوخوا ته څه تېرېږي او نه د دې چې په نړۍ کې څه حال دئ، د همدوی په اړه وایي چې د الله په عشق کې له دنیا او ما فیها بې خبره دي!! ځیني تر دې هم مخکې درومي په هغه چا د ولي ګمان کوي چې بې سده او لېون وزمه وي، جامې ئې شلېدلې، وېښتان ئې اوږده او په خاورو لړلي، نوکان ئې رسېدلي، د چرسو بوی ترې پورته کېږي، په ګنده ځای کې ناست، سپې ئې په خوا کې راغونډ او مچان پرې راټول، نه لمونځ کوي، نه روژه نیسي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور شرعي وجائب ترسره کوي، د همدغو په اړه وايي چي دوی د (وصال) او (يقين) مقام ته رسېدلي او له عباداتو معاف دي!!!

د رؤيا ژبه

باید متوجه وو چي د خوب پيغام اکثراً د رمز او شفر په ژبه وي، يو پيغام او مفهوم د مادي شيانو په بڼي کي انځور شي، د تشبيه فن په کي کارول کېږي، ډېر ځلي هغه تشبيهات په کي کارول کېږي چي انسان ئې معمولاً کاروي، لکه شپه د غمجن، ستونزمن، مغشوش او له تيارو ډک حالت لپاره، ورځ د رڼا او بريا او سباوون له ستونزو د وتلو حالت لپاره، لوړ تګ، لوړو څوکو ته لوړېدل د معنوي ارتقاء لپاره او ټيټ تګ او له لوړي کوزېدل او په ټيټ ځای کي پرېوتل معنوي سقوط، اخلاقي انحطاط او له معنوي ارتقاء محرومېدل افاده کوي، په قرآن او حديث کي چي کوم څه له بل سره تشبيه شوی په رؤيا کي همدا تشبيهات کارول کېږي، لکه د مېوې لوړه ونه د پاک او اغېزمن کلام په معنی او پر زمکه پروت بې ګټې بوټی د ناپاک او خبيث کلام په معنی، لوی لوی شخصيتونه د لمر او ستورو په بڼې کي، کله کله په خوب کي مفاهيم د يوه کس د نوم په بڼې کي راڅرګند شي، لکه دا چي په کوم خطرناک سفر روان يې او يو کس درسره دئ چي نوم ئې امان الله دئ، د دې خوب تعبير دا دئ چي په دې سفر کي د الله تعالی امان او حفاظت ستا په برخه دئ، که ستار درسره دئ نو تعبير ئې دا دئ چي اسرار دي پټ پاته کېږي، که ځان بربنډ وګورې نو تعبير ئې دا دئ چي اسرار دي افشاء شوي.

د خوب او ويښې توپيرونه

تر ټولو وړاندي دا راته ضروري برېښي چي ثابته کړم انسان په خوب کي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
يوازي د وينښي په څېر دماغي کار کوي بلکي د خوب د حالت دماغي کار ئې تر وينښي ډېر دقيق او عميق وي، ښه به وي دا د يوه خوب په ترڅ کي توضيح کړم:

د شيرخان ليسې په لسم ټولګي کي وم، د رياضي استاد مو درمحمد خان نومېدو، يوه ورځ ئې راته وويل: د مثلثاتو له کتاب لس سوالونه غوره کړه، په يوې پاڼي کي ئې وليکه او اعلان وکړه: چا چي دا سؤالونه تر فلانۍ نېټې حل کړل لس کتابچې به د جائزې په توګه ترلاسه کړي، د پنځو کتابچو قيمت به زه ورکړم او د پنځو ته، ما موافقه وکړه، دا سؤالونه مي په يوې پاڼي کي وليکل او پاڼه مي د ښوونځي پر دېوال نصب کړه، کله چي هغه نېټه رانږدې شوه نو کښېنستم چي ځوابونه ئې وليکم، نه (۹) سؤالونه مي ځواب کړل خو د لسم په حلولو کي له ستونزي سره مخامخ شوم، د شپې تر ماخستنه مي پرې کار وکړ خو موفق نشوم، له لمانځه وروسته ويده شوم، خو ټوله شپه په خوب کي پرې لګيا وم، د سحر تر لمانځه لږ وړاندي مي په خوب کي حل کړ، د سحر له آذان سره سم راويښ شوم، ژر مي قلم او کاغذ راواخيستل او هغه مي وليکلو بيا لاړم اودس او لمونځ مي وکړ، سبا مازديګر مي استاد په داسي حال کي وموند چي واليبال ئې کولو، زما خوا ته راغی او وئې ويل: سؤالونه دي حل کړي، ما ورته وويل: هو، پوښتنه ئې وکړه: هغه سؤال دي هم حل کړی، ومي ويل هو، ما ترې وپوښتل: تا حل کړی، وئې ويل: هو، له ما ئې وغوښتل چي توضيح ئې کړم، ورته ومي ويل: لومړی به ستا حل وګورو بيا زما، هغه په ډېر تکلف او له پېچلو لارو حل کړ، ما ورته وويل: تر دې زما حل دقيق او آسان دئ، هغه ته مي تشريح کړ او پرې قانع شو، بيا مي ورته وويل: دا سؤال مي په خوب کي حل کړی، د خوب جريان مي ورته تېر کړ، حيران شو!!

د دې خوب معنی دا ده چي د انسان ذهن په خوب کي تر وينښي په لازيات

(c) ketabton.com: The Digital Library
دقت سره کار کولی شي، زه به له هیڅا سره دا ادعاء ونه منم چي وایي په خوب کي د انسان ذهن هم ویده کېږي او خپل فعالیت متوقف کوي، زما لپاره یوازي دا او ګڼ شمېر نور خوبونه د واقعي دلیل په توګه کافي دي، د انسان دماغ یوازي د مرګ په خوب له ویده کېدو وروسته خپل فعالیت متوقف کړي، له دې پرته تل فعال وي، هم په ویښه او هم د خوب په حالت کي.

خو د فروید په کتاب کي لولو: هبل په خپلي هغي ټوټې کي چي له اجتماعي ضد تأثراتو یعني هغو تأثراتو سره تړاو لري چي شاته وهل شوي او په تکلف سره پټ کړی شوي داسي لیکي: د غرائزو او تمایلاتو پراخه او له خیالي انځورونو ډکه امپراطوري د خوب په دولسم ساعت کي (د خوب په پای کي) راورسېږي، او د ډېرو رنګ رنګ ښکارندویو او تظاهراتو په بڼې کي زموږ په وړاندي ځان راڅرګند کړي، خوب خپلي وحشتناکي وړانګي د انسان شهواني تمایلاتو او روحي اسرارو مختلفو زاویو ته متوجه کړي، له همدې کبله ده چي دیوان، اشباح او وېرووнکي انځورونه ګورو چي په آزادۍ سره زموږ مخي ته خوځي، په داسي حال کي چي د ورځي له پلوه او د ویښي په حالت کي دا دیوان د عقل په زنځیر تړل شوي وي او د ځان ښودلو مجال نشي ترلاسه کولی!!

ګورئ چي د هبل دا خبري د فروید خوښي شوې دي: د رؤیا امپراطوري د انسان د خوب په وروستیو شېبو کي راڅرګنده شي، کار ئې دا دئ چي د انسان د شهواني تمایلاتو او روحي اسرارو مختلف اړخونه بربنډ کړي، د وحشتناکو انځورونو په بڼې کي ئې زموږ مخي ته کښېږدي، د ویښي په حالت کي دا کار ځکه نشي کولی چي دا مهال د انسان عقل فعال وي او د خوب په حالت کي نه یوازي ویده وي بلکي هغه دیوان او وحشتناک هیکلونه هم د ده له واک وتلي وي چي یوازي په خوب کي

(c) ketabton.com: The Digital Library
راڅرگندېږي!! خو د هبل دا خبري نه يوازي علمي ارزښت نه لري بلکي د انسان د خوب او ويښي د توپيرونو او د هغه د خوبونو د تعبير په اړه د ده وينا ډېره بې بنسټه او د حقيقت خلاف ده، د انسان عقل په خوب کي هم د ويښي په څېر فعال وي، ښايي هبل او فرويد ته به دا د يوه بسيط دليل په توګه کافي وي چي ورته ووايو: که ستاسو عقل په خوب کي فعال نه وی نو په زړښت کي به مو هم خپله بستره هره شپه همغسي لمدوله چي په ماشومتوب کي مو لمدوله!! مور ته ووايئ: کوم څه مو په خوب کي نه پرېږدي چي د ماشومتوب د وخت هغه غلطي وکړئ؟!! نه د خوب او ويښي تر منځ دومره ژور توپير شته چي هبل او فرويد ئې ادعاء کوي او نه د خوب د پيل او پای تر منځ دومره توپير چي ګواکي يوازي په وروستي پړاو کي ئې امپراطوري راڅرګنده شي، د انسان دماغ او عقل په خوب کي همغسي فعال وي او کار کوي چي په ويښه ئې کوي، ډېر ځلي ئې د خوب په حالت کي کار تر ويښي لازيات دقيق وي، د خوب افکار او تمايلات ئې همغسي وي چي په ويښه وي، په خوب کي همغه رموز، کنايې او تشبيهات کاروي چي په ويښه ئې کاروي، وېراندليدني او وېراندويني ئې همغسي لکه د ويښي وېراندويني او وېراندليدني، خوب نه د انسان فطرت بدلوي او نه ئې عقل او طبيعت، يوازي دومره کوي چي د انسان د بدن څو سويچونه غيرفعال کړي او پر څو محدودو حواسو د ده واکمني په نسبي توګه تضعيف کړي، داسي لکه چي سترګي ئې پټې شي او د لاس او پښو له خوځولو عاجز شي.

ژور او سطحي خوب

د انسان خوب د خپل عمق او ژوروالي له پلوه دوه حالته لري: ژور خوب او سطحي خوب، د دوی تر منځ تفاوت په دې کي دئ چي د ژور خوب په حالت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظه زياته فعاله نه وي او په خوب کي ليدلې صحنې سم نه ثبتوي او انسان ته ئې نه ورپه يادوي، د انسان د خوب د عمق حالت داسي دئ لکه د اوبو يو داسي ډنډ چي د ژۍ عمق ئې لږ او د منځنۍ برخي عمق ئې زيات وي، خوب همداسي دئ، د ويدېدو په پيل کي نيمګړی او سطحي وي ورو ورو ژور او عميق شي، په پای کي بېرته ورو ورو د ويښي حالت ته رانږدې شي، د همدې لپاره د خوب د پيل او پای رؤيا په ياد پاته کېږي او د منځنيو برخو رؤيا ئې له ياده وځي او په واضح توګه ئې ياد ته نه راځي، دې ته بايد متوجه وو چي د خوب په وخت کي د انسان د بدن بېلي بېلي ويده کېدونکې برخي ورو ورو او يوه په بلي پسي خپل کار متوقف کړي او ويده شي، ځيني ژر او ځيني ورو ورو او لږ وروسته ويده شي، ځيني ئې د نيم ويده حالت کي پاته وي او د پېښو په وړاندي عکس العمل ښيي او راويښ شي، لکه غوږونه چي د ناڅاپي غږ په وړاندي عکس العمل ښيي او انسان راويښوي، يا د انسان پوستکی چي هم تودوخه او يخني احساسوي او هم پر پوستکي د خزنده خوځېدل او چيچل، دا کټ مټ داسي ده لکه چي ستاسو د کمپيوټر ځانګړی سافت وير د کمپيوټر بېل بېل پروګرامونه يو په بل پسي متوقف کړي او په پای کي ټول کمپيوټر د سټينډبای (انتظار) په حالت کي پرېږدي، کله چي تاسو موس يا د کي بورډ کومي بټني ته ګوته وروړئ نو کمپيوټر راويښ شي او بيا ټول ويده شوې برخي او پروګرامونه يو په بل پسي فعال کړي. د انسان حافظه دوه برخي لري، يوه ئې د موقتي حفظ دنده تر سره کوي او بله ئې د اوږده حفظ، کټ مټ داسي لکه اوسني کمپيوټرونه چي موقته حافظه ئې د RAM په نامه يادېږي، دا برخه تر هغه مطالب له ځان سره ساتي چي په خپله فعاله وي، خو که ذخيره شوي مطالب ئې د فعال حالت په دوران کي بلي برخي ته انتقال نشي نو له منځه ولاړ شي، د انسان د موقتي حافظې برخه د ويښي او خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحنې او مطالب په موقته توګه ساتي، که د حفظ بلې برخې ته انتقال نشي نو له منځه ځي او په یاد نه پاته کېږي، دا پېښه د ژور خوب په حالت کې رامنځته کېږي، د نیمګړي خوب په حالت کې د موقتي حافظې دوسیې هغې برخې ته له ځنډ پرته انتقالېږي چې د اوږده حفظ دنده ترسره کوي، له همدې کبله د دې حالت خوبونه په یاد پاته کېږي. د انسان د دماغ دغې ځانګړتیا او خاص جوړښت ته په پام سره ویلی شو چې درې ډوله خوبونه په یاد پاته کېږي: ۱- هغه چې د مهمو او هېښوونکو پیغامونو او صحنو قاصد وي، ۲- هغه چې د لیدو په وخت کې ئې انسان راویښ شي او همغه مهال ئې له ځان سره په خپل ذهن کې تکرار کړي او غور پرې وکړي، ۳- هغه چې د خوب په پیل یا پای کې ئې وګوري.

په خوب کې د ویښې په څېر وړاندلیدني

زه د داسې خوبونو پراخه تجربه لرم چې په ترخ کې ئې له وړاندنیو او راتلونکو پېښو خبر شوی یم، همدغو تجربو دې نتیجې ته رسولی یم چې باور وکړم د انسان د روحې جوړښت او یا د دماغ هغه برخې چې په ویښه کې د زمان او مکان له قید وځي، وړاندوینه کوي، ابتکار کوي، د راتلونکې په اړه حدس وهي او ډېر ځله ئې حدسونه دقیق او صحیح ثابتېږي، له مقدماتو نتائجو ته ځان رسوي او د پېښو پیلامې په ګوته کوي، دا برخې د (خوب) په حالت کې هم فعالې وي. داسې نده چې د خوب په حالت کې د انسان د روحې جوړښت ټولې حساسې برخې خپل فعالیت متوقف کوي. په خوب کې د دماغ ځینې برخې له فعالیت لاس واخلي، ځینې نیمه فعالې شي، ځینې د انتظار حالت غوره کړي، خو ځینې نورې برخې ئې داسې دي چې د خوب حالت هغوی ته د لا ښه فعالیت کولو موقع په لاس ورکړي. د خوب په حالت کې د انسان دماغ له ورځنیو پراخو مصروفیتونو فارغ وي، د ده پنځګونې حواس چې هر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library
ئې د ورځې له لوري پراخ فعالیتونه لري او د دماغ لویه برخه مصروفوي، د خوب په وخت کې خپل کار متوقف کړي، دماغ آرام پرېږدي او هغه ته دا موقع ورکړي چې په پوره انهماک سره په هغو قضایاوو غور وکړي چې ده ته مهمې برېښي، هغه چې د ورځې له لوري، د پراخو مصروفیتونو په وجه نه توانېدو ورباندي غور وکړي. دا داسې وګڼئ لکه متفکر، عالم، شاعر، لیکوال چې د یوې مهمې څېړنې، لیکنې او شعر لپاره له خلکو ګوښه شي او ځانته د ښه فکر کولو او په خپل کار د ښه ترکیز لپاره مناسب شرائط برابر کړي. خوب همدا شرائط د دماغ لپاره برابروي.

انسان د خپل پېچلي دماغ د پراخو فعالیتونو یوه وړوکې برخه په خپل واک کې لري، داسې چې د ده له ارادې سره سم کار کوي، دا برخه په خوب کې خپل فعالیت متوقف کړي، خو د دماغ هغه لویه برخه چې د انسان تر واک لاندې عمل نکوي بلکې خپلواکه ده او خپل ټول فعالیتونه په اتوماتیکه توګه ترسره کوي، دا برخه تل فعاله وي او د یوې شېبې لپاره خپل فعالیت نه متوقف کوي. د خوب په حالت کې د انسان د دماغ دا برخه د لا ښه فعالیت فرصت ترلاسه کوي. که انسان په ویښه کې وړاندوینه کولی شي، د راتلونکي په اړه حدس وهي، اختراعات کوي، نوي نوي ابتکارات کوي، څو مقدماتي خبرې یوه د بلې خوا ته کښېږدي او له همدې د راتلونکو نتائجو په اړه قضاوت کوي. هیڅ دلیل نلرو چې همدا کار دې د خوب په حالت کې ونشي کولی، د اکثرو انسانانو ذاتي تجربو دا خبره ثابته کړې.

هغه خلک چې ګمان کوي د انسان حواس، دماغ او روح د خوب په حالت کې له کار لوېږي او خپل عادي او ورځنی فعالیت متوقف کوي، نه یوازې اشتباه کوي بلکې د واقع خلاف خبره کوي، حقیقت دا دئ چې د خوب په حالت کې د انسان د دماغي فعالیت نږدې نوې سلنه برخه د ویښې په څېر فعاله وي او یوه وړه برخه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
خپل کار په نسبي توګه متوقف کړي، او دا هغه برخي دي چي څه نا څه ئې مهار د انسان په واک کي وي، لکه د لاس پښنو خوځول، سترګي يوې خوا بلي خوا ته اړول او دې ته ورته کارونه، اما هغه برخي چي مهار ئې د انسان په واک کي نه دئ، لکه د دماغ پراخ او پېچلي فعاليتونه، د زړه، ځګر، يني، سږي، د هاضمې نظام، د ويني دوراني حرکت، عصبي مزي، او د نورو غړو فعاليتونه، دا په خوب کي نه يوازي د ويښي په څېر په کار بوختي وي بلکي ځيني ئې تر ويښي په خوب کي لازيات ښه او اغېزمن کار کوي.

په خوب کي له راتلونکو پېښنو خبر ېدل

هر انسان ډېر ځله په ويښه کي په خپل ذهن کي د راتلونکو پېښنو په اړه کله مبهم، کله مجمل او کله په نسبي توګه څرګند تصوير او انځور احساسوي، وړاندويني او وړاند ليدني ئې ذهن ته راځي، او عملاً ګوري چي دا وړاندويني او وړاندليدني ئې سمي او د حقيقت مطابق وې، همداسي په خوب کي د راتلونکو پېښنو په اړه داسي خوبونه ګوري چي تحقق مومي، دا به ډېره عجيبه وي چي څوک د ويښي وړاندويني مني خو د خوب وړاندليدني نه مني، د دوی د اقناع لپاره به يا موږ داسي خوبونه د دوی مخي ته ږدو او يا به ئې دوی په خپله ګوري، راشئ چي زه لومړی د خپلو تجربو بېلګي د دوی مخي ته کښېږدم او بيا د قرآن څو بېلګي:

د سردار داؤد کودتايي رژيم زه د نظام ضد کودتا په تور په غيابي محکمې کي په اعدام محکوم کړی وم، تر شديد تعقيب لاندي وم، ارګون ته او له هغه ځای په پاسنيو کي د قابل صديقي کور ته ولاړم، هغه يو بل مېلمه هم درلود چي نوم ئې حاجي آدم خان او د زرمت اوسېدونکی وو، ما د عبدالرحمن مستعار نوم غوره کړی وو، د شپې مي يو داسي خوب وليد چي تر دې وړاندي مي په لسګونو ځله ليدلی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library
او هغه داسي وو: په خوب کي د يوه غره ډډي ته داسي زيارت وګورم چي خوا ته ئې جومات دئ، د جومات مخي شرقي لوري ته د اوبو چينه ده چي مخي ته ئې سره او تياره خونه جوړه شوې، اوبه ئې دلته غونډېږي بيا بهر راوځي او د څو تشنابونو له مخي تېرېږي، تر جومات څو ګزه لري کلی پروت دئ، د کر زمکي د غره په ډډه کي داسي جوړي شوې چي هر پټی تر بل اوچت او د ډبرو په دېوالونو لوړ کړی شوی، دې ځای ته په لسګونو ځلي په خوب کي ورغلی يم، کله له يوه لوري او کله له بل لوري، د چينې خوا ته خونه کي لمبېدلی يم، د ونو مېوې مې خوړلې دي، د کلي په دکان کي مي سودا اخيستې ده، په دغه شپه مي يو ځل بيا همدغه ځای په خوب کي وليد، سحر له لمانځه وروسته مي صديقي او د ده مېلمه ته خوب تېر کړ او ورته ومي ويل چي له هغه وخته دا خوب په مکرره توګه ګورم چي لا تنکی ځوان وم، کله چي به په موټر کي له يوې سيمي بلي ته تللم او کومي غرنۍ سيمي ته به ورسېدم نو هر لوري ته به مي کتل چي که دا زيارت مي تر سترګو شي، حاجي آدم خان راته وويل: دا خو د روحاني بابا زيارت او کلی دئ، هر څه ئې همغسي چي تا وويل، له حاجي آدم خان مي دا هم واورېدل چي وئې ويل: ما تر ننه هيڅ فرض لمونځ له جماعت پرته نه دئ اداء کړی، تل الله تعالی داسي شرائط راته برابر کړي چي لمونځ مي په جماعت وي، ما هملته پرېکړه وکړه چي د زرمت له لاري هغي سيمي ته ځم چي وګورم دا خوب مي ولي په مکرره توګه ليدلی، سبا روان شوم، د ارګون له لاري زرمت او بيا هغه کلي ته ولاړم، باور وکړئ چي دا کلی او زيارت داسي راته آشنا وو لکه چي په خپلو سترګو مي په وينښه په وار وار ليدلی وي، هر څه ئې همغسي لکه چي ما په خوب کي ليدلي وو، حتی يوه شپه مي په خوب کي يو شی ليدلی وو چي په اوبو کي خوځېږي، والله چي همغه شی می په اوبو کي روان وليد، همغسي لکه چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب کي مي ليدلي وو هلته مي غسل وکړ، کلي ته کوز شوم او له يوه دکان مي څه سودا واخيستله، څو ورځي هلته پاته شوم چي پوه شم دا خوب مي ولي دومره زيات ليدلی، او څه پيغام راته لري، د جومات په يوې وړې خوني کي ويدېدم، له خسکو (کټ ملو) ډکه وه، د خوب په وخت کي به مي د خسکو له کبله پايڅې په جرابو کي منډلې، خو بيا به ئې هم خوب ته نه پرېښودم، په پای کي دې نتيجې ته ورسېدم چي دا خوب په حقيقت کي زما لپاره يو لوی او اغېزمن درس وو، زه ئې د برخليک او مقدراتو په حقيقت سم پوه کړم، ما ته کلونه کلونه وړاندي ويل شوي وو چي يو وخت به دغه ځای ته ځې، هلته به دا دا په خپلو سترګو وګورې... دا دئ هر څه همغسي چي ما په خوب کي د تنکۍ ځوانۍ له وخته تر نن پوري په وار وار په خوب کي ليدلي وو، له هغه ورځي وروسته هم د قضاء او قدر په حقيقي معنی ښه پوه شوم او هم مطمئن شوم چي له داسي پېښي سره نه مخامخ کېږم چي زما رب له وړاندي ما ته نه وي مقدر کړې.

د فرويد له ملحدو پلويانو پوښتنه کوم: هغه کوم ذات دئ چي د دې خوب فيلم ئې نږدې لس کاله او هر کال څو څو ځلې ما ته راښودلی، او آخري ځل ئې د قابل صديقي په کور کي راوښود او بيا ئې لړۍ د تل لپاره بنده شوه، دا څنګه او چا زه د حوادثو پر اوږو سپور د هېواد له شمال په داسي وخت کي د قابل صديقي کور ته راوستم چي حاجي آدم خان ئې هم له بل لوري دلته راوستی وو چي سبا زه خپل خوب د هغه په وړاندي تېر کړم او هغه راته ووايي: تا په خوب کي د روحاني بابا کلی او زيارت ليدلی؟!! که دی هم دلته نه وی او ما هم دا خوب يو ځل بيا دلته نه وی ليدلی نو د تل لپاره به د دې ځای او د دې خوب د فيلم د اصلي صحنو له ليدلو محروم وم، زما د اوسېدو د ځای او د روحاني بابا تر کلي نږدې څلور سوه کيلومتره

(c) ketabton.com: The Digital Library

واټن دئ، په خپل ټول عمر کي دې سيمي ته نه وم تللی، چا له هغه څه لس کاله وړاندي په مکرره توګه خبرولم چي لس کاله وروسته مي په خپلو سترګو وليدل؟!!

د مېوو او نورو خوراکي توکو تعبير

که تاسو کوم ماخوستن مالګين او غوړين خواړه خوړلي وي، د شپې به په خپل خوب کي ګورئ چي سخته تنده درباندي راغلې ده، په وار وار اوبه څښئ خو تنده مو نه ماتېږي، تر هغه چي دماغ مو له خوب راويښ کړي او د اوبو په څښلو سره تنده رفع او د هغه خوب د بيا ليدلو لړۍ بنده کړي، د دې معنی دا ده چي د انسان دماغ د بدن ټول ضرورتونه احساسوي، په دې هم پوهېږي چي دا اړتياوي څنګه او د کومو خوړو له لاري رفع کېدی شي، انسان ته په ويښه او خوب کي پيغامونه لېږي او هغه دې ته هڅوي چي دغه خواړه وخوري، دا توکي ورته خوندور کړي، زړه ئې غواړي هغه وخوري، له خوړلو ئې خوند اخلي، خو کوم څه ته چي ضرورت نه لري هغه ئې بد اېسي او له پامه ئې بد راځي، له خوړلو ئې خوند نه اخلي، که انسان په ويښه د دماغ پيغامونو ته اعتناء ونه کړي او هغه څه ونه خوري چي دماغ ئې ورته سپارښتنه کړې ده، يا له دې کبله چي د اخيستلو توان ئې نه لري، يا نه غواړي پيسې ئې مصرف شي، نو د خوب په حالت کي ئې دې کار ته هڅوي، او وړيا ئې پرې خوري، او دا ښيي چي په خوب کي د کومي مېوې د خوړلو معنی اکثراً دا وي چي خوب ليدونکی په دغي مېوې کي شته موادو ته ضرورت لري، په وجود کي ئې دغه مواد کم شوي، دماغ ئې پوهېږي چي دا مواد په کومي مېوې کي شته، نو ځکه د همدغي مېوې خوړلو ته ئې هڅوي، کټ مټ همغسي لکه چي په خوب کي د تندي په حالت کي ئې د اوبو څښلو ته هڅوي او په وار وار ئې پرې څښي!! ځيني معبرين د هر څه لپاره په يوازي توګه يو تعبير وړاندي کوي، لکه دا چي په خوب کي مڼه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعبير لري او انار څه تعبير، حال دا چي يو شی په يوازي توګه هيڅ پيغام نشي افاده کولی، دا داسي ده لکه څوک چي تا ته يوازي کوم نوم ياد کړي، پرته له دې چي د هغه په اړه د څه کولو وينا درته وکړي، خو که په خوب کي تا ته دوه ډوله خوراکي توکي وړاندي شي، يو ئې ګټور او خوندور او بل ئې تريخ او تاواني، ته له دې دواړو ګټور غوره کړې نو د دې خوب معنی او تعبير دا دئ چي تا د دوو شيانو تر منځ هغه غوره کړی چي ګټور دئ، دا کار يا شوی او يا کېدونکی دئ، يا ئې پر خپل مخکني کار مطمئن او ډاډه کړی يې يا درته وايي چي ګټور ئې غوره کړه، ښايي د دې توکي رنګ يا نوم به هغه څه ته ورته او نږدې وي چي په خوب کي د دغو په ښې کي درته انځور شوي.

زه نه يوازي د يوه مسلمان په توګه په خوب باور لرم بلکي د دې خبري د کولو جسارت هم کوم چي زما د ايمان او عقيدې په مضبوطولو کي زما د خوبونو لويه ونډه وه. هر څوک، کافر او مسلمان، په خپل ژوند کي د داسي خوبونو تجربه لري، زه ئې هم لرم، له هغي ورځې چي کمپيوټر په لاس راغلی، ما هڅه کړې خپل ټول حساس خوبونه وليکم، په دې کتاب کي به ځيني ستاسو مخي ته کښېږدم.

د کانکور تر آزمويني وړاندي له نمرو خبرېدل

۱- د دولسم ټولګي په آخري مياشتو کي د کانکور په اړه مشوش وم، يوه شپه مي خوب وليد چي د کانکور امتحان مي ورکړی، د نتائجو پاڼي د يوه دېوال پر مخ نصب شوې، لستونه ګورم، خپل نوم مي د يوه لست په سر کي وليد او خوا ته مې ۷۹ نمرې، دا طمع مي په زړه کي راولاړه شوه چي ښايي زه په ټول افغانسان کي اول نمره کامياب شوی يم، له خوب راويښ شوم، خپل همصنفي او د خوني ملګري عبدالله د بغلان اوسېدونکي ته مي وويل چي ما په کانکور کي ۷۹ نمرې اخيستې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library
خپل خوب مي هغه ته تېر کړ، دوه مياشتي وروسته مي د کانکور امتحان ورکړ، په انجنيري کي مي د شاملېدو پرېکړه وکړه، د پري انجنيري کورس لپاره کابل ته ولاړم، دا دوه مياشتنی کورس هم پای ته ورسېدو او زه له هغه کورس اول نمره فارغ شوم، د کورس په پای کي د کانکور نتيجې اعلان شوې، لستونه د حقوقو د پوهنځي په دېوالونو نصب شوي وو، هلته ورغلم، گورم چي د يوه لست په سر کي زما نوم ليکل شوی او مخي ته ئې هماغه ۷۹ نمرې، ژر ژر مي ټول لستونه وکتل چي وگورم دا ترټولو اوچتي نمرې دي که نه، آيا زما هغه د خوب طمع صحيح وه که نه؟ خو ومي ليدل چي ترټولو اوچته نمره ۸۱ وه او د ټولو هغو کسانو شمېر چي له ۷۹ تر ۸۱ پوري نمرې ئې اخيستې وې جمعاً يولس کسان وو.

پوښتنه کوم: زه څنگه څلور مياشتي وړاندي له داسي پېښي په ډېر دقت او تفصيل سره خبر شوم چي څلور مياشتي وروسته ترسره شوه؟! دا زما د دماغ کار دئ که له کومي خارجي منبع ترلاسه شوې اطلاع او الهام؟! دا په هيڅ توگه د هغه سؤال د حلولو په څېر زما د دماغ کار نشي کېدی، ځکه دلته له داسي څه خبر شوی يم چي هم له زماني پلوه زما او د هغه تر منځ اوږد واټن وو او هم له مکاني پلوه، زه نه له دې خبر وم چي د کانکور آزمويني نتائج د لسو نمرو له مخي وي (هغه وخت د ثانوي زده کړو د آزموينو معمول همدا وو) او که د سلو، نتيجه ئې هر چا ته د کومي پاڼي پر مخ ورکول کېږي که د اعلان په توگه او که د دېوال پر مخ د نصب شوي فهرست په ترڅ کي؟ نه پوهېدم چي زه به له دې نتيجې په کندز کي خبرېږم که په کابل کي؟!! هغه نتيجه چي له داسي خوبونو ترلاسه کېږي له شک پرته دا ده چي د دې خوبونو د الهام منبع زما له واک بهر منبع ده، داسي منبع چي د (زمان) او (مکان) له قيدونو او محدوديتونو آزاده ده، د انسان علم د هغه د علم په وړاندي ډېر لږ او محدود دئ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library
هغه څه پوهېږي چي ما ته پرې پوهېدل په هيڅ توګه او له هيڅ وسيلې په استفادې سره ممکن نه دي. زه وايم دا زما رب دئ، څوک چي له دې انکار کوي د هغه ځواب به څه وي او داسي خوبونه به څنګه تعبيروي؟!! ما او هغه چا ته به څنګه قناعت راکوي چي همداسي خوبونه ئې ليدلي؟!! د فرويد پلويان او سيکولر محققين به دا خوب څنګه توجيه کوي؟ يو داسي کار چي لا نه دئ واقع شوی، ترسره کېدو ته ئې لا څلور مياشتي پاته دي، د صحنې ټولي برخي داسي دي چي د خوب ليدو له نېټې وروسته به رامنځته کېږي، زه څنګه له دغي راتلونکې پېښي او اړوند صحنو ئې څلور مياشتي وړاندي او په دومره دقت او تفصيل سره خبر شوم؟!! څوک چي له دې حقيقت انکار کوي زه به څنګه د هغه انکار د منلو وړ ګڼم؟!!

۲- بله بېلګه ئې:

هغه مهال چي د ظاهر شاه د واکمنۍ په دوران کي بندي او په توقيف کي د محکمې حکم ته منتظر وم، يوه شپه مي خوب وليد چي زما مشر ورور شهيد اختر محمد (چي د کمونستانو د اقتدار په لومړيو کي زما له پلار او کوچني ورور نورالدين سره په شهادت ورسېدو) زما د توقيف خوني ته راننوت او له روغبړ وروسته زما د زندان د ملګري شهيد ډاکټر محمد عمر پر اوسپنين کټ کښېناست، د سرو زرو ګوتې ئې چي د فيروزې غمی په کي لګېدلی وو په ګوته وه، له څو دقيقو خبروآترو وروسته ئې دا ګوتې راوايستله او ماته ئې راکړه، د ملاقات په پاي کي کله چي روانېدو، جيب ته ئې لاس کړ او درې سليز افغاني نوټونه ئې له جيبه راوايستل او ماته ئې راکړل، خوب مي په دغه ځای کي پاي ته ورسېد، د هغي شپې په سبا، زما همدا مشر ورور ناڅاپي او پرته له دې چي کابل ته د ده له راتګ خبر وم، زما ليدو ته راغی، پوليسو هماغه خوني ته راوست، په هماغه کټ کښېناست، هماغه ګوتې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګوته، له څو شېبو خبرو آترو وروسته ئې خپله ګوتې راوايستله او ما ته ئې راکړه، د تلو په وخت کي ئې جيب ته لاس کړ او هماغه درې سره سليز نوټونه ئې راوايستل او ماته ئې راکړل. ما تر لاس ونيو او ورته ومي ويل: په خدای قسم چي ستا دغه راتګ او د هغه ټولي صحنې مي تېره شپه په خوب کي ليدلې وې، دې ته منتظر وم چي دا آخري برخه ئې هم وګورم او بيا ئې تا ته ووايم.

له ماترياليستانو او د فرويد له پلويانو پوښتنه کوم: د يهودي مارکس او يهودي فرويد په مادي او الحادي مذهب او مسلک کي د داسي خوبونو لپاره څه توجيه او تحليل لرئ؟!! زما په څېر په مليونونو انسانانو دې ته ورته خوبونه ليدلي هغوی به څنګه قانع کوئ؟!! زما لپاره همدا خوبونه کافي دي چي باور ولرم له مادي نړی، آخوا د داسي خوبونو لپاره د الهام او إيحاء داسي منبع او مرجع شته چي له غيب او د راتلونکي زمانې له پېښو خبر دئ، دا ځکه چي د دې لپاره بله او مادي توجيه نشو موندلی!!

په خوب کي د ستورو ځای ته تګ

زما د (رؤيا) بله بېلګه د يوسف عليه السلام صادقه (رؤيا) ته ورته ده:

۳- ما ته خپل شهيد پلار په نوې ځوانی کي واده وکړ، په لسم ټولګي کي زه د واده خاوند وم، د واده په شپه مي د سحر له لمانځه مخکي څو شېبې خوب کړی، چي سترګي مي سره ورغلې په خوب کي ګورم چي د تره له يوه زوی سره مي چي سپين ږيری وو او محمد نذير نومېدو، يوځای د آسمان په لوري اوچت ولاړو، د ستورو ځای ته ورسېدو، ستوري راکد ول، خو زما په رسېدو سره وخوځېدل، له شرق د غرب په لوري روان شول، داسي لکه د سمندر څپې، ناڅاپي داسي زرينه ټوټه ترې جوړه شوه چي د اوږدو او سارو تارونه ئې ټول ستوري ول، دا زرينه ټوټه په خپله په

(c) ketabton.com: The Digital Library
زرینو خولیو بدله شوه، له ما څو ګامه آخوا د دغه زرینو خولیو یوه وړه کوڼه جوړه شوه، هغې خوا ته ورروان شوم چي وګورم دا څنګه خولۍ دي، ناڅاپي څه نور ناپیژانده کسان چي شمېر ئې تر څلورو پنځو زیات نه وو، را پیدا او له یوې بلي خوا د خولیو په لور راروان شول، هر یوه لدې کوڼي یوه خولۍ په لاس کي واخیسته پرته لدې چي پر خپل سر ئې کښېږدي، ما هم یوه خولۍ راواخیسته او پر خپل سر مي کښېښوده او په همدې سره له خوب راویښ شوم. په ابتداء کي مي ګمان کولو چي د دې خوب به زما له واده سره ارتباط وي، ښایي الله تعالی به ما ته نېک اولاد راکړي چي سر مي ورباندي لوړ وي، د دې خوب له لیدلو دوه کاله وروسته په پوهنتون کي شامل شوم او په پوهنتون کي زما له شمول سره جوخت اسلامي خوځښت پیل شو، د الله تعالی لطف او مهرباني وه چي د یو شمېر محصلینو ورونو په ملګرتیا د اسلامي نهضت په تأسیس کي لږ یا ډېره ونډه را په برخه شوه، د سردار داؤد د واکمنۍ په مهال او هغه وخت چي زموږ ډېر ورونه د رژیم له لوري د پاڅون په تور ونیول شول، ما له یو شمېر نورو ورونو سره پاکستان ته هجرت وکړ، لنډه موده وروسته مو له همغه ځای د نهضت د بیا منظمولو لړۍ پیل کړه، د غړو په روزنه او تنظیم مو لاس پوري کړ، چا چي به له موږ سره یوه روزنیزه دوره پای ته رسوله، بېرته به خپلو سیمو ته ستنېدل، له لوړو غرونو او ژورو درو اوښتل او له کږو وږو ستونزمنو لارو به ټاکلیو سیمو ته تلل او له رسېدو سره سم به ئې د افرادو په روزني او انسجام لاس پوري کاوو، په همدغه دوران کي وو چي ټول مشران ورونه راغونډ شول او د یوې غونډې په ترڅ کي ئې د اسلامي نهضت مشري ما ته تفویض کړه، ګمان مي وکړ چي زما د هغه خوب تأویل همدا وو. خو د خوب دا برخه چي د خولیو کوڼه زما د موقعیت په غرب کي وه، لومړی نور او بیا زه هلته ورغلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library
له دې تعبير سره اړخ نه لګولو، ډېر وروسته كله چي د جهاد لمن خوره شوه، ډېر خلک حتی هغه هم د مجاهدینو له لیکو سره یو ځای شول چي له فکري او اخلاقي پلوه ئې د دې صف وړتيا نه درلوده خو شرائطو پر نهضت تحميل کړل، په پاکستان او ایران کي ګڼ شمېر ډلي جوړې شوې، او دا دئ ګورئ چي ډېر کسان د مشرتابه لپاره کاندید شول او غوښتل ئې د قیادت پګړی پر سر وتړي، په دې وخت کي پوه شوم چي زما د هغه خوب تعبير څه وو.

که دېرش کاله مخکي مي دغه (رؤیا) له چا سره مطرح کړې وی؛ نو له تعبیره به ئې حتماً ځان عاجز ګڼلو خو که نن همدغه (خوب) د هر هغه چا په وړاندي تېر کړم چي د افغانستان له جریاناتو او د نهضت د تأسیس له څرنګوالي او د ډلو او ګوندونو د جوړېدو له بهیر خبر دي، نو په آسانۍ سره کولی شي د دې خوب ټولي برخي تعبیر کړي.

دا خوب مي د یوې ادبي ټوټې په بڼې کي په دري ژبه لیکلی او د شعر او عرفان په رسالې کي تر دې عنوان لاندي (در خوابگاه انجم) نشر شوی.

بله بېلګه:

۴- د سردار داؤد د کودتايي رژیم له لوري د اسلامي نهضت د مهمو غړو نیول پیل شو، زه دا مهال د کابل په فرزه کي د میر صفي الله پاچا په کور کي اوسېدم، زما د اوسېدو د ځای د محاصرې او زما د نیولو پلان جوړ شوی وو، د کوماندو یوه قطعه ئې د همدې لپاره د شپې له خوا، میربچه کوټ او له هغه ځای د فرزې په لور وخوځوله، د کابل د امنیې قوماندان سره له یو شمېر پولیسانو پدې عملیاتو کي برخه درلوده، ما یوه شپه د مخه خوب لیدلی وو چي دا کور محاصره شوی او زه د محاصرې له حلقې د ختیځ په لوري ووځم، د همدې لپاره مي هغه شپه په بل کور کي تېره کړه، سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library
مي لمونځ په تياره کي وکړ، د پاچا صاحب د کور په لوري راوخوځېدم، توپک او تمانچه راسره وه، پدې وخت کي کوماندو او مسلح پوليس کور ته داخل شوي او د کور په تفتيش لګيا وو، غير مسلح کسان د کور مخي ته د حوض د شا او خوا ونو لاندي ولاړ وو، ما ګمان وکړ چي دا به زموږ ملګري وي چي له کابل به راغلي وي، حال دا چي دوی د ولسوالۍ مربوط پرسونل وو چي له کابل راغلې مسلح قطعې له ځان سره دلته راوستي وو، مسلح کسان کلا ته ننوتي او د کور په تلاشي لګيا وو، د دې کسانو له منځه د ولسوالۍ د امنيې قومندان راووت او پر ما ئې غږ وکړ چي دريش!! ما د ټوپک لتې وواهه او ورپسې مي تفنګچه راوايسته او ګولۍ مي پکي تېره کړه، د امنيې قومندان ځای پر ځای ودرېدو او زه لکه څنګه چي مي په خوب کي ليدلي وو د هماغه باغ له دېوال واوښتم او د غره په لوري ولاړم، ټول جريان هماغسي وو چي په خوب کي مي ليدلی وو.

بله بېلګه:

۵- د ظاهرشاه د دور توقيف په دوران کي مي يو ځل پدې اړه استخاره وکړه چي د هېواد راتلونکی به څنګه وي؟ د روسانو پراخو لاسوهنو، په افغاني فوځ کي د دوی ژور نفوذ، د کمونستانو هڅو او د شاهي نظام فساد مشوش کړی وم، راتلونکی راته تياره بريښېدو، غوښتل مي پدې پوه شم چي زموږ هېواد په کوم لوري روان دئ او له کومو پېښو سره به مخامخ کېږو؟! (که څه هم استخاره داسي ده لکه چي څوک دوه لاري ته رسېدلی وي او له الله تعالی غواړي چي د سمي لاري د انتخاب او په هغې د تګ توفيق ورکړي، لازمه ئې دا نه ده چي دا لارښوونه به په خوب کي ورته کېږي)، خوب مي وليد چي شاهي رژيم نسکور شوی، ګڼ شمېر حکومتونه يو په بل پسې راغلي او نسکور شوي، دغو حکومتونو روسانو ته د هند تر سمندر پوري د

(c) ketabton.com: The Digital Library
رسېدو لار ورکړې، اوس قدرت د مسلمانانو په لاس کي دئ. د ایران له لوري زموږ پر هېواد برید شوی، فوځونه ئې مخکي راروان دي، ځیني برخي ئې نیولې او په همدې نیول شویو برخو کي پښتونستانیان!! ځای په ځای کوي، زه د هغي لاري په سر ودرېږم چي تېرو حکومتونو د روسانو لپاره پرانیستلې وه. د سړک یوې بلي خوا ته وګورم او خپلو ملګروته ووایم: تېرو خائنو حکومتونو؛ روسانو ته دا لار جوړه کړه!! په نیول شویو سیمو کي چي کوم کسان ځای په ځای کېدل لدوی مي ځیني پېژندل، هغوی ته ورغلم چي پوښتنه تري وکړم، لدوی سره په خبرو آترو مصروف وم چي ایراني فوځونه له موږ تېر شول، زه په نیول شوې خوا کي پاته شوم او ملګري مي بلي خوا ته. زه د ایراني فوځ له لیکي د هېواد په لور راتېر شوم چي ناڅاپی یوه ایراني افسر راباندي ډزي وکړې، زه ودرېدم، هغه مي په نښه کړ، ډزي ميورباندي وکړې، ولګېدو، په زمکه پرېووت، ورغلم او د ده ټوپک او تمانچه مي راواخیسته او د خپلو ملګرو په لور وخوځېدم. دوی د یوه پاخه کارېز د خولې شا او خوا ولاړ ول، له ما ئې وپوښتل چي څه وکړو؟ په ځواب کي مي ورته وویل: په همدې کارېز کي سنګر نیسو، پرېږدو چي دښمن وړاندي راشي، چي کله دې سیمي ته راورسېدل له کارېز راوځو او تر ډزو لاندي ئې نیسو، دوی دا رأی ومنله او په همدې سره له خوب راویښ شوم. د دې خوب ډېری برخي رښتینې شوې، وبه ګورو چي د نورو برخو تعبیر ئې څه دئ؟، شاهي رژیم نسکور شو، روس پلوه حکومتونه رامنځته شول، زه ایران ته په تګ مجبور شوم، ایران له امریکا سره د افغانستان په اشغال کي ملګرتیا وکړه، خپل پلویان ئې په هغو مفتوحه سیمو کي مستقر کړل چي امریکایانو ونیولې، په هرات، کابل، کندهار، غزني، مزار او کندهار کي ئې ایران پلوه شیعه ډلو ته ښارګوټي جوړ کړل، له پولو راواوښتل او په ډېرو سیمو کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلي سرحدي پوستې زمونږ په خاوره کي جوړي کړې، زه بېرته خپل هېواد ته راستون شوم، ايراني چارواکو زما په ضد تبليغات وکړل (د ډزو تعبير همدا دئ)، ما متقابل تبليغات وکړل، يو وخت دوی مونږ امريکا پلو ګڼلو، نن مونږ د دوی په اړه همغه د دوی خبره کوو او وايو: له امريکا سره ئې د افغانستان په نيولو کي ملګرتيا وکړه، پر ايراني افسر متقابلي ډزي او وسله ئې ترې اخيستل همدا تعبير لري، زه له ايران خپل هېواد ته راستون شوم، سري او ناځرګند جهاد مو پيل کړ، په کارېزونو کي سنګر نيولو ته ورته!!

له باانصافو محققينو او له حساسو څېړونکو پوښتنه کوم: که د نړۍ د ټولو خلکو داسي خوبونه يوې خوا ته پرېږدو، يوه دوه بېلګي ئې راواخلو او وغواړو چي د خوب منشأ او حقيقت معلوم کړو، نو ځواب به مو څه وي؟ زه څنګه له راتلونکو پېښو خبر شوم؟ چا خبر کړم؟ دا اطلاع چا راکړه؟ د دې الهام سرچينه چېري ده؟

دا هم د يادوني وړ بريښي چي د شورای نظار مشر احمدشاه مسعود د انديشمند په نامه يوه ليکوال ته دنده سپارلې وه چي زما کتاب (پټي توطئې او بربنډي څېرې) باندي نقد وليکي، دا کتاب په ۱۳۷۸کال کي خپور شوی وو، انديشمند د کتاب د نقد په موخه يوه ليکنه وکړه، په حق الزحمه کي ئې په کابل کي يو غصب شوی کور ورکړ، دا کور د يوه داسي ليکوال د تره شخصي کور وو چي کلونه کلونه ئې د شورای نظار او جمعيت لپاره تبليغات کړي ول، ويس نومېږي، ډېره هڅه ئې وکړه چي غصب شوی کور ترلاسه کړي، له ستونزو سره مخامخ او دې ته اړ شو چي خبره مطبوعاتو ته وباسي!! انديشمند په خپلي ليکني کي زما دوو خوبونو ته اشاره کړې وه، يو ئې د فرزې خوب او بل ئې دغه وو، انديشمند هڅه کړې وه چي وښيي دا ګواکي يو خوب نه بلکي د ايران په اړه زما د عزائمو او

(c) ketabton.com: The Digital Library
انګېرنو انځور دئ چي ما د خوب نوم ورکړی!! په داسي حال کي چي هغه حقيقتا يو خوب وو، هغه مهال نه ما او نه بل چا د دې تصور کولی شو چي زه به ايران ته ځم، ايران به پر افغانستان بريد کوي، سيمي به نيسي او خپل پښتونستانيان به په کي مستقر کوي، خو دا دئ د هغه خوب ټولي برخي نږدې څلوېښت کاله وروسته محققي شوې!!

تقدير

دغه (خوبونه) سربېره پر دې چي د انسان د مختلفو روحي ابعادو څرګندوونکي او مظاهر دي د الهام د سر چينې وجود چي د مادې له محدودې بهر ده هم په اثبات رسوي او يو بل حقيقت د (تقدير او برخليک) په نامه منعکس کوي، ته په خپله رؤيا کي د يوې داسي پېښي په جريان کي لوېږې چي ډېره موده وروسته ترسره کېږي او مصداق ئې په ويښه کي وينې؛ او د دې معنی دا ده چي انسان د هغي تګلوري لاروی دئ چي لوړي ژوري ئې پخوا ټاکل شوې دي او هرو مرو دی ترې تېرېږي. د تګلوري غوره کول د ده کار دئ؛ خو هغه لوړي ژوري چي دی د لاري په اوږدو کي بايد ترې تېر شي له پخوا مقدر شوې دي، واک او اختيار ئې د انسان په لاس کي نه دئ، دا موضوع د ديني مباحثو يوه ډېره مهمه قضيه ده، هغه کسان چي په دې موضوع د ښه پوهېدو تلوسه او شوق لري بلنه ورکوم چي دا رساله (په قضاء او قدر ايمان او مقتضيات ئې) او د التکوير د سورې د وروستي آيت تفسير دي په (د قرآن پلوشې) کي مطالعه کړي.

بله بېلګه:

۶- په پلتخنيک پوهنځي کي کمونستانو زموږ پر ملګرو بريد وکړ، موږ د هغوی مرستي ته ورغلو، په نښتي کي دوی کلکه ماته وخوړله، له دې نښتي وروسته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library
وه د پوهنتون په صحن کي بله نښته وشي، خو موږ د هغې مخنيوی وکړ، جريان داسي وو: کمونستانو غوښتل د پوليتخنيک د پېښي په اړه څه عکس العمل وښيي، کم له کمه خپلو کسانو ته روحيه ورکړي. د پوهنتون په صحن کي راغونډ شول، لدوی آخوا د ساينس پوهنځي مخي ته د مسلمانو ځوانانو محدود شمېر کسان راغونډ شوي وو، زه پداسي حالت کي دې ځای ته راورسېدم چي هره شېبه د لويي نښتي احتمال په نظر راتلو. د نښتي عواقب راته ښه نه معلومېدل، زموږ شمېر د دوی په نسبت ډېر کم وو، ما ورونه راغونډ کړل او اعلان مي وکړ چي موږ د ښار په لوري خوځېږو او غواړو چي د پوهنتون د پېښو په اړه عام ولس مطلع او خپل دريځ څرګند کړو، د دارالمعلمين او ابن سينا په لوري وخوځېدو، د ابن سينا ليسې مخي ته له رسېدو سره سم ګڼ شمېر ټولګي له يوې بلي خوا راورسېدل او له موږ سره يوځای شول، پدې ډلو کي د يکه توت د مولوي صاحب په مشرۍ د ده د طالبانو او د کلي د ځوانانو ډله د خاصي پاملرني وړ وه، مولوي صاحب ډېر زړه ور، با ايمان او مجاهد عالم، په حالاتو پوه، د ژوري ديني پوهي او وسيع نظر خاوند وو. نويو ټولګيو، مخصوصاً مولوي صاحب ټينګار کاوو چي بايد بېرته د پوهنتون په لوري وګرځو، داسي نه چي کمونستي ډلي زموږ راوتل داسي توجيه کړي چي له وېرې مو صحنه پرېښوده او پدې سره هغوی خپله تېره ماته جبران کړي. ګڼه ګونه زياته وه، زه ورونو پر اوږو پورته کړم او ومي ويل: له هغو ورونو مننه چي پدې سخت حالت کي ئې ځان راورساوو، خو اوس موږ د ښار په لوري د تلو اعلان کړی، له پوهنتون راوتلي يو، بېرته ګرځېدل مو ښه تأثير نلري، محصلين ترې غلطه انتباه اخلي، پرېږدئ د ښار په لوري خپل لاريون ته دوام ورکړو. خو هغوی نه قانع کېدل، د پوهنتون منار په شا او خوا کي کمونستان راغونډ شوي وو، د دوی غونډي زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونه هځول. مجبور شوم د دوی خبره ومنم او د بېرته ګرځېدو اعلان وکړم. خو زموږ له روانېدوسره سم، کمونستانو خپله غونډه ختمه کړه او خواره شول، چې کله د منار په لوري وخوځېدو، د تېري شپې خوب مي مخې ته ودرېدو. تېره شپه مي خوب ليدو چې موږ د پوهنتون په همدې سړک راروان يو، شمېر مو ډېر زيات دئ، د ځينو په لاسونو کې بيرغونه، د ځينو په لاسونو کې لرګي، چا ملاوي تړلې او چا پر سر څادرونه تاو کړي، په ډېر شور او ځوږ د منار په استقامت راروان يو او شعارونه ورکوو، د منار ګرد چاپېر کمونستان راغونډ دي، خو زموږ په ليدو سره خواره شول. چې د منار څنګ ته راورسېدو، ګورم چې زما په ښي او کيڼ لاس کې دوه چاقوان دي، له خوب راويښ شوم اوس ټوله صحنه هماغسي ګورم چې په خوب کې مي ليدلې وه، چې منار ته راورسېدو او ودرېدو له ځان سره مي وويل: هغه دوه شيان چې په خوب کې مي په ښي او کيڼ لاس کې ليدلي وو، چېري دي؟! ناڅاپه مي ښي او کيڼ جيب ته لاس کړ او هماغه دوه شيان مي لاسونو ته راغلل!!

بله بېلګه:

۷- تل پدې تشويش کې وم چې په هېواد کې د يوې ژوري اجتماعي تبديلي راوستلو لپاره شايد مسلحانه مبارزې ته اړشو، که لداسي حالت سره مخامخ شوو چې نوري لاري زموږ په مخ بندي شي او مسلحانه مبارزې ته اړ شو، د مسلح ټولګيو د تجهيز او اکمال مشکل به څنګه او له کومي لاري حل کوو؟! په پرديو پوري تړلې ډلې خو د اکمالاتو لپاره بهرنۍ منابع لري، اما موږ چې اسلامي انقلاب غواړو او په ټولې نړۍ کې داسي اسلامي هېواد نه ګورو چې له مسلمانو انقلابيونو سره مرستې ته چمتو وي، دا مشکل به څنګه حل کوو؟ په توقيف کې مي يوه شپه په همدې اړه استخاره وکړه، په خوب کې ګورم چې زه له خپلو ګڼ شمېر مسلح ملګرو سره د يوه جګ

(c) ketabton.com: The Digital Library
غره په اړخ کي روان يو، د ټولو په لاسونو کي اتومات وسلې، غر د سينځلو په ونو پوښل شوی، مېوې ئې پخې او نيم خامي، له ځان سره وايم: دا دئ هم مو د وسلې ستونزه حل شوې او هم د غلې، ټول غر له مېوې ډک، داسي مېوه چي هم نن ترې استفاده کولی شو او هم ئې سبا ته ذخيره کولی شو، سحر چي له خوب راويښ شوم او له لمانځه وروسته مي د قرآن تلاوت کولو، د عنکبوت د سورې لدې آيت سره مخامخ شوم:

وَ كَأَيِّن مِّن دَابَّةٍ لا تحمِلُ رِزقَهَا اللَّهُ يرزُقُهَا وَ إِيَّاكُم وَ هُوَ السمِيعُ العَلِيمُ *

العنکبوت: ۶۰

او څومره ډېر خزندګان چي خپل رزق په شا نه وړي، خدای ورته رزق ورکوي او تاسو ته هم او هغه اورېدونکی پوه ذات دئ.

د همدې آيت په تفسيرکي د پيغمبر عليه السلام هغه حديث مخي ته راغی چي فرمايي:

خدای له دريو کسانو سره مرسته په خپله ذمه اخيستې:

- هغه ځوان چي د عفاف لپاره د نکاح اراده کوي.
- هغه مريی چي د آزادۍ لپاره له خپل بادار سره مکاتبه کوي.
- او هغه مجاهد چي د الله په لار کي د جهاد لپاره ملا تړي.

له دې ورځي وروسته ما تل داسي ګمان کاوو چي موږ به حتماً په مسلحانه مبارزې آزمويل کېږو، غرونو ته به پورته کېږو او الله تعالی به زموږ د وسلې او غلې ستونزه په خپله حل کوي. د خوب هغه صحنه مو په وينسه په خپل ژوند کي وليدله.

د يوسف عليه السلام رؤيا

۸- راشئ د يوسف عليه السلام هغه رؤيا هم خپلي مخي ته کښېږدو چي په قرآن کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
يادونه شوې، تر څوانۍ وړاندې ئې ليدلې وه او شاوخوا شل کاله وروسته محققه شوه، قرآن فرمايي:

إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾ قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٥﴾

کله چې يوسف خپل پلار ته وويل: پلار جانه! يولس ستوري او لمر او سپوږمۍ (مې په خوب کې) ځان ته د سجدې په حال کې وليدل. وئې ويل: زويکه! خپل خوب دې ورونو ته مه تېروه، داسې نه چې ستا په ضد کوم پټ تدبير ونيسي، يقيناً چې شيطان د انسان ښکاره دښمن دئ.

دا آيتونه څو اساسي مطالب زموږ مخې تهږدي:

الف: د يوسف عليه السلام په (رؤيا) کې يولس ستوري د هغه د يولسو ورونو لپاره او لمر او سپوږمۍ د ده د پلار او مور لپاره د رمز په توګه راغلي او دا ښيي چې د (رؤيا) او خوب ژبه رمزي ده، ځانګړی قاموس لري، ټول شيان په کې د رموزو او سمبولونو په بڼه ننداري ته ايښودل کېږي.

ب: يوسف عليه السلام ته د ستورو، لمر او سپوږمۍ انقياد چې د ده په وړاندې د هغوی د سجدې په لفظ سره تعبير شوی دئ، هغه ته د ورونو انقياد او د هغه پر لويوالي او اوچتوالي د کورنۍ د ټولو غړو اعتراف افاده کوي.

ج: کله داسې وي چې په يوه صالح انسان کې ښېګڼې او لوړ لوړ نېک صفات د کينه ګرو او حسودو انسانانو کينه راپاروي او همدغه کينه او حسد ئې د لوړو شخصيتونو دښمنۍ ته هڅوي. تل به ګورئ چې فاسق او مفسد انسانان له صالح او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېکو انسانانو سره دښمني کوي.

د: داسي مه انګېرئ چي په انسان کي حسادت يو طبيعي او فطري خصلت دئ، نه داسي نه ده؛ بلکي دا شيطان دئ چي په انسان کي د دې ناروغۍ سبب ګرځي، که څېړي په نورو کي ښېګڼي او اوچت خصلتونه؛ په تا کي هم دغو ارزښتونو ته د رسېدو تلوسه راولاړه کړي او تا هم ښېګڼي او لوړو خصلتونو ته وهڅوي او په تا کي نوې ولولې، شوق، تلوسه او هيلي راوپاروي، دا يو طبيعي امر دئ؛ مګر که د دې پر عکس تا د فضل او ښېګڼي له خاوندانو سره عداوت، دښمنۍ او کينې ته وهڅوي او د دې بد کړچار سبب شي، نو پام کوه چي شيطان ستا پر زړه او دماغ سيورى غوړولى او دغه منفي احساسات ئې در کي راپارولي دي.

هـ: خپل رازونه او اسرار له ځان سره وساته او له افشاء کولو ئې، په خاصه توګه نږدې ملګرو، سيالانو او هغو کسانو ته چي له تا سره د تنافس او رقابت قصد لري، ډډه وکړه.

و: يعقوب عليه السلام چي يو حساس او پوه شخصيت او د درايت خاوند دئ له يوه پلو د خپل زوى خوب په دقيقه توګه تعبيروي او له بل پلو ورته توصيه کوي چي خپلو ورونو ته ئې افشاء نکړي، داسي نه چي شيطان د دوى کينه راوپاروي او د ده په خلاف ئې کوم ناوړه پټ تدبير ته وهڅوي.

قرآن ورپسې د يعقوب عليه السلام تعبير داسي بيانوي:

وَكَذَٰلِكَ يَجۡتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعۡقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library
او همداسي به ستا پالونکی رب تا غوره کړي او د احاديثو (خبرو) تأويل (ښه او دقيق تعبير) به درزده کړي او خپلي پېرزويني به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ داسي بشپړي کړي لکه چي پخوا ئې ستا پر نيکونو ابراهيم او اسحاق بشپړي کړې، بې شکه چي ستا رب باحکمت پوه دئ.

د يعقوب عليه السلام په دې دقيق تعبير کي يولس ستوري د يوسف عليه السلام د يولسو ورونو، لمر او سپوږمۍ د ده د پلار او مور رؤيائي رموز ګڼل شوي او سجده ئې د ده په وړاندي د دوی انقياد او د دې نښه ښودل شوې چي الله تعالی به ده ته ستر او لوړ مقام ورپه برخه کړي، هغه ته به پر نورو فضيلت وروبخښي او د يعقوب عليه السلام د کورنۍ قيادت او مشري به ئې په برخه شي. د تأويل الاحاديث (د خبرو په کُنه او حقيقت د پوهېدو) او د خوبونو د سم او دقيق تعبير پوهه به ئې په برخه شي، يعني له يوه پلو به د خوبونو د تعبير علم ورکړی شي او له بل پلو به د هري خبري تل ته د رسېدو استعداد او توانمني ترلاسه کړي او دا د يوه انسان د پوهي او علم تر ټولو لوړ پوړ دئ. يعقوب عليه السلام له دې (رؤيا) پوه شو چي دی او اولاد ئې د خپل وخت د ځلاندو ستورو په شان دي. له همدې امله يوسف عليه السلام ته فرمايي چي الله تعالی به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ خپله پېرزوينه بشپړه کړي، هغسي لکه چي ستا پر نيکونو ابراهيم او اسحاق عليهما السلام ئې بشپړه کړې وه، لکه څنګه چي هغوی د الهي انعام مستحق وګرځېدل او د خلکو د هدايت وسيله شول، تاسي به هم د خلکو د لاري د ځلاندو مشالونو حيثيت غوره کوئ او له تروږميو به د هغوی د ايستلو باعث وګرځئ. يعقوب عليه السلام ته له دې خوب معلومه شوه چي په تأويل الاحاديث کي به يوسف عليه السلام تر ده هم مخکي وي، د ده په وړاندي خپله سجده ئې همداسي تعبير کړه، نو ځکه ئې هغه ته وويل: الله تعالی به د تأويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاحاديث علم درکړي.

د آیت له دې برخې په ښه توګه څرګندېږي چې د یعقوب علیه السلام نور زامن سره له دې چې د خپل ورور یوسف علیه السلام په حق کې ئې ستره جفا وکړه، د الهي بخښني وړ ګرځېدلي او د معنویت لوړو پوړو ته رسېدلي.

د یوسف علیه السلام د قصې په ترڅ کې به وګورئ چې د یعقوب علیه السلام تعبیر صحیح ثابت شو او ټولي برخې ئې یوه په بلې پسې ترسره شوې.

دلته څو خبري په پام کې ولرئ:

بایبل هم د یوسف علیه السلام قصه په ډېر تفصیل سره رااخیستې ده، په ځینو برخو کې ئې وینا قرآن ته ورته ده، خو هغه ئې د یوې بې محتوی او بې مقصده قصې په توګه وړاندي کړې، په داسي حال کې چې قرآن دا د یوې ډېري عبرتناکي او روزونکي قصې په ضمن کې بیانوي او په هري برخي کې ئې په لسهاوو درسونه مخاطب ته ورکوي، قرآن د دغي قصې په ترڅ کې د حق د لاري مبارزینو ته دا ډاډېینه ورکوي چې الله تعالی د حقپالو مل او د دوی د بریا ذمه وال دئ. دا قصه په حقیقت کې د داسي چا حالت انځوروي چې د زندان له یوې تیارې خوني پاچاییٔ ته رسېدلی، هغه څوک چې خپلو ورونو ورسره مخالفت ته ملاوتړله، په کوهي کې ئې واچاوو، د یوه غلام په توګه په ارزانه بیع خرڅ شو، د پاک لمنی په جرم زندان ته ولاړ... خو لا څو کاله نه وو تېر شوي چې له همدې زندان قصر ته ورسېدو او د هغه وخت تر ټولو د ستر هېواد د پاچاییٔ پر تخت کښېناستو!! په دې قصې کې د دې حقیقت لپاره تاریخي بېلګي وړاندي شوې چې د باطل په مقابل کې حق، د دروغو، چل او دوکې په خلاف رښتینولي او صداقت او د اخلاقي فساد په وړاندي پاک لمني هرو مرو غلبه مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايبل ليکي چي يوسف عليه السلام خوب وليد او وروڼو ته ئې تېر کړ او په همدې سره د هغوی حسادت راوپارېدو!! خو قرآن د بايبل خبره تصحيح کوي او فرمايي چي ده خپل خوب وروڼو ته نه بلکي خپل پلار ته تېر کړ او ورته ئې وويل: پلار جانه! په خوب کي يولس ستوري او لمر او سپوږمۍ گورم چي راته سجده وکړي! پلار ورته وويل: گرانه زويه! خوب دي وروڼو ته مه تېروه، داسي نه چي شيطان ئې ستا خلاف کوم خطرناک تدبير ته وهڅوي، د خوب تعبير دي دا دئ چي الله تعالی به تا غوره کړي، د خبرو په حقيقت او د خوبونو په تعبير د پوهېدو علم به درکړي او خپل نعمتونه به پر تا او د يعقوب پر کورنۍ بشپړ کړي، هغسي لکه چي ستا پرپلار او نيکه، ابراهيم او اسحاق ئې بشپړ کړي وو. د قرآن له وينا معلومېږي چي له يوسف عليه السلام سره د ده د وروڼو د مخالفت سبب د ده خوب نه بلکي د ده هغه لوړ شخصيت وو چي پلار د همدې په وجه په درنه سترگه ورته کتل او د ده راتلونکی ورته روښانه او ځلانده معلومېدو.

۹-۱۰- دلته او د يوسف عليه السلام د قصې په تړاو په قرآن کي دوه نوري بېلگي هم وگورئ:

وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣٦﴾ قَالَ لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا
وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ﴿٣٨﴾ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ
ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ
إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ
ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٠﴾

او له ده سره (په يو وخت) دوه زلمي مريان (غلامان) هم زندان ته ننوتل (بنديان شول)، (هر يوه ئې يو خوب بيا بيا ليدلى وو، يوسف ته راغلل)، يوه ئې وويل: زه په خوب کې ځان داسې گورم چې انگور زبېښم او بل (ورته) وويل: زه په خوب کې ځان داسې گورم چې پر خپل سر ډوډۍ وړم او مارغان ئې ترې خوري، موږ د دې خوبونو په تعبير پوه کړه، ته راته د نېکانو له ډلې معلومېږې، هغه وويل: لا به هغه خواړه چې (معمولاً هره ورځ) درکول کېږي درته نه وي راغلى چې تعبير به ئې درته ووايم، دا د هغه علم يوه برخه ده چې زما پالونکي رب راښودلى، ما د هغه قوم دين پرېښود چې پر الله ايمان نه لري او پر آخرت کافران شوي. او د خپلو پلرونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب د دين متابعت مې وکړ، موږ ته نه ښايي چې له الله سره کوم څه شريک کړو، دا پر موږ او پر ټولو خلکو د خداى يو فضل او پېرزوينه ده؛ خو اکثر خلک شکر نه کوي، (يعني دا د الله تعالى لويه پېرزوينه ده چې موږ ته ئې فرمايلي: له الله پرته بل چا ته سر مه ټيټوئ او بل ته لاس لمن مه اوږدوئ)، د زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو! آیا ډول، ډول ارباباﻥ غوره دي او که یو غالب خدای چي (پر ټولو کائناتو) مسلط دئ؟ له ده پرته خو تاسو د داسي څه عبادت کوئ چي هسي څو نومونه دي چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هیڅ دلیل ورته نه دئ نازل کړی، حکم (صادرول) خو یوازي الله لره دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هیچا عبادت مه کوئ، سم او سیده دین همدا دئ، خو ډېری خلک نه پوهېږي.

راشئ د دې مبارکو آیتونو تر تفسیر وړاندي د بایبل هغه وینا مخي ته کښېږدو چي په همدې اړه ده:

بایبل تر دې عنواﻥ لاندي (یوسف د بندیانو خوبونه تعبیروي) لیکي: (فرعوﻥ د دربار د ساقیانو او نانوایانو په رئیسانو غصه شوی وو... دواړه ئې په هغه زندان کي واچول چي یوسف هم په کي وو... دوی زیاته موده هلته پاته شول... فوطیفار یوسف د دوی د خدمت لپاره ګمارلی وو...یوه شپه دواړو خوب ولید... سهار یوسف متوجه شو چي دواړه خفه دي... پوښتنه ئې تري وکړه... وئې ویل: موږ خوب لیدلی خو څوک نشته چي موږ ته ئې تعبیر کړي... یوسف ورته وویل: د خوبونو تعبیرول د خدای کار دئ!! ما ته ووایئ څنګه خوبونه مو لیدلي... د ساقیانو رئیس وویل: د انګورو داسي تاک مي ولید چي درې څانګي ئې وې...ناڅاپه څانګي وغوړېدې او زیات انګور په کي وټوکېدل... له ما سره د فرعوﻥ د شرابو جام وو، انګور مي په کي وزبېښل او فرعوﻥ ته مي ورکړل او هغه وڅښل، یوسف ورته وویل: ستا د خوب تعبیر دا دئ: درې څانګي یعني درې ورځې، تر دریو ورځو پوري به فرعوﻥ تا له زندان آزاد کړي او بیا به د ده ساقي شې... هیله مي دا ده چي ما هېر نه کړې، فرعوﻥ ته زما قصه وکړه او ترې وغواړه چي ما له دې زندان آزاد کړي... کله چي د نانوایانو رئیس دا تعبیر واورېدو او هغه ئې ښه وموند نو هغه هم خپل خوب داسي ورته تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library
کړ: په خوب کي پر خپل سر باندي له ډوډۍ ډک درې شکورونه ګورم... مرغان راغلل او هغه ئې وخوړلې، یوسف ورته وویل: درې ټوکرۍ یعني درې ورځې، درې ورځې وروسته به فرعون ستا سر له تنه بېل کړي او بدن به دي په دار وځړوي، مرغان به راشي او ستا د بدن غوښي به وخوري... درې ورځې وروسته د فرعون د زېږېدو کلیزه وه... دا دواړه بندیان ئې خپل حضور ته وروغوښتل... د ساقیانو رئیس ئې په خپلي مخکنۍ دندي وګمارو او بل ئې په دار وځړاوو).

قرآن د بایبل د دغو خبرو اکثري برخي ردوي او په ځای ئې د قصې اصلي بهیر په داسي بڼې کي بیانوي چي نه یوازي هر څه ئې طبیعي او د واقعیتونو مطابق دي بلکي ډېر ظریف نقاط او مفیدي لارښووني زموږ مخي ته ږدي، قرآن فرمایي: د یوسف علیه السلام په څېر دوه نور بې ګناه کسان هم له ده سره په یوه وخت زنداني شول، دواړو یوسف علیه السلام ته د یوه دروند او نېک انسان په سترګه کتل، د همدې لپاره ده ته راغلل او د خپلو خوبونو تعبیر ئې ترې وغوښت او یوسف علیه السلام چي له خپل زندان د دعوت او مبارزې سنګر جوړ کړی، له هره فرصته په استفادې سره خلک د الله تعالی عبادت ته رابلي، له شرک او د ګڼ شمېر اربابانو له بندګۍ بغاوت ته بلنه ورکوي، مخکي له دې چي د خپل زنداني ملګرو خوبونه تعبیر کړي، مهلت ترې غواړي او ورته وایي چي د راتلونکي وخت د ورځني خوراک له راتلو مخکي به ستاسو د خوبونو تعبیر درته ووایم، له دې فرصته په استفادې سره هغوی توحید، معاد، رسالت، له شرک برائت او د الله تعالی عبادت ته رابلي، خو تر هر څه مخکي لازم بولي چي د هغوی اعتماد جلب کړي؛ ځان داسي معرفي کوي: ما د هغه قوم دین پرېښی چي پر خدای ایمان نه لري، له آخرت منکر دي، د دې په ځای مي د خپلو نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام د دین متابعت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا ترلې او ورته وايي: له ذلت او سپکاوي د خلاصون يوازينۍ لار دا ده چي له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټيټ نه کړو، له شرک ډډه وکړو، يوازي په همدې سره د الله تعالی عنايت او فضل زموږ او د ټولو انسانانو په برخه کېدی شي، الله تعالی په خپل دې پرېکنده او قاطع حکم او امر سره چي له ده پرته هيچا ته د بندګۍ سر ټيټ نه کړو او هيچا ته د احتياج او نيازمنۍ لاس اوږد نه کړو، پر موږ لويه پيرزوينه کړې ده، خپل خاص احسان او فضل ئې زموږ په برخه کړی او زموږ سر لوړي او عزت ئې غوښتی دئ. خو ډېر انسانان د دې الهي احسان او ستر نعمت پاس نه ساتي، د شرک په ګنده ډنډ کي لوېږي او په همدې سره ئې ذلت او سپکاوی په برخه کېږي، د زندان ملګرو ته د يوسف عليه السلام د دې وينا معنی دا ده: (څوک چي د زمکي او آسمانونو د يوازيني پالونکي رب له عبادت ډډه وکړي، د ډول ډول اربابانو او دروغجنو خدايانو د بندګۍ په دام کي پرېوځي، د هغه چا په څېر شي چي د کومي رسۍ په وسيله پورته تللی خو د لاري په نيمايي کي نابېره رسۍ شلېدلې، له بر سره ئې اړيکي غوځي شوې، راپرېوتی، يا د ښکاري مرغانو منګولو کي ګير شوی او يا توندو سيليو پر سر اخيستی او په کومي ژوري کندي کي ئې غورځولی، آيا نه وينئ چي زموږ پر دې شرک وهلې او له الله تعالی بې خبري ټولني څومره ډول ډول اربابان حکومت کوي؟!! آيا غوره نه ده چي د دوی له ظالمانه واکمنۍ د نجات او خلاصون لپاره يوه خدای ته پناه يوسو او يوازي د هغه عبادت وکړو؟)، له الله تعالی پرته ټول معبودان او هر هغه څه چي تاسو ئې لمانځئ، مرسته ترې غواړئ او پناه وروړئ، تش په نامه معبودان دي، هسي خوشي نومونه دي، هيڅ حيثيت نه لري، هيڅ نه شي کولی، په حقيقت کي دا تاسو او ستاسو پلرونه دي چي دوی مو په خاصو نومونو او القابو نومولي، داسي کرامات، ځانګړتياوي او خصوصيات مو ورته منسوب

(c) ketabton.com: The Digital Library
کړي چې په کې نشته، هسې گومان کوئ چې ستاسو دعاگانې اورې، ستاسې مرسته کولی شې، ستاسې حاجتونه پوره کوې او دعاگانې مو قبلوې؛ په داسې حال کې چې نه د دې پراخ عالم په غېږ کې داسې دلیل تر سترگو کېږي چې الله تعالی شریک لري او نه په کوم الهي کتاب کې ویل شوي چې له الله تعالی پرته د بل عبادت، هغه ته سر ټیټول او له هغه مرسته غوښتل جائز دي، هغه څوک چې دا ادعاء او گمان ئې کړی چې د دې عالم کوم څیز یا کوم څوک په الوهیت او ربوبیت کې د الله تعالی سیال او شریک دئ او الله تعالی هغه د هستې په اداره او د چارو په سمبالولو کې له ځان سره شریک کړی، ادعاء ئې پوچه او گمان ئې بې بنسټه دئ، داسې چې په ټولې هستۍ کې به د دې ادعاء د اثبات لپاره کوم دلیل وړاندې نه کړی شي!! هغه دین په دېوال ووهئ او هیڅکله د الهي دین په سترگه مه ورته گورئ چې شرک ته بلنه ورکوي.

الله تعالی ټولواک دئ، د عالم د ساتلو او پاللو واگې ئې په لاس کې دي، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول ده لره مختص دئ، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دئ، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کې هیڅوک ورسره شریک نه دئ. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو صلاحیت او اختیار هیچا ته نه دئ ورکړی، باید د ژوند په ټولو چارو کې له الله تعالی او د هغه له دین هدایت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو.

ستاسې د ټولنې مطلق العنانه حاکمان ظالمان دي، له خپل حد او حق ئې تېری کړی او په خپلې دې ادعاء سره د شرک مرتکب شوي چې د قانون جوړول د دوی حق دئ.

د الله تعالی دائمي او پرېکنده حکم دا دئ چې له ده پرته د بل څیز او بل چا عبادت مه کوئ، د بل چا له درشل او درباره وېره او طمع مه لرئ، له الله تعالی پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیچا ته د بندګۍ سر مه ټیټوئ او د فرمان او حکم اطاعت ئې مه کوئ، کوم مذهب او دین چې تا ته وایي: له غیر الله مرسته غوښتل جائز دي؛ نو پوه شه چې دا دروغجن دین او کوږ اوړ مذهب دئ، داسي دین او مذهب چې فقط جاهل وګړي ئې په دام کي ښکار کيږي!!

له دې اغېزمن دعوت وروسته یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته د دوی د خوبونو په اړه وایي:

يَٰصَىٰحِبَىِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِى رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِىَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِى فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾

اې د زندان ملګرو! ستاسو یو تن به (آزاد شي او بیا به) د خپل بادار د شرابو ساقي شي او بل به په دار وځړول شي او مرغان به ئې د سر غوښي خوري، دا دئ هغه کار تر سره شو چې تاسو ئې پوښتنه کوله.

دلته څو ظریف ټکي زموږ توجه جلبوي:

ګورئ چې یوسف علیه السلام ته ورونو په یوه سترګه کتل، د ده وړتیاوو د هغوی حسادت راپاراوو او د مصر د درباریانو عیاشو او بدکارو ښځو په بله سترګه ورته کتل، د ده حسن د دوی هوس او شهوت راپاراوو، خو د دوی دواړو په خلاف د دې دوو ستم ځپلو غلامانو تأثر د ده په باب بل شان دئ، د یوسف علیه السلام په څېرې، خبرو، حرکاتو او ناستي پاستي کي د یوه صالح، محسن او پرهېزګار انسان نښي او آثار د دوی توجه جلبوي او د خپلو خوبونو د تعبیر لپاره ورته رجوع کوي، هغه ته د محسن او نېکوکار خطاب کوي.

د بایبل دا خبره هم هیڅ وزن او ارزښت نه لري چې وایي: یوه شپه دواړو خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library
وليد... سهار يوسف متوجه شو چي دواړه خفه دي... پوښتنه ئې ترې وکړه... وئې ويل: موږ خوب ليدلی خو څوک نشته چي موږ ته ئې تعبير کړي!!! دا ځکه چي نه خو دوی داسي څه په خوب کي ليدلي وو چي پرې پرېشانه شوي وی او نه د خوب په تعبير پوهېدل!! د بايبل د دې وينا په خلاف قرآن فرمايي چي دوی يوسف عليه السلام ته راغلي، صالح، نېک او پوه انسان ورته معلوم شوی، گمان ئې کړی چي دی کولی شي زموږ خوبونه تعبير کړي.

لکه چي گورئ قرآن نه دا خبره کوي چي دوی درې څانگي او درې شکورونه په خوب کي ليدلي او نه دا خبره چي يوسف عليه السلام دوی ته وويل چي درې ورځي وروسته به ستاسو خوبونه په دې توگه رښتيا کېږي، د بايبل دا وينا هيڅ وزن نه لري چي د دريو څانگو او دريو شکورونو تعبير درې ورځي دئ، يوسف عليه السلام د يوه له خوب پوهېدلی چي آزاد به شي او بېرته به په خپلي مخکنۍ دندي وگمارل شي، قرآن فرمايي چي د يوسف گمان همدا وو، د ده له خوب ئې انتباه همدا وه، د دوهم کس خوب دوه برخي درلودې: پر خپل سر د ډوډۍ وړل او د ده پر سر د مرغانو خوراک، له لومړۍ برخي ئې دا انتباه اخيستې چي د هغي ډوډۍ د پخولو مسئوليت به د ده پر سر پرېوځي چي پاچا پرې غصه شوی وو او دی ئې د همدې لپاره زندان ته لېږلی وو او له دوهمي برخي ئې دا انگېرلې چي پر دار به وځړول شي او مارغان به ئې د سر پوستکی او ماغزه خوري.

د قرآن له وينا معلومېږي چي دا دواړه زلميان هم د يوسف عليه السلام په څېر بې گناه ول، د قرآن له الفاظو او د يوسف عليه السلام له تعبير معلومېږي چي يو ئې د دربار ساقي او بل ئې نانوای وو، ويل شوي چي له دې کبله زندان ته لېږل شوي ول چي د دربار په يوې ميلمستيا کي يوه داسي شراب مېلمنو ته وړاندي کړي وو چي مچ

(c) ketabton.com: The Digital Library
په کي لوېدلی وو او بل ئې داسي ډوډی پخه کړې وه چي شګي په کي وې، د اٰيت له الفاظو او د هغو دواړو له خوبونو دا جوتېږي چي نوموړې وينا صحيح او د بايبل خبره غلطه ده چي دوی د دربار د چارو مشران وو، قرآن دوی دواړه د زلميانو په نامه يادوي او په دې سره موږ ته د مصر د هغه مهال وضعيت دقيقاً انځوروي، دا يوازي يوسف عليه السلام نه وو چي د حاکم نظام د عياشو او ظالمو واکمنانو د هوسونو قرباني شوی وو؛ بلکي د ده په څېر ګڼ شمېر کسان هره ورځ د دې مفسد نظام د مفسدو واکدارانو د هوسونو قرباني کېدل، دا يوازي دی نه وو چي له کومي ګناه او جرم پرته زنداني شوی او د دې ټولني د ظالمو واکمنانو د غضب او قهر تر متروکي لاندي راغلی؛ بلکي د ده په څېر ډېر نور هم له کومي ګناه پرته د دوی په لاس تعذيب کېږي، رنګ رنګ عذابونه ګالي او هيڅ په هيڅ ځورول کېږي.

د قرآن له الفاظو معلومېږي چي يوسف عليه السلام د زندان دغو دوو ملګرو ته وويل: کوم خواړه چي هره ورځ په معين وخت درکول کېږي، د هغه وخت تر رارسېدو مخکي به ستاسي د خوب تعبير درته ووايم، يعني دا چي له دوی ئې وخت غوښتی، تر څو د دوی د خوبونو په باب فکر وکړي او صحيح او دقيق تعبير ئې ورته ووايي. د اټکل له مخي دغو ملګرو ئې سهار له ويښېدو وروسته ده ته خپل خوبونه تېر کړي او ده د غرمې تر ډوډی پوري مهلت غوښتی، د دې وينا په اهميت هغه وخت ښه پوهېدی شو چي په راتلونکي کي د پاچا د خوب د تعبير په اړه د يوسف عليه السلام فوري ځواب او له ځنډ پرته تعبير ته ځير شو، دلته ئې وخت غوښتی او هلته ئې له ځنډ پرته ځواب ويلی او د دې معنی دا ده چي د يوسف عليه السلام بصيرت او پوهه ورځ په ورځ زياته شوې، زندان د ده لپاره که له يوې خوا د مبارزې او دعوت سنګر وو له بلي خوا يوه مدرسه وه، الله تعالی تر هغه مهاله په زندان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښود چي ښه روزنه ئې وشي او د هغه ستر او تاريخي مأموريت لپاره جوګه شي چي څه موده وروسته به ورسپارل کېږي، د مصر د هغه مهال د لوی ملک زعامت او قيادت ده ته سپارل کېدو، الله تعالی د همدې لپاره دی له کنعان راروان کړی وو، د ستونزو، کړاوونو او آزموينو په لوړو ژورو کي ئې وروزو او ورو ورو ئې د هغه استعدادونو او وړتياوو ته وده ورکړه او دا شرائط ئې ورته برابر کړل چي له زندان قصر ته ورسېږي او له غلامۍ پاچاهۍ ته. متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هم د اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندي تللي او د قرآن دا برخه ئې داسي تعبير کړې چي ګواکي يوسف عليه السلام په غيب پوهېدو او د زندان ملګرو ته ئې ويلي چي زه مو په دې خبرولی شم چي نن به کوم خواړه درته راځي او سبا کوم او ځينو داسي تعبير کړی چي په خوب کي هر خواړه وګورئ زه ئې تعبير درته ښيم!! دا دواړه تعبيرونه کمزوري دي او د قرآن له الفاظو سره اړخ نه لګوي، قرآن د يوسف عليه السلام قول په دې الفاظو رانقلوي: نبأتكما بتأويله (تاسي دواړه به د هغه په تعبير خبر کړم)، دا الفاظ صريحاً ښيي چي مراد ئې د خوب تأويل او تعبير دئ؛ د خوراک لپاره د تأويل کلمه نه استعمالېږي او صحيح نه ده چي ووايو: نبأتكما بتأويل الطعام!! بر سېره پر دې دلته زندانيانو له يوسف عليه السلام د خپلو خوبونو تعبير غوښتی او دا صحيح نه ده چي د خوبونو د تعبير پر ځای هغوی ته ووايي چي د هغه خوړو څرنګوالی به درته وښيم چي په راتلونکي کي درکول کېږي!!

د مصر د واکمن خوب:

۱۱- بايبل؛ (د فرعون خوبونه) تر عنوان لاندي ليکي: (له دې دوه کاله وروسته، يوه شپه فرعون خوب وليد چي د نيل خوا ته ولاړ دئ، ناڅاپه له روده اوه څورب غويي راووتل... ورپسې اوه ډنګر غويي راووتل... بيا دغو ډنګرو غويانو هغه مزي غويان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوني تېر کړل... فرعون راويښ شو... خو بيا ويده شو او دا ځل ئې وليدل چي له يوې څانګې اوه ډک وږي راوټوکېدل... ورپسې ئې اوه نازک وږي وليدل چي شرقي بادونو وچ کړي ول، وچو او نازکو وږيو ډک وږي وخوړل،... فرعون له خوب راويښ شو، سهار ئې فکر پرېشانه وو، د مصر ټول جادوګران او پوهان ئې راوبلل... خپل خوب ئې ورته تېر کړ خو څوک نه وو چي دا خوبونه ورته تعبير کړي... د ساقيانو رئيس راوړاندي شو او وئې ويل: اوس را په ياد شول چي... زموږ خوبونه يوه عبراني ځوان تعبير کړل او تعبيرونه ئې رښتيا وختل... فرعون فوراً څوک ولېږو چي يوسف حاضر کړي... يوسف سر او صورت برابر او جامې ئې بدلي کړې... او د فوعون حضور ته ورغی... فرعون خپل خوب ورته تېر کړ... يوسف وويل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبيرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبير کړي... فرعون خپل خوبونه ورته تېر کړل... او يوسف ورته وويل: ستا د دواړو خوبونو معنی يوه ده... اوه مزي غويي او اوه ډک وږي د پرېمانۍ اوه کلونه په ګوته کوي... او اوه ډنګر غويي او اوه وچ وږې د وچ کالۍ د اوه کلونو نښه ده چي ورپسې به راځي، په دې توګه خدای ته له هغه څه خبر کړې چي په مصر کي به ئې ترسره کوي... اوه کاله به پرېماني وي او بيا سخته وچ کالي او قحطي،... زه وړانديز کوم چي يو پوه او هوښيار کس د کر کښت په دنده وګمارې او هغه بايد د پرېمانۍ په کلونو کي د محصولاتو پنځمه برخه په شاهي انبارونو کي ذخيره کړي... فرعون او ټولو درباريانو د ده وړانديز خوښ کړ او فرعون وويل: تر يوسف به غوره کس څوک وي چي د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کي د خدای روح ده!! يوسف ته ئې وويل: همدا اوس تا په دغه دنده ګمارم، ته به د مصر دوهم لوړ پوړی کس وې او فرمان به دي په هر ځای کي چلېږي!! بيا فرعون د پاچايۍ ګوتې ورپه ګوته کړه، فاخره لباس ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
ورواغوست، د طلا زنځير ئې ورپه غاړه کړ، په دوهمي معتبري سلطنتي ګاډۍ کي ئې سپور کړ... چي چېري به تلو دا اعلان به ئې تر مخ کېدو: په ګونډه شئ (د تعظيم لپاره)!!

لکه چي ګورئ د بايبل په وينا کي کافي غيرضروري تفصيل، بې ځای تکرار، نامناسب او ګونګ الفاظ او نامعقولي څرګندوني شته، دغو څو ويناګانو ته ئې لږ ځير شئ: يوسف وويل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبيرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبير کړي!!!... دا په داسي حال کي چي څو شېبې وروسته يوسف په خپله د ده خوب تعبيروي!! فرعون وويل: تر يوسفه به غوره کس څوک وي چي د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کي د خدای روح ده!! د يوسف عليه السلام په اړه دا خبره کول چي ده ته ئې د سرو زرو زنځير ورپه غاړه کړ!! دا د هغه چا خبره کېدی شي چي پيغمبران عليهم السلام نه پېژني او په دې نه پوهېږي چي دوی د داسي جاهلانه دودونو په خلاف د مبارزې لپاره لېږل شوي، ښايي د بايبل ليکونکي دلته د يوسف عليه السلام د هغو مخالفينو وينا کټ مټ رانقل کړې وي چي د مصر د دوهم لوړ پوړي شخصيت په توګه ئې د ده له ټاکلو سره مخالفت کاوو او دا ئې نه شوی زغملی چي د دوی په اصطلاح يو کنعاني غلام پر مصريانو حکومت وکړي، دا کار داسي ورته برېښېدو لکه څوک چي د غلام په غاړه کي د سرو زرو زنځير واچوي، بايبل دغه استعاره په حقيقي معنی رااخيستې!! په ډېرو نورو ځايونو کي به هم وګورئ چي د بايبل ليکونکی همدا غلطي کوي. د بايبل د اظهاراتو په رکاکت هغه وخت ښه پوهېدی شو چي د قرآن د وينا په رڼا کي ورته ځير شو، قرآن د بايبل دا وينا تصحيح کوي او دا جريان په ډېرو محدودو جملو کي په ډېره معقوله توګه او ښکلو الفاظو کي بيانوي او فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعَ
سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ أَفۡتُونِي فِي رُءۡيَٰيَ إِن كُنتُمۡ لِلرُّءۡيَا
تَعۡبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٖۖ وَمَا نَحۡنُ بِتَأۡوِيلِ ٱلۡأَحۡلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾
وَقَالَ ٱلَّذِي نَجَا مِنۡهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأۡوِيلِهِۦ فَأَرۡسِلُونِ ﴿٤٥﴾
يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفۡتِنَا فِي سَبۡعِ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ
وَسَبۡعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖ لَّعَلِّيٓ أَرۡجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَعۡلَمُونَ
﴿٤٦﴾ قَالَ تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا فَمَا حَصَدتُّمۡ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلٗا
مِّمَّا تَأۡكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ سَبۡعٞ شِدَادٞ يَأۡكُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ إِلَّا
قَلِيلٗا مِّمَّا تُحۡصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَامٞ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ
يَعۡصِرُونَ ﴿٤٩﴾

او پا چا وويل: زه په خوب کي اوه څوربي غواوي ګورم چي اوه ډنګري غواوي ئې وخوري او اوه شنه وږي او اوه نور وچ، درباريانو! ما د خپل خوب په تعبير خبر کړئ که د خوبونو په تعبير پوهېږئ. هغوی (په خُواب کي) وويل: دا هسي د خيالاتو ګېډۍ ده (ګډ وډ خوبونه دي) او موږ د دغو خيالي خوبونو په تعبير نه پوهېږو. او له هغو دوو يوه ژغورل شوي کس، چي له څه مودې وروسته خبره ورپه ياد شوې وه، وويل: زه به مو پرې خبر کړم، ما (زندان ته د يوسف عليه السلام د ليدو لپاره)

(c) ketabton.com: The Digital Library
ولېږئ!، (هغه وويل): اې رښتينيه يوسفه! د اوه څوربو غواوو چې اوه ډنگري غواگاني ئې وخوري او اوه شنو وږيو او اوه وچو وږيو په تعبير مو خبر کړه، ښايي (د مجلس له پورته کېدو د مخه) ورستون شم، هيله ده چې پرې پوه شي. (يوسف عليه السلام) وويل: تر اووو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې ترلاسه کوئ په خپلو وږيو کي ئې پرېږدئ مگر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، بيا به له دې وروسته اوه نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخيره کړي مو وي، مگر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. بيا به له دې وروسته داسي کال راشي چې په هغه کي به پر خلکو بارانونه وورېږي او په هغه کي به (خلک د مېوو) عصاره وباسي.

په دغو مختصرو آيتونو کي لاندي مهم مطالب زموږ مخي ته راځي:

دا څلورم خوب (رؤيا) ده چې د يوسف په سوره کي ئې يادونه کېږي او ښيي چې کافر او مسلمان، ظالم او مظلوم، ښه او بد انسانان، ټول خلک له خوبونو سره مخامخ کېږي، ځيني ئې جدي انگېري او د تعبير هڅه ئې کوي، غواړي پوه شي چې خوب ئې څه پيغام ورته لري، ځيني ئې جدي نه نيسي، يا ئې د ورځنيو فعاليتونو تسلسل گڼي، يا هسي گډ وډ خيالات او يا ئې د هغو هيلو او آرزوگانو انعکاس چې نه دي ترسره شوې، په شا تمبول شوې هيلي ئې گڼي چې په خوب کي ځان ښيي، د همدې لپاره د خوبونو له څنگه په بې پروايۍ تېرېږي او دا زحمت ځان ته نه ورکوي چې تعبير ئې کړي او په هغه پيغام د پوهېدو هڅه وکړي چې خوبونه ئې له ځان سره لري. د انسان (رؤيا) ښيي چې انسان له محسوس او ملموس برخو علاوه هم ډېر څه لري، د فهم او درک دنيا ئې يوازي په محسوساتو کي نه راخلاصه کېږي، د ده د فهم او درک دنيا ډېر نور پراخ او پېچلي ابعاد او اړخونه هم لري، که هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو ظاهري حواسو سره مشهود او ملموس شیان او تر ستر ګو کېدونکې نړۍ درک کوي؛ په لا شعور کې د زمان او مکان له پولو اوړي، له غیبي نړۍ، د پردو او حجابونو له ماوراء پیغامونه ترلاسه کوي، دا پیغامونه څه ډول وررسېږي، سرچینه ئې چېري ده، څوک دئ؟ څه دئ؟ څنګه په خوب کې په هغه څه پوهېدی شي چې په ویښه نه شي پرې پوهېدی؟ دا پوښتني ځواب غواړي، منصف څېړونکي نه شي کولی چې له څنګه ئې په بې پروایۍ تېر شي. که موږ په خپل ژوند کې د تخمینونو او انګېرنو په مرسته وړاندویني کوو او ډېر ځله مو وړاندویني سمي خېژي، که په خوب کې داسي څه ګورو چې څه موده وروسته تحقق مومي، د دې لپاره څه توجیه وړاندي کولی شو؟ مګر کولی شو د یوه کس داسي په لسګونو خوبونه او په ټولي نړۍ کې د لکونو خلکو داسي خوبونه عادي او بې اهمیته خبره وګڼو او د تصادف نوم ورکړو؟ آیا لږ تر لږه د دې خبري په کولو مجبور نه یو چې زموږ مغز د خوب په حالت کې همغسي وړاندویني کولی شي چې په ویښه ئې کوي؟ آیا دا خبره ډېره بېهوده او خوشې خبره نه ده چې څوک ووایي: زموږ مغز په ویښه کې سم او په غور او دقت سره کار کوي خو د خوب په حالت کې ئې هر تحلیل ناسم او له غور او دقت پرته او ګډ وډ خیالات وي؟!! ډېر نامعقول انسان به د داسي خبري کولو جرأت کوي، ډېر ناپوه انسان به دا ګمان کوي چې د خوب په حالت کې دماغ خپل کار پرېږدي، نه په قضایاوو غور کولی شي او نه ئې د غور او تفکر نتائج او لاس ته راوړني د اهمیت وړ دي!! حال دا چې په خوب کې د انسان یوازي د څو حواسو سویچونه بند او د انتظار (standby) په حالت کې شي، نور دماغ د مخکې په څېر خپل کار ته دوام ورکوي، ښایي د ځینو برخو توقف مغز ته د ښه غور او فکر کولو لا ښه موقع او فرصت په لاس ورکړي. په هر صورت؛ خوب یو حقیقت دئ، رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختل ئې داسي څه چي انکار تري ګران دئ. د هغو خوبونو لپاره څه توجیه وړاندي کولی شو چي د راتلونکو پېښو خبر راکوي او خبر ئې هم ډېر دقیق؟ آیا پر عالم الغیب خدای له ایمان پرته بل تفسیر او تعبیر ورته درلودی شو؟ د الله تعالی د اثبات لپاره له خورا کوټلو دلائلو یو دلیل همدغه د انسان خوبونه دي.

له الفاظو جوتېږي چي د مصر پاچا پرله پسې یو خوبویني، بالآخره خپل خوب ځینو درباریانو ته تېروي او تري غواړي چي تعبیر ئې ورته ووایي، د بیان انداز داسي دئ چي پاچا هسي په کوم مجلس کي ځینو درباریانو ته خپل خوب تېر کړی او ورته ویلي ئې دي: که د خوبونو په تعبیر پوهېږئ نو زما دا خوب تعبیر کړئ، د بایبل دا وینا هیڅ وزن نه لري چي پاچا سهار وختي ټول درباریان، نجومیان او جادوګران راوغوښتل چي د ده خوب ورته تعبیر کړي!! نه خو دا خوب د دومره ستر او عاجل اقدام غوښتنه کوي او نه هیڅ هوښیار انسان د یوه خوب لپاره دومره ستره غونډه جوړوي!! د درباریانو له دې ځواب چي پاچا ته ئې وویل: دا کوم معنی لرونکی خوب نه دئ، موږ ئې په تعبیر نه پوهېږو، معلومېږي چي نه پاچا خپل خوب جدي ګڼلی او نه ئې درباریانو.

دا خبره هم د خاصي پاملرني وړ ده چي قرآن دا پاچا د فرعون په نامه نه یادوي، بلکي د ملک (پاچا) په نامه ئې یادوي، د وروستیو علمي تحقیقاتو په ترڅ کي دا خبره معلومه شوې چي د یوسف علیه السلام په دور کي د مصر پاچایان د فرعون په نامه نه یادېدل، ډېر وروسته د فرعون نوم ورته غوره شوی، تحقیقات ښیي چي د هغه وخت پاچایان د هکسوس په نامه یادېدل چي له ۱۷۳۰ تر ۱۵۸۰ مخکي له مېلاد ئې پر مصر حکومت کړی، له دغو تحقیقاتو هم معلومېږي چي د بایبل دا وینا غلطه ده چي نوموړی پاچا د فرعون په نامه یادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دربار ساقي، د يوسف عليه السلام د زندان ملگري ته د دې خوب له اورېدلو سره سم، يوسف عليه السلام ورپه ياد شو او وئې ويل: زه کولی شم دا خوب تعبير کړم، په دې شرط چي ما زندان ته ولېږئ، هلته يو څوک راسره وو چي خوبونه ئې په ډېر دقت سره تعبيرول، د ساقي له دې خبري چي (ما ولېږئ) په ډاگه معلومېږي چي دی يو غلام دئ نه کوم مشر او د بابيل د وينا له مخي رئيس!! هغه يوسف عليه السلام ته ورغی، خوب ئې ورته تېر کړ، تعبير ئې ترې وغوښت او ټينگار ئې وکړ چي د درباريانو د مجلس له پورته کېدو مخکي د خوب تعبير ورته ووايي او يوسف عليه السلام بې له څه ځنډ د پاچا خوب داسي تعبير کړ: اوه څوربي غواوي د اوه برکتي کلونو نښه ده او اوه ډنگري غواوي د اوه وچ کاليو او قحطي کلونو څرگندونه کوي، اوه شنه وږي اوه حاصل لرونکي فصلونه په گوته کوي او اوه وچ وږي د ذکر شويو اوه فصلونو هغه وچ شوي حاصلات په گوته کوي چي په وړو کي به ساتل کېږي او د قحط په کلونو کي به استفاده ترې کېږي، د اوه برکتي کلونو حاصلات به د قحط په اوه کلونو کي مصرف شي، خو په دې شرط چي په وچو وږو کي وساتل شي، قحط اوه کاله دوام کوي، له هغه وروسته عادي حالت رامنځ ته کېږي، بارانونه به پيل شي او مصر ته به بيا پرېماني او سمسورتيا راوگرځي او خلک به د مېوو عصارې زبېښي. د مصر وگړي ښايي محتاط وي او د قحط په کلونو کي د ټولو غلو دانو له مصرفولو ډډه وکړي، هغوی بايد يوه اندازه غله دانه د تخم په توگه د راتلونکي کال لپاره وساتي، همدارنگه متوجه وي چي د غلو دانو د ساتلو او ذخيره کولو غوره طريقه دا ده چي په خپلو وږو کي وساتل شي.

لکه چي گورئ په دې خوب کي داسي رموز او کنايې راغلې دي چي به پښپړه توگه صريح دي، څورب څاروي هر چا ته وايي چي موږ په نس ماړه يو او سږ کال مو

(c) ketabton.com: The Digital Library
پرېمانه خوندور وابنه په برخه شوي، کله چي تاسو د يوه کلي له خوا تېرېږي او ښاروي ئې ډنگر، خوار او کمزوري وگورئ نو پوهېږئ چي دلته وچکالي تېره شوې، د سيمي د تېر او روان کال د فصلونو حالت د ښارويو له حالت معلومېدی شي، که څه هم د کليوالو له حالت هم کولی شو د دوی د فصلونو کيفيت درک کړو خو دا ځکه دقيق معيار نه دئ چي انسان کولی شي خپلي مالي ستونزي له نورو لارو هم حل کړي، او خپل نس موړ کړي، خو ښاروي داسي دي چي حالت ئې په زياته پيمانه د کال له حالت سره تړلی دئ، د همدې لپاره د مصر پاچا ته اوه برکتي کلونه د اوه څوربو غواوو په بڼې کي او د قحطۍ او وچ کالۍ اوه کلونه د اوو ډنگرو غواوو په بڼې کي انځور شوي.

له زندان د يوسف عليه السلام د وتلو په اړه د بايبل وينا داسي ده چي د هغه د ستر شخصيت له شان سره هيڅ اړخ نه لگوي، هغه ئې داسي معرفي کړی لکه چي ډېر بې حوصلې شوی وو، فقط يوې اشارې ته منتظر وو، د پاچا د پيغام له اورېدو سره سم ئې ځان تيار کړی، خپل سر او صورت ئې برابر کړی او نوې جامې ئې اغوستې دي او په تلوار سره د پاچا حضور ته حاضر شوی!! خو قرآن بيا وايي:

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي كَيۡدَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾

پاچا وويل: ما ته ئې راولئ؛ خو کله چي (د پاچا) قاصد ورغی، وئې ويل: بادار ته دي بېرته ورشه او وئې پوښته چي د هغو ښځو حال به څنګه وي چي خپل لاسونه ئې پرې کړل (څه به ورسره کېږي)؟ که څه هم زما پالونکی رب د دوی په هغه مکر ډېر ښه پوهېږي، (پاچا هغه ښځې راوبللې) وئې ويل: هغه وخت چي تاسو له يوسف د زړه مراد غوښتی وو، خبره مو څنګه وه؟! هغوی وويل: خدای ته پناه وړو! موږ په هغه کي هيڅ بدي نه ده ليدلې، (د مصر) د عزيز ښځې وويل: اوس حقيقت ښرګند شو، ما ترې د زړه مراد وغوښت او هغه يقيناً چي له رښتينو انسانانو دئ، (زما دا اعتراف) د دې لپاره دئ چي پوه شي په غياب کي مي خيانت ورسره نه دئ کړی او د دې لپاره چي (پوهېږم) خدای د خائنانو تدبيرونه نه هدايتوي (نه پرېږدي د خائنانو تدبيرونه دوی خپل مقصد ته ورسوي) او زه خپل ځان نه سپينوم، په دې کي شک نشته چي نفس د بدۍ په لور ډېر هڅوونکی دئ، مګر هغه چي زما پالونکی خدای پرې ورحمېږي، بې شکه چي زما پالونکی رب ډېر مهربان بخښونکی دئ.

د يوسف عليه السلام د زندان ملګری بېرته وګرځېدو، د خوب تعبير ئې واوراوو، پاچا امر وکړ چي يوسف عليه السلام راولئ، د پاچا قاصد د ده له پيغام سره زندان ته ورځي او يوسف عليه السلام ته وايي: د مصر پاچا غوښتی يې، ستا تعبير ئې خوښ کړی اوس ستا ليدو ته منتظر دئ!! خو يوسف عليه السلام؛ هغه د زندان د اولو ورځو يوسف نه دئ، له زندان د وتلو په اړه څه تلوار او عجله نه لري؛ بلکي زندان ئې د خپلي مبارزې لپاره د سنګر په توګه غوره کړی؛ له خپل مولا پرته بل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

طمع او امید نه لري، باور ئې دا دئ چي له زندان د وتلو پرېکړه د الله تعالى له لوري کېږي، نو ځکه په ډېر متانت سره قاصد ته وايي: بېرته وگرځه او خپل بادار ته دي ووايه: د هغو ښځو برخلیک به څنگه وي چي ده ته ئې هغه توطئه جوړه کړه او زندان ته ئې ولېږو؟ باید لومړی د هغي خبري سپیناوی وشي، زما (برائت) اعلان شي، که څه هم الله تعالى راته کافي دئ، هغه د دوی له توطئو ښه خبر دئ. گورئ چي د یوسف علیه السلام متانت، صبر او زغم ټوله وضع داسي بدله کړې چي اوس پاچا تلوار لري، هغه غواړي چي له یوسف علیه السلام سره ژر تر ژره ملاقات وکړي، د ده شرط مني، هغه ښځي راغواړي چي د عزیز مصر د مېرمني په محفل کي راغونډي شوې وې او پوښتنه ترې کوي: په کومه ورځ چي تاسو له یوسف علیه السلام د زړه مراد غوښتی وو، خبره څنگه وه، د پېښي جریان څنگه وو؟ ولي مو دا کار وکړ؟ د پاچا وینا او دریځ داسي دئ لکه چي د یوسف علیه السلام مدافع وکیل وي، له تحقیق او پلټني مخکي د هغه خبري تصدیقوي او له ښځو داسي استفسار کوي چي گواکي د دوی جرم په بشپړه توگه ثابت او څرگند دئ او د شک او شبهې هیڅ مجال په کي نشته، ټولي ښځي وضع داسي گڼي چي له اعتراف پرته بله چاره نه لري؛ نو ځکه وايي: خدای ته پناه وړو! موږ په هغه کي هیڅ بدي نه ده لیدلې، اصلي مجرم وروړاندي کېږي او په ټول صراحت سره اعتراف کوي او وايي: اوس حقیقت څرگند شو، ما له هغه د زړه مراد وغوښت او هغه رښتینی او صادق دئ، په دوه دلیلونو اعتراف کوم: یو دا چي غواړم هغه په دې پوه شي چي په غیاب کي مي خیانت ورسره نه دئ کړی او تور مي نه دئ ورپوري کړی او بل دا چي اوس په دې باور یم چي الله تعالى نه پرېږدي خائنان په مکر او چل ول سره خپلو موخو ته ورسېږي، نه غواړم چي ځان سپین او تبرئه کړم، د انسان نفس تل هغه بدو کړو وړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته هڅوي، له شر ئې یوازې هغه څوک ژغورل کېږي چي زما د مهربان رب پېرزوینه او رحم ئې په برخه شي، یقیناً چي زما پالونکی رب مهربان بخښونکی دئ.

که څه هم ځینو مفسرینو دا گمان کړی چي وروستنۍ څو خبري د یوسف علیه السلام خبري دي، نه د هغي مېرمني، د دوی دلیل دا دئ چي دغه خبري د هغي مېرمني له شأن ډېري اوچتي دي؛ خو دا توجیه په څو دلائلو کمزورې ده:

د بیان په هیڅ برخي کي داسي کومه نښه یا قرینه نه مومو چي ثابته کړي دا د یوسف علیه السلام خبري دي.

د آیتونو سیاق او سباق او د کلام لړۍ له دې توجیه سره اړخ نه لگوي، برعکس په ټول صراحت سره ښیي چي دا د هغي مېرمني د خبرو دوام دئ.

د دغو خبرو په دوران کي یوسف علیه السلام لا په زندان کي دئ او له پاچا سره نه دئ مخامخ شوی او مجلس ته نه دئ حاضر شوی، وروستی آیت همدغه راپه گوته کوي.

د دې خبري لپاره هیڅ دلیل نه شو موندلی چي یوسف علیه السلام ووایي: غواړم چي د مصر عزیز پوه شي چي د هغه په غیاب کي مي له هغه سره هیڅ خیانت نه دئ کړی، ځکه چي د مصر عزیز د پېښي په ورځ له حقیقت خبر شو او د یوسف علیه السلام پر پاک لمنتوب او سپېڅلتیا ئې باور راغی.

د آیت دا برخه ﴿إن الله لا يهدي كيدالخائنين﴾، په هیڅ شان نه شو کولای د یوسف علیه السلام قول وگڼو، دا کلام فقط له هغي مېرمني سره ښایي، هغه باید ووایي: که چېري دا ځل هم له یوسف علیه السلام سره خیانت وکړم او په کوم تور ئې تورن کړم او د دې پر ځای چي پر خپل جرم اعتراف وکړم هغه متهم کړم، نو د پخوانۍ پېښي په څېر به حقیقت څرگند شي، خدای د خائنانو توطئې، حیلې او بهانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوا او خنثی کوي او نه پرېږدي چې د توطئو په مرسته خپلو ناولو موخو ته ورسېږي.

د هغې مېرمنې مؤمنانه څرګندونې په واقع کې دا حقیقت ثابتوي چې د یوسف علیه السلام کړو وړو او د زندان له سنګر د ده مبارزې او جهاد د مصر په ټولنې باندې ژورې اغېزې کړې دي، ژوره تبدیلي په کې راغلې، دومره چې د پرون ورځې هغه مېرمن نن داسې مؤمنانه څرګندونې کوي، له دوو زنداني ملګرو سره د یوسف علیه السلام بحث او د خوبونو له تعبیرولو مخکې دوی د الله لارې ته بلل، هغه هم په دومره تفصیل او په دومره مضبوط استدلال سره، دا ښیي چې هغه په زندان کې آرام نه دئ ناست، په جدي، پرله پسې او نه ستړې کېدونکې توګه ئې دعوت چلولی او په دې بریالی شوی چې د مصر په ټولنې کې له فکري او اخلاقي لحاظ پراخه او ژوره تبدیلي راولي، یوه ستر بدلون او انقلاب ته لار آواره کړي او له همدغه زندان د یوه سیاسي او اجتماعي انقلاب او بدلون راوستو لپاره شرائط برابر کړي.

متأسفانه لکه څنګه چې د مسیحیانو او یهودانو علماوو او مشائخو (احبار او رهبان) د الله تعالی له مقدس او لارښود کتاب قصې او شجرې جوړې کړې، داسې چې نن د دوی په مذهبي کتابونو کې د الله تعالی د مقدس کتاب وړه برخه هم نه تر سترګو کېږي، زمونږ قصه خوښي هم د دوی تر اغېز لاندې راغلي او د یوسف علیه السلام له دغې عبرتناکې او لارښوونکې قصې ئې د یوې داسې بدکارې ښځې د مینې داستان جوړ کړی چې غوښتل ئې یو ښایسته ځوان په دام کې واچوي او له هغه د زړه مراد ترلاسه کړي، تر دې پورې چې د دغو قصه خوښو ځینو ادعاء کړې چې یوسف علیه السلام د ژوند په وروستیو کې همدغه پر ده مینه مېرمن په نکاح کړه!!! دا په داسې حال کې چې نه په قرآن کې داسې کومه اشاره مومو او نه په روایاتو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library
له دې ارزښتناکې تاریخي قصې داسې نکل جوړول او پایله ئې داسې راایستل نه یوازې د ناروغو اذهانو د بیمارو سلیقو زېږنده ده، بلکې د دوی تعبیر سل په سلو کې د دې قصې له روح او بنسټیزو موخو سره تصادم کوي، قصه اصلاً په دې بنسټ ولاړه ده چې دوه مخالف او متضاد شخصیتونه یو د بل په څنګ کې کېږدي او توپیرونه ئې په ګوته کړي، راوښیي چې یو څومره لوړ دئ او بل څومره ټیټ، یو څومره پاکیزه، امین او صادق دئ او بل څومره ناولی، خائن او بې وفا، یو د خدای مخلص بنده او بل د شیطان او نفس مطیع بنده، عجیبه ده چې دغه بیمار کسان داسې غلط او معکوس نتائج ترې اخلي او دا متضادې بېلګې او متفاوت شخصیتونه سره پخلا کوي!! آیا دا شونې ده چې یو پیغمبر له هغه جلال او عظمت سره داسې ښځه په نکاح کړي؟ بایبل هم د خپلو شجرو په ترڅ کې لیکلي چې فرعون یوسف په یوه مصري نوم، صفنات فعنیح، ونوماوو او د فوطي فارع کاهن لور اسنات ئې ورته راواده کړه!!!

ښایي ستاسو د هر یوه په ژوند کې به کله داسې واقع شوي وي چې زړه مو ناڅاپه د یوې پېښې د رامنځ ته کېدو خبر درکوي او تاسو له کوم خاص دلیل پرته د کومې پېښې انتظار کوئ، ناڅاپه وینئ چې ستاسې د زړه احساس رښتیا ثابت شو او ستاسو انتظار پر ځای وخوت، مثلاً دخپلې کورنۍ له غړو سره ناست یئ، یو تن وایي: ګومان کوم چې ورور جان به مې نن یا سبا له سفر راشي، د کورنۍ نور غړي وایي: نه، هغه لا د راتګ نیت نه لري، دی ورته وایي: هو! زه هم همداسې انګېرم، خو نه پوهېږم چې ولې مې زړه راته وایي چې هغه له سفر راځي!! ناڅاپه ویني چې حدس ئې صحیح وخوت، ورور ئې د محاسباتو او انګېرنو خلاف او د ده له احساس سره سم راغی!! ممکن نه دئ چې دا احساس دې محض یو تصادف وي، ښایي د هغو کسانو شمېر لږ نه وي چې دې ته د تصادف په سترګه ګوري، خو د قرآن له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library
ويناوو معلومېږي چي دا تصادف نه دئ، دا چي په څو پر له پسې مواردو کي د يعقوب عليه السلام (احساس) سم او د حقيقت مطابق خېژي، دا ښيي چي په انسان کي د ده له پنځو حواسو علاوه د احساس داسي يوه (ملَکه) شته چي د راتلونکو پېښو اطلاع ترلاسه کوي، خو په داسي توګه چي نه د دې پيغامونو له لوري او منبع خبر وي، نه کوم سلطه پرې لري او نه د ده په امر او هغه وخت چي دی ئې غواړي ورته راځي.

دا احساس او اړوند ملکه ئې په تقوی سره وده کوي، په صالح انسانانو، پرهېزګارانو او پيغمبرانو کي کمال ته رسېږي، دوی ته داسي فراست ورپه برخه شي چي نه يوازي د ملمع، ګرانو، پېچلو او مبهمو خبرو په حقيقت پوهېدل ورته آسانوي بلکي د ملمع او غولوونکو خبرو تر شا پټ زړونه او د هغوی موخي پېژندی شي، د يعقوب عليه السلام په قصې کي موږ ته د دغه حساس لري ليد څو بېلګي مخي ته راغلې.

قرآن د يعقوب عليه السلام په اړه يوې داسي خبري ته اشاره کوي چي خاصه توجه غواړي، قرآن کريم يعقوب عليه السلام د يوه دراک او حساس شخصيت په توګه معرفي کوي، داسي چي له مصر کاروان د ده د ورک شوي زوی له کميس سره راخوځېږي، لا له مصر ډېر نه دئ لري شوی چي دی په کنعان کي د خپل زوی د کميس بوی احساسوي، خو بايبل بيا د ده په اړه داسي وايي: زامنو ئې ورته وويل: يوسف ژوندی او د ټول مصر حاکم دئ!! خو ده تر هغه په دې خبري باور نه کاوو چي ګاډی ئې وليدې!! قرآن داسي فرمايي:

وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّى لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ ۖ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَالُواْ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ
وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ
﴿٩٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ
لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾

او کله چي کاروان له (مصر) لري شو؛ نو پلار ئې وویل: که مي بې عقله ونه گڼئ زه خو (نن) د یوسف (خوږ) بوی احساسوم! ورته وئې ویل: په خدای قسم چي ته په خپلي پخوانۍ اشتباه کي یې (زاړه خیالونه دې غلطوي)!! نو کله چي زېری ورکوونکی قاصد راورسېد او (د یوسف) کمیس ئې د ده پر مخ وغوړاوو ناڅاپه ئې سترگي رڼې شوې، وئې ویل: نه مي وو درته ویلي چي د الله تعالی له لوري د راکړل شوي علم په وجه په هغه څه پوهېږم چي تاسو پرې نه پوهېږئ. دوی وویل: پلاره! زموږ (د گناهونو لپاره له الله تعالی) بخښنه وغواړه، یقیناً چي موږ خطا کاران وو. وئې ویل: ژر به له خپل رب بخښنه درته وغواړم، بې شکه چي هغه مهربان بخښونکی دئ.

کله چي کاروان له مصر د کنعان په لور وخوځېد او له ښار لږ څه لري شو، د یوسف علیه السلام پلار وویل: نن مي د یوسف علیه السلام بوی ترسپږمو کېږي، هیله من یم چي د ډېر سپین ږیرتوب له امله مي په کم عقلتوب متهم نه کړئ، د کورنۍ غړو ته په دې خبري پوهېدل او باور کول گران کار وو، په ډېر تأکید سره ئې ورته وویل: اشتباه کوې، تېر وختونه دریادېږي، ستا د خیال په فضاء کي د تیرو وختونو یادونه، د کوم غولوونکي بوی احساس درکوي، ته ئې د یوسف علیه السلام خوږ بوی گڼې!! لازیات وخت نه وو تېر شوی چي ناڅاپه زېری ورکوونکی را ورسېد

(c) ketabton.com: The Digital Library
او د یوسف علیه السلام کمیس ئې د پلار پر مخ وغوړاوو او په همدې سره د زوی له بېلتون راټوکېدلی د ځګر داغ جوړ او ړندې سترګي روښانه شوې، نو د کورنۍ غړو ته ئې مخ کړ او وئې ویل: ما درته نه وو ویلي چي زه له الهي علم په هغه څه پوهېږم چي تاسو پرې نه پوهېږئ، ما دا احساسوله چي یوسف علیه السلام ژوندی دئ او آخر به ئې وګورم، درته ویل مي چي ولاړ شئ او دواړه ولټوئ او له الهي رحمت مه ناهیلي کېږئ، درته ومي ویل چي د یوسف علیه السلام عطر مي تر سپږمو کېږي، تاسي نه منله، دا دئ ټولي خبري رښتیا وختې او حقیقت ئې درته څرګند او ښکاره شو!!

دا جریان د هغه فراست او پوهي حقیقت په واضح توګه څرګندوي چي الله تعالی ئې خپلو پیغمبرانو او اولیاوو ته ورکوي او ښیي چي هغوی پر غیب علم نه لري، خو د غیب له عالم داسي ورمې احساسوي چي سرچینه او لوری ئې ورته څرګند نه وي، کله دا ورمې په ویښه احساسوي او کله په خپلو خوبونو کي د غیب له عالم پیغامونه ترلاسه کوي، خو دا (علم) نه بلکي (احساس) وي، دا احساس د ظاهري پنځګونو حواسو کار نه دئ، مرجع او سرچینه ئې څرګنده نه وي، بنده پرې هیڅ تسلط نه لري، د پټو حقائقو ورمې ئې په خپلو ځپو سره احساس راوپاروي، نه پوهېږي دا احساس څنګه ورسره راپیدا شوی؟!! د دې احساس واګي د انسان په اختیار کي نه وي، نور هم په دې نه شي قانع کولی چي په دې احساس کي ورسره شریک شي، هماغسي لکه چي یعقوب علیه السلام یو وخت نه شو کولی څو متره آخوا په کوهي کي د یوسف علیه السلام له لوېدو خبر شي؛ خو بل وخت په ډېر لري واټن کي، له مصر د کنعان په لور د کاروان له خوځېدو سره سم د خپل زوی د کمیس بوی احساسوي، خو نه په دې باندي پوهېږي چي دا بوی له کومه راځي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
په دې چې ولې نن دا احساس ورسره راپیدا شوی، منبع ئې کومه او لوری ئې کوم دئ او نه نورو ته په پوره ډاډ او اطمئنان سره کومه خبره کولی شي، کله چې غواړي د خپلې کورنۍ له غړو سره خپل نننی احساس شریک کړي، زړه نا زړه ورته وایي: که مې په کمعقلۍ متهم نه کړئ زه نن د یوسف بوی احساسوم!! گورئ چې دکورنۍ غړي ورسره توافق نه کوي او په ښکاره ډول او په پوره تأکید سره ورته وایي: اشتباه کوې، تیر وختونه دریادېږي!!

د ویښې دا کیفیت له هغو خوبونو سره ورته دئ چې د تېرې یا وړاندې زمانې د پېښو پیغامونه له ځان سره لري.

په خوب کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لیدل

۱۲- راشئ د تېرې زمانې په اړه یو خوب ستاسو مخې ته کښېږدم:

ما څلور ځلې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کې لیدلی، لومړی ځل هغه مهال چې دیارلس کلن او د حربي ښوونځي په اوم ټولگي کې وم، په خوب کې گورم چې د مازدیگر لمانځه لپاره د کعبې له شرقي دروازې ورننوځم، د ننوتلو لار ور (دروازه) نه لري، د کعبې سطح له زمکې سره برابره ده، د مخکنې معمول په څېر د غرب په لوري په لمانځه ودرېږم، نا څاپه گورم چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له یو شمېر یارانو سره له غربي دروازې راداخل شي، جامې، پټکی او څادر ئې سپین وې، څادر ئې پر سر او اوږو اچولی وې، ږیره ئې توره او مخ ئې غنم رنگی وې، ملگري ئې هم ده ته ورته جامه لري، رسول الله صلی الله علیه و سلم ما ته وگوري او تبسم وکړي، زه له ځان سره ووایم چې ښایي ما به د قبلې لوری غلط کړی وي، د همدې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم تبسم وکړ، زه خو د مخکې په څېر د غرب په لوري ودرېدلی یم، اوس خو د کعبې په منځ کې یم، ښایي قبله به بنې اړخ

(c) ketabton.com: The Digital Library
ته وي، په لمانځه کي ښي اړخ ته وګرځم، له ځان سره ووایم: له لمانځه وروسته به له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مصافحه کوم، په دې لوري کي یو داسي دېوال وګورم چي لوړوالی ئې د یوه ګز په اندازه وي، د نیم دائرې په څېر منحني جوړ شوی وي، د ډېرو رنګ ئې خړ سور بخن وي، د رکوع په حالت کي وم چي له خوب راویښ شوم، ډېر کلونه وروسته راته معلومه شوه چي ما په دې خوب کي کعبه په هغي بڼې کي لیدلې چي په سر کي د ابراهیم علیه السلام په لاس جوړه شوې وه، او وروسته ځیني تغییرات په کي راغلي، هغه منحني دېوال حطیم دئ چي اوس له کعبې بهر پاته شوی، خو د ابراهیم علیه السلام په وخت کي دا د کعبې جزء وو، د یوې پېښې په وجه کعبه ورانه شوې وه، قریشو دومره مالي توان نه درلود چي بېرته ئې په خپلي لومړنۍ بڼې جوړه کړي، اوږدوالی ئې راکم کړی او حطیم بهر پاته شوی، دوه دروازې ئې وې چي اوس ئې یوه بنده کړی شوې، د کعبې سطح له زمکي سره برابره وه خو اوس د یوه سړي د قد په اندازه جګه کړی شوې، ما د دوهمي دروازې ځای هم په خپلو سترګو ولید چي په ډېرو بند شوی، قریشو دا تغییرات د دې لپاره راوړي ول چي کعبې ته اشرافي بڼه ورکړي، یوازي خاص خلک هغې ته د ننوتلو اجازه ولري، دا پرېکړه د دوی په واک کي وي چي چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي او چا ته نه، ما ته الله تعالی پنځه ځلي کعبې ته د ننوتلو شرف راپه برخه کړ، کله چي ما د سعودي ځوانان د لومړي ځل لپاره په خپلو سترګو ولیدل نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم رنګ را په یاد شو. زما پر ایمان او عقیدې د دې خوب ډېر ژور اغېز وو، په خوب کي د کعبې هغه حالت لیدل چي څلور زره کاله مخکي وو او بیا نږدې څلرویشت کاله وروسته په ویښه کعبې ته د ننوتلو سعادت ترلاسه کول څه عادي خبره نه ده. خو دا چي آیا زه به کعبې ته په داسي حال کي هم داخل شم

(c) ketabton.com: The Digital Library
چي جوړښت ئې همغسي وي چي د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې وه او ما په خپل خوب کي ليدلې وه که نه؟ اميد مي دا دئ چي د خوب دا برخه هم تحقق ومومي.

پوښتنه کوم: په تنکۍ ځواني کي، هغه مهال چي د کعبې له تاريخ او لومړني جوړښت خبر نه وم، څنګه مي کعبه په هغي بڼي کي وليدله چي نږدې څلور زره کاله وړاندي وه، څنګه پوه شوم چي څلرويښت کاله وروسته به دې کعبې ته ننوځم، يو ځل نه بلکي پنځه ځلي، څنګه مي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په هغه رنګ کي وليد چي د سعودي ځوانانو ته ورته وو، او کله چي ما د سعودي ځوانان د لومړي ځل لپاره په خپلو سترګو وليدل نو د رسول الله صلی الله عليه و سلم رنګ را په ياد شو؟!!!

۱۳- دوهم ځل مي هغه مهال په خوب کي ليدلی چي د سردار داؤد د اقتدار په دور کي زه د پېښور په ګلبهار نومي سيمي کي اوسېدم، د نورو ملګرو تر څنګ دوه پيلوټان هم راسره اوسېدل چي د يوه نوم محمد ګل ځاځی وو، زه او دوی د يوې عسکري کودتا په تور تر تعقيب لاندي وو، نور ملګري مو نيول شوي وو، او موږ پېښور ته ولاړو، خوب مي ليدو چي رسول الله صلی الله عليه و سلم زما د اوسېدو ځای ته راغلی وي، زه ئې لاسونه ورومينځم، پر دسترخان د شوروا کاسه ورته کښېږدم، د خوراک په جريان کي له خوب راويښ شوم، سحر د ناشتا پر مهال همدا پيلوټ راسره ناست وو او راته وئې ويل: خوب مي ليدو چي ته راته وايې ما تېره شپه رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوب کي ليدلی، ما ورته وويل: هو؛ ما تېره شپه رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوب کي ليدلی او خوب مي ورته تېر کړ.

۱۴- درېيم ځل مي هغه مهال په خوب کي وليد چي د روسانو په ضد زموږ جهاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library
ډېر شدت سره روان وو، ما به د دې لپاره د امريکايانو په ضد جدي تبليغات کول چي پوهېدم هغوی شوم عزائم لري، که مجاهدين د دوی خطرناکو عزائمو ته متوجه نه کړو نو کېدی شي روسان وباسو خو افغانستان د امريکايانو په لاس کي پرېوځي، ځينو ورونو دا مشوره راکوله چي اوس د امريکا په ضد د څه ويلو وخت نه دئ... په همدې دوران کي مي خوب وليد چي په يوې لويي کلا کي له ډېرو ملګرو سره يم، د کلا داسي لويه دروازه وي چي لاری ترې تېرېدی شي، دروازه د شمال لوري ته وي، د کلا د امنيت مسئوليت زما په غاړه وي، موږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم راتلو ته منتظر يو، ناڅاپي ګورو چي هغه له يو شمېر خلکو سره له همدې لويي دروازې کلا ته راننوځي، زما په لاس کي دوه توري وي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه جومات په لوري ولاړ شي چي د همدې کلا په غربي خوا کي پروت وو، زه په خلکو کي سترګي رغړوم چي وګورم کوم دښمن خو به په دې فرصت کي کلا ته نه وي راننوتلی، په دوو کسانو مي سترګي ونښلي، چي رنګ ئې سور، سترګي ئې شنې، د سر او ورېځو وېښتان ئې ژېړ دي او سرونه او ږيري ئې خرېيلې دي، متوجه شم چي دوی رسول الله صلی الله عليه و سلم ته د زيان رسولو په موخه راغلي، پر دواړو د تورو ګوزارونه وکړم، دواړه ووژل شي، بيا جومات ته ولاړ شم، په دوهم صف کي ودرېږم، رسول الله صلی الله عليه و سلم هم په همدې صف کي ولاړ وي، زما او د ده تر منځ يو کس ولاړ وي چي زه ئې نه پېژنم، څوک چي امامت کوي هغه هم نه پېژنم، موږ د امام کيڼ لوري ته په دوهم صف کي ولاړ يو، په همدې حالت کي له خوب راوېښ شوم. دې خوب د خپل دريځ په اړه مطمئن کړم، دا دواړه شين سترګي دښمنان روس او امريکا وو، په دوو تورو د دوی وژل د دواړو په ضد په يوه وخت کي مبارزه وه، د لمانځه په دوهم صف کي زموږ د ودرېدا تعبير دا دئ چي موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library
د اسلامي امت دوهم نسل یو، زموږ په خوا کي د رسول الله صلی الله علیه و سلم ودرېدا ښيي چي موږ د ده په سنت عمل کوو او هغه له موږ سره دئ، له شمال د دښمنانو راتګ دا دئ عملاً ولیدل شو چي دواړه په ګډه نن له شمال افغانستان ته راغلي.

۱۵- څلورم ځل مي د ۱۳۸۸ کال د قوس د میاشتي په څلرویشتمه نېټه هغه مهال په خوب کي ولید چي ما د بخاري پښتو ژباړه پیل کړې وه، خوب وینم چي په امام صاحب کي یم، زموږ د کور مخي ته زمکي کي د دښمن پوستې وي، زمکه کي لوښې وي، د یوې له کبله، له ځان سره وایم چي په سینه کرښېدو سره دې پوستو ته رسېدا او برید کول ممکن دي، د یوې پوستې عسکر له ځان سره وایي چي اوس په دې ځای کي بلد شوي یو که څوک د شپې له لوري هم په دې لوښو کي راځي نو پرې پوهېږو، دا وخت موږ د رسول الله صلی الله علیه و سلم راتلو ته منتظر یو، له ځان سره وایم چي که هغه راغی نو سترې مشې به څنګه ورسره کوم، څه به ورته وایم، هغه په یوه موټر کي راشي، د موټر ښي اړخ ته کوز شي، موټر وړاندي ولاړ شي، خوا راکړي، روغ بړ ورسره وکړم، له ځان سره ووایم: داسي نه چي زما له سا او تنفس اذیت شوی وي، له روغبړ وروسته لاس داسي وخوزوي چي د شمال په لور ځو، ما د خپل کور په لور اشاره وکړه او ومي ویل: دې لوري ته ځو، روان شو، په لویه دروازه د ننوتو په وخت کي ئې زموږ د کور دوه منزله مېلمستون ته وکتل او وئې ویل: خلک خو دغو ته ګوري (داسي ترې معلومه شوه چي دا دوه منزله ځای ئې خوښ نه شو او ګواکي خلک د مجاهدینو په اړه د داسي کورونو په جوړولو ناراض شوي او اعتراض لري... ما وویل: دا دېرش پنځوس کاله مخکي جوړه شوې، تر اوسه ورانه وه، دا لومړی کور وو چي کمونستانو وران کړ، تر اوسه وران وو، له ځان سره وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library
چي دا ځنګه او څه وخت بېرته جوړ شوی، «دا کور همغسي تر نن پوري وران پاته دئ»، بیا نه پوهېږم چي ځنګه تر هغي خوني ولاړو چي یو ځای په کي کښېنستلو، زه ځان داسي ګورم لکه چي کومه برېستن راباندي پرته وي، له ځان سره وایم: دا ولي؟ برېستن لري کړم، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مخامخ کښېنم، مخ ته ئې ګورم، داسي احساس کوم چي د ډېرو کړاوونو په وجه ډنګر شوی او سپین وېښتان ئې په رېږي کي راڅرګند شوي، هغه لاس داسي وخوزوي چي ورو ورو مخکي تګ افاده کوي او ووایي: همداسي به مخکي ځو، په همدې کي له خوب راویښ شوم. تعبیر ئې ډېر واضح دئ، زه ئې هم پر خپل جهاد مطمئن کړم او هم د بخاري د ژباړي او شرحي په اړه، یقیناً چي رسول الله صلی الله علیه و سلم هم له دښمنانو ډېر کړاوونه لیدلي او هم له کمعقلو او غرضي دوستانو، ما د تحقیق په دوران کي داسي روایات هم ولیدل چي که د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندي ده ته دا خبري منسوب شوې وی نو الله تعالی ښه پوهېږي چي څومره به پرې ځور ېدلی وو؟!! داسي خبري چي دښمنان ئې له کولو عاجز وو خو مسلمانانو ده ته منسوب کړې دي!! معلومه نه ده چي د قیامت په ورځ به دا خلک د دې پوښتني څه ځواب ورکوي چي ولي مو رسول الله صلی الله علیه و سلم ته هغه خبري منسوب کړې وې چي ده نه وې ویلې؟ ولي مو هغه ته داسي څه منسوب کړي ول چي هغه ترې بري وو؟ ولي مو په هغو صفاتو ستایلی چي الله تعالی نه دئ پرې ستایلی؟

د خوب د ځینو برخو په اړه له غور وروسته څو خبرو لازیات مطمئن کړم: ۱- ما په خوب کي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویلي وو چي دا کور دېرش پنځوس کاله مخکي جوړ شوی وو، له غور وروسته راته معلومه شوه چي زموږ د کور هغه مېلمستون پنځوس کاله مخکي جوړ شوی وو او دېرش کاله مخکي وران

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وو او تر ننه همغسي وران پاته دئ!! ۲- د بخاري د ژباړې په دوران کي مي کله کله زړه غوښتل چي لاس ترې واخلم، زړه مي راته ویل چي دا ډېر دروند کار دئ او زما ډېر وخت نیسي، خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم دې وینا چي ورو ورو به مخکي درومو دې ته وهڅولم چي ادامه ورکړم، ۳- واقعاً چي پر مجاهدینو د افغان ولس یو ستر اعتراض دا دئ چي ځینو په داسي حال کي له نارواوو لارو ځان ته بنګلې جوړي کړې چي د جهاد د ډېرو شهداوو کونډي او یتیمان په سختو محرومیتونو او مظلومیتونو کي ژوند کوي. ۴- له بړستني مي تعبیر دا دي چي د مدثر د سورې آیتونه ما ته هم متوجه دي. الحمدلله چي ما هغه له ځانه لري کړه، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مخامخ کښېنستم او ماته ئې د ورو ورو مخکي تلو لارښوونه وکړه.

مرغان په خوب کي لیدل

۱۶- د میزان په دولسمه ۱۳۸۸امي خوب لیدو چي په یوه چمن کي ناست یم، ناڅاپه ګورم چي په هوا کي مرغان راښکاره شول، چا څه د دوی لوري ته وروشړل، نه پوهېږم چي څه وو، یو په کي زخمي شو، لاندي د راپرېوتو په حال کي وو، زما په لوري راپرېوتو، مخامخ زما په لوري راشي، دا اندېښنه راسره پیدا شي چي اوس به مجددي دا زما په خلاف د بد فال په توګه تعبیر کړي، چي ګواکي مرغه پرې حمله وکړه، چي رانږدې شي زما په لاس کي رنګه مجلې ته ورته کتاب وي، دا ئې مخي ته وخوځوم، هغه په شا شي، بېرته بر ولاړ شي، زه مرغه ته مخ کړم او ووایم: ساده لکه چي په دې کتاب دي د غوښي ګمان راغی، هغه لوړ لاړ شي، متوجه شوم مجددي او رباني هم د یوه بل څنګ ته ناست دي، شا ئې زما خوا ته ده، یو بل کس دوی ته مخامخ ناست وي، ګمان کوم انجنیر احمدشاه احمدزی وو، دوی زما کیڼ لاس ته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګامه آخوا ناست دي، زه هغه درېيم كس ته د يوه حديث په اړه ووايم چي داسي نه دئ بلكي داسي دئ، (اوس مي هغه حديث هېر دئ)، مجددي هغه كس ته ووايي چي حكمتيار اوس په حديث كي هم متخصص دئ، دا خبره د استهزاء په توګه وكړي او هغه كس ته يوه وړوكې پاڼه هم وركړي، ګواكي حديث دغه دئ، زه ورته ووايم چي هو؛ الحمدلله زه حديث لولم، هغه ووايي: په خپل اپارتمنت (يا ديپارتمنت) كي! زه ورته ووايم: نو آيا ستا په صوفي خانه كي ئې ولولم؟! په دې وخت كي ګورم چي د مرغانو بله يا همغه مخكنۍ ډله بيا په آسمان كي راڅرګنده شوه، بيا يو د مخكي په څېر زما په لوري راشي خو په چمن كي ولوېږي، زه ورشم، شا ئې زما خوا ته وي، د سر په ښكو ئې لاس راكښ كړم، ښكي ئې زېړ بخوني زرغونې وي، دومره لوی وي لكه يو ناست انسان، هغه راته ووايي: زه ستا د نيمي شپې د تلاوت او ژړا شيدايي يم، ولي دي پرېښى؟ زه ورته ووايم: له دې وروسته به ئې كوم، هغه وزر كه لاس رااوږد كړي او غواړي له ما قول واخلي، زه لاس وراوږد كړم، د ګوتو سرونه مو سره ولګېږي، د دغه حالت په ليدو سره پر ما ژړا راشي، په ناسته ژاړم، شا مي هغو دريو كسانو ته وي، ګمان مي كاوو چي اوس به دا درې كسان زما خوا ته راشي او پوښتنه به وكړي چي دا څه وو او څه ئې ويل او ولي ژاړې؟ خو هغوی په بې اعتنائي سره له هغه ځای ووتل. او په همدې كي له خوب راويښ شوم، له راوېښېدو وروسته مي حالت داسي وو چي څو شېبې مي وژړل.

د خوب تعبير داسي برېښي: له مرغانو مراد فرشتې دي، د رباني، مجددي او احمدزي يو ځای ناسته هغه جبهه په ګوته كوي چي دوی د حزب په خلاف جوړه كړې وه او پايله ئې له پرچميانو سره ائتلاف او د كابل جګړي شوې، دوی د الهي حكم خلاف عمل كولو پر فرشتو د دوی لخوا وار دغه معنی لري، په دغو مرغانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له لوري گوزار شوی وو، زخمي مرغه زما پر سر راپرېوتو، او دا ښيي چې د الله تعالی پرېکړه زما په لوري وه، خو زه له حقیقت خبر نه وم، په فرشتې زما گمان چې مرغه به وي همدا تعبیر لري، د حدیث په اړه زما وینا ښايي زما هغو لیکنو ته اشاره وي چې له اسلام د دفاع په اړه مې کړې دي، د مجددي وینا له حق خبرو سره د ده مخالفت خو د مذهب تر پوښښ لاندې ښيي، که څه هم هغه شپه مې تهجد لمونځ کړی وو، یو جز تلاوت مې په لمانځه کې کړی وو خو ښايي د نه ژړا په وجه ئې ما ته ویلي وي چې ولې دي پرېښی؟

لوړه او ژوره، لنډ او اوږد ټوپ

۱۷- د ۱۳۸۷ کال د اسد په اومه شپه مې خوب لیدو چې د یوه جگ غره پر سر له زیاتو ملگرو سره روان یو او غواړو د دې غره تر ټولو جگې څوکې ته ځان ورسوو، د لارې په منځ کې زه د غره څوکې ته وگورم او بیا لاندې ته نظر واچوم او له ځان سره ووایم چې راځه ته والوزه او له ښي اړخه ځان څوکې ته ورسوه، تر ټولو به مخکې ورسېږې، والوزم، په یوې برخې کې څو ځوانکي وگورم، ورکوز شم، یو ئې بې باکه او اوباش معلومېږي، ورته ووایم چې راشه ته د لینین او بوش په اتکاء درې گزه ټوپ ووهه، هغه ټوپ کړي خو ټوپ ئې فقط یو گز وي، زه ورته ووایم: اوس نو ما ته وگوره چې د الله تعالی په مرسته د غره هغې لوړې څوکې ته والوزم، په همدې سره د الله نوم واخلم او له زمکې اوچت شم، غر ډېر لوړ او نېغ وي، زه همداسې عمودي په هوا کې لوړ ځم، دواړه لاسونه مې لوړ نیولي وي، آخرې څوکې ته ورسېدم، د څوکې په سر نرې تیران راوتلي وو، یوه ته، بل ته، او بیا بل ته لاس وغزوم، او په دې سره څوکې ته وختم، بیا ځان د داسې چا کره گورم چې ځاځیان معلومېږي، یو ئې ما پېژني خو د کور خاوند مې نه پېژني، زه روژه یم، د روژه ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library
لپاره ډوډۍ راوړې، په دسترخان یو موټ پاخه سابه له لوښي پرته او خوا ته ئې وچه مړۍ کښېږدي، زه خوراک پیل کړم، د کور خاوند پوښتنه وکړي چي دا څوک دئ؟ هغه کس چي زه ئې پېژندم ورته ووايي: د خدای یو دوست... په همدې کي له خوب راویښ شوم.

د دې خوب تعبیر دا دئ: په خوب کي لوړ ځای ته ختل د معنوي ارتقاء په معنی او په ټیټ ځای او کندي کي اوسېدل او په کي پرېوتل د معنوي ټیټوالي او سقوط په معنی دي، په لینین او بوش باندي اتکاء کوونکي کمونستان او غربپالان دي. د دواړو ګډ ټوپ به لنډ وي، له ځاځیو ښايي مراد زما د ژوند هغه ورځې وي چي د جهاد د ورځو په سختو جګړو کي مي څه موده هلته تېره کړې وه او وصیت مي کړی وو چي که شهید شوم نو چي هر ځای شهید شوم هملته مي دفن کړئ او که په خپل مرګ ومرم نو د ځاځیو د شهید کنډو پر سر مي په هغه سنګر کي دفن کړئ چي په څو سختو جنګونو کي پکي اوسېدلی یم.

په خوب کي بیرغونه

۱۸- د سالار احمد زي د خوب تعبیر

د شهادت په ورځپاڼي کي مي د سالار احمد زي خوب تر سترګو شو، زه په خوبونو کلک باور لرم، او هغه په حقائقو د پوهېدو یوه حساسه مرجع ګڼم او د مؤمنانو خوبونه د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د وینا مطابق د الله تعالی له لوري دوی ته مبشرات بولم، د هغه خوب داسي وو: په یوه ځای کي چي سمسوري درې لري، له دې ځای یو هوايي پل داسي سیمي ته غځېدلی چي له غونډیو ډکه وچه بیدیا وي، زه د پل له لاري دغي سیمي ته لاړ شم، هلته پر غونډیو رپانده بیرغونه وګورم چي خوا ته ئې رڼا تر سترګو کېږي، له لري دا بیرغونه سپین برېښي، خو کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې ورغلم هغوی مي شنه وموندل، د بیرغ خوا ته مي هیڅوک تر سترګو نشي،... یو کس د قومندان ابراهیم په نامه وګورم چي درې کسان ئې خوا ته وي، یو کس ابراهیم نورو ته معرفي کړي، زه غواړم هغه ووهم د دې لپاره چي ولي ئې هغه پردیو ته معرفي کړ، بیا پټ پټ د لومړي بیرغ په لوري ولاړ شو، وروسته نور ملګري هم راپیدا شي، بیا په ګډه د نورو بیرغونو خوا ته ولاړ شو، هغه راواخلو او مخکي روان شو... ما ته دا خوب داسي بریښي چي ټولي برخي ئې رښتیا شوې، که د خوب د لیدو پر مهال له دې خوب سره مخامخ شوی وی ښایي تعبیر به ئې راته ګران وو خو اوس راته کاملاً څرګند بریښي. د سالار احمد زي د غوښتني له کبله د هغه تعبیر وړاندي کوم:

داسي معلومېږي چي ته په اروپا کي اوسې، د هوا له لاري افغانستان ته تګ راتګ کوې، په خوب کي د هوایي پل، سمسوري درې او له غونډیو ډکي وچي بیدیا تعبیرونه همدا دي. ښایي د افغانستان له داسي سیمي سره تعلق لرې چي غرونه او غونډۍ لري خو ځنګلونه نه لري.

سپین بیرغ د طالبانو نښه ده او شین بیرغ د حزب اسلامي، د بیرغ رپېدا او خوا ته ئې رڼا د اسلامي جهاد نښه ده، له لري د غونډۍ پر سر بیرغ په سپین رنګ کي لیدل او له نږدې په شین رنګ کي؛ دا تعبیر لري چي خلک به له لري دا جهاد طالبانو ته منسوبوي خو په اصل کي به د حزب اسلامي له لوري وي، په دې حقیقت به هغه څوک پوهېږي چي جهاد له نږدې وڅېړي.

د بیرغ خوا ته د مجاهدینو نه لیدل دا تعبیر لري چي جهاد به روان وي، بیرغ به ئې رپېږي خو مجاهدین به نه لیدل کېږي، یعني مجاهدین به په څرګنده توګه او په جبهه ئې جنګ نه وي بوخت او دوست او دښمن به ئې نه پېژني. او دا دئ عملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي وشول.

د جهاد مشر به د ابراهيم عليه السلام په سنت عمل کوي، د بتانو د ماتولو لپاره به ملا تړي، خو په پټه به د جهاد مشري کوي او ته به هغه څوک د وهلو مستحق ګڼې چي د ده اسرار افشاء کړي. د قومندان ابراهيم او ستا د يوه ملګري له لوري پرديو ته د ده معرفي همدا تعبير لري.

د لومړي بيرغ لوري ته ستا پټ پټ تګ ښيي چي ته به د جهاد په لومړي پړاو کي د مجاهدينو ملګرتيا کوې او دا ملګرتيا به تر هغه دوام کوي چي جهاد دوهمې مرحلې ته داخل شي. دعاء وکړه چي دا ملګرتيا دي د ژوند تر پايه دوام وکړي او لا زياته مضبوطه شي.

هغه درې کسان ښايي داسي درې ډلي انځوروي چي په مخکني جهاد کي ئې څه برخه وه، خو اوس له مجاهدينو پردي شوي او د مجاهدينو په اسرارو د دوی پوهېدا خطرناک عواقب لري.

بيرغونه او پر سر ئې رڼا د جهاد مشعلونه دي، پر ډېرو غونډيو د بيرغونو ليدا ښيي چي د هېواد په ګوټ ګوټ کي به جهاد پيل شي او ستا د ملګرو له لوري د دغو بيرغونو ترلاسه کول او په رڼا کي ئې وړاندي تګ ښيي چي وروسته به جهاد له هغه پټ او مخفي حالت ووځي او په ښکاره جهاد به بدل شي. چي دا دئ همداسي وشول.

په خوب کي د مهدي ليدل

۱۹- راشئ د شهيد اسامه او ايمن الظواهري د يوې غونډي قصه هم ستاسو په وړاندي کښېږدم: د امريکايانو د تېري په لومړي کال او هغه مهال چي په شيګل کي اوسېدم، اسامه، ايمن الظواهري، د اسامه دوه زامن، حمزه او عثمان، او د کويټ ابوالغيث هم راسره ول، د دسترخان شاوخوا ناست وو، اسامه د يوه عرب ورور د

(c) ketabton.com: The Digital Library
يوه اوږده خوب يادونه وکړه، چي د امريکايانو بريد، د طالبانو د حکومت نسکورېدا، په توري بوري کي پر دوی بريد او د ډېرو نورو پېښو تر څنګ ئې دا هم په خوب کي ليدلي وو چي مورږ يوې سيمي ته پناه وړې چي خلک ئې په قوم شنواري دي، دلته د اقامت پر مهال واورو چي مهدی راوتلی، که ګورو چي خلک يو سړی پر تخت ولاړ پر خپلو اوږو تر مورږ بر وړي، يو پړی ئې داسي پرې راتاو کړی وي چي لاسونه ئې هم له بدن سره تړلي وي، راته ويل کېږي همدا مهدي دئ،... بيا ئې وويل: کله چي مورږ دلته راغلو او پوښتنه مو وکړه چي د دې سيمي استوګن په قوم څوک دي، راته وويل شول چي شنواري، حيران شوم چي په کنر کي شنواري څه کوي، د هغه ورور خوب مي را په ياد شو، ټولي برخي ئې يوه په بلي پسي رښتيا شوې، خو نه پوهېږم چي د هغه لاس تړلي مهدي تعبير به ئې څه وي؟!! په دغو ورځو کي زه ورونو د اسامه دوی تر موقعيت لږ بر بېولی وم او دا ئې راته ويلي وو چي له ملاقاتونو، مرکو، تماسونو او څرګندېدو به ډډه کوې، داسي مي احساسوله لکه چي زما لاس پښې ئې راتړلي وي، دې حالت ته په پام سره د هغه خوب تعبير راته کاملاً څرګند شو، ورته ومي ويل: د قرآن د وينا له مخي هر قوم ځان ته هادي او مهدي لري، ښايي ما ته به الله تعالی دا سعادت راپه برخه کړي چي د دې ولس هادي شم، خو دلته ئې زما لاسونه راتړلي دي، بيا مي خپل هغه خوب هغوی ته بيان کړ چي د تحصيل په دوران کي مي د پوهنتون په لومړي کال په ليليې کي ليدلی وو، خوب داسي وو: ډېر خلک راغونډ وي، د اکثرو جامې سپيني وي، د ځينو ږيري توري او د ځينو سپيني وي، يو له بل سره روغبړ کوي او مبارکي ورکوي چي مهدی راوتلی، ټول کښېني، ځيني ئې ما ته اشاره وکړي چي دی د مهدي نائب دئ، بيا له ما وغواړي چي وينا ورته وکړم، زه ودرېږم او خپلي خبري داسي پيل کړم: به نام خدا، به نام خدايی که هزار و

(c) ketabton.com: The Digital Library

چهارصد سال قبل به عده ای محدود صحابه این توفیق را عنایت کرد که پرچم اسلام به دست آنان در قلب دهلي به اهتزاز آمد، د لاس خوځولو او جذباتي کېدو له کبله له خوب راویښ شوم. هغه مهال مي ویناوي او لیکني ټولي په فارسي وې ځکه زموږ د سیمي د مکتبونو او د پوهنتون د درسي نصاب ژبه فارسي وه.

سیده لار، دواړو اړخونو ته ئې دېوالونه او دروازې او پردې ئې

۲۰- خور لیلا د مدرسې استاده وایي: خوب ګورم چي په لوی تعمیر کي روانه یم، ښي او کیڼ خواوو ته ئې کوټې دي، دروازې نه لري د دروازو په ځای پردې راځوړندي دي، ما یوه پرده اوچته کړه، ګورم چي رباني او سیاف پکي ناست دي، ژر مي پرده راپرېښوده، رسول الله علیه السلام مي ولید چي راته وایي: مخامخ لاړه شه، هلته مې یوه کوټه ولیده چي دروازه ئې وه، او پرده هم ورباندي ځوړنده وه، په کوټه کي یو ښکلی مېز، او له پاسه ئې سپین څادر غوړول شوی وو، او په پطنوس کي یوه هندوانه پرته وه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راته وایي: نیمه ته وخوره او نیمه حکمتیار ته پرېږده، خو ما ډېره برخه هغه ته پرېښوده او له خوب راویښه شوم؟

د یوه مبارک حدیث په رڼا کي د دې خوب دقیق تعبیر دا دئ: سیده لار یعني اسلام، ښي او کیڼ لوري ته دروازې چي پردې پرې غوړېدلې دي له سمي لاري کیڼ او ښي لوري ته د انحراف هغه ملمع او پوښل شوي بلونکي چي انسان انحراف ته راکاږي، مخامخ تګ په سم لوري تګ دئ، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوب لیدونکي ته په سم لوري د تګ لارښوونه کړې، د هندوانې تر نیمایي زیاته برخه ما ته پرېښودل زما په اړه د محترمي استادي پېرزوینه ښیي.

حدیث داسي دئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم: " ضرب اللَّهُ مَثَلًا صِراطًا مُسْتَقِيمًا وَعَلَى جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ سُورَانِ، بَيْنَهُمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ، وَعَلَى الْأَبْوَابِ سُتُورٌ مُرْخَاةٌ، وَعَلَى بَابِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ ادْخُلُوا الصِّرَاطَ جَمِيعًا وَلَا تَتَفَرَّقُوا , وَدَاعٍ يَدْعُو مِنْ فَوْقِ الصِّرَاطِ، فَإِذَا أَرَادَ إِنْسَانٌ فَتْحَ شَيْءٍ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ قَالَ لَهُ: وَيْحَكَ لَا تَفْتَحْهُ، فَإِنَّكَ إِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ، فَالصِّرَاطُ: الْإِسْلَامُ، وَالسُّتُورُ: حُدُودُ اللَّهِ , وَالْأَبْوَابُ: مَحَارِمُ اللَّهِ تَعَالَى، وَالدَّاعِي عَلَى رَأْسِ الصِّرَاطِ: كِتَابُ اللَّهِ، وَالدَّاعِي مِنْ فَوْقِ الصِّرَاطِ: وَاعِظُ اللَّهِ فِي قَلْبِ كُلِّ مُسْلِمٍ " مسند احمد

له النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْأَنْصَارِيِّ روايت دئ چي رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: الله تعالى د داسي لاري مثال بيان کړی چي سيده ده، د لاري دواړو اړخونو ته دوه دېوالونه دي، تر منځ ئې پرانيستې دروازې، پر دروازې نرۍ پردې، د لاري دروازې ته جوخت يو بلونکی چي وايي: اې خلکو! ټول دې لاري ته ننوځئ او مه سره بېلېږئ، د لاري بر لوري ته داسي بلونکی چي کله کوم انسان وغواړي د دغو دروازو کومه يوه پرانيزي نو هغه ته وايي: افسوس پر تا، مه ئې پرانيزه، که ئې پرانيزي نو وردننه به شې، نو له دې لاري مراد اسلام دئ، له پردو الهي حدود، له دروازو الهي محارم (هغه څه چي الله تعالى حرام کړي)، د لاري د سر له بلونکي د الله تعالى کتاب او د لاري بر بلونکی هغه الهي واعظ چي د هر مسلمان په زړه کي وي.

۲۱- مولوی فقيرالله وايي: په خوب کي مي خپل استاد يا پيغمبر عليه السلام وليد او پوښتنه مي ترې وکړه چي ملاعمر به څنگه شي، راته وئې ويل: تنظيم ئې ښه دئ خو دی نشي بريالی کېدی، بيا مې د حکمتيار په اړه پوښتنه وکړه، راته وئې ويل: إن شاء الله بريالی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور دوهم منزل

۲۲- د ۸۶ کال د میزان په شپږمه شپه مي په خوب کي ولیدل چي په امام صاحب کي د خپل کور د مېلمستون په دوهم منزل کي یم، د کور په ترمیم کار روان دئ، زما شهید والد هم راسره وي، گورم چي د چت پلستر راځوړند شوی او د لوېدو په حال کي دئ، زه پلار ته ووایم چي دا خو په هغه صورت کي ترمیم کېدی شي چي له چت سره په پېچونو وصل شي، د خوني جنوب غربي کونج ته متوجه شم لوی چاود ئې کړی، جنوب شرقي کونج کي هم چاودونه وگورم، پلار ته مخ کړم چي دلته اوسپدل صحیح نه دي د ړنگېدو احتمال ئې شته، غواړو په تلوار ووځو، د خوني له دروازې د وتلو پر مهال متوجه شو چي معماران لگیا دي کار کوي، زما والد معمار د تجار په نامه یاد کړي، زه گمان وکړم چي ده د نجار نوم واخیست خو بیا ئې د تجار په نامه یاد کړي، په همدې حالت کي له خوب ویښ شوم، تعبیر ئې دا دئ چي د هېواد برنۍ طبقه خلک او د دوی واکمني د نسکورېدو په حال کي ده، په جنوب غرب او جنوب شرق کي ئې دېوالونه چاودېدلي، له دوی سره یو ځای کېدا غلطي ده، څوک چي د افغانستان د بیاودانولو خبري کوي نجاران نه بلکي تجاران دي، وطن په پردیو پلوري.

د الله تعالی په حضور کي

۲۳- د ۱۳۸۶کال د میزان په اته ویشتمه شپه مي خوب لیدو چي په یوې خوني کي یم، چینه پکي بهېږي، له بې سده زمریانو ډکه ده، داسي احساسوم چي الله تعالی دلته حاضر دئ او زه ئې په حضور کي ولاړ یم، سخت ورته ژاړم، دعا ورته کوم، ترې غواړم چي نور ما د ځان لوري ته دروبله، له ژوند تېر یم. په خوني کي پراته زمریان هم د الله تعالی د حضور له امله بې سده دي، د سختي ژړا په حالت کي له

(c) ketabton.com: The Digital Library
خوني راووځم، بهر څو ايرانيان وګورم چي ځيني افسران ئې هم په کي دي، له ځان سره وايم چي دوى مشرکان دي، د الله تعالى په ځاى د دغو زمريانو عبادت کوي!! يو ئې راسره خبري کوي خو زه د ژړا پداسي حال کي يم چي نږدې ده زړه مي وچوي، په همدې حالت کي له خوب راويښ شوم.

د خوب تعبير داسي دئ: هغه زمريان د الله تعالى مقرب بندګان دي، د زيات قرب له کبله بې سده دي، هر څومره چي انسان الله تعالى ته نږدې لاړ شي ليدلى ئې نشي، هغه خونه او چينه ئې د دين منبع او چينه ده، ايراني شيعه د څو مقربو بندګانو عبادت کوي.

پر آس سپرېدا

۲۴- د ۱۳۸۶ کال د حوت په ۱۳ د دوشنبې په شپه په خوب کي ګورم چي په يوه ښکلي سور آس سپور له ختيځ لوري کور ته روان يم، کله چي دروازې ته رانږدې شوم آس مي په ډېر تمکين سره ورو ورو کور ته ننوت، زه ئې له دې حرکت ډېر زيات خوند واخلم، په همدې وخت کي يوه چا راته وويل چي دا د يوه ښه آس نښه ده چي کور ته رانږدې شي نو په ډېر تمکين سره خوځي او کور ته ننوځي، په کور کي له آس کوز شوم، ګورم چي آس داسي غير عادي حرکات کول لکه چي سر پرې څرخي خو تم شو، زه ورته خفه وم، خو خوراک ئې پيل کړ، شهيد پلار مي په پيچکارۍ وينه ترې واخيسته خو وينه ئې د شيدو په څېر سپينه وې، پلار مي راته وويل دا ده په ويني کي تور تور خاڅکي معلومېږي ما چي ورته وکتل د غوړو خاڅکي مي وليدل.

تعبير ئې دا دئ: کور يعني وطن، آس يعني هغه ځواک چي خوب ليدونکي ته تابع وي، په تمکين سره کور ته ستنېدل يعني عجله نه درلودل او په تمکين سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوتل، نو په مجموع کي د خوب تعبير دا دئ چي په حکومت کي برخه اخيستلو کي بايد محتاط وو، حکومت کي برخه اخيستل زموږ قوت او اعتبار تضعيفوي.

توره

۲۵- د ۱۳۸۷ کال د حوت دوه ويشتمه شپه په خوب کي گورم چي له پرويز مشرف سره لاس په لاس نښته لرم، د هغه په لاس کي توره وي، زما په وار سره توره ترې ولوېږي، زه ئې راواخلم، خو زما له لاسه لاندي پرېوځي او له لوړي په ډېر سرعت سره لاندي ورغړي، زه په تلوار سره پسي وزغلم، د لوړي لاندي ئې ونيسم، که گورم چي دا توره د يوه واړه خنجر په اندازه شوه، چي ورته ځير شوم يوه خوا بله خوا ئې له ډېرو سره د لگېدو له کبله سولېدلې، خيري شوې او کږه شوې ده، متوجه شوم چي دا له فولاده نه بلکي د سربو په څېر له نرمي اوسپني جوړه شوې، ايراني ده او په موټي ئې د خميني انځور کاږل شوی. په همدې کي له خوب راويښ شوم. له غور وروسته پوه شوم چي تعبير ئې دا دئ: مشرف د مسلمانانو مقابله د ايران پلوه شيعه وو په وسيله کوله، ډېره کمزورې وسيله وه، له لاسه ئې ووتله، حقيقت همدا دئ چي ده د امريکايانو په وينا له شيعه وو د مسلمانانو د ځپلو لپاره کار اخيست، په فوځ، استخباراتو، پوليس او د تروريزم ضد اداراتو او مسلح قطعاتو کي ئې دا کار شيعه گانو ته سپارلی وو، د امريکا سي آی اې او ايف بي آی چي په پاکستان کي کوم مسلح ټولگي د همدې غرض لپاره جوړ کړي ول اکثريت ئې شيعه ول او په شمالي وزيرستان کي د جنگ قيادت ئې هم شيعه افسرانو ته سپارلی وو.

لوی کب (ماهي)

۲۶- د ۱۳۸۸کال د حمل په دوه ويشتمه شپه مي خوب ليدو چي په نورستان کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو ورونو ځای ته د اوسېدو لپاره ځم، د غره په یوې ډډې روان یو، په یوه ځای کې لوی سیند وګورو چې ډول ډول لوی ماهیان په کې ګرځي، هر یو ئې لکه یوه وړه کشتۍ، خوا ته مې یو کس وایي چې اوبه له موږ دېرش متره لاندې دي، ناڅاپي یو کب راټوپ کړي او خپلې شونډې زما پر ښي لاس ووهي او بېرته اوبو ته کوز شي، که ګورم چې لاس مې تناکي شي، خو ورو ورو بېرته ختمي شي، بیا ګورم چې دا اوبه دومره کمې شي چې کبان ئې یا ولاړ شي یا په ختې کې ونښلي، یو غټ ئې زموږ د ملګرو لاس ته ورشي، یوه برخه ئې پخه کړي او موږ ئې وخورو. تعبیر ئې ښايي دا وي چې اوس په افغانستان کې د ګڼ شمېر هېوادونو ځواکونه هرې خوا ته خوزي، یو به ئې موږ ته دومره تاوان راورسوي لکه د لاس پر پوستکي څو تناکي، خو ډېر ژر به د دوی لپاره د لامبو وهلو شرائط ختم شي، له دوی به ډېر څه د افغانانو په لاس کې پرېوځي. له نورستان مراد د نور په لوري تګ دئ، یعني شپه او تیاره ختمېږي او د رڼا ځای ته ځو.

په سپوږمۍ کې وران کورونه

۲۷- د روسانو د وتلو په شپو ورځو کې مې خوب لیدو چې سپوږمۍ ته ختلی یم، که ګورم چې په سپوږمۍ کې سختې زلزلې شوې دي او هلته ټول کورونه وران شوي، یوازې یو کور روغ پاته وي، دا کور له سمنټو جوړ وي، رنګ ئې هم سمنټو ته ورته، ډېر کلک او ستر وي، راته وویل شي چې دا د حزب اسلامي کور دئ، له ځان سره ووایم: په سپوږمۍ کې خو آکسیجن نشته، دا کور ئې څنګه جوړ کړی او مواد ئې څنګه راانتقال کړي، کور ته ورننوځم خو که ګورم چې هغه جومات دئ،... په همدې کې له خوب راویښ شوم، تعبیر مې دا وو چې په افغانستان کې به سخت حالت راشي، ځکه قرآن سپوږمۍ د آیة اللیل په نامه یاده کړې، او سخت حالت ئې له شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تشبیه کړی، په دې سخت حالت کې به نوري ډلي له منځه ولاړې شي او حزب اسلامي به پاته وي، پاته کېدا به ئې داسې وي چې ما ته به هم د حیرانتیا وړ وي. ګمان کوم چې دا خوب رښتیا شو.

حرم، حجرالاسود ښکلول، په حرم کې یوازې دوه کسان

۲۸- ډېر کلونه وړاندې او د شوروي یرغلګرو په ضد د جهاد په دوران کې مې خوب ولید چې په حرم کې او د حجر الاسود مخې ته ولاړ یم او هغه ښکلوم، په داسې حال کې چې له سترګو مې ډېرې اوښکې بهېږي، کله چې فارغ شوم او مخ مې راواړاوو نو خپلې شا ته مې یو څوک چې نوم ئې نورالدین او د الجزائر اوسېدونکی وو وموند، په ټول حرم کې له ما او ده پرته بل څوک نه تر سترګو کېدو، په همدې حالت کې له خوب راویښ شوم، نورالدین ډېر مخلص مجاهد وو، پغمان ته د تګ په دوران کې د هغو ملېشو په کمین کې په شهادت ورسېدو چې مشر ئې صدیق چرسي وو او وروسته د سیاف له اتحاد سره یو ځای شول، له دې خوب مې تعبیر دا وو چې اوس په ټول امت کې یوازې افغان مجاهدین له خپل رب سره په خپلې ژمنې وفا کوي، او د الجزائر مجاهدین به په دوی پسې د جهاد لار غوره کړي، دا ځکه چې پر حجر الاسود لاس ایښودل داسې ګڼل شوی لکه د الله تعالی پر لاس خپل لاس ږدول او له الله سره ژمنه کول.

ځان په مسجدالحرام کې لیدل

۲۹- د ۱۳۹۰ کال د حمل په دریمه شپه مې خوب لیدو چې په مسجدالحرام کې یم، یو کس بل هم راسره دئ (نوم ئې نه اخلم، د اسلامي نهضت د لومړنیو غړو له ډلې دئ، تر نن پورې پر خپلو ژمنو ولاړ دئ، پاکستان ته له راتلو وروسته په ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library
امورو کي سلفیانو ته نږدې شو)، په حرم کي ډېر خلک ترسترګو کېږي، په یوه ځای کي ایمن الظواهري وګورم چي سپین عربي اوږد کمیس ئې اغوستی دئ او په لمانځه ولاړ دئ، زړه مي غواړي له هغه سره له لمانځه وروسته روغبړ وکړم، موږ تر ده لږ وړاندي او د ده ښي اړخ ته په لمانځه ودرېږو، زما ملګری له ما لږ لري زما کیڼ لوري ته ودرېږي، هر څوک بېل بېل لمونځ کوي، یو ځل چي خپل ملګري ته سترګي ورواړوم نو قبلې ته مخامخ په لمانځه ولاړ او د ژړا په حال کي ئې وګورم، خو دوهم ځل ئې مخ د قبلې مخالف سمت ته او بې اعتناء ئې وګورم، زما خوا ته درې ماشومان چي لا تنکۍ ځواني ته نه دي رسېدلي راشي، په لاسونو کي ئې د لاس د ګوتو په اندازه وړې وړې پاڼي وي، داسي ګڼم چي په دې پاڼو کي ئې ځیني پوښتني دي، غواړي ما ته ئې راکړي، زه په خپل لمانځه بوخت یم، لاسونه مي پر نامه دي، پاڼي ترې وانه خلم، یو ئې خپله پاڼه زما پر مړوند کښېږدي، بل ئې ما ته ووایي: کعبه د هغه سپین دېوال لوري ته ده، دا دېوال لږ زموږ کیڼ لوري ته وي، زه ورته اعتناء ونه کړم او په مخکني استقامت خپل لمونځ ته دوام ورکړم، دوی لاړ شي، زه او ایمن الظواهري په داسي ځای کي ولاړ یو چي کعبه په خپلو سترګو نه ګورو، زما خوا ته د ګلانو لوړ لوړ بوټي وي، په همدې حال کي له خوب راویښ شوم. دا خوب او د هغه تعبیر مي همغه وخت لیکلی او د نورو خوبونو په دوسیه کي مي حفظ کړی. د خوب تعبیر ډېر واضح دئ: زما تګلوری سم او سیده دئ، زما ملګري خپل استقامت غلط کړی، هغه مهال ئې استقامت صحیح وو چي لا نه وو سلفي شوی، دا ماشومان هغه دي چي ماشومانه پوښتني او اعتراضات لري، زموږ مزاحم کېږي او د خپل رب عبادت او جهاد ته مو نه پرېږدي، هر یو ئې یوه ډله تمثیلوي، همغه ډلي چي په خپلو ماشومانه اعتراضاتو سره موږ بې ځای مصروفوي، غواړي موږ د خپلي قبلې استقامت

(c) ketabton.com: The Digital Library
کینې لوري ته کوږ کړو، دوی داسي دي لکه هغه بې علمه مزاحم ماشومان، اوس پوهېږم چي دا درې ډلي کومي کومي دي، دا خوب ښيي چي ایمن الظواهري د خپل رب په عبادت بوخت دئ، استقامت ئې د کعبې لوري ته دئ، اوږد سپين کميس ئې د ښه ديانت نښه ده، مقام ئې د افغان مجاهدينو تر شا صف کي دئ.

يوه معبر په خپل کتاب کي ليکلي چي په خوب کي ځان په حرم کي ليدل هم ښه تعبير لري او هم بد، ښه والی او بد والی ئې د ليدونکي په حالت پوري تړاو لري!!

دې معبر دوه ستر ستر اشتباهات کړي: حرم او مسجد او په هغه کي لمونځ د هر چا لپاره يوازي يو تعبير لري، ښه او ښکلی تعبير، تعبير ئې د ايمان او حرم په دائره کي د خوب ليدونکي دخول دئ نه بل څه، دوهمه اشتباه ئې دا ده چي د خوب تعبير ئې د خوب ليدونکي په حالت پوري تړلی، حال دا چي رښتينی خوب رحماني الهام دئ چي تعبير ئې د خوب ليدونکي په حالت پوري هيڅ تړاو نه لري، د کافر خوب همغه تعبير لري چي د مؤمن عين خوب ئې لري، که د مصر د هغه پاچا خوب يوسف عليه السلام ليدلی وی نو تعبير به ئې سل په سلو کي همغه وو چي په خپله پاچا ليدلی، که کوم کافر ځان په حرم کي وګوري يا ئې بل څوک په حرم کي وګوري نو هيله دا ده چي هغه په ايمان مشرف شي.

۳۰- د يوه بل ورور خوب هم ولولئ چي له حرم سره تړاو لري، د څارنوال رضوان محترم ورور عمادالدين وايي: په حرم کي ويده وم، په خوب کي ګورم چي له هري خوا په سپينو جامو کي خلک ډله ډله د عرفات په لوري په منډه منډه درومي، تر لري لري خلک په سپينو جامو کي ګورم، له چا مي پوښتنه وکړه څه خبره ده او دا خلک ولي منډي وهي او په سرعت سره ځان عرفات ته رسوي، راته وويل شو چي ته خبر نه يې، حکمتيار راغلی او بيان ورکوي، زه هم روان شوم، چي کله ورسېدم،

(c) ketabton.com: The Digital Library
نو حکمتیار مي وليدو چي تر ټولو سپين پوشانو لوړ ولاړ دئ، توره پګړۍ ئې پر سر ده او بيان ورکوي، او لاسونه خوځوي، ما يوه کس ته وويل چي له ده سره خو د خپل تنظيم خلک هم مخالفت کوي، دا دومره عظيم مخلوق له کومه راغی، پر ما غږ وشو چي که د زمکي والو پرېښی د آسمان والو نه دئ پرېښی، د همدې خبري په اورېدو سره له خوب راويښ شوم. بايد واضح کړم چي محترم عمادالدين هغه مهال له جمعيت اسلامي سره وو.

قلم يعني الهي مقدرات

۳۱- په ۱۳۸۲\۱۱\۲۳ په خوب کي بش د يوې وړې خاوريني صفې پر عادي چوکۍ ناست ګورم، يو شمېر کسان مو شا او خوا ته، زه څه ورته وايم، ناڅاپي يو کس چي قلم نومېږي راشي او يو لاسي بم د بش په غېږ کي واچوي، خو بم ونه چوي، بش نه پوهېږي چي دا څه شی دئ، قلم بيا راشي او يو لوی بم د بش مخي ته واچوي، بش بيا هم نه پوهېږي چي دا څه شی دئ، زه ورته ووايم چي دا بمونه دي بمونه، زه له صفې راکوز شم، او هره شېبه د بمونو د انفجار انتظار کوم، بش هم له صفې کوز شي، زما خوا ته راشي، زه ورته ووايم چي دا دواړه بمونه وو، ووړ بم پدي خاطر ونه چاودېدو چي پټاخۍ ئې نه وه نصب شوې، د صفې لوري ته راغلو، ګورم چي رحمت الله پر صفه کښېني او بمونه ترې راباسي، داسي معلومېږي چي دلته نور بمونه هم ښخ کړی شوي وو، ما ته يو کس ووايي چي د دې ځای محافظ له قلم سره مرسته کړې او د سلاح کوټ کيلي ئې ورکړې وه، ما له ځان سره د قلم د دې کار په اړه تعجب وکړ او ومي ويل چي ده ته به ښه جائزه ورکوم.

د خوب تعبير دا دئ: قلم يعني الهي مقدرات، الهي مقدرات د امريکايانو غېږ کي بمونه اچوي خو دوی نه پوهېږي، هغه بمونه چي دوی ښخ کړي د الهي رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library
په طفیل به شنډ شي، د رحمت الله په لاس د بمونو راایستل همدا تعبیر لري.

څرګند خوب چي تعبیر نه غواړي

۳۲- په همدې شپه مي له پورتني خوب وړاندي د یوي صفې پر سر له رامز فیلډ سره مجادله وه، هغه ته مي ویل چی له افغانستان ووځئ، بیا دي انتخابات ترسره شي، دا ته يې چي د جنګ پر دوام ټینګار کوې او د وتلو مخالفت، ده پداسي حال کي چي سترګي ئي ټيټي اچولې وې، وئې ویل: زه مخالفت نه کوم، همدا به ښه وي، زه بش ته هم همدا خبره وکړم، هغه راته ووايي چي ما ډېري زوروري خبري کړې دي، اوس د فوځونو د ایستلو خبره نشم کولی، شا او خوا ډېر خلک راغونډ وي او زما او بش خبري اوري.

دا خوب ډېر څرګند دئ او مطلب ئې کاملاً واضح، تعبیر ته ضرورت نه لري.

په فضاء کي روان کمرونه

۳۳- بیا خوب وینم چي په یوه جګ غره باندي ناست یو، دآسمان په لوري وګورم، لوی لوی کمرونه په فضاء کي روان وي، چي ځیني ئې ډېر ستر او ځیني نسبتاً واړه، خو چي د غره سر ته رانږدې شي داسي وبرېښي چي غر ئې لږ ځان ته ورجذب کړي او راټيټ شي، په یوه پسي تر شا هم وګورم چي ناڅاپي په غره راولوېږي، ټوټې ټوټې شي، زه ورشم، لوخړي ترې پورته کېږي، له شا ئې راوګرځم، څوک راباندي غږ وکړي چي مه ورنږدې کېږه مبادا دود زهرجن نه وي، په دې وخت کي زما نور ملګري هم ورته رانږدې شي، زه له بره ورته راکوز شم، که ګورم چي له یوې ټوټې سره د لاس وينځلو لوښی (دست شويي) نصب ده، زه وایم دا خو د دې نښه ده چي پورته کوم بل مخکي تلی مخلوق ژوند کوي، غواړم وګورم چي څه پرې لیکل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که نه، څو ځای مي لیکونه ترسترګو شي، ځیني توري ئې انګلیسي ته ورته وي، خو ځیني ئې نه. ښایي تعبیر ئې د مختلفو هېوادو هغه درانده جنګي وسائل وي چې د هوا له لاري افغانستان ته راغلي، په غرونو کي ئې اغېز کم وو، له دې هېوادو به د یوه جنګي ماشین ویجاړ شي.

لوی تالار

۳۴- د ۱۳۸۶د قوس په ۱۷ خوب وینم چي په لوی تالار کي چي ډېر خلک پکي دي، ناست یم، خوا ته مي زما یو خپلوان د عبدالله په نامه ناست وي، هغه راته وایي چي په دې ځای کي ئې ۳۴ زموږ لپاره اېښې دي، (دا ونه وایي چي څه ئې اېښي)، ستا لپاره ئې هم یوه کرسۍ ستیج باندي اېښې ده، له دې به ئې مقصد څه وي، زه په داسي ځای کي ناست یم چي شا مي له کړکۍ بهر ده، لمر راباندي لګېږي، بهر په کوڅه کي رستم شاه مهمند له احمدشاه احمدزي سره ګورم چي خبري کوي او زما لوري ته راروان دي، زه کړکۍ بنده کړم، او د تالار منځ ته ځان دننه کړم، مخي ته مي قلم نومی کس ولاړ دئ، قد ئې ښه لوړ دئ، په تالار کي چي څوک خبري کوي ماشومان ورته تاړي وهي. تعبیر ئې دا دئ: له عبدالله مراد زه په خپله یم، ځکه په دې ورځو کي ما د عبدالله نوم پر ځان اېښی وو، له قلم مراد زما لیکني او قلم دئ، له ۳۴ کسانو په ولسي جرګې کي حزب اسلامي ته منسوب ۳۴ غړي مراد دي، له ماشومانو هغه کمعقله افغانان مراد دي چي دې نظام ته خوشحال دي. د رستم شاه په لیدو سره تالار ته له ننوتلو مراد زما هغه موافقه وه چي ورونو ته مي اجازه ورکړې وه چي د سولي په جرګې کي کېدی شي زموږ ځیني غړي په دې شرط برخه واخلي چي هلته د دښمن په ضد تبلیغات وکړي، د مجاهدینو موقف توضیح کړي، د غلطو پرېکړو مخنیوی وکړي، پرته لدې چي پرېکړو ته ئې التزام ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵- د ۱۳۸۶اد قوس په ۲۳ خوب وینم چي د پاکستان د یوه داسي جمهور رئیس په دفتر کي یم چي د ډیري آثار ئې پر مخ معلومېږي، یو ځل یوه کس ته تړلی قرآن چي د رائیل پر سر پروت وي وړاندي کړي، بېرته ئې شا ته کړي، کین اړخ ته ئې پر مېز کښېږدي، بیا یوه بل کس ته لویه بیاتي همداسي مخکي شا ته کړي، وروسته یو زلمی په همدې بیاتي ووهي او هغه پر زمکه پرېوځي، دا زلمي مور ته شکایت وکړي او داسي معلومېږي چي دی ئې د مسلمانۍ په جرم وهلی. تعبیر ئې دا دئ چي ښایي په پاکستان کي به همداسي ډله واک ته ورسېږي.

په لمانځه کي لومړي صف ته تګ

۳۶- د ۱۳۸۶کال د حوت په ۱۳د دوشنبې په شپه په خوب کي ګورم چي په حرم کي یم، لمانځه ته ودرېږو، له جومات بهر ولاړ یم، خو ورو ورو مخه راته خلاصېده او د لمانځه په حال کي لومړي صف ته ورسېدم، له لمانځه وروسته د یوې ستني خوا ته ولاړ یم، په لاس کي مي هغه تحفه ده چي ما ته راکړی شوې، پرې لیکل شوي: دا په سرو زرو لیکل شوی قرآن حزب ته په تحفه کي ورکړی شوی، هلته مي ډېر وژړل او په ژړا کي راویښ شوم. ګمان کوم چي له دې قرآن مراد د پلوشې تفسیر دئ چي الله تعالی د جهاد له برکت ما ته د هغه د لیکلو توفیق راپه برخه کړ او حزب اسلامي ته د هغه د طبع او توزیع توفیق. په حرم کي لمونځ یعني د اسلام په دائره کي اوسېدل، د تګلوري او تګلاري سموالی، او د لمانځه په صف کي وړاندي توب یعني له دیني او معنوي پلوه ارتقاء او مخکي تګ.

په لمانځه کي د الشرح او النصر سورتونه

۳۷- د ۱۳۸۷ کال د اسد لومړی اونۍ د جمعې په شپه مي خوب لیدو چي په کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library
کي د پښتنو مخصوصاً د کوچیانو مشرانو باندي د شمالي ټلوالي او د دوستم د ملېشو لخوا برید شوی، ځیني خانان او مشران ئې په کي وژل شوي،.... بیا ډېر خلک ګورم چي راغونډ شوي، د ماښام لمانځه وخت شي، زه د امامت لپاره مخکي شم، په لومړي رکعت کي الم نشرح ووایم، کله چي (و رفعنا لک ذکرک) ته ورسېږم، سیاف چي په صف کي کیڼ اړخ ته ولاړ دئ سبحان الله په نیم لوړ غږ ووایي، په دوهم رکعت کي د النصر سوره ولولم او لمونځ بشپړ کړم.

خوب ډېر څرګند دئ، دا برید یا مخکنیو بریدونو ته اشاره ده یا په راتلونکي کي همداسي برید ته اشاره، په لمانځه کي امامت یعني د خلکو مشري، د الم نشرح سوره د انشراح، رفعت، نېک شهرت، له ستونزو د وتلو زېری او د مبارزې پر دوام تأکید او د النصر سوره د فتح او بري زېری. په لمانځه کي مي د سیاف (سبحان الله ویل داسي وانګېرله چي خپل تعجب ئې څرګند کړ، ښایي همداسي به وشي.

لوڅي پښې تګ

۳۸- د ۱۳۸۸کال د حمل په شلمه مي خوب لید چي د امام صاحب په ولسوالۍ کي یم، اوباما راسره وي، غواړي له ما سره زما کور ته ولاړ شي، د کور په لور روان یو، زه په دې فکر کي یم چي زما په کور کي به دی ځنګه ګوزاره وکړی شي، دلته خو ډېر ضروري تسهیلات نشته، په لاس کي ئې زما کتاب بایبل د قرآن په رڼا کي وي، د دانیال په اړه راته وایي چي ته ولي وایې دا خبري د یوه پیغمبر نه دي، زه ورته ووایم چي د پیغمبر خبري داسي نه وي، په یوه بله صحنه کي هغه ګورم چي لوڅي پښې روان دئ، وایم دی تورپوستی دئ او د پښو تلي او خاپي ئې کلکي دي او اغزي په کي نه ننوځي.

تعبیر ئې څرګند دئ، امریکایان په افغانستان کي د پاته کېدو لپاره مجال نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، لازم تسهيلات ورته ميسر نه دي، لوڅي پښې تګ يعني د وړاندي تګ له ضروري امکاناتو او تسهيلاتو محرومېدل. د اوباما په لاس کي زما کتاب (بايبل د قرآن په رڼا کي) يعني دا کتاب به په انګرېزي هم وژباړل شي او په امريکا کي به خپور شي، مسيحيان دانيال ته د يوه پيغمبر او د خوبونو د معبر په سترګه ګوري، زما دغه کتاب به ډېر قانع کړي چي هغه پيغمبر نه وو.

جهاز او راکټ

۳۹- د ۱۳۸۸کال د ميزان په ديارلسمه مي خوب ليدو چي د هېواد په داخل کي د حزب په يوه نظامي مرکز کي اوسېږم، مرکز په غرنۍ سيمه کي دئ، تر مرکز بر زما د اوسېدو ځای دئ، د دښمن جهازونه راشي، يو ئې راکټ وتوغوي، پوه نشم چي راکټ چېري ولګېدو، غږ هم وانه ورم، په نښه شوی ځای زما له نظره پټ وي، بيا يو ستر جهاز زموږ د مرکز پر سر راشي او حرکت ئې سست شي، بيا په شا راشي او زما د اوسېدو پر ځای لږ تم شي، زه له مرکز جنوب لوري ته د يوه بل ناو خوا ته روان شم خو ځو ګامه آخوا ودرېږم، جهاز ته ځير شم، ګورم چي هغه نور په شا ولاړ او د هغه غره پر سر تم شو چي له دې ځای لږ لوړ وو، ګمان مي کاوو چي ښايي عسکر به ترې راکوز شي، خو ناڅاپي ولوېد او پر بل مخ راواوښت، زه ئې خوا ته ورشم، يو کس ورنږدې شي او يوه پرزه ترې واخلي او بل ته غږ وکړي چي راشه، زه پر ورونو ږغ وکړم چي مه ورنږدې کېږئ ښايي منفجر شي، په همدې کي له خوب راويښ شوم.

ما ته ئې تعبير داسي برېښي: پر داسي ځای راکټ ويشتل چي زما له نظره پټ دئ يعني پر کوم بل هېواد د امريکا تېری، زموږ پر سر لوی نظامي جهاز يعني د امريکايانو نظامي ستراتيژي، رانسکورېدل ئې د دې ستراتيژي شنډېدل، ما دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته خوب هغه مهال په سپیني شګي کي لیدلی وو چي د نجیب د حکومت له نسکورېدو لږ مخکي د ملګرو ملتونو د استازي په وساطت د موقت حکومت روانه طرح ناکامه شوه، هغه مهال مي په خوب کي لیدلي وو چي د ملل متحد یو جهاز زموږ خوا ته راپرېوزي.

د سر وېښتان جوړول

۴۰- د ۱۳۸۸کال د میزان په څوارلسمه شپه مي خوب لیدو چي له مرحوم مولوي صاحب خالص او د حاجي قدیر په شمول د ده له ملګرو سره ناست یم، ډېر خلک نور هم راغونډ دي، مولوي صاحب خالص څه ووایي، زه ئې خبره تردید کړم، حاجي قدیر ودرېږي څه وایي، زما د سر مخکنیو وېښتانو باندي لاس کښېږدي او ووایي: د ده وېښتان داسي نه وو لکه چي اوس ئې تاسو ګورئ، زه غږ کړم چي دا خبره صحیح نه ده، زه دا لس کاله خپل سر همداسي په خپله جوړوم، د وېښتانو ماشین لرم، (حال دا چي په دې وخت کي ما نږدې ۲۷ کاله کېدو چي د سر وېښتان په نایي نه وو جوړ کړي په خپله مي جوړول، نه پوهېږم ولي مي لس کاله یاد کړل، ګمان کوم دا یوه اشاره ده اولس کاله مخکي حالت ته)، په دې وخت کي ما پر خپل ځان څادر داسي اچولی وي چي د سر یوه برخه مي هم پټه کړې، بیا ګورم چي مولوي صاحب خالص په یوه پړي چي سرونه ئې له دوو دېوالونو سره تړلي دي لاس ونیسي، ټال ووهي او لاندي ولوېږي، پښه ئې ماته شي، که ګورم چي هغه بربنډ شوی، نحیف دئ او پوستکی ئې توربخن برېښي، غواړي له زمکي پورته شي خو نشي توانېدی، بیا د ده د ملګرو د موټرو قطار وګورم، په دې کي د حاجي قدیر څلور سور رنګي آخرین ماډل لینډ کروزرو ته ورته سوروري موټري هم وي، خو له ما سره فقط یو بایسکل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي په دې خوب کي د محترم مولوي صاحب خالص د حزب هغه حالت راته انځور شوی وي چي د ده ملګرو اولس کاله مخکي درلود، هغوی له رباني سره يو ځای شوي وو، پراخ امکانات ئې ترلاسه کول، د حزب په ضد ئې تبليغات کول، محوري واک د حاجي قدير د کورنۍ په لاس کي وو، د حضرت علي په څېر مشهور قومندانان ئې هم له امريکايانو سره ول او هم له شمالي ټلوالي سره، مرحوم مولوی صاحب خالص ته ئې وفا او اخلاص ختم شوی وو او د هغه لارښوونو ته ئې هيڅ اعتناء نه کوله. کله چي له خوب راويښ شوم نو مولوي صاحب خالص ته مي دعاء وکړه. داسي برېښي چي د سر له وېښتانو مراد افکار دي، د حاجي قدير د وينا مراد دا وو چي ګواکي ما خپل فکر بدل کړی، زما د ځواب معنی دا وه چي زما فکر همغه مخکنی فکر دئ، دوی هغه مهال هم د رباني ملګرتيا کوله چي له کمونستانو، جنرال دوستم او شيعه حزب وحدت سره ئې د پښتنو په ضد د جبل السراج ائتلاف جوړ کړ، او د حزب په ضد ئې تبليغات کول، خو کله چي دا ائتلاف د حزب په وړاندي له ماتي سره مخامخ شو او په ائتلاف کي د شاملو ډلو تر منځ خونړۍ جګړي پيل شوې، په نتيجه کي ئې لومړی حزب وحدت او ورپسې جنرال دوستم له ائتلاف ووتل او حزب اسلامي ته ئې احوال ولېږو چي نور نه غواړي د حزب اسلامي په ضد په جګړو کي برخه واخلي، د حزب له نظره دا يو ګټور انکشاف وو چي د حزب اسلامي په ضد جوړ شوی ائتلاف وشړېدو او دوو ډلو د هغه په ضد له جګړي لاس واخيست، په داسي حال کي چي حزب اسلامي نه دغو ډلو ته کوم امتياز ورکړی او نه ئې د اسلامي اصولو او لارښوونو خلاف کوم ګام اخيستی، خو ځينو غرضي کړيو د حزب په ضد داسي تبليغات پيل کړل چي ګواکي حزب خپله تګلاره بدله کړه او له کمونستانو او ايران پلوه شيعه ډلي سره ئې ائتلاف وکړ، په خوب کي د حاجي قدير په وينا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library
دغه تبليغات منعکس شوي، د حاجي قدير کورنۍ اوس د همغه جنرال دوستم په خوا کي ولاړه ده او هغه ته ئې د جمهور رئيس د معاون په توگه رأيه ورکړه!!

د جهاز نسکورېدل

۴۱- د ۱۳۸۸ کال د ميزان ۲۱ شپه مي خوب وليد چي په يوه نظامي مرکز کي يم، د دښمن جهازونه راشي، ډېر ټيټ زموږ پر سر تېر شي، يو ئې په ډزو رانسکور شي، زما يو محافظ چي وزير نومېدو، کلنگ ورسره وو او په نسکور شوي جهاز ئې وارونه کول، زه هم ورغلم، يو کس راوړاندي شو او د پيلوټ سر ئې ترې پرې کړ، ما ته ئې راکړ، دا شمېره مي پرې وليده: ۵۱۸۴ که ۵۴۸۱، تعبير ئې داسي راته برېښي: په وزيرستان کي به امريکايان ماته وخوري، منصوبه به ئې ناکامه شي، له وزير مراد وزيرستان دئ، له جهاز د دښمن هوايي بريدونه دي، د دې ماتي حاصل به زموږ په لاس کي پرېوځي. د شمېرې تعبير ښايي د امريکايانو د مړو شمېرې ته اشاره وي او معنی ئې دا وي چي کله د دوی د مړو شمېر دغه حد ته ورسېږي وروستۍ ماته به ئې تحقق ومومي.

ارگ، په ارگ کي سېل او د برج نسکورېدا

۴۲- د عقرب ۱۷/ ۱۳۸۸: خوب وينم چي په ارگ کي يم، رباني له خپلو ځينو پلويانو سره هم هلته وي، ناڅاپي سېلاب راشي، د ارگ برج ونړوي او له ځان سره ئې وړي، گورم چي برج په اوبو کي لاهو دئ او رغړي، زه له سېلاب د خوندي پاته کېدو لپاره له ارگ د وتلو په موخه روان شم، له څو دېوالونو تېر شم، يو موټر راشي، په هغه کي سپور شم، تمانچه راسره وي، ډرېور ئې له ځان سره ووايي: گوره چي قبر او کفن به ئې په برخه شي که نه، زه داسي حدس ووهم چي ښايي دا کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونست دئ او بد نیت لري، غواړم تمانچه راوباسم او وئې ولم په همدې کي له خوب راویښ شوم.

گمان کوم تعبیر به ئې دا وي چي د کابل حکومت نسکورېږي، کمونستان به ئې په نسکورېدو کي فعاله ونډه لري.

۴۳- د ۱۳۸۸کال د عقرب ۲۳: په خوب کي ځان په ارگ کي گورم، یوه کوټه زما وي، ظاهرشاه هم هلته اوسي، له کوټې راووځم او د مجددي د کورنۍ یو دوه کسان وگورم چي له ډېرو خلکو سره ناست وي او هغوی د ظاهرشاه ملاتړ ته بلي، زما په لیدو سره وشرمېږي، ناست خلک هم خواره شي، اسلام الدین راسره وي، یو منصبدار ورته ووایي: بشي که برو که برآی، زه پرې غصه شم، د ششکوف ټوپک راسره وي، هغه ته ئې ونیسم، هغه تمانچه راوباسي او زما خوا ته ئې ونیسي، څو کسان تر منځ شي، هغه بیا څه ووایي، زه بیا ټوپک ورته ونیسم او هغه تمانچه راته ونیسي، زه ئې تمانچه د ماشینگني په خوله ووهم او لري وغورځي، غواړم ډزي پرې وکړم خو دلته ډېر نور افسران ولاړ وي، له دوی څلور کسان خپلي وسلې زما لوري ته ونیسي، زه پرې غږ کړم چي وسلې واچوئ، هغوی ئې واچوي، پنځم غواړي ټوپک ته لاس کړي زه هغه ته هم ووایم چي واچوه، هغه هم ټوپک پرېږدي او دا پنځه کسان له دې ځای تښ لاس ووځي، داسي وانگېرم چي امریکایان غواړي دلته ډېر فوځیان او وسایل راولېږي، زه تصمیم ونیسم چي له دې ځای د کابل شمال ته ووځم خو بیا ببېرته ستون شم او خلکو ته په جگ غږ وینا پیل کړم او د امریکا په ضد ئې پاڅون ته هڅوم چي د وینا په منځ کي له خوب راویښ شوم.

تعبیر ئې داسي برېښي چي د کابل د حکومت واک د ظاهرشاه د پلویانو او د کمونستانو په لاس کي دئ، مجاهدین هم څه برخه په کي لري، کمونستان غواړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library
اسلام دین او مسلمانان له قدرت خلع کړي، امریکا ئې مرسته کوي، زما د کوم اقدام په نتیجه کې به کمونستان له قدرت خلع شي او زه به د امریکایانو په ضد د ولس په پاڅون کې د محرک ونډه لرم.

پاکستان او هند خپل رقابت افغانستان ته رالېږدولی

۴۴- د قوس څلورمه ۱۳۸۹: خوب مي لید چي هند پر پاکستان برید کړی وي او یوه سیمه ئې نیولې وي، زه هم په دغي سیمي کي یم، غواړم پر هندي فوځیانو ډزي وکړم، بیا ګورم چي زموږ یو عسکري مرکز په داخل کي نیول شوی وي، پاکستان یا هند نیولی وي، شیعه په کي مستقر کوي، یوه ډله آخوا ورروانه وي، زه غواړم ډزي پرې وکړم خو ونه توانېږم، تر شا ئې درې لوړ قدي راشي، زه پرې ډزي وکړم، دا تشویش راته پیدا شي چي ښایي دا به عرب وو، هغي خوا ته ورشم، ګورم چي اسامه پر پښو لګېدلی، دوه نور ملګري ئې په شهادت رسېدلي، عبدالله عزام هم هلته وي، زه ووایم چي که مي زامن وژل شوي وی دومره به نه وم خفه شوی لکه د اسامه په وژل کېدو چي خفه کېږم، په زړه کي مي راګرځي چي کاش مخکي لومړي خط ته ولاړ شم او هملته شهید شم، چي الله تعالی دا خطاء او غلطي راته وبخښي. په همدې حالت کي راویښ شوم.

ښایي تعبیر ئې دا وي: هند او پاکستان خپل رقابت افغانستان ته راانتقال کړی، داسي ډلي پالي چي د مذهب تر نامه لاندي د بهرنیو په چوپړ کي دي، له شیعه ډلو زیاته استفاده کوي، عرب مجاهدین او د شهید اسامه پلویان به درې ډلي وي، په دې جګړو کي به د هغوی ځیني شهیدان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حربي ښوونځی، د غاښونو لوېدل

۴۵- د جدي دېرشمه ۱۳۸۸: خوب وينم چي حربي ښوونځي ته ورته ځای کي يم، ځيني خلک مي خوا ته راغونډ دي، څو عريضې ئې راکړې دي، زه احکام پرې ليکم، د يوه عريضه د يوې نمرې زمکي په اړه ده چي ترې اخيستل شوې او زه پرې ليکم چي قيمت ئې ورکړی شي، نا څاپه گورم چي زما يو مصنوعي غاښ جلا شي او زه ئې په لاس کي راواخلم، بيا دوه نور جلا شي، بيا څه نور، بيا دومره چي موټ مي ترې ډک شي، د ټولو رنگ شين بخون او فيروزې ته ورته وي، په همدې حالت کي له خوب راويښ شوم. گمان کوم تعبير به ئې دا وي: حربي ښوونځی يعني د جنگ ډگر، له خلکو زمکي غصب کېږي او موږ به ئې بېرته هغوی ته مسترد کړو، زموږ د شهيدانو شمېر به ورو ورو زيات شي، مهم مهم شخصيتونه به په شهادت ورسېږي او دومره به شي لکه په يوه ډک موټ کي د غاښ په اندزه شيانو شمېر.

د سعودي په شوری کي چاودنه

۴۶- د دلو ۲۰ کال ۱۳۸۹: خوب وينم چي يو څوک راته ووايي: له انفجار خبر شوې؟ زه ورته ووايم: کوم انفجار؟ هغه ووايي: د سعودي انفجار، بيا راته ووايي چي په شوری کي انفجار شوی، زه يوې خوا ته مخ واړوم وگورم چي د غره تر شا د يوې چاودني سرې لوخړې تر سترگو کېږي، بيا يو کس وگورم چي لوړ قد لري، ځوان دئ، وېښتان ئې اوږده دي او تر خټ لاندي شوي، په لاس کي ئې يوه شمع وي، پر غره لوړ روان وي، تر شا بل کس ورته ږغ کړي: يوم التعريش يوم التعريش، بيا دا کس ورننږدې شي، يوه توره اوږده ټوټه ترې واخلي، هغه اوږده ځوړنده کړي، يو ځای بل ځای په يوه تار نښتلې وي، دا تارونه له دې سرې سره هم وصل وي، او هغه لومړی کس ئې قطع کوي، په همدې وخت کي له خوب راويښ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي معلومېږي چي د سعودي واکمني کورنۍ په شورى کي به اختلاف راولاړېږي، ښايي اقتدار داسي چا ته په لاس ورشي چي ايمان او عقيده ئې د هغي وړې شمع په اندازه وي چي هغه کس په لاس کي نيولې وه او لوړ تلو. د تعريش لفظ په عربي کي نشته، خو ښايي له عرش (تخت) سره ئې تړاو وي او د يوم التعريش تعبير د واکمنۍ پر ګدۍ د کښېنستلو ورځ وي، او دا واکمني به د سعودي د اوسني دوديزي واکمنۍ خلاف وي، نه به شاهي نظام وي او نه د يوې کورنۍ واکمني.

د مېوې ونه

۴۷- د ۱۳۹۰ کال د حمل په يوويشتمه د النور د مبارکي سورې تفسير بشپړ شو، زه معمولاً د هري سورې د معرفي په اړه هغه مهال ليکل پيل کړم چي د سورې تفسير مي بشپړ کړی وي، او په معنی ئې ښه پوه شوی وم، په دې ورځ مي د سورې پېژندنه تر يوه ځای رسولې وه، ډېر خوښ وم چي د الله تعالى په فضل سره د دې سورې تفسير بشپړ شو، دومره لکه چي الله تعالى د يوه ستر کار ترسره کولو سعادت راپه برخه کړی وي، د دې سورې د تفسير له پيلولو وړاندي ډېر وارخطا او هيبت وهلی وم، د سورې د ځينو برخو دقيق تفسير راته ګران برېښېدو، د مفسرينو تر منځ هغو ژورو اختلافاتو هم وېرولی وم چي په تفاسيرو کي مي په دې اړه تر سترګو کېدل، د متعارضو آراوو او رواياتو له منځه د ارجح غوره کول هم راته آسان کار نه برېښېدو، خو کله چي د دې سورې له تفسير فارغ شوم؛ داسي احساس مي کولو لکه چي د زړه سلول سلول مي د ايمان په رڼا روښانه او ټوله سينه مي له علم ډکه شوې وي. ماخستن شو، لمونځ مي وکړ او ويده شوم، د شپې مي خوب ليدو چي د مېوو په يوه باغ کي يم، د يوې جګي وني سر ته په الوتو سره لوړ ولاړ شم، پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library
دې چې پر تنې ئې وخېژم، د ونې په سر کې کله يوې او کله بلې ځانګې ته لاس کړم، په يوه لاس ځانګه ونيسم او په بل لاس مېوه راشکوم او خورم ئې، خو داسې لکه په هوا کې چې ولاړ وم او لاس مې هسې د ونې په نرۍ ځانګې پورې تم کړی وي، د ونې په سر کې يوه داسې وړه ځانګه راوشکوم چې له توتانو ډکه وي، خو د انګور د وږې په څېر ډکه وي، خولې ته ئې رانژدې کړم، څو ډکې ډکې خولې ترې وخورم او ډېر خوند ترې واخلم، خو له لاسه مې لاندې پرېوځي او پر زمکه ئې د لګېدو غږ هم واورم، له ځان سره ووايم چې ښه ده بل څوک به ئې وخوري، بيا د ونې د سر ځانګې چې له توتانو ډکې وې په زور سره وخوځوم چې توت توی شي او خلک ئې وخوري، له همغه ځای لاندې وګورم، د پخو خښتو څو لوړ لوړ دېوالونه مې تر سترګو شي خو دا ونه دومره لوړه وي چې دا دېوالونه ډېر واړه واړه په نظر راشي، هيبت راباندې راشي او له ځان سره ووايم: د راختو په څېر د هوا له لارې په الوتو کوز شم که د ونې پر تنې، په همدې حالت کې له خوب راويښ شوم، همغه وخت مې د خوب د تعبير په اړه فکر وکړ او دې نتيجې ته ورسيدم: په قرآن کې پاکيزه وينا او کلمه له هغې جګې ونې سره تشبيه شوې چې جرړې ئې په زمکې کې ژورې تللې وې او ځانګې ئې د آسمان په غېږ کې لوړې شوې وي او په هر موسم کې خپله مېوه ورکوي، د قرآن هر جزء د سورې په نامه ياد شوی او دېوال ته هم سور ويل شوي، د دواړو بنسټ يو دئ، د قرآن د لېږلو لپاره د نزول اصطلاح کارول شوې چې له بره لاندې لېږل افاده کوي، د دغې سورې د تفسير له پيلولو وړاندې زه هيبت وهلی غوندې وم او ګمان مې کولو چې د ځينو آيتونو د تفسير په اړه به له داسې ستونزو سره مخامخ شم چې ترې وتل به راته ګران وي، همغسې لکه په خوب کې چې د راکوزېدو په ارتباط هيبت راباندې راغی، دغو مطالبو ته په پام سره د خوب تعبير دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دئ: د النور د سورې عظمت او لوړ والی د قرآن د ځينو سورتونو په پرتله داسي دئ لکه هغه جگه ونه او هغه جگ جگ دېوالونه چي ما ته د وني له سره ټيټ معلومېدل، د دې مبارکي سورې د جگو جگو ځانگو خوندوري مېوې هم زما په برخه شوې او هم مي نورو ته راوځنډلې.

په سينه کي رڼا، خوا ته پراته هډوکي

۴۸- د سردار داؤد د اقتدار په لومړيو کي چي په پېښور کي اوسېدم يوه شپه مي خوب وليد چي په خپلي ولسوالۍ امام صاحب کي، د خپل کور مخي ته، د شپې له لوري، په چمن کي ويده يم، سر مي شمال ته او مخ مي قبلې ته، نا څاپي مي د شهادت گوته کش کړی شوه، يوې خوا بلي خوا ته وگورم خو هيڅوک په نظر رانشي، څو شېبې وروسته بيا همداسي وشي او بيا مي څوک گوته کش کړي، بيا سر راپورته کړم يوې خوا بلي خوا ته وگورم خو څوک په نظر رانشي، څو گامه آخوا څو هډوکي پر زمکه پراته وگورم، ووايم: شيطانه ومي پېژندې، ورشم دا هډوکي لري لري واچوم، په دې گمان چي شيطان د دغو هډوکو خوا ته راتلو او زه ئې ځورولم، بېرته خپل ځای ته راستون شم، د لا اله الا الله ذکر مي تر غوږ شي، ځير شم چي دا غږ له کوم ځای راځي، زموږ له کور نږدې دوه سوه متره غرب لوري ته يو څلور لارى دئ، د دې څلور لاري شمال غربي کونج کي د يوه کور خوا ته يوه فيروزه يي رڼا ووينم چي کله ئې ځلا زياته او کله تته شي، متوجه شوم چي دلته يو سړی ناست دئ، دا د ذکر غږ د ده دئ او دا رڼا د ده د زړه او د دغه ذکر رڼا ده، زه همداسي ورته ځير وم چي د سهار آذان واورم، د اودس لپاره کور ته روان شم، که گورم چي همغه سړی هم راغی او له ما سره يو ځای زمور کور ته ننوتلو او په همدې سره له خوب راويښ شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library
ښايي تعبير ئې دا وو: زموږ خوا ته به د امکاناتو وفرت رامنځته شي، شيطان به د دغو امکاناتو له کبله موږ ته ځيني ستونزي راولاړي کړي، زموږ توره شپه به پای ته ورسېږي، زموږ په غرب کي له هغو عربي هېوادو چي د افغانستان په غرب کي او د عربو هېوادو په شمال غربي سيمو کي موقعيت لري ځيني نېک نېک مجاهدين به زموږ خوا ته راشي، او موږ به بريالي خپل هېواد کي مستقر شو. د دې خوب ځيني برخي ترسره شوې، لکه د امکاناتو وفرت، د امکاناتو ترلاسه کولو په موخه د مجاهدينو په ليکو کي د شيطان د ملگرو نفوذ او موږ ته ستونزي راولاړول، د عربو هېوادو د مجاهدينو راتگ، دا هم بايد ووايم چي د دغه خوب له ليدو وروسته د قرآن د هغه آيت مطلب راته ښه جوت شو چي فرمايي:

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ* النور: ۳۵

الله د آسمانونو او زمکي نور دئ، د نور مثال ئې داسي دئ لکه يو کوښيځ (تاخچه)، چي په هغه کي يو څراغ وي، دا څراغ په يوې شيشې کي وي، دا شيشه داسي وي لکه يوې ځلاندي ملغلري ته ورته ستورى، سون ئې د زيتون له داسي مبارکي وني په برخه کېږي چي نه شرقي وي او نه غربي، چي تېل ئې نږدې وي (په خپله) روښانه شي که څه هم اور نه وي وررسېدلی، رڼا پر رڼا، الله خپل نور ته هغه څوک هدايتوي چي دی ئې غواړي، او الله د خلکو لپاره مثالونه بيانوي او الله په هر څه ښه پوه دئ.

له دغي شپې وروسته مي د قرآن د دغه آيت په اړه تعبير همدغه پورتنی تعبير دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مار او ماهي

۴۹- هغه وخت چې په ایران کې اوسېدم، زموږ خوا ته یوه بله افغانه کورنۍ مېشته وه، د سالنګ ول، لور ئې آمنه نومېده، څو ځلې ئې یو خوب لیدلی وو، زما لور ته ئې تېر کړی او ترې غوښتې ئې وو چې زه ئې ورته تعبیر کړم، خوب ئې داسې وو: ستاسو کور ته راشم، یوه ښځه چې ژبه ئې پردۍ ده خو زه ئې په خبرو پوهېږم، په یوه مرتبان کې داسې مار راکړې چې پوستکی ئې کب ته ورته وي، زه ئې کور ته راسره یوسم، بیا حکمتیار صاحب زموږ کور ته راشي، دا مار له مرتبان ووځي او د ده پر لمنې کښېني. ما خپلې لور ته وویل چې تر سبا پورې وخت را، سبا مې ورته وویل: دا نجلۍ زموږ کورته راغلې، زموږ په کور کې داسې چا چې په فارسي پوهېږي دې ته داسې خبره کړې چې ظاهر ئې سم برېښي خو په حقیقت کې زهرناکه ده، هغې دا مشوره منلې او خپل زړه ته ئې کوزه شوې، زما په لمنې کې د هغه مار ناسته دا وه چې دا خبره تر ما پورې راورسېده، زما مشوره دا ده چې هغه خبره مه منه او له خپل زړه ئې وباسه. وروسته راته معلومه شوه چې دا نجلۍ ئې چا ته ورکړې وه، له توافق وروسته دې غوښتل چې دا واده ونه شي، زما له مېرمنې ئې مشوره غوښتې وه، هغې ورته ویلې وو چې که دې خوښه نه وي نو همدا اوس له دې دوستۍ لاس واخله. خو الحمد لله چې هغه واده ترسره شو.

دري سوه کلنه نجلۍ او سل کلن پلار

۵۰- د حمل په شپږ ویشتمه ۱۳۹۰: موسی د مرحوم مخبت صاحب زوی دوه کاله مخکې او هغه مهال چې شاوخوا یولس کلن وو خوب لیدلی وو چې په یوې اجتماع کې یوه نجلۍ د قرآن تلاوت کوي، عمر ئې دري سوه کاله دئ، پلار ئې سل کلن دئ، دغه خوب ئې ما ته ولیکو، خپل پلار ته ئې په وار وار ویلي وو چې د خوب تعبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ووایه، خو هغه ځواب نه وو ورکړی، داسي معلومېده چي دې خوب زیات حیران کړی او د دوو کلونو له تېرېدو سره سره ئې نه دئ هېر کړی، ما ترې وپوښتل چي تا دا نجلۍ او د هغې پلار دواړه ولیدل؟ ځواب ئې دا وو چي هو؛ دواړه مي ولیدل، ما ووېل إن شاء الله ستا د خوب تعبیر دا دئ: یو کس به د یوه داسي مسلمان ملت او اسلامي هېواد باني او مؤسس شي چي درې سوه کاله به دوام وکړي او قرآن به په کي حاکم وي، د دې هېواد باني به سل کاله عمر وکړي. ته به هم د دې ملت باني وګورې او هم هغه ملت په خپلو لومړنیو کلونو کي. دا خوب ما ته هم د یوه ښکلي زېري حیثیت درلود، مطمئن شوم چي إن شاءالله د داسي یوه حالت راتګ نږدې دئ.

له پوتین سره لیدنه

۵۱- د ۱۳۹۰ کال د حمل په وروستیو یا د ثور په لومړیو کي مي خوب لیدو چي له پوتین سره په عادي رستورانت کي ځنګ په ځنګ ناست یو، دی د کوم څه په خوړلو لګیا دئ، یو کس بل چي انجنیر سیدلالا نومېږي او د جمعیت غړی دئ زمونږ مخ ته ناست دئ، زه د افغانستان د حالت او د امریکایانو د موخو او د روسیې د دریځ په اړه ځیني خبري ورته وکړم، پوتین خپل غوږ په داسي توګه ما ته رانږدې کړی لکه چي وېرېږي دا خبري بل څوک وا نه وري!! هغه مهال مي تعبیر دا وو چي د دوی مخ جمعیتانو ته دئ، له امریکا د وېري له کبله له مونږ سره له اړیکو ډډه کوي، یوه میاشت وروسته د حزب د یوه غړي خط راغی، هغه روسیې ته تللی وو، له مسئولینو سره ئې ګڼ شمېر ملاقاتونه شوي وو، ځیني هغه خبري ئې ورسره کړې وې چي ما په خوب کي پوتین ته کړې وې، د دې لیک له لوستو وروسته راته جوته شوه چي په دې خوب کي دغه لیدنه راته انځور شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمري په لاس کي بيرغ

۵۲- هغه مهال چي زه د صدراعظم په توګه کابل ته ولاړم، د طالبانو له بريد لږ وړاندي زما مېرمني د حبيب الرحمن مور خوب ليدلی وو چي ټول اولادونه مي راسره ناست وي، له آسمان يو زمری چي شين بيرغ ئې په لاس کي وي راکوز شي، زموږ مخي ته په چمن کي دا بيرغ ودروي، او ووايي: زه د الله تعالی په قدرت سره دا بيرغ دلته ودروم، ما خپلو اولادونو ته مخ کړ او ورته ومي ويل: دا ده د انجنير صاحب خبره رښتيا شوه.

د زمري تعبير ځواک او واک دئ، خو هغه ځواک چي د خوب ليدونکي په واک او اداره کي نه وي او بيرغ د ډلي نښه.

په لمانځه کي د الصف سوره

۵۲- د ۱۳۹۱ کال د سنبلې په شلمه مي خوب ليدو چي په يوه لوی جومات يا ستر تالار کي ډېر خلک له ما سره په لمانځه ولاړ دي او زه ئې امامت کوم، له فاتحې وروسته يوه سوره پيل کړم، خو له څو آيتونو وروسته فتحې ته ضرورت احساس کړم خو څوک فتحه رانکړي، ومي نه غوښتل چي په همدغو څو آيتونو اکتفاء وکړم او رکوع ته ولاړ شم، د الصف سوره مي پيل کړه، خو په دومره ښکلي او اغېزمن تلاوت سره چي هيڅکله مي په ويښه له خپل قرائت دومره خوند نه دئ اخيستی، کله چي د سورې لومړی رکوع بشپړه کړم او دا آيت (هوالذي ارسل رسوله بالهدی و دين الحق.....) ووايم، له ځان سره ووايم نوره برخه ئې په دوهم رکعت کي وايم، همدا مهال له خوب راويښ شم، په هغو خلکو کي چي په ما پسي ئې اقتداء کړې وه رباني او سياف هم ول، رباني په لومړي يا دوهم صف کي زما ښي لوري ته او سياف په وروستيو صفونو کي زما کيڼ لوري ته ولاړ ول. نه پوهېږم چي دا د ماضي په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library
کومه رؤیا ده که د مستقبل په اړه کوم بشارت، که په مستقبل پوري مربوط وي نو تعبير ئې دا دئ چي د رباني او سياف د ډلو صالح غړي به له حزب اسلامي سره يو ځای شي. او که په ماضي پوري مربوط وي نو هغه حالت په کي انځور شوی چي حزب اسلامي د جهاد قيادت کاوو، رباني په لومړيو کلونو کي او سياف په وروستيو کلونو کي له مجاهدينو سره يو ځای شول.

زړه بوډۍ

۵۳- د ۹۱ کال د حوت مياشتي دېرشمه د کال آخري شپه مي خوب ليدو چي په يوې غرنۍ سيمي کي له څو مجاهدينو سره يم، امريکايي هيليکوپټر راشي، زه ورونو ته ووايم ځانونه پټ کړئ، هيليکوپټر د ناستي په حال کي وي او موږ پرې ډزي وکړو، هيليکوپټر ويجاړ او سورلۍ ئې ووژل شي، موږ د وسلو راغونډولو لپاره هغه ځای ته ورشو، ناڅاپه ګورو بله هيليکوپټره راڅرګنده شي، بيا ځانونه پټ کړو، کله چي هيليکوپټر کښېنستله روسان ترې راکوز شول، ما د ډزو اجازه ورنه کړه، هلته ورغلو، له موږ سره يوځای يوه تعمير ته ننوځو، هلته ځيني کسان وي، يوه بوډۍ پر کټ پرته وي، ډېره ناروغه وي، دا د روسيې د سفير مور وي، سفير هم په دغي هيليکوپټر کي راغلی وي، زه دې بوډۍ ته ووايم: ستا زوی زما له لوري تا ته يوه هديه شو، (مقصد مي دا وي چي له وژل کېدو مو وژغورلو). تعبير ئې داسي برېښي چي امريکايان به له ماتي سره مخامخ کېږي، دا ماته به زړې روسيې ته زموږ له لوري يوه هديه شي.

ژېړه چينه

۵۴- د ۱۳۹۱ کال د روژې په ۲۶ مي خوب ليدو چي په يوه لوی تالار کي ډېر خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغونډ وي او يو کس چي ژېړه چپنه ئې اغوستې وي زما په خلاف تبليغات کوي، زه تالار ته ننوځم او هغه له تالار ووځي او د دوهم منزل يوې خوني ته ننوځي، زه دې غونډي ته وينا پيل کړم، د وينا په منځ کي خلکو ته ووايم چي زه ځم دا کس ستاسو مخي ته راوړم، په هوا کي والوځم، لوړ ولاړ شم، د الوتني په حالت کي هغي خوني ته ورشم، هغه د ملا له لوري په يوه لاس کي له جامو ونيسم او همداسي ځوړند ئې په هوا کي له خوني راوباسم او خلکو ته ئې ورونښيم، خلکو ته ووايم: آيا غواړئ دا دوزخ ته ولېږم؟... بيا ووايم: نه دوزخ ته ئې نه لېږم... په داسي حال کي چي ژاړم هغه ته دعاء کوم چي الله تعالی دې له دوزخ وژغوري، په همدې حالت کي له خوب راوينښ شوم.

ښايي تعبير ئې دا وي: يو سپېره ذلت وهلی (د ژېړې عباء خاوند) به زموږ په ضد تبليغات کوي، له دولت سره به يو ځای شوی وي، زموږ په لاس کي به پرېوځي خو موږ به ورته عفو وکړو.

طياره او ډزي

۵۵- د ۱۳۹۳ حمل يولسمه شپه مي خوب ليدو چي په يوې وړې طيارې کي سپور يم، دوه نور کسان هم راسره دي، يو ئې اسلام الدين نومېږي، د دښمن په جهازونو ډزي وکړو، بيا غواړو له ساحې ووځو، زموږ ښي لوري ته په شمال کي د دښمن مرکز وي، وايم دې خوا ته بايد ولاړ نشو چي ډزي راباندي ونه کړي، د غرب په لوري د يوه پوخ سړک په امتداد ولاړ شو، خو طياره ډېره ټيټه له سړک څو متره لوړه درومي، د تگ په حالت کي رېږدي، زه ووايم چي کمانۍ ئې ماته شوې، د ترميم لپاره يو ځای کي کوزه شي، کله چي موږ ترې کوز شو يو څوک د يوه کور له بام راته وو ايي: دلته به د شنبې او (يا) يک شنبې په ورځ راکټ راشي، دا کور زموږ په غربي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري کي وي، په همدې سره له خوب راويښ شوم،... اندېښنه راته پيدا شوه چي د خوب تعبير به څه وي، متوجه شوم چي راتلونکي شنبه انتخابات ترسره کېږي، ښايي له همدې سره به ئې ارتباط وي، احتمالاً انتخابات به داسي وي لکه د يوه راکټ وريدل، ښايي يکشنبه به هم دې ته ورته بله پېښه رامنځته شي، «دا تعبير ځکه صحيح راته وبرېښېدو چي د طالبانو د راتوکېدو په ورځو کي او هغه مهال چي په چهار آسياب کي وم، يو عرب مجاهد راغی او راته وئې ويل: خوب مي وليد چي له جنوب يو ستر راکټ راشي او په کندهار کي ولګېږي او وچوي، ويل ئې ښايي زما د خوب تعبير به د طالبانو تحريک وي. په همدغو ورځو کي طالبان له چمن سپين بولدک ته راواوښتل او د حزب په ضد ئې خپله جګړه پيل کړه»، د طيارې تعبير هغه منصوبه ده چي انسان ئې په خپل ذهن کي لري او کار ورته کوي، «دا تعبير هم د دې لپاره صحيح راته معلوم شو چي د نجيب د حکومت د نسکورېدو په شپو ورځو کي مي خوب وليد چي د ملل متحد يوه طياره زموږ خوا ته په سپيني شګي کي رانسکوره شوه، څو ورځي وروسته د ملل متحد هغه منصوبه شنډه شوه چي د بينن سيوان په لاس ئې پيل کړې وه چي قدرت له نجيب يوه موقت حکومت ته انتقال شي، خو سي آی اې او کې جي بي دا منصوبه شنډه کړه، د جبل السراج ائتلاف ئې جوړ کړ او د دې ائتلاف له لوري د نجيب په ضد کودتا ترسره او هغه زنداني شو»، په دې خوب کي زموږ له لوري د دښمن پر جهازونو ډزي يعني د هغه د منصوبو د شنډولو هڅي، او زموږ د طيارې ځای باندي د راکټ راتګ يعني زموږ منصوبه به پلې شي او دښمن به د هغې د شنډولو لپاره داسي څه وکړي چي د راکټ ويشتلو ته ورته وي. له ما سره د اسلام الدين ملګرتيا يعني موږ د اسلام په خوا کي ولاړ يو او چي څه کوو د اسلام په لارښوونه ئې کوو، ځکه ډېر ځلي په خوب کي يو معنوي مفهوم د نوم په

(c) ketabton.com: The Digital Library
بنې کي انځور شي، داسي لکه څوک چي په خوب کي وګوري امان الله ورسره دئ، د دې معنی دا ده چي الهي امان او ساتنه ئې په برخه ده، د طيارې لړزېدا هغه حالت په ګوته کوي چي موږ د هلال په حمايت کي زړه نازړه وو، بيا مو له ورونو د حالت په اړه ډول ډول متفاوت خبرونه ترلاسه کول، ځينو ويل: په بدخشان، بغلان، پروان، کاپيسا، غزني، کندهار، کي تر نورو ډلو زياتي رأيي ترلاسه کوو، ځينو د دغو او نورو ولايتونو په اړه دېرش، شل، پنځلس سلنه رأيه ترلاسه کولو وړاندويني کولې، ځينو اشتراګ ګټور ګڼلو او ځينو زيانمن يا بې ګټې، په داخل کي غوڅ اکثريت ورونو د اشتراک پلوي کوله، ويل ئې حزب دا پنځه ويشت کاله کېږي چي څرګند فعاليت نه لري، نظامي فعاليتونه ئې هم زيات نه منعکس کېږي او دښمن نه پرېږدي چي د حزب نوم زيات ياد شي او فعاليتونه ئې په رسنيو کي منعکس شي. په همدې زړه نازړه او مشوش حالت کي د هلال د حمايت پرېکړه وشوه. د غرب له لوري د راکټ راتګ يعني په دې پېښې کي به د ايران يا غرب لاس وي او د هغوی له لوري به دا راکټ ويشتل شوی وي. دا تعبير مي د انتخاباتو تر ورځي وړاندي ليکلی، خوب مې د انتخاباتو تر نېټې څلور ورځي وړاندي ليدلی وو. انتظار مي کولو چي وګورم زما تعبير به صحيح وي که نه او د راکټ د لګېدو معنی به څه وي. د شنبې په ورځ انتخابات ترسره شول، خو څه خاصه پېښه رامنځته نشوه، يکشنبه هم بې له کومي پېښي تېره شوه، څو ورځي وروسته د انتخاباتو کميسيون وويل چي د راتلونکې شنبې په ورځ به ځيني نتائج اعلان شي، خو د همدې ورځي په پای کي ئې اعلان کړه چي دا کار به سبا يکشنبه وکړو، سبا د يکشنبې په ورځ ئې نتائج اعلان کړل، خو دا اعلان يقيناً چي يوه راکټ ته ورته وو، همغسي چي ما ته په خوب کي چا د بام له سره ويلي وو چي د شنبې يا يکشنبې په ورځ به راکټ ويشتل کېږي، همداسي د

(c) ketabton.com: The Digital Library
کميسيون ویاند او مؤذن یو ځل وویل چي نسبي نتائج به د شنبې په ورځ اعلان کړي بیا ئې وویل چي د یکشنبې په ورځ به ئې اعلان کړي، په انتخاباتو کي شرمناکي درغلۍ وشوې، له شاوخوا دریو ملیونو رأی اچوونکو ئې اوه ملیونه جوړ کړل، د جعلي او تقلبي پاڼو شمېر تر لکونو اوښتی او ښايي شمېر ئې تر یو نیم ملیون زیات وي، اعلان شوي نتائج د همدغو تقلبي پاڼو له مخي دي، دا انتخابات او نتائج به ئې کټ مټ داسي وي لکه د یوه راکټ د لګېدو تخریب او ویجاړی.

غونډۍ، قلعه، سپوږمۍ، شیدې

۵۶- استاد عبدالهادي حماد په یوه لیک کي چي د ۱۳۹۰ کال د حمل په اتلسمه ئې رالېږلی وو راته لیکلي وو: حاجي مولوي محمد کریم چي د کندز اوسېدونکی دئ او اوس په کوټه کي اوسي، د سعودي د مدینې منورې له جامعه اسلامي فارغ شوی، د قرآن حافظ او د تفسیر او حدیث لوی عالم، متقي او رباني عالم دئ، ما ته ئې ویلي: په خوب کي مي داسي یو کیفیت ولید چي پر یوې لوړي غونډۍ یوه لوړه قلعه وي، ما پوښتنه وکړه چي دا قلعه د چا ده، راته وویل شول: دا د ګلبدین ده، ګلبدین له دغه ځای ټولو خلکو ته ډوډۍ او شیدې وېشي، مولوي صاحب د یوه حدیث شریف په حواله وایي چي د شیدو وېش د علم د وېش په معنی دئ.

محترم ورور مولوي صاحب محمد کریم ته مي په ځواب کي ولیکل: حماد صاحب ستا خوب او د هغه تعبیر راته لیکلی وو، الله تعالی دې رښتیا کړي او موږ ته دې د دیني علومو د نشرولو او عملي کولو توفیق راکړي. حقیقتاً چي د حدیث په رڼا کي د شیدو خوړلو تعبیر علم ترلاسه کول دي، نو وېشل ئې خلکو ته د دې علم رسول دي، قلعه او کور د جماعت او وطن په معنی دئ، ښايي دلته ئې تعبیر حزب اسلامي وي، د غونډۍ، غره او لوړي تعبیر لوړ مقام دئ. که ئې نامناسبه ونه ګڼۍ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به هم دلته یو خوب تاسو ته ولیکم چي دې ته ورته دئ: د روسانو د وتلو په شپو ورځو کي مي خوب لیدو چي سپوږمۍ ته ختلی یم، که ګورم چي په سپوږمۍ کي سختي زلزلې شوې دي او هلته ټول کورونه وران شوي، یوازي یو کور روغ پاته وي، دا کور له سمنټو جوړ وي، رنګ ئې هم سمنټو ته ورته، ډېر کلک او ستر وي، راته وویل شي چي دا د حزب اسلامي کور دئ، له ځان سره ووایم: په سپوږمۍ کي خو آکسیجن نشته، دا کور ئې څنګه جوړ کړی او مواد ئې څنګه راانتقال کړي، کور ته ورننوځم خو که ګورم چي هغه جومات دئ،... په همدې کي له خوب راویښ شوم، تعبیر مي دا وو چي په افغانستان کي به سخت حالت راشي، نوري ډلي به له منځه ولاړي شي او حزب اسلامي به پاته وي، پاته کېدا ئې داسي چي زه به هم ورته حیران وم.

ماشوم په دروازه کي

۵۷- زما یوې خپلواني داسي خوب لیدلی او تعبیر ئې غوښتی وو: دروازه پرانیزم، چا زموږ د دروازې مخي ته یو نوی زېږېدلی ماشوم هلک اېښی وي، زه هغه راواخلم او خپل مېړه ته ئې وښیم، هغه ووایي: موږ دا هلک نه غواړو، هغه چا ته ئې ورکړه چي ګندونه انتقالوي، زه همداسي وکړم، بیا ګورم چي دا هلک اته کلنی ته رسېدلی خو وضعیت ئې ښه نه برېښي، کمزوری او ناتوان دئ، تن او جامه ئې هم پاک او ستره نه دي، سبق ئې هم نه دئ ویلی، له ځان سره ووایم: د دې ماشوم په اړه مو ظلم وکړ، بیا مي خپل مېړه ته وویل: زه دا هلک بېرته ترې اخلم، کور ته ئې راولم، هغه مي راوست، ومي مینځلو، کله چي د هغه وېښتان پاکوم نو متوجه شوم چي سر ئې له سپږو ډک دئ، په مېلمستون کي حکمتیار صاحب له سیاف سره ناست وي، زما مېړه راته ووایي: سیاف وایي: د دې هلک وېښتان په مینځلو نه پاکېږي، باید سر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخرېږئ، زه همداسي وکړم او هلک پاک صاف شي. د دې خوب تعبير مي داسي وکړ: الله تعالی تاسو ته زوی مقدر کړی، ستا مېره نه غواړي د اولاد خاوند شي، عمداً داسي څه کوي چي اولاد ئې په برخه نشي، له مقدر اولاد سره داسي څه کوئ لکه هغه چي په گندونو کي غورځوئ، که همدا وضعيت دوام وکړي او اته کاله وروسته تاسو ته اولاد درکړی شي هغه به ډېر کمزوری وي، د ځوانۍ اولاد له صحي او دماغي پلوه مضبوط او سالم وي، د عمر په تېرېدو سره او په زړښت کي د انسان اولاد له صحي او دماغي پلوه کمزوری وي، له سپږو مراد هغه ناسمي اندېښني دي چي تاسو دواړه ئې د اولاد په اړه لرئ، دا اندېښني بايد له جرړو وباسئ، د سياف معنی په خپله سياف نه دئ، هغه ستاسو مېلمستون ته نه درځي، هغه د اولاد په اړه تاسو ته دا خبره نه کوي، دلته د سياف لغوي معنی مراد ده، مراد ئې توريالی او تورزن دئ، څوک چي تاسو ته دا خوب تعبيروي همدا صفت ئې مل دئ، هغه به تاسو ته ووايي چي دا اندېښنه ختمه کړئ، تاسو دا خوب ما ته ليکلی او ما ئې دغه تعبير درته ليکلی، او سپارښتنه مي درته کړې چي دا غلطي اندېښني لري وغورځوئ. څه موده وروسته خبر شوم چي د دې مېرمني زوی په برخه شوی. عجيبه لا دا وه چي مېړه ئې راته وليکل: مېرمن مي حامله وي خو زوی ئې زما د وړې لور له خولې وزېږي، هغه ته مي وليکل: ستا لور تقوی نومېږي، په خوب کي ستا خپله تقوی ستا د لور په بڼي کي انځور شوې، معنی ئې دا ده چي تا د اولاد درلودو په اړه د تقوی لار غوره کړه او الله تعالی به د همدې تقوی له کبله زوی درپه برخه کړي.

په امام پسي اقتداء

۵۸- د ۱۳۸۵ کال د جدي په مياشت کي: په امام صاحب کې، د خپل کور د مېلمستون په دوهم چت کي، د سهار لمونځ امامت کوم، مولوی خنجاني د لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صف ښي لاس ته، استاد احمدزی شهید کیڼ لاس ته، او ډېر نور په جمع کي شریک وي، زه په لومړي رکعت کي یوه متوسطه سوره ولولم خو آخري آیت ئې پرېږدم او رکوع ته ولاړ شم، په دوهم رکعت کي د فاتحې ترپایه مي دا پرېکړه نه وي کړې چي کومه سوره ولولم، په پای کي مي د الضحی سوره پیل کړه، کله چي دې آیت ته راورسېدم : (ووجدک ضالاً فهدی) بند شوم، فتحې ته منتظر وم، خو له فتحې پرته مي آیت ولوستو او سوره مي بشپړه کړه، رکعت مي تکمیل کړ او له سلام وروسته مي مخ مقتدیانو ته راواړاوو، مسعود مي هم ولیدو او اسامه مي هم ولیدو چي په جمعي کي ئې برخه اخیستې وه.

د دې خوب تعبیر ډېر څرګند دئ او دا حقائق په ګوته کوي: په خوب کي مرحوم مولوي خنجاني د هېواد د علماءو ممثل دئ، شهید استاد احمد زی د سلفیانو، مسعود د خپلي ډلي، شهید اسامه د عربو مجاهدینو او زه د اسلامي حزب، په ما پسي د دوی اقتداء یعني ټولو په جهاد کي زموږ تګلاره غوره کړه او په موږ پسي ئې اقتداء وکړه. په وروستي رکعت کي د الضحی سوره او اړوند آیت ئې ښیي چي جهاد به خپل وروستي منزل ته ورسېږي، موږ ته د بریا او هدایت زیری دئ.

زمری د بام پر سر

۵۹- په ۱۶\۱۲\۸۴ په خوب کي ځان په امام صاحب کي په خپل کور کي ګورم، د بام پر سر زمری ووینم، کله ئې په ډبرو ولم او کله ئې په روغو او ماتو خښتو وهم، په یوه ماشوم پسي وني ته خېژي، هغه په نری، څانګې بلي وني ته ترې لاړ شي، خو ګورم چي زمری هم پسي ورشي، بیا بام ته راوخېژي، زه ئې په خښتو ووهم، چي راپرېوځي، زه له دېوال د سرک په لوري کوز شم، له لویې دروازې کور ته داخل شم، دوه بېلونه راواخلم، یو ځای ئې سره ونیسم، د کور شمال شرق ته د کوڅې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر کي دغه زمری په دواړو ښېلونو وهم وهم چي راویښ شوم.

ښایي تعبیر ئې دا وي: زمری زموږ په کور کي یعني هغه اشغالګر ځواک چي زموږ هېواد ئې اشغال کړی، په ماشوم پسي د هغه هڅه یعني د نوي نسل د بې لاري کولو او په خپلو منګولو کي د نیولو هڅه، له یوې وني بلې ته د هغه ځوانکي ختل یعني له یوې ډلې او تګلارې ئې بلې ډلې او تګلارې ته د ځوان نسل تګ، په ډبرو، خښتو او دوو ښېلونو د زمري وهل یعني په څلورو ډول ډول محاذونو کي او په ډول ډول وسلو سره د دښمن مقابله، د بام پر سر زمری وهل یعني د ټولني په برنۍ حاکمې طبقې کي د هغوی او د دوی د لاسپوڅو مقابله، له کور بهر او د کور شمال شرق ته د کوڅې په سر کي په ښېلونو د زمري وهل یعني له هېواد بهر هم په دوو وسلو د دښمن مقابله، دا دواړه وسلې ښېل ته ورته دي، ښېل د کرلو وسیله ده، زموږ هغه دوه وسلې دې ته ورته دي.

په خوب کي واده کول

۶۰- د سردار داؤد د اقتدار په دوران کي او هغه مهال چي په پېښور کي اوسېدم، یوه شپه مي خوب ولیدو چي مرحوم مولوي صاحب جمیل الرحمن غواړي خپله لور ما ته په نکاح راکړي، څو ورځي وروسته د کنر ولایت د امارت په ارتباط د ورونو تر منځ لانجه راولاړه شوه، ځینو دا نه منله چي مولوي صاحب جمیل الرحمن د کنر ولایت امیر وي، زه ئې جلسې ته ورغلم چي ستونزه حل کړم، د خبرو په جریان کي مولوي صاحب وړاندیز وکړ چي د کنر ولایت امارت دي مستقیماً د حزب د امیر په لاس کي وي، په همدې د ټولو توافق راغی او لانجه حل شوه او زه پوه شوم چي د هغه خوب تعبیر همدا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوب کي ټپوس په نښه کول

۶۱- هغه مهال چي د سردار داؤد حکومت تر تعقیب لاندي وم، پکتیکا ته ولاړم، د پکتیکا په هغه سرحدي ښارګوټي کي مي یوه شپه د قابل صدیقي د ورور په دوکان کي تېره کړه چي له برمل سره همسرحده دئ، د شپې مي استخاره وکړه چي پوه شم څه پېښ شول او څه به راپېښ شي، خوب مي لیدو چي د خړو اوبو یوه ډنډ خوا ته د زړې وني سټه ولاړه ده، پر سر ئې یو ټپوس ناست دئ، زه په تمانچې هغه په نښه کړم، کله چي ماشه کښېکاږم هغه متوجه شي، والوځي، د ډنډ پر سر راچورلي، پر خپلو وزرونو هر لوري ته اوبه شیندي، بیا سړی ترې جوړ شي او د ډنډ شاوخوا ولاړ خلک د ډنډ په لوري کشوي، زه هلته ورشم، هغه په اوبو کي ښخ کړم، پر سر ئې خپله پښه کښېږدم او زور کړم چي ښه ئې ډوب کړم، داسي چي د پښې ګوتي مي هم په اوبو کي ننوتې، خو دا مهال زما پښه له هغي بخارۍ سره ولګېده چي د کټ پښو لوري ته ولاړه وه او په همدې سره له خوب راویښ شوم، د ځینو برخو په تعبیر همغه مهال پوه شوم او ځیني ئې وروسته راته جوته شوې چي تفصیلات ئې دا دي:

د داؤد د بیرغ نښه ټپوس ته ورته باز وو، ما د یوه نظامي اقدام په مټ د هغه د نسکورولو هڅه وکړه، کله چي د ماشې راکاږلو وخت راورسېدو هغه پوه شو، او هري خوا ته ئې بریدونه پیل کړل او ډېر بې ګناه خلک ئې ونیول، کله چي موږ د دې رژیم په ضد مسلحانه جهاد پیل کړ او ګڼ شمېر سیمو کي مو عملیات ترسره کړل، داؤد اړ شو خپل سیاست بدل کړي، له کمونستانو سره ئې مناسبات خړ پړ شول، غوښتل ئې هغوی له ځان لري کړي، پر ځای ئې نوې څېرې او غیر کمونست اشخاص ملګري کړل، او په هغه خړ ډنډ کي ئې له ځان سره شریک کړل، حتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ له ملګرو هم ځینو (د استاد رباني په شمول) هڅه وکړه چي په دې ډنډ کي ورسره ګډ شي، څو کسان ئې کابل ته ورولېږل، شمېر ئې دومره وو لکه زما د یوې پښې څو ګوتي چي په هغه ډنډ کي ننوتې، ورو ورو او زموږ د پراخ کار له کبله خبره هغه ځای ته ورسېده چي مسکو د خطر احساس وکړ او داسي ئې وانګېرله چي که عاجل اقدام ونه کړي او داؤد له منځه یونسي نو افغانستان به د تل لپاره له لاسه ورکړي، او اقتدار به د اسلامي حزب په لاس کي پرېوځي، نو ځکه ئې د خلق او پرچم روس پلوه کمونستان دې ته اړ کړل چي متحد شي او د یوې کودتا له لاري داؤد له منځه یوسي، په دې توګه داؤد په خپله د همغو خړو اوبو په ډنډ کي غرق شو. سبب ئې موږ وو ځکه هغه د حزب اسلامي ډېر ستر ستر شخصیتونه یا شهیدان کړل او یا ئې په زندانونو کي واچول، د ده په لاس ټول نیول شوي زندانیان د کمونستانو په لاس په شهادت ورسېدل. الله تعالی د خپلو ملګرو په لاس سزا ورکړه.

د خړو اوبو ډنډ ته د چا راکاږل او خړي اوبه ورشیندل

نو د خړو اوبو ډنډ یعني ګنده ټولنه او نظام، خړي اوبه چا ته ورشیندل یعني د هغه ځورول، ډنډ ته د هغه راکاږل یعني په نظام کي له ځان سره ملګری کول.

د الله تعالی په لوري الوت

۶۲- د رباني د اقتدار په دوران کي او د هغو جګړو په ورځو کي چي د کابل ائتلافي اداري د کمونستو جنرالانو تر قوماندې لاندي د حزب اسلامي په ضد پیل کړې وې، یوه شپه په سروبي کي د نومیالي مجاهد ملک نصرت په کور کي پاته شوم، په کور کي یوازي وم، د شپې مي خوب لیدو چي له یوه ناپېژاندي کس سره د امام صاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library
ولسوالۍ پر یوه سړک د غرب په طرف د یوه سپین جومات په لوري روان یو، یوه ځلور لاري ته راورسېدو، ناڅاپه څو کسان چي برګي دریشي ئې پر تن وې راڅرګند شول، زه له ځلور لاري تېر شوم او زما همسفر له دغو کسانو سره ودرېدو، په خپلو منځونو کي ئې خبري کولې، زه ورته منتظر وم، ما ته ئې د سترګو له کونج وکتل، لاس ئې داسي وخوځولو چي ښودل ئې نور له ما سره وړاندي نه ځي، د نیمي لاري ملګری دئ، د برګو دریشیو له خاوندانو سره د شمال په لوري وخوځېدو، زه همدلته والوتم، او د همغه جومات په لوري وخوځېدم، له لري ئې ګورم، لاندي مي خلک کتل چي په همدې لاري درومي، ناڅاپي مي دا شعارونه پر ژبه جاري شول: بگذار بسوی خدا پرواز کنم، من از یاران نیمه راه در این سفر ملکوتي بیزارم، بگذار بسوی خدا پرواز کنم، من از یاران نیمه راه در این سفر ملکوتي بیزارم، بیزارم: پرې مي ږدئ د خدای لوري ته والوځم، زه په دې ملکوتي سفر کي د نیمي لاري له ملګرو بې زار یم، بې زار یم، اوښکي مي له سترګو بهېدلې، داسي احساس مي کولو چي زما د اوښکو څاڅکي د هغو خلکو پر مخ څاڅي چي په دې لار روان دي، د سحر په آذان سره له خوب راویښ شوم، همغه شعارونه مي پر ژبه جاري ول او اوښکي پر مخ رواني، د اودس په دوران کي هم او د لمانځه په حال کي هم، داسي مي انګېرله چي زما رب زما خوا ته مخامخ ولاړ دئ، زما د اوښکو څاڅکيویني، غږ مي اوري، سجده مي د هغه په پښو کي ده، په خدای قسم چي داسي لمونځ او داسي له خوند ډک حالت مي هیڅکله په خپل ژوند کي نه وو لیدلی، له لمانځه وروسته پاڅېدم، بې اختیاره په خوني کي ګرځېدم او همغه شعارونه مي تکرارول او دومره مي ژړل چي نږدې وه زړه مي له ژړا وچوي، تر لمر ختو پوري همدا شعارونه وو او همدا ژړا، ناڅاپي چا د کور دروازه وټکوله، یوه بې وخته مزاحم، داسي مي احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library
کړه لکه چي دې مزاحم زما پر سر د اوسپنین څټک وار کړی وي، هغه له خپل رب سره زما د ګرم وصال مزاحم شوی وو، نه پوهېږم په دې خوب کي ولي دومره ژور او پراخ اغېز وو، باور وکړئ تر نن پوري چي دا دئ نږدې شل کاله ترې تېرېږي کله چي هغه صحنه رایادوم نو اوښکي مي باڼوګانو ته رانږدې شي او عجیب کیفیت راته مخه کړي.

د دې خوب تعبیر ډېر څرګند دئ: د نیمي لاري ملګري د لاري په نیمایي کي له ما بېل شول، له هغو کمونستانو او ملېشو سره یو ځای شول چي برګي روسي دریشۍ ئې پر تن وې، دوی د شمال په لوري پلي ولاړل او زه په خپل مخکني مسیر د جومات په لوري والوتم، دا خوب مي څو کاله وړاندي په فارسي ژبه د یوې ادبي ټوټې او سپین شعر په بڼې کي لیکلی او د شعر او عرفان په رسالې کي نشر شوی، ښه به وي چي هغه ستاسو مخي ته کښېږدم:

بگذار بسوی خدا پرواز کنم

حکایتی دارم از یک رؤیا

رؤیایی پر از اشک

سر آغازی برای اشک ها در بیداری

در این رؤیای عجیب

سفری داشتم، با یار نیمه راه،

همسفر نا آشنا

به سمت قبله، بسوی یکی عبادتگاه

*****

ناگه به تقاطع رسیده بودیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

همسفرم در وسط راه
با جمع کوچکی
با جامه های ابلق
آمده از چند سوی و سمت
به تقاطع رسیده
حول و حوش همسفرم حلقه می شوند
با یکدگر سرگوشی و نجوی نموده
چشم ها بسوی من و
گوش ها به حرف همدگر
و من نامحرم نجوای شان
در کناره آن سوی جاده
ایستاده ام، در انتظار همسفرم!

*****

از وضع او پیدا بود
که با این جمع تازه ساخته و
همراه و همنوا شده
از دور و از میان یاران تازه
با نگه دزدانه
با دیده ای از شرم فرو افتاده
نگریست بسویم
تکان داد دست چپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دیگر همسفری نتوان کرد

که دیگر همرهی پایان یافت

*****

فهمیدم

که دیگر با من نیست

همسفری نیمه راه

جهت و سمت و سو رها کرده

همسفر در وسط راه

تنها بگذاشته

دشمن ناشناخته را چون دوست پنداشته

به طمع همره تازه به او پیوسته

*****

در صف همرهان تازهٔ خود

بجای قبله بسوی شمال راه افتاد

من که تنها مانده بودم، آنگاه

نمیدانم چگونه پرواز کردم

در همان سوی و سمت قبله

و بسوی همان عبادتگاه

و با این یکی و دو زمزمه:

بگذار بسوی خدا پرواز کنم!

بگذار بسوی خدا پرواز کنم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

من از یاران نیمه راه

در این سفر ملکوتی

بیزارم!

بیزارم!

*****

قطرات اشک

بسان باران بهاری

از دیده هایم بزمین می ریخت

و میدیدم

هر قطره اش

بر سر و روی رهروان

که در همین جاده خام

به استقامت قبله

در رفت و آمد اند

می ریزد

*****

هدف را از دور

و از همان بلندای آسمان

بخوبی میدیدم

شوق رسیدن به عبادتگاه

لحظه به لحظه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شدت می یافت

به بالهایم قوت می بخشید

و پروازم را سریعتر می ساخت

*****

ناگه با آذان فجر

بیدارشدم

در حال زمزمه همان شعار ها

و با دیده های پر از اشک

*****

وضو گرفتم

به نماز ایستادم

نمازی که به خدا سوگند

نظیرش را در زندگیم

هرگز ندیده بودم

گمان میکردم که

خدا را می بینم

که از آسمان به زمین آمده

و همین حالا

سجده هایم در پای اوست

و حرف حرفم را می شنود

ناظر ریزش قطرات گرم اشک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بر دامن و گریبان و سجده گاهم

و با نگاهی محبت آمیزش

به خطوط اشک

جاری بر چهره ام

با دقت می نگرد

*****

از آن نماز عشق

از آن دیدار گرم

از آن حضور بی پرده

از آن اشک ریزی

در پای محبوب

فارغ شدم

از جایم برخاستم

چون حیرت زده ای

با گام های لرزان

به حرکت افتادم

با شعار پرواز بسوی خدا

بیزاری از یاران نیمه راه

و با سیلی از اشک بر رخسار

تا طلوع آفتاب

من بودم و اشک دیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

و نجوای دل

و زمزمه همان شعار ها

*****

نمیدانم آن رؤیا را چه تأثیری بود؟

و آن شعار ها را چه قوتی؟

چرا این همه اشک ؟

چرا این همه شوق؟

آیا در دیده ها

تا این حد اشک جا دارد؟

مگر دیده ها را

چشمه هاییست از اشک

که خشک نمی شود؟

مگر دل را پهنایی است

به پیمانه این همه شوق؟

*****

ناگه مزاحمی

درب خانه را دق الباب کرد

پنداشتم، درب دلم را محکم کوبید!

و با مشت آهنین بر فرقم زد!

حیف حیف که به لحظات وصالم خاتمه بخشید

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا دیر زمانی

پرتو نیرومند آن رؤیا

بر تمامی مشاعرم

سایه افگنده بود

هرگاه می خواستم

ازآن رؤیا

حکایتی داشته باشم

گلویم گرفته می شد

دلم به لرزه میافتاد

و قطرات اشک

به کناره های پلک می رسید

تا هنوز که هنوز است

و سالها از آن شب گذشته

یاد آن رؤیا

مرا دگرگون می سازد

*****

نمیدانم چه پیامی در آن رؤیا

برایم مضمر بود؟

و چرا به سراغم آمد؟

ولی اینقدر دانسته ام که:

اگر در پروازی بسوی خدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

در عالم رؤيا

اين قوت است و

اين تأثير

پروازی در بيداری

چگونه خواهد بود؟

*****

له تنگ سوري تېرېدل

۶۳- د سرطان په شلمه ۸۴ کال: خوب وينم چي زيات عرب مجاهدين د اسامه، شهيد عبدالله عزام او ابو ابراهيم عراقي (چي د قرآن يو خوږ غږی حافظ دئ) په شمول راسره وي، په امام صاحب کي، ښکار ته روان يو، داسي ځای ته ورسېدو چي په زينو پورته کېږو، د زينو سر کي له تنگ سوري تېر شو، څو گامه مخکي لوی سيند مخي ته راشي، د دوو سيندونو د يو ځای کېدو په ځای کي بايد بلي خوا ته واوړو، زه بوټونه وباسم خو ناڅاپي گورم چي زما عرب ملگري له بوټونو سره پري گډ شي، عبدالله عزام نورو ته ورښيي چي پر جگو جگو ځايونو پنبه کښېږدي او تېر شي، په بله صحنه کي د لارې په پوستې ورشو، له هر چا پوښتني کوي، ټول تېر شي، زه خپل نوم عبدالله وښيم، د پوستې قوماندان نورو ته وايي: گورئ چي عربان دي، زه ورشم، ورته ووايم، مونږ ښکار ته روان يو، ته پوهېږې چي مونږ نه شراب خورو او نه نڅا او رقص حلال گڼو، يوازي ښکار راته پاته دئ، چي لږ مخکي ولاړ شم يو تنکی ځوان وگورم چي پېژنم ئې او هغه د صلاح الدين ايوبي لمسی وي، لاس ورکړم او څو خبري ورسره وکړم او ورته ووايم چي د ښکار ښه ځای ته مو ورسوه يا څوک راسره ولېږه، مخکي اسامه رانه پوښتنه وکړي: آيا سياف رباني او

(c) ketabton.com: The Digital Library
مسعود د حسد له مخي ستا د وژلو هڅه کړې، زه ورته ووایم څو ځلي ئې اقدام کړی خو نه دي بریالي شوي.

د خوب تعبیر دا دئ: شهید عبدالله عزام د فلسطیني مجاهدینو، شهید اسامه د سعودي او یمني مجاهدینو او ابو ابراهیم د عراقي مجاهدینو استازیتوب کوي، په افغانستان کي سره یو ځای شوو، دلته مو په ګډه جهاد وکړ، له ستونزمن حالت سره مخامخ شوو، د دوو نهرونو د یو ځای کېدو له ځای د تېرېدو معنی دا ده چي د حوادثو له دوو داسي بهیرونو سره مخامخ شوي یو چي یو ئې د روسانو له لوري او بل ئې د امریکایانو له لوري رامنځته شوی، دا دواړه سره متحد شول او موږ د دوی له ګډ توافق راولاړ شوي خنډ سره مخامخ شوو، عربو مجاهدینو ته به د کار شرائط دومره سخت شي چي د پښو ایښودو یو یو ځای به ورته پاته وي، د دښمن امنیتي پوستې به زیاتي او مجاهدینو ته به له یوې سیمي بلي ته تګ ګران شي، د صلاح الدین ایوبي لمسی د هغو ترکانو استازیتوب کوي چي په افغانستان کي د امریکایانو له یرغل وروسته راغلي، موږ به د هغوی د ملګرتیا طمع وکړو، په خوب کي دغه مطالب راته انځور شوي.

په خوب کي د سیند او نهر لیدل

۶۴- په خوب کي د پېښو او حوادثو بهیر د سیند او نهر په بڼې کي تمثیل کېږي، د خړو اوبو او څپاند نهر معنی خطرناک او هیبتناک حوادث دي، د رڼو اوبو سیند د عادي او بې خطرو حوادثو بهیر، ژوري اوبه ئې د ستونزمنو او لږ ژوري اوبه ئې د آسانو پېښو، ښه به وي چي د یوه خوب په ترڅ کي دا مطلب واضح کړم:

هغه مهال چي د سردار داؤد حکومت زموږ ډېر غړي ونیول، زه په پکتیا کي د شهید اسدالله جهاد وال کور ته ولاړم، د هغه کورنۍ د سروټي په یوې غرنۍ سیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library
کي اوسېده، یوه شپه مي خوب ولید چي زه او جهادوال په سفر روان یو، مخي ته سیند راغی، دواړه ورننوتلو، اوبه رڼې وې، د اوبو ژور والی شېبه په شېبه زیاتېدو، د نهر یوه او بله ژۍ لږ او منځ زیات ژور وو، خو دومره نه چي سړی په کي ډوب شي، زه ترې تېر شوم، خو جهادوال په همغه ژۍ کي پاته شي، خپلي خوا ته د پړو ځو ټوټې وموم، لګیا شم چي هغه سره وتړم او ده ته ئې ورواچوم چي وئې نیسي او زه ئې دې خوا ته راتېر کړم، په همدې حالت کي له خوب راویښ شوم. سبا زه او دی د سیدکرم په لوري وخوځېدو، غوښتل مو کابل ته ولاړ شو، ماښام سیدکرم ته ورسېدو، هلته په ناڅاپي توګه د ده له مشر ورور سپین پاچا سره مخامخ شوو، هغه جهادوال کابل ته له تګ منع کړ، له پېښو خبر شوی وو، ګمان ئې دا وو چي کابل ته د ده تګ خطرناک دئ، مجبور شو له ما رخصت واخلي، زه یوازي پاته شوم او د کابل په لوري مي خپل سفر ته دوام ورکړ، ډېره موده وروسته او هغه مهال چي زه په پېښور کي وم، جهادوال ته مي پیغام ولېږو چي زما خوا ته راشي، خو دا پیغام په داسي توګه ده ته رسېدلی چي له یوه بل ته، بل ته، بل ته او په پای کي ده ته رسېدلی، همغسي لکه چي ما په خوب کي پړي سره تړل او دی مي له سیند پرې راتېرولو.

په هوا کي معلق تعمیر

۶۵- په ۸۴\۳\۲۷ مي خوب لیدو چي د یوه ښوونځي په صحن کي له حکیم نومي سره قدم وهم، هغه راته وواېي چي ماشاء الله ښه ډېر تبلیغات دي د امریکا په ضد وکړل، زه ورته ووایم: د امریکا خلاف هومره تبلیغات او مظاهرې وشوې چي په تاریخ کي ئې مثال نشو موندلی، بیا له همدې کس سره د مزري په یوه کټ ناست یم، له مونږ آخوا بش په خپل دفتر کي له چا سره لګیا دئ خبري کوي خو کله کله ما

(c) ketabton.com: The Digital Library
ته وګوري، داسي معلومېږي چي زما په اړه ورسره خبره کوي، که ګورم دا حکیم اوس داکتر ابراهیمي شوی، هغه داسي کښېني چي زما او بش ترمنځ حائل شي، پورته وګورم چي په هوا کي یوه لوی تعمیرته ورته څه معلق ولاړ دئ، څه کسان ئې په جوړولو لګیا دي، خو ډېره عجله لري، له کار وروسته په ډېره عجله ترې وخوځېږي احساس کوم چي اوس چوي، خو له انفجار مخکي راویښ شوم.

تعبیر ئې دا دئ: زموږ سنګر (حزب) داسي دئ لکه مدرسه، هوښیار (حکیم) کسان له موږ سره دي، زموږ دریځ او فرهنګي فعالیتونه د هوښیارو خلکو له نظر ارزښتمند دي، امریکایان زموږ فعالیتونه څاري، له خپلو ملګرو سره زموږ په اړه مشورې کوي او لازم هدایات ورکوي، اوسنی امریکایي نظام داسي دئ لکه په هوا کي ولاړه ماڼۍ چي هره شېبه ئې د نسکورېدو احتمال وي. په ابراهیمي د حکیم د بدلېدو تعبیر به ښایي دا وي چي دا هوښیار او حکیم شخصیتونه به وروسته او د حزب اسلامي په غېږ کي د ابراهیم علیه السلام لار غوره کړي او ابراهیمي مزاج شخصیتونه به شي.

په خوب کي د شهید لیدل

۶۶-: زما یوې رڼور راته لیکلي وو: هغه مهال چي زه شاوخوا دیارلس کلنه وم، خوب مي ولید چي شهید انجنیر حبیب الرحمن زموږ کور ته راشي، پر دسترخان له موږ سره ناست ډوډۍ خوري، بیا ما ته وګوري او راته ووایي: څو کاله وروسته په تا پسي راځم، کله چي له خوب راویښه شوم ګمان مي وکړ چي ښایي شهادت به مي په برخه شي، خو څو کاله وروسته ستا له زوی انجنیر حبیب الرحمن سره زما نکاح وشوه.

له دې معلومېږي چي په خوب کي شهید د رښتیني شاهد او ګواه په معنی دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده له لاري يو رښتينی پيغام خوب ليدونکي ته رسېږي.

بوټونه

۶۷- زما همدې ړنور خوب ليدلی وو چي زموږ په کور کي د مجاهدينو مشران راغونډ شوي، حکمتيار هم د هغوی په منځ کي دئ، سياف په لمانځه ولاړ دئ، په همدې وخت کي زموږ کور ته له ختيځ لوري يو ټانګ داخل شي، څو کسان ترې راکوز شي چي څېره ئې پليته او بدغونې وي، حکمتيار لټوي، کله چي حکمتيار غواړي له شمالي دروازې ووځي د دغو کسانو په څېر نور له شمالي دروازې راننوځي او له ده سره لاس او ګرېوان شي، خو هغه د دوی يو کس داسي کلک ووهي چي بوټونه ئې له شمال ختيځ ته وغورځي.

تعبير ئې دا دئ: بهرني ځواکونه لومړی له شرق لوري او بيا له شمال لوري زموږ هېواد ته راغلل، لومړی هدف ئې د حزب اسلامي ځپل او د حزب مجاهدين نيول وو، د نورو ډلو مشرانو عکس العمل ونه ښود، حزب په جګړي کي ورسره ښکېل شو، دې ته به اړ شي چي د پاکستان له لاري له افغانستان ووځي، حتی هغه ئې هم چي د شمال له لاري افغانستان ته راغلي ول، د وتلو لار به ئې پاکستان وي. هغه بوټونه چي ختيز لوري ته ولوېدل همدا افاده کوي. د سياف د لمانځه تعبير به ښايي د ده هغه دريځ افاده کوي چي د امريکايانو د يرغل په وړاندي ئې غوره کړی، هيڅ مخالفت نه کوي او کوم عکس العمل نه ښيي او همدا ورته د اسلام مطابق دريځ برېښي!!

د ملا درد

۶۸- د ۹۱ کال د حوت مياشتي دېرشمه د کال آخري شپه له مخکني خوب وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library
په خوب کي ګورم چي شپږ عرب مجاهدين زموږ خوا ته راشي، يو ئې ووايي: موږ يوه ډېره دلته راورسولو، غوښتل ئې موږ دښمن ته وسپاري، ما ورته وژړل، ترحم ئې وپارېدو، موږ ئې پرېښودو، ما ورته وويل: که د يوه انسان په وړاندي ژړا د هغه ترحم پاروي د الله تعالی په وړاندي به ژړا څنګه وي، بيا ګورم چي اسامه پر کټ غزېدلی پروت دئ، زه ئې خوا ته ورشم، غواړي پورته شي، خو ملا ئې درد کوي، راته ووايي: ملا مي ډېر درد کوي، زه ورته ووايم: آيا مساج درکړم، په همدې حالت کي راويښ شوم.

تعبير ئې دا دئ: دا د هغه سخت حالت انځور دئ چي عرب مجاهدين ورسره مخامخ شول، القاعده هم له سختو ستونزو سره مخامخ او حالت ئې داسي شو لکه د چا ملا چي درد کوي او پر خپلو پښو ودرېدل ورته ګران وي.

تور موټرونه او په خپلو کي ئې تصادم

۶۹- د طالبانو په لاس د کابل حکومت له سقوط وروسته او هغه مهال چي په بغلان کي وم خوب مي وليد چي له شهيد ګل رحمن سره يو ځای د يوې غونډۍ پر سر ولاړ يو، شا ته مو سړک دئ چي له شرق غرب ته غځېدلی، موږ جنوب ته متوجه يو، ناڅاپي مو شاته د دوو شيانو د تصادم غږ تر غوږ شو، چي مخ مو ورواړولو نو ګورو چي دوه تور واړه موټر سره ټکر شوي، دواړه له غرب شرق ته تلل، شاتنی موټر راغلی او مخکنی ئې وهلی، بيا ګورو چي دا شاتنی موټر د شرق په لوري وتښتي، زما په لاس کي همسا وي، دا په دې موټر پسي وشړم او ورته ووايم: دا موټر راستون کړه، هغه په هوا کي پسي ولاړه شي، بيا ګورم چي له شرق يو مست زمری په ټوپکو ټوپکو منډي راوهي، زه له غونډۍ سړک ته د زمري مخي ته راکوز شم، هغه زما په ليدو سره داسي ژر ودرېږي چي پښې ئې وښويېږي، بېرته په شا

(c) ketabton.com: The Digital Library
منده کړي؛ داسي چي د کونګري (واړه سپي) په څېر غږ ترې اورېدل کېږي، بیا ګورم چي په آسمان کي د شنو صحرايي کوترو خېل راڅرګند شي چي د غرب په لوري درومي، زه د شهادت په ګوتي سره هغه لوري ته اشاره وکړم، کوتري په یوه لیکه ودرېږي او په منظمه توګه په شا شي او بېرته د شرق په لوري ولاړي شي، بیا ګورم چي زه د یوه غره د لوی او لوړ کمر مخي ته ولاړ یم، د دعاء لاسونه مي لوړ کړي او ژاړم، متوجه شوم چي د دې لوی کمر یو اړخ مات شوی او پرېوتی، زه وايم: دا زما د دعاء له کبله مات شوی، په همدې حالت کي له خوب راویښ شوم.

تعبیر ئې دا دئ: په شمال کي د دوو تورو ګاډو تصادم یعني په شما ل کي د دوو تورو ډلو تصادم، په شمال کي به یوه بله تعقیبوي، د شمال په شرقي برخي کي به د دوی تصادم د دې باعث شي چي یوه هملته پاته شي او بله د هېواد شرقي لوري ته وتښتي، پیاوړې به وتښتي او کمزورې به پاته شي، ښايي دواړه به د غربي هېوادو له لوري پالل کېږي، ځکه ګاډي ئې له غرب راغلل، یو به ئې بله له وړاندي تګ وغورځوي، همسا یعني ځواک او قوت، تعبیر ئې دا دئ چي حزب به دا بله متعرضه ډله تعقیب کړي، هغه به د شرق له لوري په هیبت سره راستنه شي، خو هیبت به ئې د مجاهدینو په وړاندي ختم شي او بېرته به په شا وتمبېږي، باعث به ئې حزب اسلامي وي، د شرق له لوري د صحرايي کوترو راتګ یا د داسي نېکو خلکو راتګ چي صحرايي مزاج دي، زموږ په اشاره به بېرته ستانه شي، ښايي دا به هغه قبائلي مجاهدین وي چي د کومي ډلي د مرستي لپاره افغانستان ته راځي خو زموږ په وینا به د هغوی له ملګرتیا لاس واخلي او بېرته به ولاړ شي، یا خو دا کوتري هغه ملائکي دي چي د مؤمنانو مرستي ته راځي او د غیبي او غیرمرئي لښکرو په څېر عمل کوي، لوی کمر یعني سخت زړی بد ځواکمن، چي زموږ د دعاء له امله به مات شي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library
قرآن کي سخت زړی انسان له سختي تیږي سره تشبیه شوی. هلته چي فرمايي: فمثله كمثل صفوان: مثال ئې د کلکي ښوی ډبري په څېر دئ. که د هېواد پېښنو ته د دې خوب په هنداري کي ځیر شو نو د دغو دوو تورو ډلو پېژندل گران کار نه دئ.

یو موټر او دوه اشترنگونه

۷۰- د ۱۳۶۶کال د سنبلي په میاشت کي د حزب اسلامي د مرکزي شوری د غونډو په لړ کي او هغه مهال چي د حزب د تشکیلاتو په اړه بحثونه روان وو، ما وړاندیز وکړ چي د حزب اجرايي چاري دي د امیر نائب ته تفویض شي، امیر دي له ورځنیو اجرايي چارو فارغ وي، ځیني ورونه له دې سره موافق نه ول، نږدې دوه ورځې پر دغي موضوع بحث وشو، ما د دغه بحث په دوران کي د شپې خوب ولید چي په یوه موټر کي چي دوه اشترنگونه لري، یوه ته ئې زه ناست یم او بل ته ئې بل کس، هره شېبه دا اندېښنه راسره وي چي داسي نه زه اشترنگ یوه لور ته تاو کړم او دی ئې بل لور، لږ وړاندي د یوه کور مخي ته ودرېدو، یوه سینگار شوې نجلۍ راووتله، زما همځنگ ډرېور ته ئې وویل: راځه، هغه ما ته وکتل او له شرمه کوز نه شو، دا ستنه شوه، ورپسې بله راغله چي تر مخکنۍ ئې سینگار زیات وو او زما همځنگ ته ئې وویل: ماما راځه، هغه کوز شو او له هغې سره کور ته ننوت او زه په همدې وخت کي له خوب راویښ شوم. د خوب تعبیر ډېر څرگند دئ، یو موټر او دوه اشترنگونه یعني یوه ټولنه او دوه واکمن مشران، هره شېبه د تصادم وېره، هغه سینگار شوې نجلۍ یعني انحراف ته بلونکي عوامل، دوهم ډرېور د یوه بلونکي په وړاندي د شرم له کبله ځان راتم کړ خو د بل زیات غولوونکي بلونکي په وړاندي ئې پښې وښويېدې او له خپلي ډلي بېل شو. سبا چي غونډي ته ولاړم، د بحثونو په دوران کي مي له څه ويلو او پر خپل وړاندیز له ټینگار ډډه وکړه، پرېکړه زما د رأيي خلاف راووتله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته او د شورى په بلي غونډي كي په ټولو اداري تشكيلاتو كي؛ له امارت نېولې تر رياستونو او آمريتونو پوري د معاون تشكيل حذف شو.

په خوب كي د عمر (رضي الله عنه) ليدل

۷۱- زينب الغزالي د اخوان المسلمين نوميالۍ مشره چي ډېر كلونه ئې د مصر په زندانونو كي تېر كړي، د تېر جهاد په دوران كي پېښور ته راغلې وه، ما د شهيد عبدالله عزام په كور كي ورسره وليدل، د دې يو ډېر خوندور او اغېزمن كتاب مي لوستلى وو او زړه مي غوښتل چي هغه وګورم، له مقدماتي خبرو وروسته ئې د شهيد عبدالله عزام په وړاندي راته وويل: د زندان په هغو سختتو شپو ورځو كي مي عمر (رضي الله عنه) په خوب كي وليد، زه د هغه له نسل يم، هغه ته مي وويل: دعاء وكړه چي الله تعالى اسلامي امت له دې دردناک حالت وژغوري، هغه يو څوک راوغوښتو، توره ئې په لاس كي وركړه، امر ئې ورته وكړ چي د شرق په لوري ولاړ شه، هغه پر آس سپور شو، او د شرق په لوري ولاړ، له څه ځنډ وروسته راستون شو او عمر (رضي الله عنه) ته ئې وويل: شرق مي فتح كړ، بيا ئې غرب، بيا ئې شمال او بيا ئې جنوب ته ولېږو او هر ځل له لږ ځنډ وروسته راستون شو او د فتحي زېرى ئې وركړ،... اوس چي مي ته وليدلى هغه خوب مي راپه ياد شو، هغه سړى كټ مټ ستا په څېر وو او پګړۍ ئې هم ستا په څېر،... ما هغه ورځ داسي مزارۍ پګړۍ پر سر وه چي رنګ ئې پيكه نصواري وو، سپيني كرښي ئې درلودې او په هغو ورځو كي ئې پر سر كول په مجاهدينو كي عموميت پيدا كړى وو، تعبير مي دا وو چي الله تعالى به دا شرف افغان مجاهدينو ته ورپه برخه كړي او دا فتوحات به عملاً د دوى په لاس تحقق ومومي. په دې كي هيڅ شک نشته چي د نړۍ په كچه روان اسلامي جهاد د افغان مجاهدينو د جهاد څپې دي چي د نړۍ ګوټ ګوټ ته وغځېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۲- هغه مهال چې لا پوهنتون ته نه وم تللى او لا اسلامي نهضت نه وو پيل شوى، يوه شپه مي خوب ليدو چې د سرور پوپل په نامه له يوه پرچمي سره مناقشه لرم، تر دې خوب د مخه مي هم څه موده مخکي له هغه سره په ويښه يوه مناقشه درلوده، د خوب د مناقشې په پاى کي مي دغه آيت ده ته واوراوو: رُّبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ كَانُواْ مُسْلِمِينَ : هغه چې کفر ئې کړى ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وى.

او دا په داسي حال کي چې نه مي دا آيت حفظ وو او نه ئې په معنى پوهېدم، په خوب کي په دې هم نه پوهېدم چې زه مقابل لوري ته د قرآن يو آيت اوروم، زه هم په عربي نه پوهېدم او هغه هم په عربي نه پوهېدو، نه پوهېږم چې دا آيت څنګه زما په ژبه راغى، او ولي مي هغه ته دا آيت واوراوو، د همدې په ويلو سره له خوب راويښ شوم، خو نن پوهېږم چې په دې آيت کي څومره ستره وړاندوينه او په دې خوب کي څومره ستر بشارت مضمر وو، ما هغه ورځ په خپلو سترګو وليده چې ډېرو کمونستانو دا هيله کوله چې کاش مسلمان وى.

باران، سمسوره سيمه، شنه ونه، خړي مرغۍ او قفس

۷۳- د مرحوم عبدالرحيم نيازي له وفات وروسته له موږ سره دا انديښنه وه چې د ده د نشتوالي دا لويه تشه به څنګه ډکوو، کمونستانو هم تبليغات کول چې جوانان مسلمان نشي کولى دا تشه ډکه کړي، خو الله تعالى خپل فضل زموږ په حال شامل کړ او اسلامي نهضت په ښه توګه مخکي ولاړ، په همدې ارتباط مي يوه شپه خوب وليد چې په يوې ډېري ښايسته سيمي کي يم، وړې وړې غونډۍ لري، په داسي تکو شنو نريو وښو پوښل شوې چې ښکلي چمن کبلو ته ورته دي، د انسان د قد په اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library
شنې سمسوري وني هر لوري ته تر سترګو کېږي، د پرخي په څېر نرى نرى باران ورېږي، ناڅاپه ګورم چي ډېري خړي مرغۍ د دې باران له کبله په يوې وني کي راغونډي شوې دي، دري ژبي دا مرغۍ د ځَل په نامه يادوي، ځَيني خلک هغه د ښايسته غږ له امله په قفسونو کي ساتي، زه لګيا شم دا مرغۍ رانيسم او په خپلي غېږ کي ئې راغونډوم، غېږ مي ترې ډکه شي، بيا ګورم چي خپل کشري ورور ته واړه واړه لرګي ورکوم چي د نريو دړو په يوه چوکاټ کي ئې ودروي او قفس ترې جوړ شي، چي دا مرغۍ په کي وساتو، د مرغيو د رانيولو په دوران کي يوه ئې لالهانده شي، وزر وهي چي ځَان خلاص کړي، خو زه ئې راټينګه کړم، داسي احساس کړم چي ښايي پښه به ئې خوږ شوې وي، ورته خفه شم او په همدې حالت کي راويښ شوم.

تعبير ئې دا دئ: نرى باران يعني د الله تعالى رحمت، په قرآن کي باران د الله تعالى د رحمت په نامه ياد شوى، سمسوري او ښايسته غونډۍ يعني زموږ د دعوت او مبارزې پرتميني او سمسوري لوړي ژوري، خړي مرغۍ او په يوې شنې وني کي د هغوى راغونډېدل يعني د نهضت هغه غړي چي په يوې پاکي عقيدې راغونډ شوي، په قرآن کي پاکه کلمه له پاکي وني سره تشبيه شوې، په خپلي غېږ کي د هغوى راغونډول او د قفس جوړولو سپارښتنه يعني د دغو غړو په راغونډولو او منظمولو کي زما ونډه، کشري ورور ته د قفس جوړولو سپارښتنه يعني په دې منظمولو کي د کشرانو ونډه.

سپى په غېږ کي

۷۴- يوه ګران دوست مي خپل خوب راته ليکلى او تعبير ئې غوښتى، خوب ئې ډېر عجيب او داسي دئ: په خوب کي ګورم چي جنرال دوستم زموږ کور ته راغلى وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ورسره خبري کوم، يو کس وګورم چی سپی ئې په غېږ کي نيولی وي، بيا داسي راته جوته شي چي هغه کس زه په خپله يم، کله چي د هغه سر ته ځير شم نو ګورم چي زما سر د هغه پر بدن دئ او کله چي ځان ته ځير شم نو وګورم چي د ده سر زما پر غاړه وي، زه دوستم ته ووايم چي له ما سره مېلمه شه، د شپې مړی له ما سره وخوره، اوس په بازار کي ولاړ يو، هغه ډېر خوشحال شي، زړه ئې غوښت چي د انتخاباتو په اړه راسره خبري وکړي، هغه سپی چي د سړي سر لري ګورم چي زما مخ څټي، زه وشرمېږم او بلال نومي خوريي ته ووايم چي دا سرونه سره بدل کړه، زه ئې په تنګ کړم، داسي راته ښکاره شي چي سر ئې زما سر نه وي د بل چا وي! خو يم زه.

هغه ته مي وويل: تا ته په دې خوب کي دا پيغام درکړی شوی چي جنرال دوستم به غواړي د انتخاباتو په اړه له تا سره خبره وکړي، ته به هم داسي فکر کوې چي ښايي دا خبري به ګټوري وي، په سينه کي به دي داسي کوم عزم او هيله وي چي ناسمه او غير انساني ده، ښايي کومه طمع او هيله به وي، لکه حرص، له مال، ثروت او اقتدار سره حب او مينه، بل انسان ته طمع درلودل، او يا بل داسي خصلت چي اسلام ئې نه خوښوي، دا عزم او هيله ستا د يوه ناسم فکر او رأيي بنسټ ګرځېدلی، او ستا د اصلي فکر او رأيي ځای ئې نيولی، په غېږ کي د سپي نيول او خپل سر د هغه پر بدن او د ده سر پر خپل بدن ليدل؛ تعبير ئې همدا دئ، په خوب کي دا هم درته ښودل شوي چي ته به دا بد خصلت او له هغه راولاړ شوی فکر له ځانه لري کړې. د خوب له دې برخي چي سر او سړی په متغيري بڼي کي درته جوت شي داسي معلومېږي چي ښايي دا کس به ستا کوم خپل او قريب وي او ته به د خپل بلال نومي خوريي له لاري هغه ته د خپل فکر بدلولو وينا وکړې، او يا خو له بلال مراد د توحيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري ته کوم مؤذن او بلونکی دئ او ته به له همدې داعي وغواړې چې دا بدل فکرونه سم کړي. کله چې مي د خوب ليدونکي په اړه مزيد معلومات ترلاسه کړل نو راته جوته شوه چې هغه غوښتل حزب اسلامي په اقتدار کي شريک شي او له داسي لوري سره ائتلاف وکړي چې د بريا احتمال ئې زيات وي، که څه هم د دې لوري نه تګلاره او ترکيب د تأييد وړ وي او نه ئې زعامت!! او دا له شک پرته هغه څه دي چې نه ئې اسلام خوښوي او نه يوه اسلامي ګوند ته ګټه رسوي. اميد دئ خوب ليدونکي هم دا طمع لري غورځولې وي او هم له هغې راټوکېدلی فکر او رأيه.

سيلۍ، دوړي، د ځنګلي ځناورو خېل

۷۵- د حبيب الرحمن مور وايي: خوب مي ليدو چې سخته سيلۍ لګېږي، دوړي بادېږي، خلک منډي وهي، چي ځان خوندي کړي، د سيلۍ دروند ږغ وي، يو ږغ واورم چي خلکو ته وايي: ووځئ، د ځنګل ټول ځناور راروان دي، زه د باندي ووځم چي وګورم دا چيغي د څه دي، که ګورم چي ځنګلي ځناور په ډېر شمېر کي منډي وهي، په دې وخت کي يو بل غږ واورم چي وايي: زه ستا وړوکی زوی يم، خلکو ته ووايه چي مه وېرېږئ، مه تښتئ، خپلو کورونو ته راستانه شي، په دې لاس به افغانستان آزادېږي، زوی مي زما خوا ته راشي او خپل لاس پر زمکه ووهي، که ګورم چي د هغه لاس د زمري په څېر او ډېر لوی وي، کله چي زمکه په خپل لاس ووهي دروند ږغ ترې پورته شي، زه خلکو ته همدا خبره کوم چي مه وېرېږئ، مه تښتئ، خپلو کورونو ته راستانه شئ، زما زوی راغی نور نو مه وېرېږئ.

د دې خوب تعبير دا دئ: سيلۍ او دوړي هغه بد حالت تمثيلوي چي زموږ پر هېواد راغلی، په ولس کي ئې وېره او خوف راولاړ کړی او هغوی ئې د خپلو کورونو پرېښودو او تېښتي ته اړ کړي، دا سيلۍ او دوړي د هغو ډلو له کبله دي چي ځنګلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځناورو ته ورته دي، زموږ د ټولني نوی نسل به په پوره ځواک سره د دې ډلو مقابله کوي او ولس به له وېري ژغوري. دا نسل به خوب لیدونکې په خپلو سترګو په ویښه کي وګوري، د وړوکي زوی لاس د زمري د لاس په څېر لیدل او د هغه دا وینا چي خلکو ته ووایه؛ مه وېرېږئ، مه تښتئ، خپلو کورونو ته راستانه شي، په دې لاس به افغانستان آزادېږي، همدا تعبیر لري.

پر سپین آس د مېرمني سپرېدا او لوړ الوت

۷۶- یوې مېرمني راته لیکلي: له نکاح مخکي مي څو ځلي پر له پسې خوب لیدو چي پر یوه سپین آس سپره شم، آس والوځي، په هوا کي ډېر جګ درومي، لاندي خلک راته واړه واړه په نظر راځي.

د هغې خوب مي داسي تعبیر کړ: صالح مېړه او معنوي ارتقاء دي په برخه شوې، دومره به له معنوي پلوه لوړه شې چي عام خلک به واړه واړه په نظر درشي. په خوب کي لوړ تګ، پر لوړ ځای ودرېدل او لوړ الوت د معنوي ارتقاء او لوړوالي په معنی دي.

پر لوړ منبر وینا

د دې مېرمني خوب ما ته خپل خوب راپه یاد کړ چي د امریکا له یرغل وروسته مي لیدلی او داسي وو: په یوه تالار کي لویه غونډه وي، زه پر منبر ولاړ یم او خلکو ته وینا کوم، د منبر د ډېر لوړوالي له امله ناست خلک دومره واړه واړه ګورم لکه پر یوې پاڼي ټکي، د نورو خبرو په ضمن کي هغوی ته ووایم: باید مکتب او مدرسه سره توحید کړو، واحد تدریسي نصاب رامنځته کړو، بېل بېل تعلیمي نظامونه او تدریسي نصابونه اختلافات راولاړوي او د ملا او مکتبي جنګ رامنځته کوي، په کار ده چي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم پوري تدريسي نصاب داسي وي چي زده کوونکي هم کافي او ضروري شرعي پوهه ترلاسه کړي او هم له نورو ضروري علومو برخمن شي، د تخصص دوره له دولسم وروسته پیل شي، ځیني د شرعي علومو په برخي کي تخصص ترلاسه کړي او ځیني په طب، انجنیري، ساینس، زراعت او نورو برخو کي، په دې توگه به هم زموږ ډاکټر او انجنیر له شرعي علومو برخمن وي او هم زموږ ملا او مولوي له نورو ضروري علومو... د وینا په پای کي او کله چي له منبر راکوز شم استاد رباني د غونډي له شاتنۍ برخي راوړاندي شي او راته ووایي: په نصاب کي باید علم الکلام هم شامل کړو!! ما ته دا وینا خوند رانه کړي، په همدې له خوب راویښ شوم.

د روسي ځواکونو د راتگ وړاند لیدنه

۷۷- د حبیب الرحمن مور وایي: د روسانو تر راتگ وړاندي مي خوب لیدو چي زموږ د کور مخي زمکي ته ټانکونه راشي او ودرېږي، په هوا کي طیارې گرځي (تر دې وړاندي مي طیارې او ټانکونه په ویښه نه وو لیدلي)، دا اندېښنه راسره پیدا شي چي زموږ کور په خطر کي دئ، د کور سامانونه او بسترې راباسم او خپل گاونډي ته ئې سپارم... ډېره موده وروسته مي همدا صحنه په خپلو سترگو په ویښه ولیدله، په همغي زمکي کي روسي ټانکونه ودرېدل، په هوا کي هلیکوپټري چورلېدې، موږ له خپل کور ووتلو، همغسي مي د کور سامانونه او بسترې گاونډي ته وسپارل.

کعبه، حجرالاسود، په کعبه کي دسترخان، پر بالښت تکیه

۷۸- حبیب الرحمن راته لیکلي: خوب مي لید چي مکې ته تللی یم او غواړم کعبې ته داخل شم، یو عرب زما مخي ته روان شي چي د کعبې دروازه راته خلاصه کړي، ټول خلک یوې خوا بلي خوا ته شي چي مونږ ته لاره راکړي، د خلکو منځ کي لاره جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library
شي، زه په کي تېر شم، هغه عرب تر ما مخکي وي، کله چي د کعبې له دروازې تېرېږم پښه مي بنده شي، ځان سمبال کړم چي ونه لوېږم، کله چي کعبې ته ننوځم، ژړا راشي او له ځان سره وايم چي محمد (صلی الله علیه وسلم) همدلته ټول بوتان رانسکور کړل. زه په کوم شي پسي گرځم، لټوم ئې چي چېري او په کوم ځای کي ئې اېښی دئ، له يوه کس پوښتنه وکړم چي دلته خو هري خوا ته لمونځ کولي شو؛ خو تاسو معمولاً کومي خوا ته ودرېږئ، هغه لارښوونه راته وکړي، او زه په لمانځه ودرېږم، غواړم دوه رکعته لمونځ وکړم؛ خو غلط شم او درې رکعته وکړم، بيا له سره نيت وکړم چي دوه رکعته وکړم. د کعبې دننه ئې داسي جوړ کړی وي لکه لوکس سالون، تلويزيون او کرسۍ ئې هم پکي اېښي وي، فرش ئې هم په کي غوړولی وي، او هغه عرب چي دروازه ئې راته خلاصه کړې وه، ناست وي او پر بالښت ئې تکيه کړې وي او پښې ئې غزولې وي. داسي انگېرم چي دسترخان ئې هم مخي ته غوړېدلی وي او خواړه پرې اېښي وي. کله چي له خوب راويښ شوم، راپه ياد شو چي زه خو په کعبه کي په حجرالاسود پسي گرځېدم، هغه خو د کعبې په منځ کي نه ده.

هغه ته مي وليکل: ستا د خوب تعبير داسي برېښي: ښايي کعبې ته د ننوتلو سعادت درپه برخه شي، هغه مهال به ته حالت ته د سحر په سترگه گورې خو هغه به ماښام ته ورته وي، ته به حالت د مسلمانانو د بريا حالت گڼې خو تا به اشتباه کړې وي (د دوه رکعته لمونځ په نيت اشتباهاً درې رکعته کول همدا معنی لري)، لا به د کعبې واک د داسي خلکو په لاس کي وي چي له کعبې ئې ځان ته مطعم او سالون جوړ کړی او هلته ئې په بې اعتنائي او بې پروايي سره پښې غزولې دي. ته به غواړې له الله تعالی سره پر خپلي ايماني ژمني عمل وکړې خو هلته به دا مجال ونه مومې (د

(c) ketabton.com: The Digital Library
کعبې منځ کي د حجر الاسود لټول همدا تعبیر لري)، ښايي ته به غواړې ټول مسلمانان متحد شي خو دا هيله به دي ترسره نشي.

له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره مصافحه او له هغه سره یو ځای لمونځ

۷۹- د حبیب الرحمن بل خوب داسي دئ: خوب مي لید چي د یوه لښکر مشري راپه غاړه وي، د دښمن پر یوې قلعې حمله وکړو او هغه فتح کړو، زما ملګري ډېر ستړي شوي وي او ټول ویده شي، ما ته یو کس خبر راکړي چي بل لښکر غواړي پر مونږ برید وکړي، زه هڅه کوم چي خپل ملګري راویښ کړم او دفاع ته ئې تیار کړم؛ خو ګورم چي حمله کوونکو مونږ محاصره کړي یو، یو کس ئې راوړاندي شو او ما ته ئې وویل چي محمد (صلی الله علیه وسلم) غواړي له تا سره وګوري، زه ډېر خوشحال شم او ووایم دا د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) لښکر دئ؟! په ډېري خوشحالۍ سره د کلا برنۍ برخي ته روان شم چي له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ملاقات وکړم، کله چي پر زینو پورته خېژم پلار مي هم راسره یو ځای شي، کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته مخامخ شو پلار مي خپل لاس وراوږد کړي چي مصافحه ورسره وکړي خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دې پر ځای چي ده ته لاس ورکړي ما ته چي تر خپل پلار وروسته ولاړ یم لاس راکړي او اول پر ما سلام واچوي، کله چي د ده لاس زما له لاس سره ولګېد زړه مي له ډېري خوشحالۍ داسي ډک شو چي په ټول عمر کي مي د خوشحالۍ داسي حالت نه دئ لیدلی، د هغه حالت د بیانولو لپاره مناسب الفاظ نه مومم، داسي مي انګېرله لکه چي چا زما زړه په خپل موټ کي ټینګ نیولی وي، بیا ئې زما پلار ته لاس ورکړ، او بیا ئې له مونږ وغوښتل چي له ده سره یو ځای د ماښام لمونځ په جماعت اداء کړو. پلار مي ما ته ووایي: ورشه اودس وکړه، زه ورته ووایم چي اودس لرم، خو هغه لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library
په غصې سره بیا راته ووایي چې ورشه اودس وکړه، زه پوه شم چې پلار ته مې خوند نه ورکوي چې له دوي سره یو ځای په جماعت لمونځ وکړم، ورته ووایم صحیح ده، پلار مې او محمد (صلی الله علیه وسلم) وړاندې ولاړ شي او په جماعت ودریږي او زه په همغه ځای کې چې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره مې مصافحه کړې وه په لمانځه ودریږم.

هغه ته مې ولیکل: ته به د جهاد په یوه نظامي یا فکري سنګر کې د دښمن په ضد جهاد او مبارزه وکړې، د یوې ډلې مشري به دې په غاړه وي، فتوحات به دې په برخه شي، ستا خوا ته به بله اسلامي ډله هم په مبارزې بوخته وي، هغه به د مقام او منزلت له پلوه تر تا لوړه وي، په یوې مرحلې کې به داسې وانګېرې چې دا ډله ستا پر سنګر او ملګرو د برید اراده لري، خو حقیقت به درته جوت او دا به درته څرګنده شي چې هغه حقپاله ډله ده، له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ستا مصافحه د هغه پر سنت د عمل کولو په معنی ده، دا به ستا د زیاتې خوشحالۍ باعث شي، تر پلار وړاندې له تا سره د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مصافحې تعبیر دا دئ چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به ځوان نوي نسل ته زیاته اعتناء لري، پلار به ستا مزید طهارت او پاکوالی غواړي، خوښه به ئې دا وي چې ته له خپل حیثیت او مقام سره مناسب ځای کې ودرېږې او له وړاندې وړاندې کېدو ډډه وکړې، له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یو ځای ستا او ستا د پلار په جمع لمونځ یعني د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر سنت ستاسو دواړو عمل کول.

تور شپه او رڼا

۸۰- د حبیب الرحمن بل خوب: خوب مې لید چې یوه مسجد ته لاړ شم او هلته امام جعفر رحمة الله علیه ته ورشم او هغه ته ووایم: خوب مې لید چې دنیا توره شپه شي، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library
توره شپه چي حتی خپل لاس هم نشو لیدلی، داسي لکه چي څوک په تور قیر کي ننوتلی وي، خو په دې وخت کي یوه ښایسته شین رنګې رڼا راڅرګنده شي، دومره ښایسته وي چي د زړه په تل کي مي کلکه مینه ورسره راولاړه شي، نور خلک هم له دې رڼا سره مینه کوي، رڼا دومره وي لکه د ځینو حشراتو له بدنه چي د شپې له لوري خورېږي، ټول خلک هڅه کوي چي رڼا ته ځان ورسوي او هغه په لاس کي ونیسي، زه هم همدا هڅه کوم او رڼا ته لاس اچوم، خو وروسته ګورم چي زه خپلي سینې ته لاس اچوم او رڼا زما د زړه رڼا وي او د خلکو څېرې راښکاري او ګورم چي هغوی پر ما راغونډ شوي او زما زړه ته لاس اچوي، زه ورته ووایم چي دا زما زړه دئ، لري شئ، داسي نه چي زړه مي وباسئ.

د خوب تعبیر دا دئ: چا ته چي ته خپل خوب تېروې هغه به له فکري او تګلاري له پلوه د امام جعفر رحمه الله علیه نائب او هملاری وي، له توري شپې مراد داسي مغشوش حالت دئ چي څوک د ښه او بد، سم او ناسم توپیر نشي کولی، په همدې حالت کي به یوه رڼا راڅرګنده شي، ته او نور خلک به د دې رڼا ترلاسه کولو هڅه کوئ، په قرآن کي الهي لارښووني له رڼا سره تشبیه شوې، نو تعبیر ئې دا دئ چي څوک به دغه الهي لارښووني د خلکو مخي ته کښېږدي، د دې الهي لارښوونو له منبع او مرجع سره به ستا تعلق تر نورو ژور او زیات وي، داسي چي ته به ئې ځان وارث او خاوند ګڼې.

موټر او ډرېوري

۸۱- د حبیب الرحمن بل خوب: خوب وینم چي په یوه موټر کي د حزب اسلامي ټول مشران ناست وي او قاضي صاحب حکیم ئې چلوي، غرنۍ سیمي ته ورسېږو، زمکه له یخنۍ کرنګ شوې وي، زه قاضي صاحب ته ووایم: آیا کله دي په غرنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيمي کي موټر چلولی؟ که دي نه وي چلولی نو ما ته ئې راکړه، قاضي صاحب خپل ځای ما ته پرېږدي، کله چي غواړم د اشترنګ شا ته کښېنم متوجه شم چي کرسۍ ئي د بايسکل زين ته ورته ده، په سم ځای کي هم نه ده نصب شوې، لږ بې ځای او کږه وي، زه موټر روان کړم، ډېر پورته وخېژو، د لاري په اوږدو کي ډېر داسي ګاډي وګورو چي ډېر ښايسته او قيمتي برېښي خو بند پاته شوي او له پورته تګ لوېدلي، سورلۍ او ډرېوران ئې موږ ته حيران حيران ګوري چي څنګه په سرعت سره پورته روان يو او موټر مو نه بندېږي. په يوه مناسب ځای کي له موټر کوز شم او قاضي صاحب ته ئې پرېږدم او زه پلی پورته وخېژم، وروسته ګورم چي قاضي صاحب هم په ما پسي پلی پورته راغی، زه ورته ووايم چي موټر دي څه کړ؟ هغه راته ووايي چي لاندي مي پرېښود! زه تعجب وکړم او بېرته لاندي کښته شم چي موټر بر راولم. همدلته مي خوب پای ته ورسېد.

د خوب د بېلو بېلو برخو تعبيرونه دا دي:

- موټر يعني جماعت او حزب
- ډرېوري يعني قيادت او مشري، په يوه حساس پړاو کي به ته د قاضي صاحب حکيم مرسته وکړې. خو کله چي له دې پړاو تېر شئ دا مرسته به پای ته ورسېږي، ته به يوازي بر ولاړ شې، قاضي صاحب به درشي، بيا به له هغه سره مرسته وکړې.
- غرنۍ سيمه يعني له لوړو ژورو ډک حالت
- يخ وهلې لار يعني د وړاندي تګ او لوړ تګ ګران مسير
- ښايسته او قيمتي ګاډي يعني هغه ډلي چي مالي امکانات ئې زيات دي او شتمن برېښي، د لاري په اوږدو کي د هغوی بندېدل يعني د لوړ تګ توان او امکان له لاسه ورکول، دا ډلي به د حزب اسلامي لوړ تګ ته حيران پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غر، رنې اوبه، چینه، کارېز او د جهاد دوام

نظر محمد مطمئن یو معروف لیکوال چي د طالبانو په پلوي تورن دئ او اکثراً د هغوی په دفاع کي لیکني کوي؛ د خپل ملګري څلور خوبونه خپاره کړي، د دریو تعبیر ئې هم ورسره لیکلی خو د څلورم تعبیر ئې نه دئ وړاندي کړی، څلورم ئې داسي دئ: خپل کلي سپندې ته چي د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ کي دئ تللی یم، هلته د کارېز د هغه ګودر پر غاړه ولاړ یم چي کلیوال اوبه ترې وړي، دغه ځای غره ته نږدې دئ، اوبه هم له غره چینو ته راځي، پاکي رڼې اوبه په کارېز کي بهېږي، ناڅاپه د اسلامي حزب مشر ښاغلی ګلبدین حکمتیار همدې چینې ته راشي، ودرېږي، کلشنکوف ټوپک ورسره وي، کنداغ ئې پر زمکه کښېږدي، د کلشنکوف میل لوړ د آسمان لور ته وي، دا هغه کلونه دي چي مجاهدین کابل ته ننوتلي دي او د استاد رباني حکومت دئ، ښاغلي حکمتیار ته ووایم: لا هم په غرونو کي ګرځئ، نور خو هغه دئ اسلامي حکومت راغی، مجاهدین کامیاب شول او تاسي اوس هم له سلاح سره په غرونو کي ګرځئ!! حکمتیار صاحب ووایي: انجنیر صاحب! جهاد لا نه دئ خلاص شوی او دا جهاد به تر ډېره وخته پوري ادامه کوي. حیران شم چي دا څنګه خبره ده، کمونستي نظام ختم شو، دوی کابل او ټول ولایتونه ونیول، استاد رباني جمهور رئیس شو، او لا هم ښاغلی حکمتیار وایي چي جهاد نه دئ ختم شوی او جهاد دوام لري!! سهار چي له خوبه راپاڅېدم چورتونو یووړم، خو د خوب په تعبیر هیڅ نه پوهېدم، اوس چي کله ناکله فکر کوم هغه د حکمتیار خبري مي په ذهن کي راګرځي.

دا خوب دومره څرګند دئ چي تعبیر ته ضرورت نه لري، غر یعني له معنوي پلوه لوړ موقف، د رڼو اوبو چینه یعني د هدایت او معنوي ارزښتونو چینه، په داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library
غرونو او لوړو کي اوسېدل چي رڼې اوبه تري راځي او خلک ترې استفاده کوي، او بيا همدا غر د جهاد د سنگر په توگه کارول واضح مطالب افاده کوي او ښيي چي د حزب هغه تگلاره او دريځ سم او جهادي دريځ وو، همداراز دا خوب يوه وړاندليدنه وه چي عملاً ئې تحقق وموند، دا دئ گورو چي جهاد ادامه لري.

له لمانځه پرته له جومات وتل او له ورا سره يوځاى کېدل

مطمئن د خپل ملگري د خوبونو په سريزه کي ليکي: يوه ملگري مي چي د تعميراتي چارو انجنير دئ، د جهاد د وخت خپل څلور ليدلي خوبونه راته بيان کړل، دا چي په زړه پوري وو، له دي امله غواړم له تاسي سره ئې هم شريک کړم:

لومړی خوب: د تېر جهاد په وخت کي مي د ميرانشاه په سيمه کي د مهاجرو لپاره د کوچني روغتون تعميراتي کارونه ترسره کول. د ميرانشاه د ښار لوېديز لور ته يوه پراخه زمکه د هوايي ډگر په نامه شته، ما د اول ځل لپاره هغه وخت دا ځاى وليد چي د اختر لمانځه اداء کولو لپاره هلته ولاړم چي په زرگونو خلک د لمانځه لپاره راغلي وو.

د شپې مي خوب ليدو چي همهغه د عيدگاه ځاى ته ډېر زيات مجاهدين، مهاجرين او ځايي اوسېدونکي راټول شوي وي، دماسپښين لمانځه وخت وي، مجاهدين او مهاجرين ډلي ډلي رارون وي، سنت لمونځ وشي او د فرض لمانځه لپاره صفونه جوړېږي، ټول خلک د لمانځه لپاره په صفونو کي ودرېږي او د لمانځه لپاره اقامت وويل شي. خلک انتظار وي چي کوم امام مخکي شي او لمونځ په جماعت اداءکړي، خو هيڅوک هم نه مخته کېږي، ښه څنډ خلک منتظر وي، په دې طمع چي کوم امام به پيدا شي او مخکي به شي. په دې وخت کي د واده لپاره د ورا يوه ډله راښکاره شي چي ډول او سورنى هم ورسره وي، خلک له صفونو يو يو وځي او د ورا

(c) ketabton.com: The Digital Library
په ډله ورګډېږي. کرار کرار دغه صفونه کمېږي، د صفونو منځونه خالي کېږي، آخر په صفونو کي خال خال نفر پاته شي او نور ټول د لمانځه لپاره راغلي کسان ولاړ شي. تر آخره هم امام پيدا نه شي، د جماعت لمونځ ونه شي او هغه لږ پاته کسان هم همداسي له عيدګاه بېرته روان شي.

د مولوي جلال الدين حقاني يوه تکړه مجاهد او ديني عالم مولوي صاحب الف ګل چي د ښه نوم لرونکی وو، او په پرهيزګارۍ او تقوا کي ئې ساری کم ليدل کېدو، سهار مي خوب ورته ووايو، او د خوب تعبير مي ترې وغوښت. هغه وويل: ولس ټول ودرېد، قربانۍ ته حاضر شو، انتظار ئې وکړ چي کوم مشر، مقتداء او امام پيداکړي، خو امام پيدا نه شو. هغه وويل چي د افغانستان خلک مسلمانان دي، د جهاد لپاره راووتل، قربانۍ ته حاضر شول، خو دا چي رهبران په خپلو منځونو کي اختلافات لري او يو بل ته غاړه نه ږدي، پر يوه مشر توافق ته سره نه رسېږي، الله تعالی دي د افغانستان جهاد ته خير کړي او په دې ملت دي رحم وکړي. خلک بېرته ډلي ډلي په کورونو کښېني او د مشر د نشتوالي له امله به جهاد متأثره کېږي. هغه لږ کسان چي د جهاد په صفونو کي پاته کېږي هغوی به هم ستومانه شي او پايله دا چي پر کور به کښېني.

که د دې خوب ټولو برخو ته په دقت سره ځير شو نو په آسانۍ راته جوته کېږي چي د جناب مولوي صاحب الف ګل تعبير دقيق نه دئ، ده د يوې سيمي په ځانګړي حالت پوري مربوط خوب ټول افغانستان ته غزولی، د خوب دقيق تعبير دا دئ چي هغه مهال د ميرانشاه او په ميرانشاه کي د مېشت مجاهدينو، مهاجرينو او فعالو ډلو حالت خوب ليدونکي ته انځور شوی، هغوی پر يوه تنظيم د راغونډېدو او په يوه امام پسي د اقتداء پرځای په داسي ډلي پسي درومي چي د واده ورا ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، له جومات وځي او د ډول او سرني لوري ته درومي!!

دا يوه عاميانه انګېرنه ده چې د جهاد لپاره به لومړی د يوه هېواد او حتی ټولي نړۍ مسلمانان راغونډېږي، يو امير به غوره کوي او بيا به جهاد کوي، دا انګېرنه داسي ده لکه چې څوک ووايي: په ټېلو ټېلو جوماتونو او ټېلو ټېلو امامانو پسي لمونځ جائز نه دئ!! حقيقت دا دئ چې هر مسلمان د نړۍ په هر ګوټ کي پر جهاد داسي مکلف دئ لکه پر لمانځه چې مکلف دئ، که کوم جماعت او امير وي نو په هغه پسي به اقتداء کوي، له هغه سره به بيعت کوي او په همدې جماعت کي به جهاد کوي، له بل تنظيم او ډلي جوړولو به ډډه کوي، خو که داسي امير او جماعت ئې ونه موندو نو په خپله به د داسي جماعت جوړولو لپاره ملا تړي، هدف به ئې د ټولو مسلمانانو يووالی او وحدت او د اسلامي نظام قائمول وي. په افغانستان کي نه ټول مجاهدين ملامت دي او نه ټول تنظيمونه، هغه ملامت دي چې د مخکني اسلامي حزب او تنظيم په شتون کي ئې د شخصي اغراضو لپاره يا د دښمنانو په وينا بېلي بېلي ډلي جوړي کړې.

پر غور ځوړنده کړی

مطمئن د خپل ملګري بل خوب داسي وړاندي کوي: مجاهدين لا په پېښور کي وو او په کابل کي د ډاکټر نجيب الله حکومت وو، موږ امريکا ته د لوړو او مسلکي زده کړو لپاره تللي وو، هلته موږ د انجنيري په برخه کي د ماسټري لپاره درس وايو. د افغانستان حالت په دې وخت کي ډېر نازک وو، مجاهدينو په پرله پسې توګه ولايتونه نيول او کمونست پلوه ملېشې او عسکر مرکزونو ته ټولېدل. په پېښور کي د واک او قدرت پر سر ګرمي معاملې رواني وې، ناستي او غونډې کېدلې، اسلامي حزب، جمعيت اسلامي، اتحاد اسلامي او نورو جهادي ګوندونو هر يوه کوشش کاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library
چي د ډاکټر نجيب الله د حکومت تر سقوط وروسته واک ترلاسه کړي. داسي فکر کېدو چي يا به اسلامي حزب او يا هم جمعيت اسلامي واک ته رسېږي. په همدې ورځو کي مي يوه شپه خوب ليدو چي د افريقا مشهور د آزادۍ اتل نلسن منډيلا زموږ د استوګني خوني ته راشي، که ګورم چي پر غوږ ئې غوږوالۍ وي، حيران شم، ډېر زيات حيران، په دې چي عجيبه ده خلک وايي نلسن منډيلا د آزادۍ اتل دئ او افريقا ته ئې آزادي واخستله، خو د ده پر يوه غوږ غوږوالۍ ځوړنده ده. په امريکا کي په عمومي توګه غوږوالۍ هغه کسان پر غوږ کوي چي همجنس باز وي، د غوږوالۍ پرغوږ لرل د همجنس بازۍ نښه ده. زه ځکه حيران شوم چي دا خو همجنس باز دئ او خلک څنګه احترام ورته لري؟

لږ وروسته د جمعيت اسلامي مشر پروفيسور استاد برهان الدين رباني هم زموږ خوني ته رانوځي، زما ښه ياد دي چي يوه لوري ته نلسن منډيلا وي او بل لوري ته استاد، که ګورم چي د استاد پر دواړو غوږونو غوږوالۍ وي.... ډېر حيران شوم چي زموږ د جهاد د رهبر په دواړو غوږونو غوږوالۍ دي،.... له خوب راپاڅېدم، هيڅ نه پوهېدم چي د افغانستان په دغو حساسو شرائطو کي به د داسي خوب تعبير څه وي. فکر مي وکړ چي نلسن منډيلا خو همجنس باز نه وو،... خامخا به دا خوب کوم بل تعبير لري. له غور او فکر وروسته مي د خوب تعبير داسي وکړ: نلسن منډيلا د يوه زبرځواک (شوروي اتحاد) غلامي قبوله کړه او له امريکا سره ئې ډغري ووهلې خو تر پايه د روسانو غلام پاته شو. استاد رباني به د دواړو (روس او امريکا) غلامي کوي، د دوو غوږواليو معنی دا ده چي د دغو دوو ځواکونو غلامي به مني او له دې لاري به قدرت ته رسېږي.

په همدې شپو ورځو کي په امريکا کي د يوه ملګري له خوا مېلمستيا جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وه، هلته چي ولاړو، د ډوډۍ له خوړلو وروسته د افغانستان پر حالاتو بحث پیل شو، موږ د مختلفو ګوندونو کسانو په مېلمستیا کي ګډون درلود. چا ویل چي حکمتیار به جمهور رئیس شي، چا ویل چي استاد رباني به جمهور رئیس شي، چا د بل مشر یادونه کوله، هر چا بېل بېل نظرونه وړاندي کول. ما وویل: ما ته غوږ ونیسئ! ما خوب لیدلی دئ، لیدلی خوب مي ټکي په ټکي ورته بیان کړ. ورته ومي ویل: و الله چي د افغانستان جمهور رئیس به له استاد رباني پرته بل څوک نه شي، د خوب تعبیر مي ورته وواېو او ومي ویل: د روس او امریکا د ملتیا حلقه به په غوږونو کي اچوي او د افغانستان د راتلونکي حکومت مشر به شي. دغه خبره د جمعیت اسلامي پر کسانو بده ولګېدله، شور او ځوږ جوړ شو، ځینو ویل چي د جهاد رهبر ته دي سپکاوی وکړ، او ځینو ویل چي هغه غلام نه دئ، مجاهد دئ، رهبر دئ، ګنهګار شوې، تاسي دا خبره د تعصب له مخي کوئ.... ما ورته وویل: وبه ګورو چي څه کېږي!! ډېر لږ وخت وروسته او په داسي حال کي چي موږ لا په امریکا کي وو، خبر شوو چي ښاغلي استاد رباني د افغانستان جمهوري ریاست واګي ترلاسه کړې.

د خوب د تعبیر په اړه باید ووایم چي افغانان او نور قومونه معمولاً کله چي د چا په اړه غواړي ووایي چي د فلان غلامي ته ئې غاړه اېښې نو وایي: د فلاني د غلامۍ کړۍ ئې پر غوږ کړه، په خوب کي اکثراً هغه تشبیهات او کنایې کارول کېږي چي انسان ئې معمولاً په ویښه کي کاروي، نو د خوب دقیق تعبیر همغه دئ چي خوب لیدونکي انګېرلی.

دوه پوره جومات او په جومات کي د سړو تر څنګ غوایي

مطمئن د خپل ملګري بل خوب داسي وړاندي کړی: زما ملګری او نږدې دوست وایي چي یوه شپه په پېښور کي وم چي د شپې مي خوب ولید، د پېښور د ګلبهار

(c) ketabton.com: The Digital Library
سیمي لوی مسجد ته د لمانځه لپاره ورشم، کله چي مسجد ته ننوتم نو ډول ډول خلک مي تر سترګو شول، چي په مسجد کي ایسته دوري ګرځېدل. دوهم پوړ ته وختم، هلته چي ګورم سړي او غوایي ګډ وډ د مسجد په دوهم پوړ کي ولاړ دي، حیران شوم، بېرته په منډه لاندي پوړ ته راکښته شوم، ګورم چي دا ځل په لاندي پوړ کي هم انسانان او غوایي سره ولاړ دي، د لمانځه او امام هیڅ درک نه لګېږي.

سهار چي له خوب راپاځېدم، خبر وم چي مولوي الف ګل صاحب په پېښور کي دئ، د هغه خوا ته ورغلم او خوب مي ورته تېر کړ. هغه وویل: الله تعالی دي رحم وکړي، د جهاد حالت ګډ وډ دئ، هر څوک پکي ننوتلي دي، ښه او بد سره ګډ شوي او د جهاد اهداف او شرائطو ته پام نه کېږي. کېدی شي چي پاک ځایونه بدو خلکو ته پاته شي او ښه خلک له پاکو ځایونو (جبهو) ووځي!!

که ځیر شئ نو وبه ګورئ چي دا تعبیر نه دقیق دئ او نه د خوب له ټولو برخو سره اړخ لګوي، دقیق تعبیر ئې داسي برېښي: جومات یعني د مسلمانانو یوه ټولنه، ښایي دلته به کوم خاص تنظیم افاده کوي، په غالب ګمان سره ښایي د دې تنظیم دفتر به هغه وخت په ګلبهار کي وو، د جومات لوړ پوړ یعني د دوی لوړ پوړي چارواکي او مشران، د جومات لاندي منزل یعني د دوی د عامو وګړو مقام، په لوړ پوړ کي انسانان او څاروي یو ځای لیدل یعني یو مختلط ټولی چي ځیني مشران او لوړ پوړي ئې له معنوي او اخلاقي پلوه د څارویو په څېر دي، ورپسې د لاندي پوړ خلک د پورتني په څېر ګډ وډ لیدل یعني عام افراد ئې هم له لوړ پوړو متأثر شوي او د دوی په څېر شوي، د لمانځه او امام نشتوالی یعني په دې ټولي کي نه سم نظم شته او نه صالح زعامت. د معبر اشتباه دا ده چي د پېښور یو جومات ئې د افغانستان د ټولو خلکو جماعت تعبیر کړی، په داسي حال کي چي نه د پېښور یو عادي جومات د ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library
افغانستان په معنی تعبیرولی شو او نه د ټولو افغاني تنظیمونو په معنی، برسېره پر دې په خوب کې د تعبیر دغو برخو ته هیڅ مدرک نه مومو: د جهاد حالت ګډ وډ دئ، هر څوک پکې ننوتلي دي، ښه او بد سره ګډ شوي او د جهاد اهداف او شرائطو ته پام نه کېږي. مخصوصاً دا برخه ئې د خوب له هیڅ برخې سره ارتباط نه لري: کېدی شي چې پاک ځایونه بدو خلکو ته پاته شي او ښه خلک له پاکو ځایونو (جبهو) ووځي!!

د انګرېزانو خلاف جهاد ته بلنه

راشئ د یوه بل افغان دې ته ورته خوب هم له نظره تېر کړئ:

محترم ورور محمد دین د محمداګل زوی ما ته په خپل لیک کې خپل عجیب خوب لیکلی، د ده پلار د روسانو په ضد د جهاد په دوران کې د بلخ په ولایت کې د حزب اسلامي معروف قومندان وو، د هجرت په کلونو کې ئې کورنۍ د پاکستان په مانسهره کې اوسېدله، تر نن پوري همدلته اوسېږي، نږدې دوه ویشت کاله وړاندې په ۱۹۹۰م کال کې او هغه مهال چې لا امریکایانو پر افغانستان برید نه وو کړی داسې خوب ئې لیدلی:

د پاکستان په مانسهره ښار کې یو جامع مسجد چې د کالج مسجد په نامه یادېږي، یو سپین ږیری سړی په لوړ غږ وایي: مسلمانانو! جهاد ته راشئ. د ده مخاطبین صرف افغانان وي، غږ ئې دومره لوړ چې نږدې وي د غوږ پردې وشلوي. وایي: راشئ جهاد وکړئ، اوس انګرېزان راغلي دي. پدې وخت کې زما پلار محمداګل راشي او د ده خوا ته ودرېږي او په دې دعوت کې ورسره هم غږی شي. کله چې خلک جهاد ته تیار شي نو زما پلار ورته ووایي: جهاد ته تر تګ مخکې پدې ویالې کې (چې د مسجد خوا کې بهېږي) اودس وکړئ، کله چې خلک د اودس لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویالې ته ورشي اوبه ئې ټینګي او خړي ومومي، زما پلار ته شکایت وکړي، هغه ورته ووایي: بسم الله ووایئ او اودس شروع کړئ. کله چې خلک همداسي وکړي نو اوبه صفا شي. کله چې له اودس فارغ شو نو د لمانځه لپاره په کابل کي د پل خشتي جامع جومات ته ننوځو، (د مانسهرې جومات خپله بڼه بدله کړې)، پداسي حال کي چې دا مسجد یو منزل لري خو په خوب کي ئې دوه منزله وګورو، ټول خلک لاندي منزل ته لاړ شي، زه (خوب لیدونکی) دوهم منزل ته وخېژم. کله چې له لمانځه فارغ شم په محراب کي یو سپین ږیری سړی وګورم چې په زولنو تړلی ناست دئ او ډېره هیبتناکه څېره لري. د مسجد د محراب ښي او کیڼ لوري ته د حکمتیار صاحب درې درې عکسونه لګېدلي وي. زه له دې په زولنو تړلي شخص پوښتنه وکړم چې په مسجد کي دا عکسونه ولي لګېدلي دي، دا مسجد دئ او که بت خانه؟ هغه راته متوجه شي او په ځواب کي تر څه ویلو وړاندي عکس ته اشاره وکړي او بیا ووایي: دا سړی پیژنې، دا څوک دئ؟ زه ورته ووایم: هو؛ پیژنم ئې، پلار مي د دې تنظیم قومندان او زه د دې تنظیم غړی یم. دا همغه څوک دئ چې ده او رباني په خپل منځیو جګړو کي کابل وران کړو، هغه په ځواب کي راته ووایي: نه بچیه داسي نه ده، بلکي غنم او وربشي سره ګډي شوې دي، دا سره جلا کېږي. بیا ګورم چې دې سړي غنم او وربشي په یوه غلبېل کي واچول او هغه ئې وخوځاوو، غنم لاندي ولوېدل او وربشي په غلبېل کي پاته شوې، بیا ئې وویل: داسي به سره جلا کېږي. بیا ئې د حکمتیار صاحب عکس ته اشاره وکړه او وئې ویل: موږ دې سړي ته اوه ځلي ملا ورتړلې ده، له دې جنګ وروسته به له یوه بل جنګ سره مخامخ کېږو، څومره رهبران چې اوس موجود دي دا به ټول له مخالفینو سره یو ځای کېږي، صرف د دې عکس والا سړی به میدان ته ووځي او فتح او بریا به هم له ده سره ملګرې وي، درې

(c) ketabton.com: The Digital Library
سوه شپیته ۳۶۰ مخلص مجاهدین به پاته کېږي، زه ورته ووایم: اوس خو یوازي له مورږ سره په یوه جبهه کي دوه سوه مجاهدین دي، د ټولو مجاهدینو تعداد خو ډېر زیات دئ!! هغه خپل لاس راته ښکاره کړ، لاس ئې د تلویزیون د مخ په شان وو او انځورونه په کي ښکاره کېدل، هغه رهبران چي ده ورته اشاره کړې وه په داسي بڼې کي وګورم چي سرونه ئې د انسانانو او تنې ئې د څارویو په څېر وي، بیا ئې مجاهدین ښکاره کړل چي د هغوی له ډلي یوازي ۱۶۰ مخلص مجاهدین پاته شول، د نورو انځورونه هم د دغو مشرانو په څېر ول، سپین ږیري راته وویل: دا تعداد به ۳۶۰ مجاهدینو ته رسېږي او فتح او نصرت به د همدوی په برخه شي.

دا خوب څو مهمي او د پام وړ برخي لري: د انګرېزانو او امریکایانو تر برید نږدې لس کاله وړاندي لیدل شوی، خوب لیدونکي همغه مهال په خوب کي لیدلي چي د انګرېزانو په ضد جهاد ته بلنه ورکول کېږي او عملاً ئې دا حالت لس کاله وروسته په ویښه ولید او د خوب وړاند لیدنه ئې ترسره شوه. د اوداسه لپاره صفا اوبه نه موندل هغه حالت ښیي چي د امریکایانو په ضد د جهاد په پیل کي مجاهدینو د جهاد لپاره ضروري امکانات او وسائل نه درلودل، د بسم الله په ویلو سره خړې اوبه صفا کېدل ښیي چي د الله تعالی په نامه به جهاد پیل شي او الله تعالی به ضروري امکانات ورته برابر کړي، عملاً همداسي وشول، په خوب کي د مانسهرې جومات د پل خشتي جومات په بڼې کي اوښتل ښیي چي ځیني مهاجر مجاهدین به له هېواد بهر د جهاد پرېکړه وکړي او د جهاد لمن به ئې کابل ته وغزېږي، د خوب دا برخه هم رښتینې شوه، د پل خشتي جومات په دوه پوړه کي لیدل او د پورتني پوړ په محراب کي په زولنو تړلی سپین ږیری هیبتناک سړی یعني د جنګ د سنګر (محراب) یو داسي باوقار سپین ږیری مشر چي اسلام ته التزام لري (د محراب لغوي معنی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرب ځای او سنگر دئ، په زولنو تړلی یا دا مطلب افاده کوی چي هغه ضوابطو ته التزام لري او یا دا چي هغه به له محدودیتونو سره مخامخ وي، له هر لوري به محاصره شوی وي او په خلاص لاس به د کار کولو فرصت او امکانات نه لري، ښایي تعبیر به ئې د شهید اسامه د هغه عرب ملګري د خوب په څېر وي چي امام مهدي ئې په داسي حال کي لیدلی چي لاسونه ئې په پړي تړل شوي او خلکو پر تخت ولاړ پر خپلو اوږو لوړ وړلو، تفصیل ئې په خوب کي د مهدي لیدل عنوان لاندي وګورئ)، په جومات کي د چا عکسونه یعني په جومات کي د ده اغېز، اوه ځلي د نېکانو له لوري د چا ملا تړل یعني د مبارزې په اوو بېلو بېلو مرحلو او سنګرونو کي له ده سره د نېکانو ملګرتیا او ملاتړ، د څاروي په بڼې کي د چا سر یا تنه لیدل یعني په فکري، معنوي او اخلاقي لحاظ د چا انحطاط او سقوط.

د شهید موحد خوب

ځیني خوبونه ډېر واضح او څرګند وي او په هغه کي هیڅ ډول رمز، کنایه او تشبیه نه وي کارول شوې، دلته ئې دوه بېلګي ستاسو مخي ته ږدم: قاضي صاحب عبدالحی فقیري چي خپل ټول عمر ئې په دیني زده کړې، دعوت او جهاد کي تېر کړی، د یوه خوب په اړه داسي راته لیکلي: په ۱۳۶۵ کال کي له شهید موحد سره یو ځای د محصلینو د دېرش کسیز ټولګي په ډلي کي په عملي جهاد کي د برخي اخیستلو په نیت د هرات ولایت ته ولاړم، هغه مهال شهید موحد د محصلینو د تنظیم مدیر وو او زه ئې یو ښاګرد، د دو آب جبهې ته ورسېدلو، څه موده هلته پاته شوو، یوه ورځ او له هغه وروسته چي د سحر لمونځ مو د شهید موحد په امامت کي اداء کړ، هغه له دعاء وروسته وویل: "تېره شپه مي خوب ولید چي الله تعالی زوی راکړی، پلار مي پر هغه د اسمعیل نوم اېښی، کین لاس ئې داسي دئ لکه تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټ"، ما دا نېټه له ځان سره ولیکله، کله چې پېښور ته ستون شوم، د شهید موحد کور ته ولاړم، خبر شوم چې په همغه شپه د شهید موحد زوی پیدا شوی، کینې لاس ئې همغسي د ترلي موټ په څېر او پلار ئې د اسمعیل نوم ورته غوره کړی، د زېږېدو نېټه ئې همغه د ۱۳۶۵ کال د جوزا ۲۹ وه، اسمعیل موحد اوس د محصلینو په مدیریت کي د مدیر معاون دئ او کینې لاس ئې تراوسه همغسي دئ.

د شهید سید قطب رؤیا

شهید سید قطب په خپل کتاب (امریکا التي رأیت: هغه امریکا چې ما ولیدله) کي لیکلي: په امریکا کي وم، خوب مي ولید چې زما د خور له سترګي وینه بهېږي، کله چې له خوب راویښ شوم، مشوش وم، کور ته مي ټیلفون وکړ، پوښتنه مي وکړه، راته وویل شول چې همغه خور مي ناروغه وه، ډېرو ډاکټرانو ته ئې مراجعه کړې وه خو بیماري ئې نه وه تشخیص شوې، په پای کي او وروستۍ معاینې وښوده چې د هغې د سترګي په داخلي برخي کي یو شریان پرې شوی او له همدې کبله د وینې بهېدو په ستونزې مصاب شوې... شهید سید قطب د همدې خوب په ارتباط پوښتنه کوي: زه څنګه په دومره لرې واټن کي د خپلې خور له داسي ناروغۍ په دقیقه توګه خبر شوم چې په مصر کي ډاکټران د خپلو وسائلو په مټ نه پرې پوهېدل؟!!

د ابن قیم الجوزي له کتاب دوه خوبونه

د اسلامي نړۍ معروف او منلی عالم ابن قیم الجوزي د (الروح) په نامه جالب کتاب کي ګڼ شمېر داسي خوبونه راوړي چې د رؤیا په حقیقت د پوهېدو په اړه له هر څېړونکي سره ډېره مرسته کوي، دلته به دوه ستاسو مخې ته کښېږدم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عوف (رضي الله عنه) رؤيا

عن شهر بن حوشب أن الصعب بن جثامة وعوف ابن مالک کانا متآخيين قال صعب لعوف أی أخی أينا مات قبل صاحبه فليتراءا له قال أو يکون ذلک قال نعم فمات صعب فرآه عوف فيما يری النائم کأنه قد اتاه قال قلت أی أخی قال نعم قلت ما فعل بکم قال غفر لنا بعد المصائب قال ورأيت لمعة سوداء في عنقه قلت أی أخی ما هذا قال عشرة دنانير استسلفتها من فلان اليهودي فهن في قرني فأعطوه إياها وأعلم أن أی أخي انه لم يحدث في أهلی حدث بعد موتی إلا قد لحق بی خبره حتی هرة لنا ماتت منذ أيام واعلم أن بنتی تموت إلی ستة أيام فأستوصوا بها معروفا فلما أصبحت قلت إن في هذا لمعلما فأتيت أهله فقالوا مرحبا بعوف أهکذا تصنعون بترکة إخوانکم لم تقربنا منذ مات صعب قال فأتيت فأعتللت بما يعتل به الناس فنظرت إلی القرن فأنزلته فأنتثلت ما فيه فوجدت الصرة التي فيها الدنانير فبعثت بها إلی اليهودي فقلت هل کان لک علی صعب شيء قال رحم الله صعبا کان من خيار أصحاب رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم هی له قلت لتخبرني قال نعم اسلفته عشرة دنانير فنبذتها إليه قال هی والله بأعيانها قال قلت هذه واحدة، قال فقلت هل حدث فيکم حدث بعد موت صعب قالوا نعم حدث فينا کذا حدث قال قلت اذکروا قالوا نعم هرة ماتت منذ ايام فقلت هاتان اثنتان، قلت أين أبنة أخی قالوا تلعب فأتيت بها فمسستها فإذا هی محمومه فقلت استوصوا بها معروفا فماتت في ستة أيام

له شهر بن حوشب روايت دئ چي صعب بن جثامه (رضي الله عنه) او عوف بن مالک (رضي الله عنه) په خپلو منځونو کي ورورګلوي درلوده، صعب عوف ته وويل: اې وروره! که له موږ دواړو هر يوه تر خپل ورور وړاندي وفات شو نو هغه ته دي خوب وګوري، وئې ويل: آيا داسي هم کېدی شي؟ وئې ويل: هو؛ بيا صعب وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، او عوف په خوب کي هغه څه وليدل چي يو خوب ليدونکی ئې ګوري، داسي چي هغه ورته راغلی، وايي: هغه ته مي وويل: اې وروره! هغه وويل: بلي! ومي ويل: څه درسره وشول؟ وئې ويل: بخښنه راته وشوه خو له کړاوونو وروسته، وئې ويل: د هغه په غاړه کي مي يو تور ځلېدونکی وليد، ومي ويل: وروره! دا څه دئ؟ وئې ويل: دا هغه لس ديناروونه دي چي له فلاني يهودي مي په پور اخيستي وو، چي هغه مي په يوه ښکر کي اېښي، هغه ته ئې ورکړه، او په دې پوه شه وروره چي زما په تېر کي زما له مړيني وروسته داسي څه نه دي شوي چي ما ته ئې خبر نه وي رارسېدلی، حتی دا چي زموږ يوه پيشو څو ورځي وړاندي مړه شوه، او پوه شه چي زما لور به په شپږو ورځو کي وفات شي، د هغې په اړه په ښه توګه پام او سپارښتنه وکړه، نو کله چي له خوب راويښ شوم ومي ويل: په دې کي حتماً کومه نښه او علامه شته، نو د ده کورنۍ ته ورغلم، هغوی وويل: عوف ته دي ښه راغلی وي، آيا د خپلو ورونو له پاته شونو سره همداسي کوئ؟! له هغي ورځي چي صعب مړ شوی موږ ته رانږدې شوی نه يې، وئې ويل: داسي عذر مي وړاندي کړ چي معمولاً ئې خلک وړاندي کوي، بيا مي هغه ښکر ته وکتل او راکوز مي کړ، هغه څه مي ترې راوايست چي په هغه کي وو، هغه غوټه مي ترې وايستله چي هغه ديناروونه په کي ول، هغه يهودي ته مي وروړل، ومي ويل: آيا پر صعب دي کوم حق وو؟ وئې ويل: پر صعب دي الله تعالی رحم وکړي، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له غوره يارانو وو، هغه دي د ده وي، ومي ويل: حتماً به مي خبروې، وئې ويل: هو، هغه ته مي لس ديناروونه په پور ورکړي وو، نو هغه مي وروغورځول، هغه وويل: پر خدای قسم چي دا په خپله همغه ديناروونه دي!! وايي: له ځان سره مي وويل: دا ئې يوه نښه، وايي: دوی ته مي وويل: آيا د صعب له مړيني وروسته کومه پېښه رامنځته شوې؟ وئې ويل: هو، دا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پېښي شوې، ومي ويل: يادي ئې کړئ، وئې ويل: څو ورځې وړاندي مو يوه پېښه هم مړه شوه، له ځان سره مي وويل: دا ئې دوه نښي، ومي ويل: زما وربره چېري ده؟ وئې ويل: لوبي کوي، رائې وستله، لاس مي پرې راکښ کړ، که ګورم چي هغه تبه لري، ومي ويل: په ښه توګه هغې ته پام کوئ، بيا (همغسي لکه چي صعب په خوب کي راته ويلي وو) په شپږو ورځو کي وفات شوه.

د ثابت بن قيس (رضي الله عنه) اړوند رؤيا

عن عطاء الخراساني قال حدثتني ابنة ثابت بن قيس بن شماس... فلما كان يوم اليمامة خرج (ثابت بن قيس) مع خالد بن الوليد إلى مسيلمة فلما التقوا وأنكشفوا قال ثابت وسالم مولى أبي حذيفة ما هكذا كنا نقاتل مع رسول الله ثم حفر كل واحد له حفرة فثبتا وقاتلا حتى قتلا وعلى ثابت يومئذ ذرع له نفيسة فمر به رجل من المسلمين فأخذها فبينما رجل من المسلمين نائم إذ أتاه ثابت في منامه فقال له أوصيک بوصية فاياک أن تقول هذا حلم فتضعيه إني لما قتلت أمس مربى رجل من المسلمين فأخذ ذرعى ومنزلة في أقصي الناس وعند خبائه فرس... وقد كفا على الدرع برمة وفوق البرمة رجل فأت خالدا فمره أن يبعث إلى درعى فيأخذها وإذا قدمت المدينة على الخليفة رسول الله يعني أبا بكر الصديق فقل له أن على من الدين كذا وكذا وفلان من رقيقى عتيق وفلان فأتي الرجل خالدا فأخبره فبعث إلى الدرع فأتي بها وحدث أبا بكر برؤياه فأجاز وصيته قال ولا نعلم أحدا أجيزت وصيته بعد موته غير ثابت بن قيس رحمه الله

له عطاء الخراساني روايت دئ چي د ثابت بن قيس بن شماس لور راته وويل: هغه وخت چي د يمامه جګړي ورځ وه، ثابت بن قيس له خالد (رضي الله عنه) سره د مسيلمة په لوري ووتل، کله چي سره مخامخ او يو بل ته ځرګند شول نو ثابت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سالم (د ابوحذیفه آزاد کړی شوی مریي) وویل: موږ به له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یو ځای داسي نه جنګېدلو، بیا هر یوه ځان ته مورچله وکیندله او په کي ثابت قدم پاته شول او تر هغه وجنګېدل چي ووژل شول، په دې ورځ ثابت (رضي الله عنه) داسي زغره اغوستې وه چي ښکلې او قیمتي وه، د مسلمانانو له ډلي یو کس د ده خوا ته تېر شو، نو هغه زغره ئې واخیستله، بیا د مسلمانانو له ډلي یوه کس ته په داسي حال کي چي ویده وو؛ ثابت هغه ته په خوب کي راڅرګند شو او ورته وئې ویل: د یوه وصیت سپارښتنه درته کوم، خو پام چي هغه خیالي خوب ونه بولې او ضائع ئې نه کړې، کله چي زه پرون ووژل شوم نو د مسلمانانو له ډلي یو تن زما له خوا تېر شو او زما زغره ئې واخیستله، تر ټولو لري خلکو کي ئې اړولي، د خیمې خوا ته ئې آس دئ،.... پر زغري ئې د پېرې ځولۍ غوړولې، او له پاسه ئې هغه سړی (ناست) دئ، خالد (رضي الله عنه) ته ورشه وئې ګماره چي څوک ولېږي او زما زغره ترلاسه کړي، او کله چي ته مدینې ته ستون شې او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خلیفه یعني أبوبکر (رضي الله عنه) سره مخامخ شې نو هغه ته ووایه: پر ما دا دا پوروونه دي، او فلانی فلانی مریی مي آزاد دئ، نو هغه کس خالد (رضي الله عنه) ته ورغی او خبر ئې کړ، بیا هغه څوک ولېږو او هغه زغره ئې راوړه، او ابوبکر (رضي الله عنه) ته ئې خپل خوب تېر کړ، هغه اجازه ورکړه چي وصیت ئې عملي شي، وایي: له ثابت بن قیس رحمه الله پرته بل داسي څوک نه پېژنو چي وصیت ئې له مړیني وروسته مجاز او معتبر ګڼل شوی وي.

د اوزبک مجاهدینو مشر قاري طاهرجان یولداش خوب

هغه مهال چي طاهرجان یولداش په وزیرستان کي اوسېدو او ګڼ شمېر اوزبک مجاهدین د ده په څنګ کي د صلیبي ځواکونو په ضد په جهاد بوخت وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب ئې ليدلی، مولوی شمس الحق ته ئې ليکلی او له هغه ئې غوښتي چي ما ته ئې راولېږي، او هغه د يوه ليک په ضمن کي ما ته رارسولی. د متن بشپړ ژباړه ئې دا ده: "په خپلو سترگو مي ليدل چي لمر راخيژي، د آسمان رنگ شين او روښان وو، زمکه ورو ورو د لمر وړانگو روښانه او ښايسته کوله، له خپل ځای پاځېدم، يوازي وم، خپله وسله مي راواخيسته، غوښتل مي د مخامخ لوړ غره لوړي څوکي ته وخېژم، شاوخوا ته مي وکتل، فضاء آرامه وه، په خاص جرأت او توانمنۍ سره د غره له لمنو لوړ ولاړم، کله چي د غره څوکي ته نږدې شوم په داسي چا مي سترگي ولگېدلې چي تر ما وړاندي ئې دا څوکه تسخير کړې ده، حيران شوم چي دا څوک دئ او څنگه تر ما وړاندي شوی، همداسي پورته ولاړم، کله چي ورنږدې شوم يو کس چي توري جامې ئې اغوستې دي زما لوري ته گوري، په داسي حال کي چي په ښي لاس کي ئې وسله او په کيڼ لاس کي ئې يو لرگی دئ چي بيرغ ته ورته شنه ټوټه پرې ځوړنده ده، ورته ځير شوم، هغه بيرغ چي د ده په لاس کي وو يوازي يوه شنه ټوټه ترې پاته وه، په واضح توگه معلومېده چي په سر کي دا يو لوی بيرغ وو خو د پېښو او وخت تېرېدو له کبله ووړ شوی، څېرې ته ئې ځير شوم، ښه مي وپېژندو چي حکمتيار صاحب دئ، هغه هم زما لوري ته په داسي حال کي کتل چي موسکی وو، ما ترې وپوښتل چي اې ستر انسانه! ته دلته څه کوې؟ هغه وويل: له اوږدې مودې راايسي په لوړو څوکو گرځم، او ساتنه ئې کوم، مگر خبر نه يې چي وطن راته تنگ شوی، له دغو لوړو پرته بل ځای نه لرم، زما د هېواد ښارونه او آبادي د يهودو او نصاراوو په لاس پرېوتي، بيا ئې ما ته وويل: قاري صاحب! ته دلته څه کوې؟ ومي ويل: زه هم له همدې هوډ او تصميم سره راوتلی يم، خو ډېر وروسته راورسېدم، په سر کي مي داسي انگېرله چي له ما پرته به بل څوک دلته راونه رسېږي، خو پر خپلي اشتباه پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library
شوم، او یقین مي حاصل شو چي تاسو تر ما ډېر مخکي یئ، بیا مو مصافحه وکړه، پوښتنه مي ترې وکړه چي کله دلته رارسېدلی یې؟ وئې ویل: له اوږدې مودې رااېسي پر دغو څوکو ژوند کوم، شپه او ورځ ویښ یم، د دې لپاره چي دښمن زما پر هېواد مسلط نشي، بیا مي وپوښتو: بیرغ دي ولي دومره وړ دئ؟ وئې ویل: په سر کي داسي نه وو، د وخت په تېرېدو سره او د ناخوالو پېښو له کبله زوړ او وړ شو، او زه هم یوازي پاته شوی یم، بیا ئې آسویلی وایستلو، ما ورته وویل: انجنیر صاحب! ما ته ثابته شوه چي د یوه هدف لپاره دغه ستر غره ته راپورته شوي یو، پر الله تعالی قسم چي تر شهادت پوري به له خپلي لاري په شا نشم، او تا به یوازي پرې نږدم، خو یوه هیله لرم او هغه دا چي د الله تعالی لپاره او د هغه د رضاء په موخه په کامل محبت او اخلاص سره له امیرالمؤمنین سره بیعت وکړه، ما ملاصاحب ته ویلي: حکمتیار صاحب ستا د نیابت لپاره وړ دئ، بل څوک د دې مسئولیت وړتیا او توان نه لري، یوازي له ده سره ښایي او بس، هغه زما وړاندیز تائید کړی، نو اې دروند مشره! لطفاً د الله تعالی د رضاء لپاره د جهاد ډګر او د مسلمانانو د وحدت په صف کي داخل شه، د هغو په صف کي چي ستا انتظار کوي، حکمتیار صاحب زه په خپلي غېږ کي کلک ونیولم او په یوه خوځولو سره ئې له خوب راویښ کړم. سبحان الله و بحمده سبحان الله العظیم."

که څه هم د قاري صاحب د خوب ډېری برخي ډېري واضح دي، خو څو وضاحتونه ضروري برېښي: بیرغ د یوې ډلي نښه ده، زوړوالی ئې د ډلي اوږده سابقه تمثیلوي، د غره لوړه څوکه یعني جهاد، دا ځکه چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) جهاد د اسلام له لوړي څوکي سره تشبیه کړی، توره جامه د جهاد جامه ده، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کله کله د جهاد لپاره توره پګړی او تور بیرغ کارولی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاري صاحب داسي انګېرله چي په جهاد کي به تر نورو وړاندي شي، خو په خوب کي هغه ته لاربښوونه شوې چي حزب اسلامي تر ده او ډلي ئې وړاندي دئ، هغه له ملاعمر سره د بيعت هيله څرګنده کړې، (دا ځکه چي دی د ځينو نورو بهرنيو مجاهدينو په شمول له ملاعمر سره بيعت ته اړ شوي وو)، د ده دا وينا چي حکمتيار صاحب زه په خپلي غېږ کي کلک ونيولم؛ ښيي چي زه د جهاد او د مسلمانانو د يووالي لپاره داسي کار ته هم چمتو يم. بايد ووايم: د الله تعالی په نامه لوړه کوم چي زه د اسلام لپاره هري قربانۍ ته چمتو يم، د سر، مال او اولاد قربانۍ ته، له امارت تېرېدل او د بل چا امارت منل خو پرېږدئ که زما په وينو د اسلام بڼ سمسورېدی شي نو خپل رب ته مي دعاء دا ده چي زما او زما د اولادويني دي د دې بڼ د خړوبولو لپاره توی شي، ما د کعبې خوا ته او د طواف په حال کي خپل رب ته دعاء کړې چي اسلامي امت ته داسي صالح قيادت ورپه برخه کړې چي د دې مظلوم امت تېر مجد او عظمت اعاده کړي، د قيادت هغه وړتياوي ولري چي ته ئې د مسلمانانو د مشرتابه لپاره غوره ګڼې، او ما ته د دې توفيق راکړې چي د دې زعيم په خوا کي او د ده د مطيع او مخلص سپاهي په توګه عمل وکړم، باور وکړئ که داسي زعيم ومومم نو زه به له ځنډ پرته بيعت ورسره کوم او د هر چا په وړاندي به له هغه دفاع کوم. باور وکړئ چي زه تر سياسي کار فکري او فرهنګي کار ته ترجيح ورکوم، دې ته تل چمتو وم او يم چي له سياسي کارونو ځان فارغ کړم او خپل پاته ژوند د دعوت کارونو ته مختص کړم.

د انجنير صاحب نصير خوب

د روژې په لمړۍ ورځ مي خوب وليد، له راويښېدو وروسته مي ګمان وکاوو چي ښايي د دې خوب به ستاسو د اوسېدو د ځای او امنيت له موضوع سره څه تړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library
وي، زه ئې په تعبير نه پوهېدم نو ځکه مي دا خوب ستاسو خدمت ته وليکلو، خوب داسي وو:

زه په يوه ډېر ښکلي او لوی مسجد کي د ماسپښين لمانځه لپاره د خپلي توقع خلاف په ډېر لوړ او ښکلي غږ آذان کوم، په مسجد کي شته خلک زما د آذان ډېر استقبال او صفت کوي، له آذان وروسته استاد جمعه خان نورستاني زما خوا ته راشي او د آذان په خاطر ما ډېر تحسين کړي، مونږ دواړه د مسجد يوې خوا ته لاړ شو، هلته زه گورم څه خلک د جماعت تر لمانځه مخکي د مسجد په يوې خوا کي صفونه جوړوي او غواړي په خپلو کي په جماعت سره لمونځ وکړي، زه هغوی ته ووايم: د جماعت لمانځه ته وخت پاته دئ، تر وخت مخکي لمونځ مه کوئ، هغوی بېرته خپل صفونه وران کړي، زه او استاد جمعه خان په نفل لمانځه ودرېږو ، استاد تر ما لږ شا ته او چپ لوري ته په لمانځه ودرېږي.

وروسته له تاسو سره مخامخ شم، تاسي په ډېره مينه راسره روغبړ وکوئ، زه مو د ولو سر ښکلوم او تاسي زما په سټ لاس تېروئ او بيا په يوې خوني کي ستاسو مخته ناست يم، زما کشر ورور او يو بل کس هم په خوني کي وي، (زما کشر ورور په اسلام آباد پوهنتون کي محصل دئ، هغه اوس له تفسير څانگي ماسټري ترلاسه کړه)، زه خپل ورور په همدې تعارف چي په اسلام آباد کي محصل دئ تاسو ته معرفي کړم، زه له تاسو سره او زما ورور له هغه بل کس سره په خبرو شوو.

بيا د خوني پر ځای د غرونو په منځ کي په يوې ښکلې او آزاده فضاء کي همدا څلور کسان ولاړ يو، فضاء داسي ده لکه سهار وختي، دا سيمه چي تنگه دره ده او جگ جگ غرونه لري د پاکستان اړوند کومه سيمه ده، دلته مونږ څو ورځي پخوا کوم ښه عمليات ترسره کړي وي، تاسي ما ته د هغو عملياتو په وجه تحسين وايئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library
د عملیاتو د مؤثریت خبره کوئ، د خبرو په جریان کي راته وایئ چي د جون د لسمي له واقعي خبر شوې؟ زه ووایم نه، تاسي ووایئ چي زما د اوسېدو ځای ته (نود) راغلی وو، (زه گمان وکړم چي دا به د لغمان مربوط هغه پخوانی مجاهد وي چي د گړوچ سیمي اوسېدونکی دئ، ما په تگاب کي هغه محال لیدلی وو چې د شهید احمدي خوا ته راغلی وو او ویل ئې چي په روان جهاد کي برخه اخلم، احمدي شهید په هغه وخت کي څه لارښووني ورته وکړې او څه کارونه ئې وروسپارل، خو وروسته هغه اربکی شو، په سیمه کي د حزب اسلامي یوه مخلص مجاهد قومندان شیر او د هغه مجاهدینو ته ئې ډېر مشکلات راولاړ کړل، څو ځله زخمي شو، اوس حکومت د غلا او شوکو په جرم خلع سلاح کړی او په کور ناست دئ، خو اوس هم د امنیت ملی سره همکاري لري او د مجاهدینو سره کلکه دښمني پالي)، زه په ډېر تعجب پوښتنه وکوم چې (نود) څنگه ستاسو خوا ته راغلی وو؟ هغه ته چا دا ځای ورښودلی وو؟ د چا په تزکیې هغه ته اجازه ورکړل شوې وه؟ تاسو ووایئ: هغه په خپله راغلی وو، زما په لټه کي وو او مخامخ زما د اوسېدو ځای ته راغلی وو، له هغه سره جگي جگي وزې هم وې.

د همدې خبرو په جریان کي وو چې زه متوجه شم د غره په ډډه کي یو ډېر ښکلی کور دئ، ډېره ښکلې رڼا هم پکي ده، د دې کور د دوهم منزل له کړکۍ یوه غوا بهر ته په ټوپ وهلو سره ځان وغورځوي، لا په هوا کي وي چې زه له خوب را ویښ شوم.

هغه ته مي ولیکل:

ستا د خوب د بېلو بېلو برخو تعبیر داسي برېښي: ښکلی او ستر مسجد یعني ښه او ستر جماعت او حزب، په دوبي کي د ماسپښین وخت یعني د تودې مبارزې پړاو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې فضاء یعني ښه حالت، په ښکلي غږ سره آذان یعني د دعوت په چارو کي ښکلې او اغېزمنه ونډه، د یوه ټولي دا هڅه چي غواړي تر وخت وړاندي په ګډه لمونځ وکړي یعني د یوې ډلي بې وخته هڅه او له اصولو او اکثریت سره د دوی اختلاف او د بېلي ډلي جوړولو هڅه، ستا ممانعت یعني د داسي هڅي په مخنیوي کي ستا ونډه، د دوو نورو صحنو په لومړی کي تا ته خپل شخصي حالت او له ما سره د تړاو څرنګوالی تمثیل شوی او بلي کي د جهاد حالت چي سباوون ئې رانږدې شوی، ښایي ته به په پاکستان کي د کوم دښمن په خلاف موفق عملیات ترسره کړې او یا به د داسي عملیاتو منصوبه په پاکستان کي جوړه کړې. له نود مراد د ملي امنیت اړوند ریاست (۹۰) دئ، یا خو به ئې دا کار په تېر لسم جون کي کړی وي او زما ځای ته د راتلو هڅه به ئې کړې وي یا به ئې له دې وروسته وکړي، له جګو وزو ښایي داسي جاسوسان مراد وي چي اوږدې رږیري ئې هم پر مخ دي، د نود ریاست به دوی د دې کار لپاره استخدام او توظیف کړي وي. د غره په ډډه کي ښکلی روڼ کور هم د یوه ښکلي جماعت په معنی دئ، له دوهم پوړ ئې د یوې غوا راغورځېدل یعني د دې تنظیم له لوړ پوړو مسئولینو به یو بې عقل کس له معنوي او دیني پلوه سقوط وکړي.

د محصلینو اسلامي تنظیم پخواني ناظم ورور حماد خوب

د ۱۳۹۰/۸/۸ په شپه تر ویدېدلو وړاندي مي فکر وکړ چي کاش نن خو رسول الله صلی الله علیه و سلم په خوب کي ووینم، تر دې فکر وروسته مي درود ووایو او دعاء مي وکړه، او خپله هیله مي الله تعالی ته وړاندي کړه، د شپې خوب وینم چي لوړ ځای ته تللی یم، داسي احساسوم چي الله تعالی دلته دئ، زه د ډېر تعظیم لپاره کښته ګورم، مخ پر وړاندي روان یم، نا آشنا لاره وي، داسي احساسوم چي الله تعالی لوړ او تر ما مخکي دئ، څو قدمه وړاندي پورته وګورم، غټ پراخ دالان رنګه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library
وي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر لوړي عالي شأنه کرسۍ ناستووینم، لدې وروسته له خوب راویښ شم.

د خوب تعبیر:

هغه ته مي ولیکل: ستا د خوبونو په اړه دا عرائض لرم:

لومړی خوب دي داسي دئ: په خوب کي ځان په یوه لوړ ځای کي وینې، داسي احساسوې چي الله تعالی هم دلته حاضر دئ، له ډېر تعظیم کښته ګورې، مخ په وړاندي روان یې، لار درته ناآشنا برېښي، انګېرنه دي دا ده چي الله تعالی لوړ او تر تا وړاندي دئ، څو قدمه مخکي پورته وګورې، غټ، پراخ دالان ته ورته ځای وګورې، هلته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر لوړي او عالي شأنه کرسۍ ناست وي، په همدې حالت کي له خوب ویښ شوی یې. ستا خوب ډېر ښکلی او ښتینی خوب دئ، د بېلو بېلو برخو تعبیر ئې داسي دئ: انسان نشي کولی الله تعالی په دنیا کي، په خپلو سترګو په ویښه یا په خوب کي وګوري، په خوب کي لوړ تګ معنوي ارتقاء او لوړ تګ افاده کوي، په دې سفر کي الله تعالی درسره دئ، ته په معنوي لحاظ لوړ درومې او په هغه لار روان یې چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پرې لوړ تللی، زما سپارښتنه دا ده چي خپل هغه حالت حفظ کړه چي د خوب لیدلو پر مهال دي درلود، تا په ۱۳۹۰/۸/۸ دا خوب لیدلی وو، وګوره چي هغه مهال ستا فکري، عملي او اخلاقي وضعیت څنګه وو، همغه حالت حفظ کړه.

د حماد بل خوب:

د محصلینو اسلامي تنظیم کي د کار کولو په دوران کي یو ه شپه خوب وینم چي په مجلس کي ناست یم، دا مجلس داسي دئ لکه د محصلینو حلقه چي هر یو پکښي خپل فکر او نظر وړاندي کوي، د مجلس تعداد تر اوو اتو زیات نه وي، دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library
درې کسان په عمر کې مشران وي چې په دغو کې یو هم زما پلار وي، زموږ د ناستې ځای یوه تیاره خونه وي او د یوه کوچني څراغ (د تیل خاک څراغ) په واسطه روښانه شوې وي، موږ ټول ورباندې راټول او پر زمکه ناست یو؛ کوم لورې ته زه چې ناست یم تر هغه دوه درې متره شا ته د حزب اسلامي امیر حکمتیار صاحب پر یوه کرسۍ ناست وي، زموږ له مجلس وتلی وي، داسې معلومېږي لکه چې زموږ څارنه کوي، توره ږیره او توره خولې ئې پر سر وي، زه چې کله د ده لورې ته وګوم دئ زموږ طرف ته ګوري، په څېرې کې ئې خوښي بریښي، زموږ د مجلس په لیدلو خوشحال وي، وروسته وروسته مخ راواړوم او مجلس ته دوام ورکړم، زه په همدې دوران کې یو جهادي شعر وولیم چې ما خپله جوړ کړی وي، زما تر شعر وروسته یو بل نا آشنا ځوان وولیي: اوس به نو یو څو سندرې وولیو، که ګورم چې په لاس کې ئې تمبور هم دئ، موږ ټول چوپ یو، د ده د خبرې په ځواب کې محترم حکمتیار صاحب په درانه آواز وولیي: موږ خو څه بزدلان (ډارن) نه یو سره راټول شوي، زه دا ځل بیا د ده طرف ته وګورم، ده زموږ مجلس ته شاه راګرځولې وي او په مستقیم خط ئې زموږ له مجلس مخ اړولی وي، په همدې کې له خوبه راویښ شم. ۱۳۹۱

هغه ته مې ولیکل: ستا د دوهم خوب تعبیر دا دئ: په مجلس کې تته رڼا او وړو څراغ یعني د هدایت تته وړمه، جهادي اشعار پر خپل ځای او وخت کې ګټور دي خو اشعار اکثراً په سندرو او حتی سرود او موسیقي منتج کېږي، هغه وګړي دې ته پناه وړي چې له حق د دفاع جرأت او همت نه لري، په خوب کې ستا له جهادي شعر وروسته د مجلس د یوه غړي له لورې دا وړاندیز چې اوس به څو سندرې وولیو او ته ګورې چې د هغه په لاس کې تمبور ده، همدا مطلب افاده کوي، ستاسو د غونډې په لومړني حالت زما رضایت او پر دوهم حالت زما خفګان او مخ اړول یعني ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library
لومړی حالت د تأیید وړ او دوهم حالت د تردید وړ وو.

د حماد بل خوب:

خوب وینم چي یوه غونډه ماته شوي وي، ګنه ګوڼه وي، خلک د تلو په حال کي وي، زه د ماته شوې غونډي په انګړ کي ولاړ یم، د غونډي ستېج د میدان شمال طرف کي ځای پر ځای شوی وي، ناڅاپي احساس کړم چي دا خو د حزب اسلامي غونډه وه او حکمتیار صاحب خپله وینا پای ته رسولې او لدې ځای تللی دئ، که ګورم ځیني خلک پر موټر سایکلو د سپرېدو په حال کي دي او د تللو تیاری کوي، وروسته چي مي د دوي موټر سایکلو ته ام شي د هغوی پر ټانکیو د حزب اسلامي بیرغونه ووینم، داسي لکه چي د کمپنۍ ته آرډر پرې ټاپه شوی وي، یا لکه د کمپنۍ خپله ټاپه، سپرو پر سرونو داسي توري کڅوړي اغوستې وي چي یوازي د دوی سترګي ترې معلومېږي، بیا ناڅاپي ټول میدان خالي شي، فضاء ارامه او چوپه چوپتیا خوره شي، داسي لکه چي دا د غونډي میدانی چي یوه غرنۍ دښته شي، زه شا ته وګورم، د قبلې لوري ته څلور نفر په نظر راشي چي د دریو کالي تور او د څلورم ئې سپین وي، د څلورم ږیره سپینه، وروځي سپیني او مخ ئې داسي سپین وي لکه د پیس په مرض اخته انسان، هغه نور درې له ده لږ لري خواره ولاړ وي، ښي او کیڼ لوري او شا ته ئې، دی زما خوا ته ګوري، د ډېر ضعف او کمزورۍ په حالت کي، زه ور نږدې شم، دی په خپل جېب لاس ننباسي، لس یا شل روپۍ راوباسي او ما ته ئې راکړي، دا لوټ ګونځي ګونځي وي، د ده ډېر غربت ترې جوتېدو، کله چي ورته ځیر شم نو وئې پېژنم چي دا خو د طالبانو امیر ملا محمد عمر دئ، شا ته ئې یو کوچنی غر ووینم او په هغه کي یوه غټه سوړه (لوي غار) وي، بیا داسي احساس کړم چي دی په همدې غار کي خپلي شپې ورځي سبا کوي، په همدي کي له خوب راویښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم.۱۳۹۲

هغه ته مي ولیکل:

د دريیم خوب تعبیر څرګند دئ؛ د حزب د غونډي په میدان کي د خلکو ګڼه ګونه، پر موټرسیکلو سپاره او پر سرونو ئې داسي تور نقابونه چي یوازي سترګي ئې ښکاري او بیا په میدان کي سکوت او آرامي او د غرنۍ بیدیا په بڼي کي ئې لیدل؛ دا مطالب افاده کوي: اسلامي تحریک د حزب په لاس پیل شوی، لومړی په آوارو او ښارونو کي او بیا ئې لمن لوړو او غرونو ته پراخه شوې، یو پړاو ئې سري مبارزه وه، پر موټر سیکلو سپاره نقاب لرونکي همدا مطلب په ګوته کوي، بیا په هغه میدان کي چي د حزب اسلامي غونډه په کي جوړه شوې وه د ځلورو وګړو راڅرګندېدل هغه ځلور ډلي تمثیلوي چي وروسته په همدې میدان کي راڅرګندي شوې، د دریو جامې توري او د ځلورمي سپیني دي، توري ئې په بشپړه توګه توري او منحرفي ډلي او سپینه ئې له فکري او عملي پلوه په ضعف او بیمارۍ اخته ډله، تا ځلورم کس داسي لیدلی چي رېږه او وروځې ئې سپیني او مخ ئې هم داسي لکه پیس، او حالت ئې د غربت، دا ډله د خپل مشر په بڼي کي تمثیل شوې، تا پېژندلی چي ملامحمد عمر دئ، ستا په خوب کي د ده حالت او موقعیت د ده وضعیت تمثیلوي، ښایي داسي حالت پرې راشي چي له غربت او تجرید سره به مخامخ وي.

د قاري صاحب سلیمان خوب

قاري صاحب سلیمان د شهید پریزاد زوی، د تګاب اوسېدونکي دولس کاله وړاندي دا خوب لیدلی: خوب ګورم چي حکمتیار صاحب مي په کار وي، خو څوک نه وي د ده په ترې وپوښتم، ناڅاپه انجینر صاحب عبدالسلام په نظر راشي، زه له

(c) ketabton.com: The Digital Library
هغه پوښتنه وکړم چي مشر چېري دئ؟ راتهووايي چي زما هم پکار دئ خو معلومات نلرم، له لږ څنډ وروسته حاجي صاحب کشمير خان او څه نور ملګري راښکاره شي، ګمان وکړم چي دا مشران چېري د ناستي اراده لري، ناڅاپه انجينر صاحب حکمتيار راشي، کله چه دوی د ناستي اراده وکړي زه هم ورسره کښينم، حکمتيار صاحب له ما پوښتنه وکړي چي قاري صاحب وايه څه مشکل دئ؟ کله چي زه خپله خبره ورته پيل کړم د يوه مجاهد غږ راشي او ووايي چي د امريکايانو چاپه ده او دې خوا ته راروان دي، تاسو بل ځای ته لاړ شئ، دا ځای مناسب نه دئ، سمدستي هغه مشران وروڼه هر يوه په يوه لوري لاړ شي، حکمتيار صاحب ما ته ووايي: قاري صاحب راځه. په همدې باغ کي روان شو، څه اندازه لاره ووهو، يو زوړ جيپ موټر مخي ته راشي چي رنګ ئې تللی او په ناسم حالت کي وي، لومړی حکمتيار صاحب او ورپسې زه ورننوځو، هلته کښېنو، هغه راته ووايي: قاري صاحب دا ځای مناسب ښکاري، بيا راته ووايي چي ايمان په تقدير لره او کار په تدبير کوه، وايه څه مشکل دئ؟ کله چي په دوهم ځل بيا زه خپله خبره ورته پيلوم نو د يوه مجاهد غږ راشي او د لومړي ځل په څېر خبر راوړي چي دا ځای مناسب نه دئ، تاسو بل خوا ته لاړ شئ، سمدسي د همدي جيپ موټر په تل کښي يوه کړکۍ يا دړه حکمتيار صاب پخپل لاس راخلاصه کړي او کښته ورکوز شي، زه هم ورکښته شم، ډېر لاندي لاړ شو، تر دې چي بيا يوه باغ ته ورسېږو، هلته هم شنې وني او چمن وي، کښينو، حکمتيار صاحب راته ووايي: إن شاء الله دا ځای مناسب دئ، وايه قاري صاحب څه مشکل دئ، ايمان په تقدير لره او کار په تدبير کوه. په دوهم ځل چه زه خبري کولو ته ځان چمتو کړم نو هماغه يا کوم بل مجاهد بيا هغه غږ وکړي او ووايي: حکمتيار صاحب دا ځای مناسب نه دئ، چاپه ډېره اوږده شوه، تاسو کوم بل

(c) ketabton.com: The Digital Library
ځای ته لاړ شئ، امریکایان دې خوا ته راروان دي. سمدستي روان شو، مخې ته مو یو غر راشي، حکمتیار صاب مخکې او زه ورپسې، په غره کې یو چاود یا سمڅه وي چې زموږ له مخې شروع او د غره بلې ډډې ته وتلې وي، ورننو چې مزل پکې وکړو، تر دې چې بل اړخ ته ورسېدو او له غره تېر شوو، هلته هم شنه باغونه او چمن وي، په یوه ځای کې کښېنو، بیا راته ووایې: قاري صاحب وایه څه مشکل دئ؟ ایمان په تقدیر لره او کار په تدبیر کوه، په وروستي ځل چې کله زه د خپلې خبرې شروع کول وغواړم نو ورور مې وخوځوي او راته ووایې: قاري صاحب پورته شه اودس وکړه، د سهار د لمانځه وخت دئ، په همدې سره راویښ شم.

قاري صاحب ته مې ولیکل: ستا د خوب په اړه دا عرائض لرم: تا دا خوب هغه مهال (دولس کاله وړاندې) لیدلی چې زه د امریکایي ځواکونو له لوري څو ځلې داسې تعقیب شوی یم لکه چې تا په خوب کې لیدلي، ستا په خوب کې د امریکایانو له لوري زما د تعقیب څو پړاوونه انځور شوي، لومړی پړاو ئې هغه چې زه له څو نورو مشرانو سره د حاجي صاحب کشمیرخان په خوا کې اوسېدم، له ده پرته د حزب نور مشران د انجنیر صاحب عبدالسلام په شمول نه پوهېدل چې زه چېرې اوسم، هملته پر ما لومړی راکټي برید وشو، بیا ئې زموږ شاوخوا د غرونو پر لوړو کوماندو ځواکونه پلي کړل، زه مجبور شوم هغه سیمه پرېږدم، هر ځل مې خپل ځای د ورونو په وینا او غوښتنه بدل کړی، همغسې لکه چې تا په خوب کې لیدلي، بل ځای ته ولاړم، زما ملګري هم ووتل، په نوي ځای کې هم امریکایي کوماندو ځواکونه زما د اوسېدو ځای ته راغلل، دومره نږدې چې هم مې دوی لیدل او هم مې د دوی ږغ اورېدو، هلته په داسې ځای کې اوسېدم چې له برې خونې لاندې ته د کوزېدو لپاره د کوټې په فرش کې پرته دړه وه چې په لاس به پورته پرانستل کېده، کټ مټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغسي چي تا په خوب کي د زوړ جيپ په تل کي هغه دړه ليدلې وه، زه د همدې دړې له لاري لاندي خوني ته کوز شوم او بل لوري ته مي سفر پيل کړ، په دې پړاو کي زه له دې سيمي بلي ته له يوه غره اوښتی يم، اوږد مزل وو، ډېر ستومانه شوم، دومره چي له تګ ولوېدم، په دې ټولو پړاوونو کي زما شعار همدا وو: ايمان په تقدير او کار په تدبير.

د قاري صاحب نقيب احمد خوب

قاري صاحب نقيب احمد د مرحوم داکتر صاحب همکار زوی؛ يو نيم کال مخکي دا خوب ليدلی او ما ته ئې ليکلی: په يوه لوی جومات کي خلک د لمانځه لپاره راټول شوي وي، فضاء آرامه وي، د جومات په داخل کي خلک په صفونو کي ناست او د امام راتګ ته منتظر وي، چي راشي او دوی لمونځ ورپسي وکړي، محراب خالي وي، ټول خلک لاندي د سجدې ځای ته ګوري، زه محراب ته مخامخ تقريبا شمال لوري ته په درېيم يا څلورم صف کي ناست يم، پداسي حال کي چه محراب راته ډېر واضح او روښانه ښکاري، اکثرو خلکو لونګۍ يا خولۍ پر سر او ښاسته ږيري لري،

ناڅاپه سر راپورته کړم او له ځان سره ووايم: امام ولي نشته؟ دا خلک به تر کومه انتظار کوي؟ محراب زما کيڼ لوري ته وي، ناڅاپه ګورم چي حکمتيار صاحب د محراب په لوري روان دئ، محراب ته مخامخ او غالباً يو صف پاته وي چي محراب ته ورسېږي، توره لونګۍ ئې پر سر وي، کالي ئې سپين او واسکټ ئې هم تور وي او ږيره ئې هم سپينه وي، نو له ځان سره ووايم: دا خو حکمتيار صحاب دئ، په همدې سره راويښ شوم.

قاري صاحب ته مي وليکل:

ستا د خوب په اړه دا عرائض لرم: د جومات تعبير د مسلمانانو جماعت او حزب دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library
ستا په خوب کي د صالح او مؤمنو افغانانو اوسنی حالت منعکس شوی، امام ته د انتظار حالت، په درېیم صف کي ستا ناسته یا دا ښیي چي ته د دې جماعت په درېیم نسل پوري تړلی یې، یا دا چي ستا مقام په درېیم صف کي دئ، امید دئ او دعاء کوم چي لومړي صف ته ځان ورسوې، د بلي برخي تعبیر داسي برېښي چي ښایي الله تعالی به ما ته د محراب د تشي ډکولو سعادت راپه برخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فروید افکار او تعبیرونه

فروید په دې عقیده دئ چې د میني، الفت او انس منشأ د انسان جنسي غریزه (شهوت) ده، هغه نه یوازې هره مینه، حتی له زوی سره د مور مینه او له لور سره د پلار مینه همداسې ګڼي بلکې وایي: د انسان د ویښې ټول فعالیتونه او د خوب هره رؤیا ئې جنسي منشأ لري!! همغسې لکه مارکس چې وایي: د انسان ټول فردي او اجتماعي فعالیتونه، ټولې اړیکې، او هره دوستي او دښمني اقتصادي منشأ لري!!

فروید یهودي دئ، د آلمان په داسې ټولني کې ستر شوی او هملته ئې د فیلسوف نوم ګټلی وو چې د جنسي شذوذ وبا هر لوري ته خوره وه، له خپلې ځوانۍ تر مړینې پورې ئې هر لوري ته چې مخ اړولی د دې انحراف آثار ئې تر سترګو شوي، په خپلې کورنۍ کې، د خپلو دوستانو په کورنۍ کې، د خپل ګاونډې او همصنفې په کورنۍ کې، د خپل استاد او آمر په کورنۍ کې، په دفتر کې او په کلیسا کې، د مأمور، افسر، استاد او کشیش په خوا کې او په هر ځای کې ئې داسې څه لیدلي چې ده ته دا مفکوره او باور القاء کړي چې د انسان د هر خوځښت او حرکت منشأ د ده جنسي تمایلات دي!! د فروید عقائد او افکار د دې پر ځای چې علمي بنسټ او محرک ولري؛ معکوساً هغه القاءات دي چې یوې پرېوتې او منحطې ټولني د ده پر زړه او دماغ انځور کړي. فروید د خپل ځان او د خپلې شیطان ځپلې ټولني د افرادو په اړه دا تحلیل وړاندې کولی شي خو تحلیل ئې نه د نورو انسانانو په اړه صدق کوي او نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ژوو په اړه.

د بیسمارک خوب او د فروید تعبیر

فروید د خوبونو د تعبیر په لړ کي د بیسمارک یو خوب رااخلي او د خپل سیکسي مسلک له مخي ئې څېړي، راشئ دا خوب او تعبیر ئې له فروید واورو، هغه د بیسمارک د رؤیا په اړه لیکي:

بیسمارک د ۱۸۸۱ کال د دسمبر په اتلسمه امپراطور گیوم ته ولیکل: اعلیحضرت چي ما ته څه وایي دې ته ئې اړ کړم چي خپل هغه خوب ده ته ولیکم چي د ۱۸۶۳ کال په پسرلي کي مي لیدلی، دا خوب په سختو ورځو پوري تړاو لري، په هغو ورځو پوري چي مفر نه ترسترگو کېدو، خوب مي ولید او هغه مي خپلي مېرمني او نورو شاهدانو ته تېر کړ، "په خوب کي مي ولیدل چي د آلپ غرونو په یوه تنگ ناو کي خپل آس ځغلوم، ښي لاس ته مي پاړ او کیڼ لوري ته دېوال ته ورته لوی کمر، ناو ورو ورو لازیات تنگېږي، دومره چي آس مي له تگ ولوېد، ځای دومره تنگ وو چي پر شا نشوی راڅرخېدی، له آس هم نشوی کوزېدی، دا وخت مي په هغي متروکي چي په کیڼ لاس کي مي وه دېوال ته ورته کمر وواهو او له خدای مي مرسته وغوښته، متروکه ډېره اوږده شوه، په کمر کي لوی چاود او دهلېز او په هغه کي پراخه لار رامنځته شوه، داسي چي له هغه ځای غونډۍ او په ونو پوښلي سیمه لیدل کېده، د بوهم او پروسي سیمي ته ورته، دا مهال مي په زړه کي راتېره شوه چي څنگه دا جریان په تلوار سره تا ته ولیکم" همدلته مي خوب پای ته ورسېدو.

دا خوب که څه هم ډېر څرگند دئ او زه به ئې دقیق تعبیر لږ وروسته وړاندي کړم، خو تر هغه مخکي راشئ وگورو چي فروید ئې څنگه تعبیروي، هغه لیکي: دا

(c) ketabton.com: The Digital Library
خوب په دوو برخو وېشلی شو: په لومړۍ برخي کي ئې خوب ليدونکي خپل ځان په يوه وحشتناک حالت کي ليدلی، او په دوهمي برخي کي ئې په ناڅاپي توګه او لکه يوه معجزه ترې ژغورل شوی، هغه مشکل حالت چي آس او سپور ئې په کي راګير شوي په حقيقت کي د دې سياسي شخصيت د بحراني حالت په اړه يوه کنايه ده، دا ځکه چي يوه شپه وړاندي ئې د سياسي مسائلو په اړه فکر کړی او هغه ئې دردناک انګېرلي، په پورتنۍ ادبي ټوټې کي د ده هغه تعبيرونه چي له استعارو ډک دي په همغه وخت کي د ده ناهيله کوونکی وضعيت په ګوته کوي، هغه خپل وضعيت په ښه توګه درک کولو، او په اړه ئې انديښمن وو،... همدا انديښني چي د خوب ليدونکي ذهن ئې مشغول کړی او دا موضوع چي د ده ټولي نقشې او منصوبې او حل لاري له داسي خنډونو سره مخامخ کېږي چي رفع کول ئې ورته ناشونی برېښي، طبيعي ده چي د ده ذهن به له دغو انديښنو او مسائلو فارغ نه وو، دا ټول په ښه توګه په دې خوب کي د داسي آس او سپور په بڼي کي ځان ښيي چي نه وړاندي تللی شي او نه شا ته، د ده هغه غرور چي نه ئې تسليمېدو ته پرېږدي او نه په شا تګ ته؛ په دې توګه ښودل شوی: ممکنه نه وه چي تر شا شم يا له آس پلی شم،... په دې توګه ويلی شو: د دې وينا چي آس له وړاندي تګ پاته شو معنی دا ده چي خوب ليدونکی له ډېر کار او فعاليت ستومانه شوی او غواړي له غمونو او مصروفيتونو فارغ ژوند غوره کړي... د هيلي تحقق د خوب په دوهمي برخي کي ځان د هغه چاود، دالان، لاري او سمسوري سيمي په بڼي کي ښيي... دا ځکه چي بيسمارک ښه پوهېدو چي خپله راتلونکې رخصتي به د آلپ غرونو خوا ته تېروي... فرويد د دې خوب په تعبير کي له دې هم آخوا درومي او پر دې اکتفاء او بسنه نه کوي چي خوب د وينې د انديښنو دوام او د هيلو او موخو د تحقق ذهني هڅه ګڼي، بلکي د بيسمارک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې خوب لپاره جنسي او سيکسي تعبير وړاندي کوي او وايي: په خوب کي متروکه، عصا او نېزه او دوی ته ورته شيان د جنسي امورو په اړه رموز او کنايې دي، په ځانګړې توګه دغه متروکه چي ورو ورو اوږدېدله، چي دا اوږدېدا د تناسلي آلت ځانګړتيا ده، نو د ترديد هيڅ مجال نه پاته کېږي چي تعبير ئې همدا دئ!! البته دا اغراق چي اوږدوالی ئې تر بې انتهاء وغزېدو د ماشومانه تصور ښکارندويه ده او دا چي متروکه ئې په لاس کي ونيوله د استمناء عمل (په لاس سره جنسي عمل) ته څرګنده اشاره ده!! البته دا د نائم له اوسني حالت سره تړاو نه لري بلکي د ده د ماشومتوب له مخکني حالت سره تړاو لري!! ورپسې ليکي: د خوب ټولي صحنې؛ له وحشتناک حالت په خارق العاده توګه د ده ژغورنه، هغه هم د الله په مرسته د متروکي په يوه وار سره، په څرګنده توګه د تورات هغه برخه رايادوي چي موسی (عليه السلام) د بني اسرائيلو د تندي رفع کولو لپاره تيږه په خپلي همسا وهي او اوبه ترې داري وهي، په ډېري آسانۍ سره منلی شو چي بيسمارک د يوې پروتستانت کورنۍ د يوه غړي په توګه له تورات دا مطالب زده کړي او هغه ئې په حافظه کي پاته وو، د کړاوونو په دې بهير کي ئې ځان له موسی (عليه السلام) سره تشبيه کړی چي همداسي د خپل قوم له بغاوت او ناسپاسۍ سره مخامخ وو، دا موضوع نومورې صحنه د ده له اوسنيو هيلو سره تړي!!

د بيسمارک د خوب په تعبير کي د فرويد څو مطالب ډېر هېښوونکي او خندوونکي دي:

- بيسمارک د ۱۸۶۳ کال په پسرلي کي خوب ليدلی، د ۱۸۸۱ کال د دسمبر په اتلسمه ئې امپراطور ګيوم ته خپل مخکنی خوب ليکلی، سخت حالت د خوب له نېټې اتلس کاله وروسته رامنځته شوی، په همدې وخت کي د ده تر مشرۍ لاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوځ له داسي حالت سره مخامخ شوی چي نه مخکي تګ ورته ممکن وو او نه په شا کېدل، بیا د ده د فوځ کیڼ اړخ د اتریش په لوري یرغل کړی، تر بوهم او پروسي پوري رسېدلی او دا کټ مټ همغسي وو چي ده اتلس کاله وړاندي په خوب کي لیدلي وو، د ده عملي تجربې د ده خوب په واضح توګه تعبیر کړی او دا تعبیر سل په سلو کي د هغه تعبیر خلاف دئ چي فروید وړاندي کړی، د بیسمارک د خوب د بېلو بېلو صحنو او انځورونو سم او واقعي تعبیر دا سي دئ: تنګ ناو یعني سخت حالت، کړاو او ضیق شرائط، آس یعني د ده تر واک لاندي فوځي ځواک، متروکه هغه ځواک چي دښمن پرې وهل کېږي، له مخکي تګ او شا ته ستنېدو لوېدل یعني د محاصرې او بشپړ توقف حالت، د کیڼ لوري دېوال په هغي متروکي وهل چي د ده په کیڼ لاس کي وه او په هغه کي چاود او بیا لار رامنځته کېدل یعني د ده د ځواک میسره (کیڼ اړخ) به دا محاصره ماته کړي او د مخکي تګ لپاره به لار پرانیستل شي، دغه مهال به دی امپراطور ته د فتح او بري زېری ولېږي.

تنګ ناو، آس، متروکه، په متروکي تیږه وهل، د تیږي ماتېدا

- ډېره خندونکې ده چي فروید متروکه د تناسلي آلت رمز او کنایه ګڼي، د متروکي ئې له تناسلي آلت سره څه ؟!! ګمان نه کوم چي فروید به دومره ناپوه وو چي د دې حقیقت له درک هم عاجز وو چي د انسان دماغ له هغه سره په خوب کي لوبې نه کوي، معمی ته ورته پېچلي کنایې او رموز ئې مخې ته نه ږدي، بلکي د معمی حل ورته ښیي، په مغالطې کي ئې نه اچوي، ساده شیان ورته د پېچلي رمز او کنایې په توګه نه وړاندي کوي، بلکي داسي کنایه او رمز کاروي چي انسان ته په واضح توګه د فهم وړ وي، له داسي تشبیهاتو کار اخلي چي انسان ئې معمولاً کاروي، کله چي هغه ته دا پیغام لېږي چي ستا بدن اوبو ته ضرورت لري نو مخې ته ئې د اوبو جک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترموز، گیلاس، جام او منگی انځور کړي، دې ته ئې هڅوي چي د اوبو دغه معمول ظروف راواخلي، خولې ته ئې یوسي او همغسي اوبه ترې وڅښي چي په ویښه ئې څښي، انسان معمولاً متروکه د وهلو لپاره کاروي نو په خوب کي به دماغ همدا متروکه د هغه ځواک لپاره د رمز او کنایې په توگه کاروي چي دښمن پرې وهلی شي، دی عصا د داسي وسیلې په توگه کاروي چي تکیه پرې کوي، خوب همدا متکأ د عصا په بڼي کي انځور کړي، په ټولو نورو مواردو کي د خوب ژبه همداسي وي، که د ده د خوب منشأ جنسي تمایل وي نو هغه څه ئې مخي ته انځور کړي چي معمولاً ئې د خپلي جنسي غریزې د اشباع لپاره کاروي، ډېر احمق انسان به داسي گمان کوي چي په خوب کي تنگه دره، چاود، عصا او متروکه له جنسي تمایل سره کوم تړاو لري او گواکي د نارینه او ښځي تناسلي آله تمثیلوي!! زه گمان نه کوم چي فروید او همفکران ئې د ناپوهۍ له کبله دا تعبیرونه وړاندي کوي، حقیقت دا دئ چي دوی عمداً دا مغالطه کوي.

- فروید د بیسمارک د خوب په تعبیر کي نه یوازي عمداً مغالطه کړې، بلکي په تاریخي حقائقو ئې سترگي پټي کړې دي، بیسمارک د خپل خوب رښتینی تعبیر اتلس کاله وروسته عملاً موندلی او په خپلو سترگو ئې لیدلی او دومره پرې ډاډه او متیقن شوی چي هغه ئې امپراطور گیوم ته هم لیکلی، خو فروید دا حقائق له پامه غورځولي او د خوب لپاره ئې د جنسي تمایلاتو منشأ لټولې!! نه بیسمارک له دې تعبیر سره موافق دئ او نه هغه څوک چي پوهېږي د خوب رمز او کنایه صریح او د ویښي له تشبیهاتو سره ورته وي، رمز او کنایه د دې لپاره نه کاروي چي مطلب لازیات پېچلی کړي او د معمی بڼه ورکړي، بلکي د لازیات آسانولو لپاره ئې کوي، کله چي مفهوم د یوه انځور په بڼي کي وړاندي شي نو فهم ئې لازیات آسان شي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library
خوب کي زموږ دماغ همدا کار کوي، د پيغام په ابلاغ کي د خوب اسلوب همداسي وي، اسلوب ئې هغه هوښيار استاد ته ورته چي د زده کوونکو پر روحي حالت پوه وي او تل هڅه کوي مفاهيم د انځورونو په قالب کي وړاندي کړي، کله چي د ختيځي په اړه خبري کوي نو انځور ئې پر تخته وباسي، او کله چي د هغه د خوند او خوږوالي په اړه څه وايي نو د الفاظو تر څنګ د خپلو شونډو، سترګو او وروځو په خوځولو سره زده کوونکي لاښه پوهوي.

- ډېر ځلي خوب ليدونکی د خپل خوب په تعبير تر معبر ښه پوهېږي، په ځانګړې توګه هغه وخت چي خوب ئې ترسره شي او تعبير ئې عملاً په خپلو سترګو وګوري، دا داسي ده لکه چي ما ته کوم ډاکټر زما د ناروغۍ لپاره په خپلي نسخې کي داسي دوا تجويز کړي چي هيڅ ګټه راونه رسوي، طبيعي ده چي زه به د دې ډاکټر په اړه وايم: يا ډېر ناپوه ډاکټر دئ او يا زما د ناروغۍ په څرنګوالي سم نه دئ پوه شوی، خو که زه د همدې ناروغۍ په دوران کي داسي څه وخورم چي عملاً احساس کړم زما تکليف ئې راکم کړ او د ناروغۍ په معالجې کي ئې ګټه راورسوله، طبيعي ده چي همدې ته به دوام ورکوم او د هغه ډاکټر دوا او نسخه به يوې خوا ته کښېږدم، که بيسمارک د فرويد دا تعبير اورېدلی وی نو هرومرو به ئې ويلي وو: کمزوری معبر دئ، زما د خوب له صحيح تعبير عاجز دئ، يا خو زما د خوب په څرنګوالي سم نه دئ پوه شوی او يا ئې د خوبونو د تعبير په اړه غلط اسلوب کارولی، د بيسمارک خپل تعبير ځکه دقيق وو چي خوب او د هغه تعبير ئې په خپلو سترګو ليدلي وو.

د زوی د سوزېدو په اړه د پلار خوب

- ښه به وي چي د فرويد يو بل تعبير هم خپلي مخي ته کښېږدو او د بيسمارک د

(c) ketabton.com: The Digital Library
خوب له تعبير سره ئې مقايسه کړو: فرويد تر دې عنوان (د رؤيا د مراحلو روحي څېړنه) لاندي ليکي: د هغو خوبونو په ضمن کي چي ما ته ويل شوي يو ئې د ځانگړې توجه وړ دئ، دا مي له داسي ناروغ ترلاسه کړی چي د رؤيا په اړه ئې زما يوه وينا هم اورېدلې، ډېر اغېز ئې پرې کړی... خوب ئې داسي دئ: يو پلار چي د خپل ناروغ زوی بستر خوا ته ئې اوږده موده په وينښه تېره کړې، د خپل زوی له مړيني وروسته بلي خوني ته ولاړ چي لږ هوسا شي، د خوني ور ئې پرانيستی پرېښود، د دې لپاره چي هغه خونه تر نظر لاندي ولري چي د زوی جسد ئې په کي پروت دئ، شاوخوا ئې بلي شمعي اېښودل شوې، يو سپين ږيری هم گمارل شوی چي تر سحر پوري د تابوت مواظبت وکړي، دی هم د تابوت خوا ته ناست دئ او د دعاء خاص الفاظ تکراروي، پلار ئې څو ساعته ويده شوی، په پای کي ئې خوب ليدلی چي: زوی ئې د ده بستر خوا ته ولاړ دئ، دی تر مټ نيسي، او په شدت او ټينگار سره ده ته وايي: نه گورې چي سوزم؟! په همدې سره له خوب راوينښېږي، گوري چي د مړي له خوني تېزه رڼا راوځي، په تلوار سره ځان دې خوني ته رسوي، سپين ږيری په فکرونو کي غرق مومي او مړی په داسي حال کي چي کفن او مړوند ئې د هغې شمعي له کبله سوزېدلي چي د مړي پر جسد رانسکوره شوې وه. فرويد دا رؤيا داسي تعبير کړې: د مړي له خوني د وازي دروازې له لاري تېزه رڼا راوتلې ده، د مړي پلار ته ئې همغه مطلب القاء کړی چي که په وينښه ئې دا رڼا ليدلې وی نو همدا مطلب به ئې ترې اخيستو، يعني دا چي حتماً به کومه شمع نسکوره شوې وي او د مړي د جسد خوا ته به اور لگېدو باعث شوې وي. ويلی شو چي د پلار په ذهن کي به تر ويدېدو وړاندي حتماً دا اندېښنه راولاړه شوې وي چي داسي نه سپين ږيری خپله دنده په سمه توگه ترسره نه کړي، او داسي پېښه رامنځته نه شي!!... ورپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: ښايي زوی به ئې په خپل ژوند کي هم کله پلار ته ويلي وي: له سختي تبي سوزم... همدا وينا په خوب کي بيا تکرار شوې، د خوب دا وينا به حتماً د وينښي کومه سابقه لري... حتماً به ئې کله له خپل زوی دا وينا هم په وينښه اورېدلې وي چي پلاره! نه گورې، همدا په خوب کي بيا تکرار شوې، د مړي بيا راژوندي کېدا هم د پلار يوه هيله ده چي په خوب کي ئې تحقق موندلی او دا دئ د ده خوا ته ولاړ دئ او دی ئې تر مټ نيولی!!!

د فرويد له ملگرو څو پوښتني لرو: ۱- پلار په ژور خوب ويده دئ، سترگي ئې پټي دي، د مړي له خوني راوتونکې رڼا ئې څنگه وليدله او څنگه ئې د اور لگېدو خبر ورکړ؟!! په داسي حال کي چي د مړي خوا ته ناست سپين ږيری نه دې رڼا ته متوجه شوی او نه د کفن او مړي د مړوند سوزېدو پېښي ته؟!! ۲- پلار پوه شوی چي زوی ئې مړ شو، د بيا ژوندون هيله ئې قطع شوه، د همدې له امله بلي خوني ته ولاړ او ويده شو، څو ساعته ئې خوب وکړ، څنگه ومنو چي د وينښي مړه او دفن شوې هيله په خوب کي بيا راژوندی شوه او د پلار مخي ته ئې د ده زوی روغ رمټ او ژوندی ودراوو؟!! ۳- پلار د خپل خوب تعبير په خپلو سترگو وليد، په خوب کي د خپل زوی دا وينا ئې چي نه گورې سوزم عملاً رښتينې وموندله، واقعاً هغه سوزېدو او دی ترې بې خبره وو، د سوزېدو پيغام د مخکنی زمانې د کومي پېښي يا تکرار شوې وينا يادونه نه وه بلکي د رواني پېښي خبر ئې ده ته ورکړ، دا مسخره تعبير به څنگه ومنو چي په خوب کي د تېري مودې او د زوی د ژوند د شپو ورځو الفاظ تکرار شوي؟!! ۴- که وغواړئ د دې خوب لپاره هم کوم سيکسي تعبير وړاندي کړئ هغه به څه وي؟!! آيا داسي کومه نښه موندلی شئ چي په سيکسي تعبير کي ستاسو مرسته وکړي؟!! ولي اعتراف نه کوئ چي دا خوب د هغو په څېر نه دئ چي د اندېښنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالاتو د دوام او د مخکنیو لیدل شوو صحنو د تکرار نوم ورکولی شو او یا ئې د هیلو د ترسره کېدو ذهني هڅه ګڼلی شو، بلکي دا د انسان د ویښي وړاندوینو ته ورته خوبونه دي چي د راتلونکو پېښو په اړه پیغامونه انتقالوي. دا خوب د بیسمارک خوب ته او په لسګونو هغو خوبونو ته ورته دئ چي په دې کتاب کي راغلي، هغه چي د فروید د تعبیرونو په تنګ قالب کي نه ځایېږي او د ده سیکسي اسلوب د هغوی له تعبیر عاجز دئ!!

هغه خوبونه چي له ورځنیو مشغولتیاوو سره تړاو لري

ځیني وایي: ستړی ښکاري چي په خپل بستر پرېوځي په خوب کي ځنګل ته درومي او ښکار کوي، قاضي په خوب کي ځان د خپلي محکمې په دفتر کي ګوري چي د مېز تر شا ناست دئ او پرېکړي کوي، ګاډیوان په خوب کي ګاډۍ چلوي، شتمن د سرو او سپینو زرو سکې او د مضبوطو متو خاوند پهلوان له خپل سیال سره غېږي او تږی اوبه په خوب کي ګوري، همداسي هر څوک هغه څه د شپې په خوب کي ګوري چي د ورځې ئې په ویښه کوي!! خو دا یقیناً چي د خوبونو د پراخي نړۍ په اړه ډېر بسیط او تنګ تعبیر دئ، د خوبونو د ډېرو ډولونو له منځه یوازي د یوه ډول په اړه څه ناڅه صدق کوي، یوازي د هغه چا د خوبونو په اړه صدق کوي چي ذهن ئې په ټپه ودرېدلی، له غور، فکر، ابتکار او نوښت لوېدلی، د عادت په دام کي نښتی، د نویو پیغامونو ترلاسه کولو ته ئې د زړه او دماغ دړي تړل شوې دي. خو همدا ناسم او ناقص تعبیر د فروید تر تعبیر حقیقت ته نږدې دئ، فروید په ډېر تکلف سره هڅه کړې د هري رؤیا لپاره د جنسي تمایل کومه منشأ راپیدا کړي، په ډېرو مواردو کي د ده تعبیر انسان ته د شاعر هغه شعر ورپه یاد کړي چي وایي: صلاح کار کجا و من خراب کجا-- ببین تفاوت ره کز کجاست تا به کجا؟ د کار روغوالی چېري او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library
خراب چېري؟!! وګوره چي د لاري تفاوت له کوم ځای تر کوم ځای پوري دئ؟!، د بیسمارک د خوب په خندوونکي تعبیر کي د فروید بې ځای تکلف د دې یوه بېلګه ده.

د پالاس خوب

د فروید د کتاب دې عجیب خوب او خندوونکي تعبیر ته هم ځیر شئ:

"پالاس نومې پېغله وایي: یوه شپه وړاندي مي خوب لیدو چي په یوه سیند کي لامبم، مخي ته مي په یوه تیاره سړک یو ځلانده شی خوځي، پیکه د ویني په څېر سور رنګی، چي زنګ ئې وهلو، د یوې ډېري خوا ته لوړ لاړ او اوبه په شدت سره واوښتې، د خدای لوښي (فرشتې) دریا ته راکوزي شوې او د دوی په راکوزېدا سره هغه شی په یوه ګوزار سره مات شو، په دې وخت کي مي د زړه سخت درد احساس کړ... د مادالنا په نامه یوې زړې ښځي ترې وپوښتل: آیا دغه وخت له خوب راویښه شوې؟ پالاس ورته وویل: لا نه، داسي مي وانګېرله چي له درانه خوب سطحي خوب ته واوښتم، بیا ګورم چي لامبو وهم، او زما مخي ته دغه مهال دوه زنګونه په افق کي په مرئي توګه ښکته پورته کېږي، دواړه ظریف او ځلانده، زما مخي ته تېر پېدل او د هوا رڼو څپو ته ننوتل او زه له خوب راویښه شوم، ستړې او ستومانه وم او د درد احساس مي کولو،... مادالنا ترې وپوښتل: د دې خوږ درد ځای چېري دئ؟ د پالاس پر سینې ئې لاس کېښود، بیا ئې وویل: کله چي ستا تیان سوکه سوکه خوځي آیا داسي نه انګېرې چي نور ستا له واکه وتلي او بل لوري ته تمایل لري؟ دوه تیان کله سره یو ځای شي... بیا سره بېل شي او دوه شي!!!

عجیبه ده، دا مسخره تعبیر د فروید د انډیوالانو د خوښي وړ تعبیر دئ، د خوب د ټولو صحنو، اشارو، کنایو، رموزو او... یوازي یو مصداق؛ او هغه د پالاس

(c) ketabton.com: The Digital Library
دوه تیان!! د هغوی له نظره په دې خوب کې د سیند، اوبو، په سیند کې لمبېدا، ډبره، یو ځلانده زنګ، چې وروسته د دوو په بڼې کې راڅرګند شوی، د اوبو اوښتل، فرشتې، د فرشتو په ګوزار سره د هغه ځلانده شي ماتېدا، دا ټول ګواکي یوازې یو تعبیر لري، او هغه د پالاس دوه تیان!!! نه پوهېږم هغه به څوک وي چې دا مسخره تعبیر ومني، په ټول خوب کې داسې شی نه مومو چې له جنسي امورو سره ئې تلویحاً یا صراحتاً څه مناسبت او تعلق وي، په هیڅ ټولنې کې دا شیان د جنسي امورو د هیڅ برخې لپاره د کنایې او رمز په توګه نه کارول کېږي، د خوب د رموزو او کنایو ژبه هیڅکله داسې نه وي چې په ویښه کې نه کارېدونکې مبهم او غامض رموز او کنایې وکاروي، خوب غواړي خپل خاوند ته یو پیغام ورسوي، د دې پیغام لپاره مجبور دئ له رمز او کنایې کار واخلي، ځکه خاوند ئې ویده دئ، سترګې ئې پټې دي، نه په غوږ کې څه ورته ویلی شي او نه ئې سترګو ته کوم لیک پانه نیولی شي، باید د رمز، کنایې او انځور له لارې هغه ته خپل پیغام ورسوي، دا رموز او کنایې باید د ده خاوند ته آشنا او د فهم وړ وي.

په سیند کې لامبل، تیاره لار، سور زنګ، لویه تیږه، رڼا

دغو اصولو ته په پام سره په بشپړ یقین ویلی شو چې د پالاس د خوب د بېلو بېلو برخو (کنایو او رموزو) دقیق تعبیر داسې دئ: په نهر او سیند کې لامبل یعني د حوادثو او پېښو د یوه بهیر په منځ کې لاس پښې وهل، تیاره سړک یعني مغشوش او مبهم مسیر، ځلانده سور رنګی زنګ یعني د خطر زنګ، لوی کمر یعني داسې خنډ چې تر شا ئې د یوه سخت زړې او بې رحم ځواک یا شخص لاس دئ، د دې تیږې پر سر د زنګ ختل یعني خطر له همدې ورته متوجه دئ، د اوبو څپانده کېدا یعني د ورپېښې حالت تشدید او متلاطم کېدل، د فرشتو راتګ او په سیند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library
کوزېدل يعني په همدې دوران او همدې بهير کي د الله تعالی له لوري مرسته، چي د هغه په راکوزېدا او يوه گوزار سره به هغه خطر له منځه ولاړ شي، د خوب په دوهمي برخي کي دوه ظريف او ځلانده زنگونه چي د پالاس خوا ته تېرېږي او په افق کي د هوا رڼي صفحې ته د هغوی ننوتل يعني پالاس ته دوه داسي زېري چي د مخکني مغشوش او تياره حالت پای او د داسي حالت راتگ وړاندوينه کوي چي په زړه پوري او رڼا ته ورته به وي.

گورئ چي په دې خوب کي پالاس ته څومره څرگند او گټور پيغام ابلاغ شوی او څومره دقيقه لارښوونه شوې، که چا له هغې سره مرسته کړې وی او د خوب بېلي بېلي برخي ئې په سمه توگه هغې ته تعبير کړې وی نو يقيناً چي هغې به د دې پيغام په رڼا کي د وړپېښ حالت ټول ابعاد او برخي په بشپړه او دقيقه توگه درک کړي وو او پر دې به پوهېدلې وه چي خنډ چېري دئ، خطر له کوم لوري او د چا له لوري ورته متوجه دئ، د چا چا لارښوونه دې ته د يوې رڼا او رښتيني زېري حيثيت درلود، له چا د خير طمع ولري او له چا د ضرر اندېښنه.

که تاسو د فرويد دغه د رؤيا اړوند کتاب په دقيقه توگه ولولئ نو وبه گورئ چي د خوب په اړه د ده ټول تحليلونه او تعبيرونه دغو خوبونو او د هغوی کچه تعبيرونو ته ورته دي.

د رؤيا په هنداري کي د انسان اصلي څېره راڅرگنده شي

خوب داسي هنداره ده چي په هغې کي انسان د خپل شخصيت او باورونو حقيقي انځورونه گوري، خوب د انسان د معنوي او اخلاقي شخصيت هنداره ده، د انسان د شخصيت پټ ابعاد په کي راڅرگند شي، هغه پټ ابعاد چي د ورځي له پلوه ئې يا د وېرې له کبله له څرگندولو ډډه کوي او يا ئې د رياء، تصنع او خدعې پرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې غوړولې وي او نه غواړي اصلي څېره ئې څرګنده شي. خوب دا د رياء پرده څيري کړي او د انسان د زړه او ضمير عزائم، هيلي او تمايلات له پټو زاويو او سوړو راوباسي او د انځورونو په بڼې کي ئې زموږ مخي ته کښېږدي، د هغه محقق وينا څومره درنه او پر واقعيتونو ولاړه ده چي وايي: ته ما ته خپل خوبونه تېر کړه چي زه درته ووايم ته څوک او د څنګه شخصيت خاوند يې!!

که څه هم د فرويد ملګري وايي: په رؤيا کي زموږ د ورځني اخلاقي احساساتو هيڅ څرک نه لګېږي، يعني په خوب کي د اخلاقي احساساتو ټغر په بشپړه توګه ټول شوی وي، او انسان په خپلو خوبونو کي ټولي هغه پولي نړوي چي له اخلاقي احساساتو سره تړاو لري!! خو د دوی په مقابل کي ډېری منصف محققين په دې باور دي چي په خوب کي زموږ د ورځنيو اخلاقي احساساتو کيفيت همغسي وي لکه په وينښه کي. فرويد د دوی د رأيي په ترديد کي خپل خوبونه د شاهد په توګه وړاندي کوي او وايي: که موږ د دغو دواړو نظرياتو په اړه له خپلو هغو تجربو مرسته وغواړو چي هره شپه ئې په خپلو خوبونو کي لرو نو وبه ګورو چي د لومړۍ ډلي نظر تأييدوي!!

او دا له شک پرته د خوب په اړه داسي غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چي نه هيڅ علمي بنسټ لري او نه له واقعيتونو سره اړخ لګوي، په خوب کي نه د انسان فطرت بدلېږي او نه ئې اخلاقي احساسات، ښه انسان او اخلاقي ضوابطو ته ملتزم شخص په خپل خوب کي هم ښه وي او اخلاقي ضوابطو ته التزام لري، بد انسان په خپلو خوبونو کي هم بد ممثل وي او اخلاقي پولي نړوي. د فرويد نظر کېدی شي يوازي د ده او د ده د ملګرو په اړه صدق وکړي، فرويد او ملګري ئې کولی شي د خپلو خوبونو په اړه همدا قضاوت ولري، خو د انسانانو د غوڅ اکثريت له تجربو سره په بشپړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توگه منافات لري.

په خوب کي د اخلاقي احساساتو څرنګوالی

فروید د خپل ملګري جسن رأیه تأییدوي چي وایي: موږ نه په خوب کي له اخلاقي پلوه تر ویښي زیات ښه کېږو او نه زیات متقي کېږو، بلکي د دې خلاف ګورو چي د خوب په حالت کي زموږ وجدان دپ شي، رحم او مهرباني مو له زړه کډه شي او په ټولي بې رحمۍ او قساوت سره او پرته له دې چي پښېمان شو او توبه وکړو تر ټولو بد جنایات ترسره کوو، په غلا، قتل، انسان وژني او... لاس پوري کوو!!! همداراز د راستوک پر قول استناد کوي چي وایي: دا سمه ده چي په خوب کي ګورو چي زموږ تمایلات راڅرګند شي، انځورونه او صحنې د فکر، عقل، ذوق او تمییز له مداخلې پرته سره جوخت او متصل شي، د اخلاقي تمییز قوه ډېره کمزورې او ضعیفه شي او پر انسان له اخلاقي پلوه بشپړه بې اعتنائي مسلطه شي!!

د فروید د ملګرو انګېرني د هغه چا په اړه صدق کوي چي په عقلي او روحي بیماریو اخته وي، د هغه خوبونه همغسي ګډ وډ وي لکه د ده د ویښي خیالات او انګېرني، همغسي لکه د هغه کمپیوټر غلط محاسبات او نامنظم فعالیت چي په ویروس اخته شوی وي، په ویروسونو د اخته خلکو د ګډ وډ خوبونو له مخي د انسان د رؤیا په اړه قضاوت کول د انصاف او عقل خلاف عمل دئ، متأسفانه فروید او ملګري ئې د همدې اشتباه او غلطي مرتکب شوي.

شوپنهاور او ملګري ئې د فروید په مقابل کي

د دوی په مقابل کي شوپنهاور وایي: په خوب کي د هر چا وینا او کړنه په بشپړه توګه همغسي وي چي د ده له شخصیت سره مطابقت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیشنر وايي: د انسان احساسات، تمايلات، عواطف او جنسي غوښتني په خوب کي د ظهور او څرګندېدو فرصت ترلاسه کړي او د انسان اخلاقي خصائص په کي جوت شي.

هافنر وايي: له لږو مواردو پرته متقي انسان په خپلي رؤيا کي هم متقي وي او د وسوسو په وړاندي مقاومت کوي، له کينې، حسد، رخې، غصې او نورو اخلاقي رذائلو ډډه کوي، په مقابل کي ئې ګنهګار انسان په خپل خوب کي همغه انځورونه ګوري چي په ويښه ئې خوښوي!!

شولتز په دې باور دئ چي په خوب کي حقيقت جوت شي او انسان له ټولو رياکاريو، درنښت او سپکاوي سره سره خپل حقيقي شخصيت په خوب کي ګوري.... نجيب انسان نشي کولی په خوب کي د نانجيبو په څېر د جنايت مرتکب شي، که احياناً له کوم بد انځور سره مخامخ شي نو داسي ترې تښتي لکه په ويښه کي چي ترې تښتي.

حقيقت دا دئ چي انسان په خپل خوب کي ځان همغسي ګوري او سلوک ئې همغسي وي لکه په ويښه کي، نه ئې په شخصيت کي بدلون رامنځته کېږي او نه ئې په خيالاتو، افکارو او باورونو کي، د ويښي او خوب توپير ئې يوازي دومره وي چي د ويښي پټ خيالات، عزائم، احساسات او تمايلات په خوب کي بې پردې شي او د مجسمو انځورونو بڼه غوره کړي، په ويښه کي پر دې عزائمو او احساساتو د تزوير او رياء پرده غوړوي او له جوتولو ئې ډډه کوي.

فرويد او د ميني غلط تعبير

فرويد او ملګري ئې د هغي ميني او محبت له دقيقي پېژندني او تعبير عاجز دي چي مور ئې هره شېبه ډېري ښېلګي په خپل ماحول کي ګورو، د دوی کچه مسلک له

(c) ketabton.com: The Digital Library
خپلو بچونو سره د هغي مرغۍ د تودې ميني له توجيه عاجز دئ چي په ډېر انهماک سره د ځالي په جوړولو لګيا شي، هګۍ په کي واچوي، څو ورځي پرې کښېني، بچي ئې راووځي، خوراک ورته راوړي، ساتنه ئې کوي، که څوک ئې ځالي ته ورنږدې شي چيغاري وهي، داسي يوې خوا بلي خوا ته الوځي لکه چي غواړي پر مزاحم بريد وکړي، تر هغه ئې پالي او ساتي چي د الوتلو شي، له ځالي ئې راوتلو ته تشويق کړي، الوتل ورزده کړي، کله چي پر خپل ځان بسيا شي نو له ځالي ئې وشړي، که د دې چوغکي د فعاليتونو منشأ جنسي تمايل وی نو مور به ئې ځوان بچی له ځان سره ساتو او پلار ئې ځوانه بچۍ، بيا خو به داسي نه وو چي دوه چوغکي سره يو ځای شي، ګډه کورنۍ جوړه کړي، د ژوند تر پايه سره اوسي، تر منځ ئې مينه، محبت، اخلاص او وفا وي، بلي ته اعتناء نه کوي او جنسي تمايل نه ښيي، يوه له بلي او په ګډه له خپلي ځالي او بچيانو دفاع کوي، اولاد زېږوي، پالي ئې او کله چي ستر شي له خپلي ځالي ئې وباسي، فرويد دې ته څه توجيه لري؟ که د ژوو د ټولو اړيکو منشأ جنسي تمايل وی نو دغو چوغکو به کورنۍ نه جوړوله، نورو ژوو به هم د کورنيو له جوړولو ډډه کوله، دا ځکه چي کورنۍ جنسي تمايلات مهاروي، محدوديتونه وضع کوي، د مېړه او مېرمني پراخه او بې مهاره جنسي آزادي له منځه وړي!! خو حقيقت دا دئ چي له اولاد سره د مور پلار د ميني او پېرزويني بنسټ او منشأ هغه فطري تمايل دئ چي هر ژوی ئې د خپل نسل له بقاء او دوام سره لري، د هر ژوي په ختې کي دا احساس اېښودل شوی چي د اولاد له درلودو، د هغوی له پالني، روزني او ساتني سره بايد کلکه مينه ولري، وئې پالي، وئې روزي، د هغوی لپاره کړاوونه وګالي او قربانۍ ورکړي، د انسان په شمول د ټولو ژوو حال دې چوغکي ته ورته دئ.

خو آيا د طبيعت دا عبرتناکي عملي او واقعي صحنې د فرويد او مارکس پر دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرياتو د بطلان سره کربښه نه راکاږي؟ يقيناً چي هغه نظريه باطله ده چي د واقعيتونو خلاف او د واقعيتونو له توجيه عاجزه وي، د ترديد لپاره ئې بل دليل او حجت ته ضرورت نشته. آيا دا دواړه د هغه سرتېري مجاهد استشهادي عمليات توجيه کولی شي چي له الله تعالی سره کلکه مينه ئې دې ته تيار کړي چي د باروتو واسکټ واغوندي او د دښمن په صف کي ځان والوځوي؟!!! کومه مينه او کومه غريزه ئې دې قربانۍ ته چمتو کوي؟!!

د فرويد د ملګرو په اړه د قرآن وينا

قرآن د مشرکينو په اړه فرمايي چي دوی خدای نه بلکي ښځي لمانځي، يعني معبودان ئې ښځي دي، ځيني داسي انګېري چي ښايي د آيت مطلب به دا وي چي مشرکان داسي بوتان د معبودانو په توګه لمانځي چي د ښځو په بڼې کي انځور شوي، خو که لږ ځير شو نو راته جوته به شي چي د آيت مطلب تر دې زيات ژور و پراخ دئ او د مشرکينو هغه اخلاقي انحطاط په ګوته کوي چي د جنسي شذوذ او انحراف په نتيجه کي رامنځته کېږي، جنسي بې لاريتوب ئې هغه ځای ته ورسوي چي پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمايلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندي راشي، هر څه له دغي زاويې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مينه نه پېژني، شراب دا اور لا تېز کړي، د ښځو او نارينه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب ورباندي مزيد تيل توی کړي، مسته موسيقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستاينې کي سندري لازيات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي. که تاسو دا اوس غربي ټولني ته لږ په دقت سره ځير شئ نو د قرآن د دغه آيت مصداق به په خپلو سترګو وګورئ، هري خوا ته به دې د ښځو مجسمې او شهوت پاروونکي انځورونه ترسترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library
شي، هم په معبد کي او هم په مغازه کي، هم د کشیش په وینا کي او هم د ټلویزیون په تجارتي اعلاناتو کي، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښایست استعمالېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لاري وي، د استخباراتي موخو لپاره له ښځو کار اخیستل کېږي، له ښځو داسي لومي جوړوي چي مهم شخصیتونه په کي راګیر کړي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې میني او پېرزویني ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي دا ځکه چي نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي او محدودیتونه پرې وضع کوي، له اولاد سره د ښځي او مېړه علاقه او مینه نشته او دا د دې لپاره چي اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخیستو په وړاندي خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چي اولاد ولري؛ سپي او پشۍ ساتي، هلته به تاسو له کشیشانو هم واورئ چي مریم علیها السلام په زنا تورنوي او په دې خبري خاص تأکید کوي او وایي چي هغې توبه وکړه او بیا ئې دا مقام ترلاسه کړ او دا د دې لپاره چي د یوه زناکار ولس معبود هم باید د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فروید په څېر د دوی له فیلسوفانو هم واورئ چي وایي: د انسان د ټولو کړو وړو، اړیکو او روابطو منشأ جنسي تمایل دئ، د پلار مینه له لور سره او د مور مینه له زوی سره له دغه تمایل راولاړېږي، هم د انسان د ویښي ټول فعالیتونه او هم ئې د خوب خوبونه جنسي منشأ لري.

دا چي ګورئ څوک سالم او پاکیزه جنسي تعلقات پرېږدي او ناولې لاري او غیر فطري طریقې غوره کوي، دا د همجنسانو تر منځ غیر فطري جنسي تعلقات، چي له انسان پرته ئې په بل ژوندي مخلوق کي مثال نه مومو، د خپل فطرت خلاف هغه مخدره مواد استعمالول چي بې سده ئې کړي او د خپلو حواسو اداره کول له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي، دا چي نارينه غواړي ځان د ښځي په څېر کړي او ښځه ځان د نارينه په څېر، په لباس کي هم او په حرکاتو او سکناتو کي هم، دا چي نارينه ږيره خريي، هره ورځ د خپل مخ د پوستکي په مليونونو حجرات رېبي، لنډه موده وروسته ئې مخ ګونځې ګونځې شي او د زني لاندي غوښه ئې راوځړېږي، دا او دې ته ورته کارونه له خپل انساني فطرت سره د انسان هغه جنګ دئ چي د قرآن په وينا تر شا ئې د شيطان لاس دئ، شيطان دا لوړه کړې ده چي هرومرو به د انسانانو هغه ټولګی دې جنګ ته پاروم چي زما تر اغېز لاندي وي.

د فرويد او مارکس په وړاندي څو طبيعي صحنې

راشئ د فرويد او مارکس د ملګرو په وړاندي څو طبيعي مثالونه کښېږدو او ترې وپوښتو چي د خپل منطق له مخي ئې توجيه کړي او سيکسي او ماترياليستي منشأ ئې په ګوته کړي:

- د حيواناتو فيلم مي کتلو، په وچکالي کي ئې د دوی پرېشانه حالت ښودو، په صحراء کي نه اوبه وې، نه شنه بوټي، نه د ونو شنې څانګې، نه د حيواناتو لپاره د خوراک څه وو او نه د څښاک، د ګروزني په نامه يو حيوان ئې له خپل تي خور بچي سره ښودو چي دواړه له لوږي او تندي سخت کمزوري او ډنګر شوي، بچی ئې په وار وار راشي او د دې پر تيو خوله کښېږدي خو څه په لاس ورنه شي، خبره دې ځای ته ورسېده چي مور پر سينه پرېوته، نه د ولاړېدو وه او نه د تلو، بچی ئې يوې خوا بلي خوا ته تاو شو، تی ئې ونه موندو، حيران ودرېدو، مور دا حالت ونشو زغملی، په ډېر زحمت او تکليف سره او په داسي حال کي چي سينه او د مخکنۍ پښې زنګنونه ئې پر زمکي وو، ورو ورو ئې د شا پښې دومره لوړي کړې چي د بچي خوله ئې تي ته ورسېږي، هغه راغی او پر تشو تيو ئې څو واري خوله ټينګه کړه... د

(c) ketabton.com: The Digital Library
دې صحنې په لیدو سره مي له سترګو اوښکي وبهېدې او ومي ویل: خدایه! تا د دې مور په زړه کي څومره زوروره مینه اچولې، دا په خپله د مرګ په حالت کي ده خو پر خپل بچي ئې لوړه نه لورېږي!

- په سپیني شګي کي اوسېدم، پسرلی وو، له خوني راووتم، څو ګامه مخکي ولاړم، ناڅاپي ګورم چي یوه وړه توربخنه مرغۍ چي د چوتکي په اندازه ده او ډېر ښکلی غږ لري، کله له یوه لوري تېزه راشي او زما مخي ته تېره شي او کله له بل لوري، داسي لکه چي غواړي زما له وړاندي تګ مخنیوی وکړي!! ودرېدم، مرغۍ هم قراره شوه او د یوې وني په څوکي کښېنسته، له یوې څانګي بلي او بلي ته والوته، کوزه شوه او د یوه بوټي بېخ کي ننوته، څو شېبې تم شوه او بېرته راووته، دې حرکاتو ئې وهڅولم چي ورشم او د بوټي لاندي وګورم چي څه دي او دې هلته څه کول، ورروان شوم، مرغۍ بیا همغه مخکنۍ لوبه پیل کړه، ورغلم، د بوټي په بېخ کي مې د دې ځاله وموندله او په هغې کي د دې وړوکی بچی، پوه شوم چي د همدې لپاره هغه لالهانده وه او پر ما ئې پر له پسې بریدونه کول او زما مخه ئې نیوله!! له ځان سره مي وویل: دا وړوکې مرغۍ څه شي دومره جسوره کړې چي ځان په خطر کي واچوي او د خپل بچي لپاره له انسان سره ډغري ووهي!!

- تاسو مرغان ګورئ چي کله ئې بچوني واړه وي او یوه مدافع، حامي، پالونکي او ساتونکي ته اړ وي، ګورو چي مور پلار ئې، په همغه اندازه د هغه په اړه عاطفه لري، مینه لري، ترحم او زړه سوی لري، د هغه ساتنه کوي، د هغه د پالني او ساتني لپاره حتی ځان هم په خطر کي اچوي، کله چي د هغه ځالي ته څوک لاس وروړي ګورو چي ځان ورباندي وژني، چیغاري وهي، له یوې څانګي بلي ته الوځي، داسي لالهانده چي نه پوهېږي څه وکړي تر څو خپل بچیان له خطره وژغوري، حیوانات هم

(c) ketabton.com: The Digital Library
همداسي دي، حال دا چي څه موده وروسته او هغه مهال چي بچي ئې په خپلو پښو ودرېږي، خپل ضرورت خپله رفع کولی شي، له مور او پلار بې نیازه او مستغني شي، بیا هغه پخوانی تعلق ختم شي، بیا هغه د ترحم او عاطفې تعلق نه وي او ورو ورو تغییر مومي او له منځه ځي. دغه عاطفه او ترحم چا راپیدا کړی؟ ولي د ضرورت په وخت کي وي او د اړتیا له ختمېدو سره سم پای ته ورسېږي؟ حال دا چي نه مور او نه پلار هغه ته اړتیا لري، او کوم ضرورت ئې رفع کوي، برعکس هر څومره چي اولاد د مورپلار پالني ته اړ وي، نو دا مینه هم وي، او څومره چي هغوی د بل له مرستي بې نیازه کېږي دا رابطه هم تضعیف کېږي، یو وخت داسي راشي چي انسان گمان نه کوي دا به همغه مور وي او دا به ئې همغه بچی چي د هغه په اړه ئې پرون؛ د مور په زړه کي دومره کلکه مینه او داسي ژوره عاطفه او ترحم وو. ځیني خو مینه او عاطفه داسي توجیه کوي چي گواکي مبنی او بنسټ ئې احتیاج او اړتیا ده، خو دا په دې دلیل غلطه خبره ده چي دا احتیاج او اړتیا خو هغه مهال هم وي چي ماشوم ستر شي، خو هغه د پرون ورځي مینه، محبت، ترحم او عاطفه نه وي، د ماشوم له سترېدو سره خو دا رابطه باید تقویه کېدلی، هر څومره چي هغه د دې جوگه کېږي چي د مور پلار مرسته وکړي او احتیاج ته ئې د ځواب ویلو شي باید دا رابطه د مور او پلار له خوا تقویه کېدی، څومره چي بچی او ماشوم لویېږي او په خپلو پښو ودرېږي او د دې جوگه کېږي چي د مور پلار احتیاج رفع کړي، د همدې په تناسب باید دا تعلق او رابطه مزید ټینگېدلی، همداراز په وړکتوب کي نه له یوه لوري د جنسي تمایل امکان وي او نه له بل لوري، نه د ماشوم له لوري او نه ئې د مور او پلار لوري، د دې تمایل امکان له ځوانۍ وروسته رامنځته کېدی شي، خو گورو چي په وړکتوب کي د دواړو له لوري ځواکمنه مینه او خواخوږي وي او له سترېدو سره متناسب ورو ورو تضعیف

(c) ketabton.com: The Digital Library
شي او يو وخت داسي راورسېږي چي په بشپړه توګه له منځه ولاړه شي.

آیا د دغو طبیعي واقعیتونو او ښکارندویو لپاره کومه معقوله سیکسي او ماتریالستي توجیه موندلی شو؟!! آیا عقلمن انسان به د فروید او مارکس دا غلط توجیهات د منلو وړ وګڼي؟

د ښه او بد خوب په اړه د مسلمان غبرګون

که څوک ښه خوب وګوري، داسي چي پرېږ خوښ شي، انګېرنه ئې دا وي چي په دې کي حتماً کومه لارښوونه او بشارت شته، نو لومړی دي د همدې خوب له امله د الله تعالی حمد او شکر اداء کړي، بیا دي هغه داسي چا ته د تعبیر په موخه تېر کړي چي متقي او نېک انسان او په قرآن او حدیث پوه وي او د خوبونو د تعبیر استعداد او بصیرت لري. خو که څوک وېروونکی او کرکجن خوب وګوري نو څو کارونه دي وکړي: دا خوب دي د شیطان له لوري وګڼي، د شیطان له شر دي الله تعالی ته پناه یوسي، درې ځلي دي اعوذ بالله من الشیطان الرجیم ووایي، د ویدېدو اړخ دي بدل کړي، هغه دي په بشپړه توګه هېر کړي، نه دي په خپله د تعبیر هڅه کوي او نه دي بل ته هغه د تعبیر لپاره تېروي، که ورته ممکن وي دوه رکعته لمونځ دي وکړي. باید ډاډه وي چي شیطان هغه ته له وسواس پرته هیڅ ضرر نشي رسولی.

دا مطلب په یوه روایت کي په دې توګه راغلی:

عَنْ أَبِي سَعِيدِ الخُدْرِيِّ: أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ رُؤْيَا يُحِبُّهَا، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ اللَّهِ، فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ عَلَيْهَا وَلْيُحَدِّثْ بِهَا، وَإِذَا رَأَى غَيْرَ ذَلِكَ مِمَّا يَكْرَهُ، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَلْيَسْتَعِذْ مِنْ شَرِّهَا، وَلاَ يَذْكُرْهَا لِأَحَدٍ، فَإِنَّهَا لاَ تَضُرُّهُ» رواه البخاري

له ابوسعید خدري (رضي الله عنه) روایت دئ چي له رسول الله (صلی الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلم) ئې اورېدلي چي ويل ئې: كه ستاسو كوم يو داسي خوب وګوري چي هغه ئې خوښېږي نو دا د الله تعالی له لوري دئ، له همدې امله دي د الله تعالی حمد ووايي، او هغه دي بيان کړي، او كه له دې پرته داسي څه وګوري چي كركه ترې لري نو يقيناً چي دا د شيطان له لوري دئ، د هغه له شر دي (الله تعالی ته) پناه يوسي، او هيچا ته دې نه يادوي، يقيناً چي هغه زيان نه وررسوي.

په بل روايت كي داسي راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا الْحَسَنَةَ، فَلْيُفَسِّرْهَا وَيُخْبِرْ بِهَا، وَإِذَا رَأَى الرُّؤْيَا الْقَبِيحَةَ، فَلَا يُفَسِّرْهَا وَلَا يُخْبِرْ بِهَا» معجم ابن المقرئ

له ابوهريره (رضي الله عنه) روايت دئ چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: كله چي ستاسو كوم يو ښكلی خوب وګوري نو هغه دي تفسير کړي او (نور دې) پرې خبر کړي، او كه كركجن خوب ئې وليد هغه دي نه تعبيروي او نورو ته دې نه وايي.

آيا تعبير د رؤيا پر ماهيت څه اغېز لري؟

ځيني داسي ګمان كوي چي ښايي ښه يا بد تعبير به د خوب پر ماهيت اغېز لري او ليدونكي ته به د همدې تعبير له مخي ښه يا بد ثابت شي!! د دې انګېرني لپاره ځيني روايات هم وړاندي كوي!! خو نه دا انګېرنه صحيح ده او نه دا روايات د منلو وړ، دا ځكه چي قرآن موږ ته په بشپړ وضاحت سره وايي چي د مصر د پاچا خوب لومړی د نورو معبرينو له لوري خوشی او بې معنی خوب وګڼل شو، خو دې تعبير د هغه د خوب ماهيت بدل نه کړ، وروسته يوسف عليه السلام د ده خوب په سمه او حقيقي توګه تعبير کړ او همدا تعبير رښتينی ثابت شو. حقيقت دا دئ چي رحماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب یو ښکلی، ګټور او لارښود پیغام وي، خوب لیدونکی هغه مهال د پیغام په معنی پوهېدی شي چي خوب ئې په صحیح توګه تعبیر شي، صحیح او دقیق تعبیر د دې پیغام اصلي مطلب د خوب لیدونکي مخي ته ږدي، غلط تعبیر داسي دئ لکه د یوه پیغام غلطه ژباړه، عدم تعبیر ئې داسي دئ لکه یوه چا ته چي مهم لیک راغلی وي خو هغه ئې له لوستلو عاجز وي او بل ته ئې د لوستلو او پر مطلب د پوهېدو لپاره نه وړاندي کوي، یا داسي څوک نه مومي چي دا خط ورته ولولي او پر مطلب ئې پوه کړي.

سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِکَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ

أَسْتَغْفِرُکَ وَأَتُوبُ إِلَیْکَ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**